فتاوی یعقوبیہ

تألیف

ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر والفہم الباہر

شیخ الحدیث والتفسیر

مفتی عبدالرزاق کدنوی عفی عنہ

مدیر مدرسہ محمدیہ نورزئی چرک خروٹ آباد کوئٹہ

ناشر

قاری بسم اللہ لوی کاریزی

Maktaba Tul Ishaat.com



Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

فتاوی

یعقوبیہ

جلد (۹)

تألیف:

ذو المجد الفاخر والعلم الذاخر والفهم الباهر



قاری بسم اللہ لوی کاریزی

مکتبہ حقانیہ

کانسی روڈ۔ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

تقریظ

شیخ الحدیث والتفسیر فصیح اللسان حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی ادام اللہ برکاتہ الجاری بانی و مدیر جامعہ ام القراء چمن .

الحمدللہ العلی العظیم وصلوات اللہ البر الرحیم علی صاحب الخلق العظیم محمد و علی آلہ و صحبہ و کل من اھتدیٰ بھدیہ المستقیم اما بعد: فیقول الفقیر الی اللہ نظر محمد الافغانی انما طالعت نماز ج من الفتاوی الیعقوبیة لاخینا فی اللہ الشیخ الفقیھہ المفتي النبیہ الشیخ عبدالرازق زید مجدہ المدیر بالمدرسة المحمدیة فی کویتہ و علی الاسف انی لم أستوعب المطالعة لتزاھم آشغالی و تفاقم ھمومی و مع ذلک حین قلبت الحدقة فی نبذات من تلک الفتاویٰ و نماز ج منھا عثرت علی تفوقھہ و عموم و قوفھہ فی آنحا العلوم من درایة الحدیث وروایة و من ناحیة الفقہ الحنفی دقا وجلا و من ناحیة الحوادث والنوازل فی العصر الحاظر و ما الیہ ذلک من رد البدع والمنکرات واصلاح الصدور المعتقدات مع الترجمة السھلة الوجیزة الی لغتنا الافغانیة السلمانیة فجزی اللہ تعالیٰ المؤلف خیر الجزاء و تقبل جھودہ و مساعیہ فی تلک الفتاویٰ و فی المصنفات اللتی صنفھا قبلھا و وفقہ لتالیفات آخر کما یحب ویرضی و علی العلماء والائمة ان یطالعوھا و یستفیدوا منھا خذما نظرت ودع شیئا سمعت بہ . فی طلعة الشمس مایغنیک عن زحل .

حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی

Maktaba Tul Ishaat.com

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا حمد الله صاحب استاذ و بانی مدرسه عشره مبشره بائی پاس آخری استاپ الله دی دشیخ صاحب په عمر کښې برکت واچوي .

الحمد الله الذی خلق السموات والارض وجعل الظلمت والنور و فضل لعلم علی الجهل فقال قل هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون انما یتذکر اولوالاباب وصلوات ربي و سلامه علی محمد عبده و رسوله القائل من یرد الله به خیر یفقهه فی الدین و علی آله واصحابه القاده السادة و علی من تبعهم باحسان الی یوم الدین .

اما بعد: کله چې ما عاجزه بنده فتاوی یعقوبیه چې پر ۱۲ جلدو مشتمله ده چې د ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر جامع المنقول والمعقول محسود الاقرآن المفتي الاعظم جناب مولانا عبدالرازق کدنوی حفظه الله تألیف وو وکتل نو می په اخلاص داوویل چې صادق هغه قائل چې ویلی دي کم ترک الاول للاخر ځکه چې ډیری داسې جدیده مسائل پکښې شته چې متقدمینونه دي بیان کړي خو به دي، مذکور کتاب کی سره د تحقیق او معتبرو حوالو سره بیان شوی دي .

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث مناظر اسلام فصیح اللسان حضرت مولانا منظور احمد مینکل صاحب شیخ الحدیث مدرسة صدیقیة کراچی باکستان .

الحمد اللہ رب العالمین والصلوۃ والسلام علی اشرف الانبیاء محمد المصطفیٰ وعلیٰ آلہ واصحابہ نجوم الھدیٰ وفقہاء ملۃ الی یوم الجزی۔ امابعد:

اسلام ایک کامل مکمل دین ہے جس میں ہر شعبہ زندگی کے حوالے سے رہنمائی موجود ہے قرآن مقدس جو ہدی للمتقین ہے بغیر کسی تغیر وتبدیل کے پوری آب وتاب کے ساتھ محفوظ ہے دوسری طرف رحمت عالم ﷺ کے فرامین مبارکہ بھی محفوظ ہیں جنہیں امت کے خوش نصیب طبقے محدثین عظام نے فرب مبلغ اوعیٰ من سامع کے تحت بعد والوں کو منتقل کیا۔ فقہا کرام نے خداداد بصیرت کی بنیاد پر قرآن وسنت میں غوطہ زن ہوکر فقہ کی صورت میں جو عظیم ذخیرہ ملت کے سامنے پیش کیا وہ رہتی دنیا تک عملی میدان میں رہنمائی فراہم کرتا رہے گا لیکن پھر بھی النصوص محدودۃ والحوادث محدودۃ کے پیش نظر نوازل اور پیش آمدہ مسائل کا صحیح حل تلاش کرنا ہر دور کے فقہاء کی ذمہ داری ہوتی ہے جنہیں وہ بہتر طریقے سے نباہ رہے ہیں موجودہ دور میں مرکز رشد وہدایت دارالعلوم دیوبند کی طرف منسوب اہل علم اکابر نے دین کے تمام شعبوں کی خوب آبیاری کی صرف فقہ وافتاء کے باب میں جو عظیم ذخیرہ عربی اوراردوزبان میں مدون کیا اسے دیکھ کر عقلیں دنگ رہ جاتی ہیں ضرورت اس بات کی ہے کہ دیگر زبانوں میں اس طرح کی تالیفات وتراجم کا اہتمام کیا جائے پیش نظر مسودہ فتاوی یعقوبیہ اسی سلسلے کی ایک کڑی ہے جس کو حضرت مولانا مفتی عبدالرازق الکدنوی صاحب نے پشتو زبان میں مرتب کیا ہے فقہا مسائل میں بالخصوص آراء کے اختلاف بدیہی الامر حقیقت ہے اس وجہ سے اہل علم کے خلاف کی گنجائش موجود ہے۔ مؤلف اس قابل قدر محنت پر قابل داد اور کتاب قابل دید ہے۔ خوشبو آن است کہ خود ببوید نہ آنکہ عطار بگوید

اللہ تعالی اسے مؤلف کے لئے ذخیرہ آخرت اور امت کے لئے باعث ہدایت اور رہنمائی بنائیں آمین

﴿حضرت مولانا ڈاکٹر منظور احمد مینگل صاحب﴾ ﴿حفظہ اللہ﴾
رئیس جامعہ صدیقیہ گلشن معمار کراچی

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست

Maktaba-Tul-Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

فتاوىٰ

يعقوبيه

جلد (٩)

تأليف:

ذو المجد الفاخر والعلم الذاخر والفهم الباهر



قاری بسم اللہ لوی کاریزی

مکتبہ حقانیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

دکتاب لنډه پېژند ګلوي

****

دکتاب نوم: کتاب الرهن
مؤلف: مفتي عبدُا لرّازق کدنوي
کمپوزر: راز محمّد راز،مرکز کتابت کوټه
دخپرېدو کال: ۲۰۲۰ عیسوي
صفحات: (   )

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب القضاء

سـوال :......

د قضاء لغوي او اصطلاحي معنی څه شی ده؟

جواب :......

قضا په لغت کي د ډېرو معناوو لپاره راځي:

(۱):ـ پـه مـعـنـی د الـزام راځي لکه په دې قول د الله (ج) کي: فلما قضينا عـليـه الـموت أی الزمناه، او په دې قول د الله (ج) کي : فاقض ما انت قاض ای الـزم بـمـا شئت و اصنع ما يدلک .او دغه الزام يې په معنی اصطلاحي کي هم موجود ده .

(۲):ـ دويـم پـه مـعنی د اخبار راځي يعني ابلاغ لکه په دې قـول د الله (ج) کي : و قضينا إليـه ذلک الأمر ای انهيناه إليـه و ابلغناه ذلک .

(۳):ـ دريـم پـه مـعـنـی د فراغ راځي لکه په دې قـول د الله (ج) کي : و منه من قضی نحبه ای مات و فرغ .(٤):ـ

څلـورم پـه مـعـنـی د حـکم راځي لکه په دې قول د الله (ج) کي : و قضی ربک ان لا تعبدوا الا اياه ای حکم .

(٥):ـ پـنځم په معنی د صنع او تقدير راځي لکه په دې قـول د الله (ج) کي : فقضاهن سبع سموات ای صنع و قدر .

او قـضـاء پـه اصـطـلا ح کـي هـم د عـلـماء کرامو مختلف عبارات نقل

سوي دي، صاحب د تنویر الابصار وایي: هو فصل الخصومات و قطع المنازعات، یعني جګړې او دښمنۍ ختمول.

او مولانا قاسمؒ وایي: انه انشاء الزام فی مسائل الاجتهادیة المتقاربة فیما یقع فیه النزاع لمصالح الدنیا.

او علامه ابن غرس وایي: انه الالزام فی الظاهر علی صیغة مختصة بأمر ظن لزومه فی الواقع شرعاً.

او علامه الکاسانیؒ وایي: القضاء هو الحکم بین الناس بالحق. (نقلته من الشامی / ص: ۳۳۰ / ج: ۴) و بدائع الصنائع ص۴۳۸ / ج: ۵، البحر الرائق / ص: ۴۲۷ / ج: ٦، و الفتاوی الهندیة / ص: ٦٠٣ / ج: ۳، و معین الحکام / ص: ٦ / ج: ۱)

سوال:......

قضاء په شریعت کي څه حکم لري؟

جواب:......

!قضاء فرض کفایه ده په قرآن او حدیث سره ثابته ده پر قضاء د دنیا نظام او امن موقوف دی که په دنیا کي قضاء او قاضي نه وي د ځمکي مخ به له فساده ډک سي لکه په موجوده عصر کي چي په اکثره ځایو کي ظالم مظلوم بلل کیږي او مظلوم ظالم بلل کیږي، غازي قاتل بلل کیږي او قاتل غازي بلل کیږي، شهید ته هلاک وایي او هلاک ته شهید وایي، و عدل ته ظلم وایي او ظلم ته عدل وایي. لهذا قضاء فرض ده ځکه موقوف علیه د فرضو فرض وي لکه اصولیین چي وایي:

"وما لا یتم الواجب الا به فهوواجب"

Maktaba Tul Ishaat.com

"قال الشیخ الإمام الأجل الزاهدی شمس الأئمة و فخر الاسلام ابو بکر محمد بن ابی سهل السرخسی رحمه اللّٰه املاءً: اعلم بأن القضاء بالحق من اقوی الفرائض بعد الایمان باللّٰه تعالی و هو اشرف العبادات لأجله اثبت اللّٰه لآدم علیه السلام اهم للخلافة فقال جل جلاله: (إنی جاعل فی الارض خلیفة(البقرة:۳۰)"

و اثبت ذلك لداؤد علیه السلام فقال عزوجل :(یا داؤد إنا جعلناك خلیفة فی الارض) (ص:۲٦) و به أمر لکل نبی مرسل حتی خاتم الانبیاء علیهم الصلاة و السلام قال اللّٰه تعالی: (انا انزلنا التوراة فیها هدی و نور یحکم بها النبیون) (المائدة: ٤٤) و قال اللّٰه تعالی :(و أن احکم بینهم بما انزل اللّٰه و لا تتبع أهواء هم) (المائدة: ٤٩)

و هذا لأن فی القضاء بالحق اظهار العدل و بالعدل قامت السموات و الارض و رفع الظلم و هو ما یدعو إلیه عقل عاقلٍ و انصاف المظلوم من الظالم و اتصال الحق إلی المستحق و أمر بالمعروف و نهی عن المنکر و لأجله بعث الانبیاء والرسل صلوات اللّٰه علیهم و به اشتغل الخلفاء الراشدون رضوان اللّٰه علیهم و قد دل علی جمیع ما قلنا الحدیث الذی بدأ به محمد رحمه اللّٰه الکتاب ۔ و رواه عن ابی بکر الهزلی عن أبی الملیح عن اسامة الهزلی ان عمر بن الخطاب رضی اللّٰه عنه کتب إلی أبی موسی الأشعری رضی اللّٰه عنه بسم اللّٰه الرحمن الرحیم من عمر امیر المؤمنین إلی ابی موسی الاشعری سلام علیك فانی احمد اللّٰه الذی لا اله الا هو ۔ اما بعد فان القضاء فریضة محکمة و سنة متبعة فافهم إذا ادلی إلیك و انفذ إذاتبین لك فانه لا ینفع تکلم بحق لا نفاذ له سوّ بین الناس فی وجهك و مجلسك

وعدلك حتى لا ييأس الضعيف من عدلك و لايطع الشريف فى حيفك و البينة على المدعى و اليمين على من انكر و الصلح جائز بين المسلمين الا صلحا أحل حراما او حرم حلالاً لا يمنعك قضاء قضية بالامس ثم راجعت فيه نفسك و هديت فيه رشدك أن تراجع الحق فان الحق و مراجعته خير من الاباطل و التمادى فيه و الفهم الفهم فيما تلجلج فى صدرك مما لا يبثك فى الكتاب و لسنة اعرف الاماثل و الاشكال و قس الامور عند ذلك و اعمد الله أحبها إلى الله و اشبهها بالحق فيما ترى اجعل للمدعى حقا غائبا او بينة أجلاً ينتهى إليه فان احضر بينة أخذت بحقه و الا وجهت عليه القضاء فان ذلك اجلى للعمىٰ و ابلغ فى العذر و المسلمون عدول بعضهم على بعضٍ الا مجلوداً فى حدٍ ا و مجريا عليه شهادة زور او ظنيناً فى ولاء او نسب فان الله تولى منكم السرائر و رد عنكم بالبينات و الايمان و اياك و القلق و الضجر و التأذى بالناس و التنكر للخصوم عند الخصومات فى مواطن الحق التى يوجب الله بها الاجر و يحسن بها الذخر فانه من يصلح ما بينه و ما بين الله و لو على نفسه يكفيه الله ما بينه و بين الناس و من تزين للناس بغير ما يعلم الله منه ثابه الله فما ظنك بثواب الله فى عاجل رزقه و خزائن رحمته و السلام۔

دغه د امیر المؤمنین عمر ابن خطاب رضی الله عنه مکتوب د قضاء او د قاضي پر ټولو فصلو او آدابو و خصلتو باندي مشتمل ده که یو څوک د دغه مکتوب په حقیقت ځان پوه کړي د قضاء او د قاضي په هکله به یې ټول شکوک او شبهات ختم سي لهذا موږ د دغه مکتوب یو څه وضاحت کوو چي هر طالب العلم استفاده ځیني و کړي:

قوله فان القضاء فريضة محكمة اى مقطوع بها ليس فيها احتمال النسخ ولا تخصيص ولا تاويل فتفسير الحكم هذا بيانه في قوله تعالى : آيات محكمات من أم الكتاب ، ومنه يقال بناء محكم و الفرض هو التقدير و القطع قال الله تعالى: سورة انزلناها و فرضناها (النور : ١)

يعني قضاء محكمه ده احتمال د فسخ اوتاويل نلري د مفسر او مؤل او نص په شان نه ده بلكه داسي ده لكه محكم چي تر قيامته نه منسوخيږي چي تر څه وخته پوري دين او شريعت وي تر هغه وخته پوري به قضاء او قاضي لازمي وي .

وقوله سنة متبعة أى طريقة مسلوكة في الدين يجب اتباعها على كل حال فالسنة في اللغة الطريقة وما يكون متبعا منها فأخذها هدى و تركها ضلالة۔

يعني قضاء په شريعت كي هغه لاره ده چي په هر حال كي يې اتباع واجب ده عمل په كول هدايت دى او د قضاء شرعيي مخالفت كول گمراهي ده .

و قوله فافهم اذ أدلى اليك الخصمان و الإدلاء رفع الخصومة إلى الحاكم و الفهم اصابة الحق فمعناه عليك ببذل الجهد في اصابة الحق إذا أدلى اليك وقبل السمع كلام كل واحد من الخصمين وافهم مراده و بهذا يؤمر كل قاضٍ لأنه لا يتمكن من تميز الحق من الباطل الا بذلك و ربما يجرى على لسان احد الخصمين ما يكون فيه اقرار بالحق لخصمه فإذا فهم القاضى ذلك انفذه و اذا لم يفهم ضاع و اليه اشار في قوله فانه لا ينفع تكلم بحق لا نفاذ له و قبل المراد استمع إلى كلام الشهود و افهم مرادهم فانهم

Maktaba Tul Ishaat.com

يتكلمون بالحق بين يديك و انما يظهر منفعة ذلك لتنفيذ القاضي اياه۔

يعني امير المؤمنين عمر ابن خطاب رضى الله عنه و ابو موسى اشعري رضى الله عنه ته توصيه كوي چي كوم وخت مدعيان درته راسي د دوى خبر په غور باندي واوره بيا قضاوت وكړه تر هغه وخته پوري چي د دوى په مقصد دي ځان ښه پوه كړى نه وي صحيح قضاوت نه سى كولى او يا ګواهان چي درته راسي د هغو كلام په غور باندي واوره ځكه دوى ستا په مخ كي حقه خبره كوي او حقه خبره تر هغه وخته فائده نه لري تر څو چي نافذه سوې نه وي او نفاذ قاضي وركوي او قاضي يې هغه وخت نافذولى سي چي ځان په پوه كړي .

و قوله اسّ بين الناس معناه سوّ بين الخصمين فالتأسى في اللغة التسوية فهى دليل أن على القاضى أن يسوّى بين الخصوم إذا تقدموا ليه اتفقت ملهم او اختلفت فاسم الناس يتناول الكل و انما يسوى بينهم فيما اشار اليه في الحديث فقال في وجهك و مجلسك وعدلك يعنى في النظر إلى الخصمين و الاقبال عليهما في جلوسهما بين يديه حتى لا يقدم احدهما على الاخر و في عدله بينهما و بالعدل أمر و حكى أن ابا يوسف رحمه الله قال في مناجاته عند موته الهم إن كنت تعلم أنى ما تركت العدل بين الخصمين الا في حادثة واحدة فاغفرها لي قيل و ما تلك الحادثة قال ادعى نصراني على امير المؤمنين دعوى فلم يمكنى أن أمر الخليفة بالقيام من مجلسة و الحابات مع خصمه و لكنى رفعت النصراني إلى جانب البساط بقدر ما امكننى ثم سمعت الخصومة قبل أن أسوى بينهما في المجلس فهذا كان جورى ليعلم ان هذا من أهم ما ينبغي للقاضي أن

ينصرف اليه فى العناية لما اشار اليه فى الحديث فقال لا يطع شريف فى حيفك و لا يخاف ضعيف من جورك و الحيف هو الظلم قال الله تعالى : أم يخافون أن يحيف الله عليهم و رسوله (النور : ٥٠) فإذا قدم شريف طمع فى ظلمه و انكسر بهذا التقديم قلب خصمه الضعيف فيخاف الجور و ربما يتمكن الشريف عند هذا التقديم من التلبس و يعجز الضعيف عن اثبات حقه بالحجة والقاضى هو المسبب لذلك باقباله على احدهما و تركه التسوية بينهما فى المجلس وى صير به متهماً بالميل ايضا و هو مأمور بالتحوز عن ذلك باقصى ما يمكنه۔

يعنى قاضي صاحب به د مدعيانو فرق نه كوي په يو سي كي هم يعني داسي به نه كوي چي يو ځانته نزدې كړي تر هغه بل يا يو ته به خوشبيني سره ګوري او بل ته په تريو تندي ګوري يا يو راسته طرف ته كښېنوي او بل چپ طرفته يعني هيڅ فرق به يې هم نه كوي كه څه هم په دين او ملت كي يې فرق وي ځكه بيا پخپل ظلم كي طمع پيدا كيږي او د هغه بل غريب زړه مانيږي او هم په دغسي خصلت قاضي تر تهمت لاندي كيږي .

قوله البينة على المدعى واليمين على من انكر و هذا اللفظ مروى عن رسول الله ﷺ و عد من جوامع الكلم على ما قال صلوات الله و سلامه ۔

اوتيت جوامع الكلم ۔ اخرجه البخارى فى التعبير ۔

و قوله والصلح جائز بين المسلمين الا صلحاً احل حراما و هذا ايضا مروى عن رسول الله ﷺ و فيه مروى عن رسول الله ﷺ و فيه دليل جواز الصلح و شارة إلى أن القاضى مأمور بدعاء الخصمين إلى الصلح و قد

Maktaba Tul Ishaat.com

وصف الله تعالى الصلح بأنه خير فقال عزوجل : و الصلح خيرٌ (النساء : ۱۲۸) و ذلك دليل النهاية فى الخيرية قال اى صلح حرم حلالاً او احل حراماً لأن المدعى إذا كان بطللا فأخد المال كان حراما عليه والصلح يحل له ذلك و ان كان محقا فالصلح يكون على بعض الحق عادة و ما زاد على ذلك إلى تمامه حقه كان أخذه حلالاً قبل الصلح حرم عليه ذلك بالصلح و كان حراما على الخصم قبل الصلح احل له ذلك بالصلح و لكنا نقول ليس المراد هذا و لكن المراد تحليل محرم العين بأن وقع الصلح على خمر او خنزير او فى الخصومة بين الزوجات صالح احدى المرأتين على أن لا يطأ الاخرى او صالح زوجته على أن يحرم امته على نفسه فهذا الصلح الذى حرم حلالاً او احل حراما و هذا باطل عندنا۔

يعني قاضي صاحب ته چي مدعيان حاضر سي اول به له مدعي گواهان طلب كړي پر خپله مدعى باندي كه يې گواهان پېش كړو فيصله به د مدعي په حق كي وكړي او كه مدعي گواهان نه درلودو بيا به له مدعى عليه څخه د قسم مطالبه وكړي كه هغه له قسمه انكار وكړه بيا به فيصله د مدعي په حق كي وكړي او كه هغه قسم واخيست قاضي به د دغه قسم كونكي په حق كي فيصله وكړي مگر قاضي صاحب لره دا مناسبه ده چي مدعيانو ته ووايي چي صلح سره وكړي په صلح كي خير دئ داسي صلح نه چي حلال حرام كړي يا حرام حلال كړي يو څوک دي دا سوال نه كوي چي داسي صلح نسته چي په هغه كي د حلال حرام يا حرام حلال نسي ځكه مدعي به خالي نه وي دعوى به يې بر حق وي يا ناحقه كه ناحقه وي نو دغه مال چي و مدعي ته په صلح كي وركول كيږي تر

صلح مختـه ده ته حرام وو ځکه پردی مال وو په صلح سره ده ته حلال سو او کـه مـدعي پر حق وو نو عرف او عادت پر دې باندي راغلی دی چي و ده تـه بـه ټـول مـال نـه ورکوي بلکه بعض به ورکوي ځکه که ټول یوسي بیا خـو صـلـح نـه ده او هـغـه پاته حصه به مدعی علیه ته پاتيږي دغـه حصـه و مـدعـی عـلیه ته تر صلح مختـه حرامه وه او تر صلح وروستـه حلالـه سوه لـه دې وجهـي دي دا سـوال نه کوي چي دلتـه په حقیقت کي د حلال حرمت او د حـرام حـلـت نـه دی راغـلـی ځکه که مدعي پر حق وو پخپله خوښه او رضـا سـره تـر خپـل حق تیر سو د شر او فساد د دفع کولو په خاطر او که مـدعـي نـاحـقـه وو بیا مدعی علیه پخپله خوښه او رضا سره ترخپل حق تیر سو لپاره د شر او فساد د دفع کـولـو پـه خاطر . لهذا دا هغـه حل او حـرمت دی چي اختیار یې له بنده سره دی یعني بنفسه خو دغه شی حلال دی مـګـر غیـر مالک ته حرام دی د مالک له وجهي او کوم وخت چي مالک اجازت وکـړي و بـل چـا تـه بیـا هـغـه تـه هـم داسي حلال دی لکه پخواني مـالک تـه، بـلـکه په صلح سره به هغه شی نه حلالـه وي چي محرم العین وي لـکـه شـراب او خـنـزیر ځکه د هغو حلت د بنده په اختیار کي نستـه او نـه بـه هـغـه شـی حـرامـه وي چي هـغـه حـلال الـعـین وي لکه شاة او بعیر وغیره مثلاً :

قـال : ولا یـمـنـعـك قـضـاء قـضیتـه بـالامـس راجعت فیه نفسك و هدیت لـرشـدك أن تـراجـع الحق فان الحق قدیم و مراجعة الحق خیر من التمادی فـی البـاطـل ـ و فیه دلیل أنه إذا تبین للقاضی الخطاء فی قضائه بان خالف قضـاؤه الـنص او الاجماع فعلیه أن ینقضه و لا ینبغی أن یمنعه الاستحیاء من

الناس من ذلك فان مراقبة الله تعالى فى ذلك خير له و إلى ذلك اشار عمر رضى الله عنه حين ابتلى بالحديث فى صلوة الحديث إلى ان قال كدت أي امضى فى صلاتى استحياء منكم ثم قلت لأن اراقب الله تعالى خير من أن اراقبكم فمن ابتلى بشيئ من ذلك فليراقب الله تعالى و هذا ليس فى القاضى خاصةً بل هو فى كل من يبين لغيره شيئاً من امور الدين الواعظ و المفتى والقاضى فى ذلك سواء إذا تبين له أنه زل فليظهر رجوعه عن ذلك فزلة العالم سبب لفتنة الناس كما قيل إن زل العالم زل بزلته العالم و لكن هذا فى حق القاضى اوجب لأن القضاء ملزم و قولهِ الحق قديم يعنى هو الاصل المطلوب و لأنه لا تنكتيم زلة من زل يظهر لا محالة فإذا كان هو الذى يظهره على نفسه كان احسن حالا عند العقلاء من أن تظهر ذلك عليه مع اصراره على الباطل۔

یعني كه قاضي صاحب يو وخت په قضاء كي خطا سوی وي بيا د خپلي خطا درک وكړي نو له خپلي قضاء دي رجوع وكړي و دي وايي چي زه خطا سويم له خلكو دي نه شرميږي بلكه له الله دي دي شرم وكړي دا خبره د قاضي لپاره نه ده بلكه پر هغه چا چي دين بيانوي او په كي خطا سي له خپلي خطا څخه دي رجوع كوي هغه كه مقرر وي، مدرس وي، مفتي وي قاضي وي هر څوک چي وي ځكه كه رجوع نه وكړي يو خو دده خپله تباهي ده بل دده له وجهي نور خلک تباه كيږي ځكه هغه د ده په دغه قول عمل كوي او دليل په نيسي ځكه عالم مقتداء او پيشوا د قوم وي د عالم فساد د عالَم فساد دی او بل يو عالم چي خطا سي د ده خطا نه پټيږي يو څوک يې خامخا ښكاره كوي نو چي دی تر

خپلي خطا تېر سي دا بهتره تر دې ده چي بل څوک د خطا نسبت ورته کوي او دی پر هغه باطل باندي ټینګ ولاړ وي ځکه بیا و دغه عالم ته خلګ جاهل وايي بلکه جاهل مرکب ورته وايي .

و قوله والفهم مما يتلجلج في صدرك: و قد بينا تفسير هذا اللفظ و في تكراره مرة بعد مرة بيان انه ينبغي للقاضي ان يصرف العناية إلى ذلك خصوصا إذا تمكن الاستيفاء في قلبه فانه عند ذلك مأمور بالتثبت ممنوع عن المجازفة خصوصا فيما لا نص فيه من الحوادث و اليه اشار في قوله ما لم يبلغك في القرآن والحديث و فيه بيان انه لا ينبغي للمرء ان يتلقد القضاء مختار الا إذا كان مجتهد و أقرب ما قبل في حق المجتهد أن يكون قد حوى علم الكتاب و وجوه معانيه و علم السنة بطرقا و متونها و وجوه معانيها و أن يكون مصيبا في القياس عالما بعرف الناس و مع هذا قد ابتلى بحادثه لا يجد لها في الكتاب و السنة ذكرا فالنصوص معدودة والحوادث ممدودة فعند ذلك لا يجد بدا من التأمل و طريق تأمله ما اشار ايله في الحديث فقال :

اعرف الامثال و الاشباه وقس الامور عند ذلك فهو دليل جمهور الفقهاء رحمهم الله على أن القياس حجة فان الحوادث كلها لا توجد في الكتاب والسنة بخلاف ما يقوله أصحاب الظواهر ثم قال :

و اعمد إلى احبها إلى الله و اشبهها بالحق فيما ترى و هذا هو طريق القايس أن ترد حكم الحادثة إلى اقرب الاشياء معنى و لكن انما يعتبر السنة في المعنى الذى هو صالح الاثبات ذلك الحكم به۔

يعني قاضي صاحب به د مدعيانو وينا ښه په غور سره واوري بيا به

Maktaba Tul Ishaat.com

سوچ ورته وکړي که په کتاب الله حل کېده په کتاب الله به يې حل کړي که يې په هغه کې صريح ذکر نه وو په سنت رسول الله به حل کړي که په هغه کي هم ذکر نه وو بيا به يې په خپله رايه او اجتهاد حل کړي يعني قاضي بايد هغه څوک وي چې د کتاب الله په صيغو او وجوه د نظم او وجوه بيان و استعمال علم ولري په کتاب الله کي به ناسخ او منسوخ پېژني او دغه رنګه نص او ظاهر، مفسر او محکم به پېژني، خفي او مشکل مجمل او متشابه به پېژني عام او خاص، مؤل او مشترک به پېژني . دغه رنګه به د حديث علم ورسره وي خبر واحد او مشهور ومتواتر به پېژني، مرفوع او موقوف، مضطرب و مدلس به پېژني او موضوعي او غير موضوعي صحيح او حسن ضعيف او غريب به پېژني که بالفرض يو داسي حادثه مخي ته ورته راغله چې په کتاب الله و حديث نبوي کي صراحة نه وو موجو د بيا به قياس کوي او سره له دغه علمه د خلکو په عرف به هم خبر وي .

قال : اجعل للمدعى أمرا ينتهى اليه فان أحضر بينة أخذ بحقه و الا وجهت القضاء عليه فان ذلك أجل للعمى و أبلغ فى العذر و فيه دليل على أن القاضى عليه أن بعمل كل واحد من الخصمين بقدر ما يمكن من اقامة الحجة فيه حتى إذا قال المدعى بينتى حاضرة أمهله ليأتى بهم فربما لم يأت بهم فى المجلس الاول بناء على أن الخصم لا ينكر حقه لوضوحه فيحتاج إلى مدة ليأتى بهم و بعد ما اقام البينة إذا ادعى الخصم الدفع امهله القاضى ليأتى يدفعه فانه مامور بالتسوية بينهما فى عدله و ليكن امهاله على وجه لا يضر بخصمه فان الاستعجال اضرار بمدعى الدفع و فى تطويل

Maktaba Tul Ishaat.com

مدة امهاله اضرار بمن اثبت حقه و خير الامور اوسطها۔

يعني قاضي صاحب به مدعي ته وخت ورکړي چي په دونه وخت کي ګواهان حاضر کړه په دې شرط که په مجلس کي ګواهان نه وو ورسره که يې ګواهان حاضر کړو فيصله به د ده په حق کي وکړي او که خصم يعني جانب مقابل وويل چي زه يې دفع راوړم دده د حجت و ما ته وخت راکړه ، قاضي صاحب به خصم ته هم وخت ورکړي که مدعي ګواهان نه کړو حاضر قاضي به ورته ووايي چي ولي خلکو ته ضرر او اذی رسوې هيڅ حجت نسته درسره او که ګواهان حاضر سوو مګر مدعي عليه يې دفع نه کړه حاضره بيا به قاضي هغه ته ووايي چي ولي خلکو ته اذی رسوې ددې بحث يو څه تفصيل مخته ذکر سويدی هلته يې ګورئ .

و قوله فان ذلك أجلى للعمى: لازالة الاشتباه و أبلغ في العذر للقاضي عند من توجه القضاء عليه لأنه إذا وجه القضاء عليه بعد ما امهله حتى يظهر عجزه عن الدفع انصرف من جلسه شاكرا له ساكتا و إذا لم يمهله انصرف شاكيا منه بقول مال إلى خصمي و لم يستمع صحبتي و لم يمكني من اثابت الدفع عنده۔

يعني په دغه مهلت سره د هغه څا اشتباه او شکايت ختميږي . پر کوم څا چي فيصله وسي يعني د ده په حق کي فيصه نه وسي بلکه د ده پر خلاف وسي نو که قاضي د دفع لپاره وخت ورکړی وو د هغه باوجود دفع يې نه وه کړې نو هم د قاضي شاکره وي او هم ساکت وي څه ويلی نه سي او که يې وخت نه وي ورکړی نو هم ګيله مند وي چي ما ته يې وخت نه دی راکړی که يې وخت راکړی وای ما به دفاع کوله او هم پر قاضي به

تهمت لګوي چې زما د دښمن طرف یې وکړو زما دلیل یې نه اوریدلی دی او نه یې د دلیل راوړلو ته وخت راکړیدی .

ثم قال والمسلمون عدول بعضهم على بعض : و قد نقل هذا اللفظ عن رسول الله ﷺ و هو دليل لأبي حنيفة رحمه الله علىٰ بجواز القضاء بشهادة المستور قبل السوال عنه إذا لم يطعن الخصم وصفة العدالة ثابتة لكل مسلم باعتبار اعتقاده فان دينه يمنعه من الاقدام على ما نعتقد الحرمة في فيدل على أنه صادق في شهادته فالكذب في الشهادةمحرم اعتقاد كل مسلم قال ﷺ في خطبته عدلت شهادة الزور بالاشراك بالله تعالى ثم قرأ فاجتنبو الرجس من الاوثان واجتنبوا قول الزور(الحج: ۳۰) ۔

په دې حدیث مبارک باندې إمام ابو حنیفهؒ دلیل نیولی دی چې د مستور الحال شهادت مقبول دی تر هغه وخته پورې چې تر څو خصم طعن نه وي وربانديې . ویل ځکه و هر مسلمان ته عدالت په اعتبار د اعتقاد ثابت دی ځکه د مسلمان دین و مسلمان ته پر حرامو د اقدام اجازت نه ورکوي او درواغ ویل په شهادت کې د هر مسلمان په اعتقاد حرام دی ځکه رسول الله ﷺ په یو تقریر کې ویلي دي چې د درواغو شهادت له شرک سره برابر دی او رسول اللهﷺ وویل چې الله (ج) ویلي دي چې د بتانو له عبادته څه ځان وساتئ او د درواغو له شهادته ځان وساتئ لهذا که مستور الحال ګواهي اداء کړه په دغه ګواهي کې صادق بلل کیږي ځکه د ده دین د حرامو اجازت نه ورکوي .

قال الا مجلون احداً: قيل المراد من ظهر عليه ارتكاب كبيرة باقامة حد تلك الكبيرة عليه فالحدود مشروعة في ارتكاب الكبائر و بظهور ذلك عليه

Maktaba Tul Ishaat.com

تـنعدم العدالة الثابتة ما لم تظهر توبته و انزجاره عنه و قيل المراد المحدود في القذف و قد ذكره في بعض الروايات الا مجلودا حدا في قذف فهو دليل لنا على ان المحدود في القذف لا تقبل شهادته و إن تاب و ان العدالة المعتبرة لاداء الشهادة تنعدم باقامة حد القذف عليه كما اشار الله تعالى اليه في قوله :و لا تقبلوا لهم شهادة أبدا (النور:٤)

ثم قال او محرما عليه شهادة زور فانه إذا عرف منه شهادة الزور فقد ظهر منه الجناية في هذه الأمانة و من ظهرت جنايته في شئ لا يؤتمن على ذلك و لأنه ظهر منه ارتكاب الكبيرة على ما روى أن النبي ﷺ قال اكبر الكبائر الاشراك بالله تعالى و عقوق الوالدين الا و قول الزور فما زال يقول ذلك حتى قلنا ليته سكت۔

يعني د مسلمان ګواهي پر بل مسلمان مقبوله ده كه څه هم مستور الحال وي مګر كه محدود في القذف وو د هغه ګواهي نامنظوره ده كه څه هم توبه ګار سوی وي ځكه يو خو الله (ج) وايي چي تر ابده يې ګواهي نامنظوره ده او بل رسول الله ﷺ ويلي دي چي ددروغو ګواهي ګناه كبيره ده حتى و شرک ته قريبه ده لهذا په دغه ګناه د ده عدالت تللى ده او عدالت په ګواهي كي شرط ده .

ثم قال او ظنينا في ولاء او قرابة : اى منهما بسبب قرابة او ولاء و هو الموالاة فهو دليل على أن شهادة الوالد لولده لا تكون مقبولة و هو دليل لنا على أن شهادة احد الزوجين لصاحبه لا تقبل فالزوجية من اقوى اسباب الموالاة و هو مما يجعل كل واحد منهما مائلا إلى صاحبه و قد اشار إلى نفس الولاء و القرابة أنهما لا يقدحان في العدالة و لكن إذا تمكنت التهمة

Maktaba Tul Ishaat.com

حيئنذ يمتنع العمل بالشهادة حتى قيل فى معناه إذا ظهر منه الميل إلى مولاه و قرابته فى كل حق و باطل حتى يوثره على غيره و هو تفسير القانع باهل البيت كما ذكره فى الحديث المرفوع۔

يعني د قريب شهادت د بل قريب په حق كي نامنظور دى مطلق قرابت مانع د شهادت نه دى بلكه هغه قرابت چي قريب وي او په هر آن كي د هغه مشهود لحاظ ساتي د هغه د قرابت له وجهي تر هر څه تېريږي او بل هم د هغه د قرابت له وجهي تهمت وربانديٍ لګوي مثلاً د زوی ګواهي د پلار په حق كي يا د زوج ګواهي د ماينې په حق كي يا بالعكس نامنظور ده ځكه د دوی په مينځ كي قرابت سخت دى .

قال فان الله تعالى تولى منكم السرائر : يعنى أن المحق و المبطل ليس للقاضى طريق إلى معرفته حقيقة فان ذلك غيب و لا يعلم الغيب الا الله تعالى و لكن الطريق للقاضى العمل بما يظهر عنده من الحجة و اليه اشار فى قوله و درأ عنكم بالبينات و ايمان۔ يعنى درأ عنكم اللوم فى الدنيا و الاثم والعقوبة فى الاخرة و هو معنى الحديث المروى عن رسول الله ﷺ۔

قال القضاء جمرة فادفع الجمر عنك بعودين: يعنى شهادة الشاهدين ثم قال اياك الضجر والقلق: و هما نوعان من اظهار الغضب فالقلق لاحدة والضجر رفع الصوت فى الكلام فوق ما يحتاج اليه والقالضى منهى عن ذلك لأنه يكسر قلب الخصم به و يمنعه من اقامة حجته و يشتبه على القاضى بسببه طريق الاصابة و ربما لا يفهم كلام احد الخصمين عند ذلك۔

يعني قاضي صاحب پر نفس الأمرى محق او مبطل باندي علم نسي راوستى ځكه غيب دى پر غيبو صرف الله علم لري ، قاضي به صرف په

ظاهر باندي فيصله كوي كه مدعي ګواهان لرل مدعي پر حق دی او كه د مدعي ګواهان نه وي او خصم قسم كوي خصم پر حق دی نور په حقيقت الله خبر دی په دې طريقه چې قاضي صاحب فيصله وكړي د دنيا له ملامتيا هم خلاص دی او د اخيرت له عذابه هم خلاص دی ځكه تر كومه ځايه چې د ده طاقت وو هغه يې كړيدي تر طاقت پورته مكلف نه دی ځكه رسول الله ﷺ ويلي دي چې قضاء سكروټه ده دغه سكروټه په لرګو له ځانه دفع كړه يعني په ګواهانو يې دفع كړه او بل قاضي صاحب به فيصله په وخت د اظهار غضب نه كوي يعني به په خبرو كي تيزي كوي او نه به تر حاجت زيات اواز پورته كوي ځكه په دې مدعيان وار خطا كيږي بيا خپل حجت نه سي پيش كولی او ډير ځله په داسي وخت كي قاضي د دوی خبره نسي فهمولی لهذا قاضي صاحب به د راحت او خوشحالي په حال كي فيصله اوري او كوي .

قال و البادی بالناس: يعنی اظهار البادين بكثرة الخصوم بين يديه و اظهار الحلال منهم و المراد البادی بما يسمع من بعض الخصوم مما لا حاجة به اليه فقد يطول احد الخصمين كلامه و لكن لا ينبغی للقاضی أن يظهر البادی بذلك ما لم يجاوز الحد فإذا تكلم بما يرجع إلی الاستخفاف بالقاضی و يذهب به حشمة مجلس القضاء فحينئذ يمنعه عن ذلك و يؤدبه عليه.

يعني د قاضي صاحب په مخ كي كه مدعي يا مدعی عليه خبره اږوده كړه بې فائدې يې بحث طويل كړ هم قاضي صاحب به د خفګان اظهار نه كوي تر هغه وخته پوري كه بحث كونكی د قاضي صاحب توهين په

خبرو کي شروع کړ يا يې په بحث باندي د قاضي د مجلس هيبت او دبدبه ختمه کړه نو په دغه وخت کي به قاضي خفګان ښکاره کوي او بحث کونکی به له خبرو بند کړي . ثم قال .

والتنكر للخصوم فى الخصومات هو أن يقطب وجهه إذا تقدم اليه خصمان فان فعل ذلك مع احدهما فهو جور منه و ان فعله معهما بماعجز المحق عن اظهار حقه فذهب و ترك حقه الا ترى إلى قوله تعالى: وَلَوْ كُنتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّواْ مِنْ حَوْلِكَ (ال عمران: ۱۵۹)

يعني قاضي صاحب ته چي مدعيان راسي په تروه تندي به نه ورته ګوري ځکه دغه معامله که له يوه سره وکړي ظلم ده او که يې له دواړو سره وکړي کېداى سي چي حقدار دي د خپل حق له اظهاره عاجزه سي او ولاړ دي سي حق دي پرېږدي .

ثم قال فى مواطن الحق التى يوجب الله تعالى بها الأجر: يعنى فى مجالس الحكم فالحكم و ترك الضجر و القلق و اظهار البشر مع الناس محمود فى كل موضع و فى مجلس القضاء البشر و طلاقه الوجه اولى بعد ان يكون فعله ذلك لوجه الله تعالى كما قال فانه من يخلص بينته فيما بينه وبين الله تعالى و لو على نفسه يكيفه الله ما بينه و بين الناس و إلى نحوه اشار ﷺ فى قوله من اخلص سريرته اخلص الله علانيته۔

ثم قال و من يتزين للناس بما يعلم الله منه خلافه يسبه يعنى إذا رأى بعمله و المرأة مذمومة حرام على كل احد و هو فى حق القاضى آكد لأنه غير محتاج إلى ذلك و انما يفعل و المرء ذلك عند حاجته و لأنه يقلد القضاء ليكن خليفة رسول الله ﷺ فيما يحكم به بين الناس فينبغى ان يكون اشبه

برسول الله و هو كان أبعد الناس عن المرأة والنفاق و قوله يسبه الله اى يفضحه الله تعالى على رؤوس الأشهاد قال ﷺ من رأى الله به و من سمع سمع الله به۔

ثم قال فما ظنك بثواب الله في عاجل رزقه و خزائن رحمته: معناه اى ان المرائى بعمله بقصد اكتساب محمدة او منال شيئ مما فى ايدى الناس و ما يفوته به إذا ترك الاخلاص من ثواب الله تعالى فالعاقل إذا قابل ما هو موعود له من الله عند التقوى والاخلاص مما يطمع فيه من جهة الناس ترجع ما عند الله تعالى لا محالة و ذلك عاجل الرزق كما قال تعالى : و من يتق الله يجعل له مخرجا و يرزقه من حيث لا يحتسب(الطلاق : ۲) و المغفرة والرحمة كما قال الله تعالى : ان رحمة الله قريب من المحسنين (الاعراف : ٥٦) اى المتقين المخلصين فالحديث من ا وله إلى اخيره دليل على ان للقاضي ان يتشعر التقوى فيما يفعل فهو ملاك الأمر قال ﷺ ملاك دينكم الورع و قال التقى ملجم۔

خلاصه دا ده چي قاضي صاحب به يو د مدعيانو مخته خوش طبعي كوي په تريو تندي به نه ګوري د غم او د غصې اظهار به نه كوي او بل به دغه فيصله د الله لپاره كوي په فيصله كي به اخلاص كوي د خلكو د ليدلو او صفت كولو لپاره به يې نه كوي پخپل لباس او پستو خبرو به خلكو ته دوكه نه وركوي بيا يې الله رسوا كوي د خلكو د روپو طمع او لالچ به نه كوي، اخروي ګټو ته به ګوري، د دنيا مفاد ته به پر آخرت ترجيح نه وركوي . قاضي د رسول الله ﷺ جانشين دی د رسول الله ﷺ صورت او سيرت به خپلوي د هغه پر طرز به قول او عمل كوي، اخلاص

Maktaba Tul Ishaat.com

او تقوی به لري . دغه صفات چي په ځان کي پيدا کړي هم الله (ج) رزق ورکوي او هم يې الله (ج) د ټولو مشکلاتو حل کوي او هم يې په خلکو او جهان کي نېک نامه کوي .

نوټ: په کتابو کي ددغه حديث مبارک په الفاظو کي يو څه فرق سته او په تطويل او تقصير کي هم يو څه فرق لري په معين الحکام کي پر دغه ځای حديث مبارک ختم سوی دی او په مبسوط السرخسي کي دغه الفاظ هم لري:

و ادن الضعيف حتى يشتد قلبه و ينبسط لسانه و لم يرد بهذا الأمر تقديم الضعيف على القوى و انما أراد الأمر بالمساواة لأن القوى يدنو بنفسه لقوته والضعيف لا يتجاسر على ذلک والقوى يتکلم بحجته و ربما يعجز الضعيف عن ذلک فعلى القاضى أن يدنى الضعيف ليساويه بخصمه حتى يقوى قلبه و ينبسط لسانه فيتکلم بحجته .

يعني که د زورور او کمزوري سره عداوت وو د زورور او کمزوري په هر لحاظ چي وي په اعتبار د صورت وي که په اعتبار د مال وي او که په اعتبار د قوم وي او که په اعتبار د منصب وي قاضي خو په مساوات مامور دی نو که زورور را مخته سو هغه کمزوری به قاضي پسي را مخته کړي چي برابر سي که داسي نه وسي د کمزوري زړه ماتيږي او ژبه يې له دليل ويلو څخه بنديږي بالآخرة حق يې تلف کيږي داسي نه چي که قوي نه وي مخته سوی هم کمزوری به قاضي مخته کوي ځکه بيا خو مساوات فوتيږي .

ثم قال و تعاهد الغريب فانك ان تعاهده ترك حقه و رجع إلى اهله

فربما ضيع حقه من لم يرفع به رأسه قيل هذا أمر بتقديم الغرباء عند الازدحام في مجلس القضاء فان الغريب قلبه مع اهله فينبغي للقاضي أن يقدمه في سماع الخصومة ليرجع إلى اهله و قد كان رسول الله ﷺ يأمر بتعاهد الغرباء و قيل مراده أن الغريب منكسر القلب فإذا لم يخصه القاضي بالتعاهد عجز عن اظهار حجته فيترك حقه و يرجع إلى اهله و القاضي هو المسبب لتضيع حقه حين لم يرفع به رأسه۔

يعني قاضي صاحب به د مسافر خيال ساتي د قضاء په مجلس کي يعني که رش او کش وي اول دي د مسافر کار وکړي ځکه د هغه و کور ته سودا وي که په مجلس د قضاء کي التفات نه وي ورته او کار يې ځنډني سي نو دی کور ته ځي دعوه پريږدي په داسي چلن سره دده حق تلف کيږي او ددغه تلف مسبب قاضي دی لهذا قاضي به يې يو څه خيال ساتي چي په گنهکار نسي .

(قال) و حكم عن الخصم يعني ان يحكم في بعض ما يسمع من الخصوم مع قدرته على منعه وهو معنى قول عمر رضي الله عنه لا يصلح لهذا الأمر الا اللين من غير ضعف و القوي من غير عنف قال استخفاف بالائمة معناه لا ينبغي للقاضي فيما يفصل من القضاء ان يخاف الائمة من الناس فإذا خاف ذلك يتعذر عليه القضاء بالحق و إلى ذلك اشار الله تعالى : و لا يخافون لومة لائم (المائده: ٥٤) ۔

يعني قاضي صاحب دي د مدعيانو په بعض ويناؤ کي ثالث ځان جوړوي دوی دي له خبرو پر مخ نه بندوي که څه هم دی پر بندېدلو قادر ده يعني قاضي صاحب به نرم وي نه داسي نرم چي ضعيف وي د حکم

Maktaba Tul Ishaat.com

اجراء نسي کولی او هم به قوي نو داسي قوي چي سرزنش او عتاب کوي او نه به قاضي صاحب د خلګو له ملامتیا ډاریږي په قضاء کي دي ډار له الله (ج) څخه کوي د خلګو په خبرو دي سر نه ګرزوي ځکه که یې د خلګو و خبرو ته کتل بیا حق فیصله نسي کولی . (علامه الکاسانیؒ ویلي دي:

فنصب القاضی فرض لأنه ينصب لاقمة أمرٍ مفروضٍ و هو القضاء قال الله سبحانه و تعالى : يا داؤد إنا جعلناك خليفة في الارض فاحكم بين الناس بالحق (ص:٢٦) و قال تبارك و تعالى لنبينا المكرم عليه أفضل الصلاة والسلام : فاحكم بينهم بما انزل الله (المائدة: ٤٨)

و القضاء هو الحكم بين الناس بالحق و لاحكم بما أنزل الله عزوجل فكان نصب القاضى لاقامة الفرض فكان فرضا ضرورة و لأن نصب الإمام الاعظم فرض بلا خلاف بين أهل الحق و لا عبرة بخلاف بعض القدرية لاجماع الصحابة رضى الله عنهم على ذلك و لمساس الحاجة اليه لتقيد الاحكام و انصاف المظلوم من الظالم و قطع المنازعات التى هى مادة الفساد و غير ذلك من المصالح التى لا تقوم الا بإمام لما علم فى اصول الكلام و معلوم أنه لا يمكنه القيام بما نصب له بنفسه فيحتاج إلى نائب يقوم مقامه فى ذالك و هو القاضي و لهذا كان رسول الله ﷺ يبعث إلى الافاق قضاة فبعث سيدنا معاذ رضى الله عنه إلى اليمن و بعث عتاب ابن اسيد إلى مكة فكان نصب القاضى من ضرورات نصب الإمام فكان فرضاً و قد سماه محمدُ فريضة محكمة لأنه لا يحتمل النسخ لكونه من الاحكام التى عرف وجوبها بالعقل و الحكم العقلى لا يحتمل الانتساخ و الله تعالى اعلم۔

Maktaba Tul Ishaat.com

علاء الدین الکاساني وایي چي د قاضي مقررول فرض دي ځکه موقوف علیه لپاره د فرض دی او موقوف علیه دفرض فرض وي ځکه په دنیا کي د امن او د رفع فساد لپاره د إمام مقررول په اجماع سره د صحابه کرامو فرض دي او إمام یک تنها پر ټول جهان بنفسه ولایت نسي کولی نه ټول جهان په هره مسئله کي و إمام ته راتلی سي . لهذا إمام و نائبانو ته ضرورت لري بې نائبه إمام إمامت کبری نسي کولی او إمامت فرض دی قاضیان د ده تائبان دي نو د قاضي مقررول هم ضرورت فرض دی د سوال ثاني جواب له دغو کتابو را خیستل سویدی . (المبسوط السرخسي / ص: ۶۷، ۸۰ / ج: ۱۶، معین الحکام / ص: ۱۶، بدائع الصنائع / ص: ۴۳۸، / ج: ۵)

سوال :......

په قضاء کي حکمت څه شی دئ؟

جواب :......

په قضاء کي حکمت امن او فساد ختمول دي . ځکه الله (ج) چي و ملائکه ته وویل :انی جاعل فی الارض خلیفة (الایة) یعني زه په ځمکه کي خلیفه پیدا کوم د خلیفه په پیدا کېدلو کي او د خلیفه په نوم کي مقصد دا دی چي دغه کس به د الله (ج) احکام پر ځمکه اجراء کوي او الله (ج) خپل احکام و جبرائیل علیه السلام په واسطه د هغه عصر مطابق به خپل خلیفه ته رالېږل تر رسول الله ﷺ پوري، و هغه ته الله (ج) هغه احکام راولېږل چي د رسول الله ﷺ تر رحلت وروسته په هغو کي تغیر او تبدیل ممنوع دی دغه احکام و قانون د ټولي دنیا د امن

ضـامن دی پـه دغـه قـانو ن کـي د هر قسم حقوقو لحاظ تر قيامته ساتل سـويدی د دغه قانو ن اجراء پر خليفه اولاً و بالذات فرض ده او د خليفه پر معاوينينو ثانياً فرض ده ځکه خليفه يې تنها اجراء کولی نسي او احکام و قـانو ن دي مشترک د تولو سره د رسول الله ﷺ په زمانه کي رسول الله ﷺ خليفه وو د الله د احکامو او صحابه کرام يې معاونين وو له هغه وروسته ابو بکر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ جانشين سو او خليفه سو دغه سلسله تر اخيره پوري واخله غرض دا دی چي د احکامو اجراء فرض ده د احکامو اجراء بې إمامه يعني بې خليفه نه کيږي نو د إمام او خليفه مقررول فرض سو او إمام يې بې نائبه نسي کولی ولس ته به خپل نائبان مقرر کړي يعني جانشين هغه به د احکامو په اجراء کي داسي وي لکه إمام يعني پر اولس باندي به ولايت عامه لري که د يتيمي پلار او بل نزدې قريب نه وي دغه نائب به يې په نکا ح ورکوي مثلا د دغه ضرورت په وجه چي خليفه يواځي اجراء نسي کولی د نائب يعني قاضي مقررول فرض سو او ددغه اجراء مقصد دا دی چي بنده حقه بندګي وکړي يعني لـه الله سره د غلام پـه حيث زندګي وکړي د الله قانو ن تـه تسليم سي او تعميل يې کړي د الله (ج) قانو ن د امن راوستلو او د فساد د ختمولو ضامن دی . لهذا د قضاء حکمت امن راوستل او فساد ختمول دي .

و اما حكمته (ای القضاء) فرفع التهارج و رد النوائب و قمع الظالم و نصر المظلوم و قطع الخصومات و الأمر بالمعروف و النهی عن المنكر - (معين الحكام / ص: ٧).

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:......

د قضاء مطالبه کول يعني په خوله غوښتل جائز ده او که نه؟

جواب:......

يعني د قضاء مطالبه کول ناجائز ده په خوله به انسان قضاء نه غواړي او که چا وغوښته الله (ج) يې نصرت نه کوي دی او قضاء سره پرېږدي . مګر په بعض اوقاتو کي بعض کتابو ليکلي دي چي د قضاء مطالبه جائز نه بلکه واجب ده هغه يو استثنايي صورت دی په عامو حالاتو کي مطالبه کول ناجائز ده:

"و اعلم ان طلب القضاء والحرص عليه حسرة و ندامة في عرصات القيامة و روى عن النبي ﷺ انه قال ستحرصون على الامارة و تكون حسرة و ندامة يوم القيامة فنعمت المرضعت و بئست الفاطمة"

يعني د قضاء مطالبه کول او پر قضاء حرص کول د قيامت په ورځ د حشر په ميدان کي د انسان لپاره د غم او پښېمانتيا باعث ګرزي لهذا د قضاء مطالبه دي څوک نه کوي ځکه مرضعه يعني تی ورکونکې ښه ده او فاطمه يعني تی غوښتونکې بده ده دغه ترجمه دمقام په مناسبت سوې ده ځکه فاطمه وتی قطع کوونکي ته وايي . فمن طلب القضاء و اراده و حرص عليه و كل اليه و خيف عليه فيه الهلاک و من لم يسأله و امتحن به و هو کاره له خائف على نفسه فيه أعانه الله عليه و روى عنه عليه الصلوة و السلام انه قال من طلب القضاء و استعان عليه و كل اليه و من لم يطلبه و لا استعان عليه أنزل الله ملكان سدده و قال عليه الصلاة و السلام يا عبد الرحمن لا تسأل الامارة فانک ان تؤتها عن غير مسئلة

تعن عليها و ان تؤتها عن مسئلةٍ توكل اليها .

يعني كه چا د قضاء مطالبه وكړه الله (ج) دغه قضاء ورته سپاري په دغه قضاء كي ددغه سړي د هلاكت خوف ده ځكه الله يې نصرت نه كوي او كه چا ته بې مطالبې وركول سوه او دى بې زاره وو ځيني او پر ځان بېرېدو چي هلاك به سم په دغه قضاء كي الله (ج) يې نصرت كوي لهذا په خوله دي څوک قضاء نه غواړي . معين الاحكام / ص: ۹)

هغه استثنايي صورت دا دى:

"إذا كان من أهل الاجتهاد او من أهل العلم والعدالة و لا يكون هناك قاضٍ او يكون و لكن لا تحل و لايته او ليس في البلد من يصلح للقضاء غيره او لكونه ان لم يل القضاء وليه من لا تحل ولايته و كذلك ان كان القضاء بيد من لا يحل بقاؤه عليه و لا سبيل إلى عزله الا بتصدى هذا إلى الولاية "فيتعين عليه التصدى لذلك و السعى فيه إذا قص بطلبه حفظ الحقوق و جريان الاحكام على وفق الشرع لأن فى تحصيله القيام بفرض الكفاية "(معين الحكام / ص: ۱۰-۱۱)

يعني كه دغه طالب القضاء مجتهد وي او يا عالم وي او هم عادل وي او پ هغه ځاى قاضي نه وي او يا قاضي وي مګر ولايت يې جائز نه وي او يا د دغه طالب په ښار كي له ده ماسوى بل داسي څوک چي د قضاء ال وي او يا كه د طالب القضاء قاضي نسي بل داسي څوک قاضي كيږي چي د هغه ولايت پر خلكو ناجائز وي او يا بالفعل قضاء دداسي چا په لاس كي وي چي پر دغه قضاء پاتېدل يې جائز نه وي او دعزل يې بله طريقه نه وي بې له دې چي دغه طالب القضاء پخپله د قضاء طلب وكړي په دغه وخت كي

پـر دهٔ بـانـدي مطالبه کول لازم دي په دې شرط چي د ده مقصد به هم داوي چي د خـلـګـو حـقـوق مـحفوظ سي او الهي احکام دشريعت موافق جاري سي پـه دې وخـت کـي مـطالبه ځکه واجب ده چي تـحصيـل دفرض کفايي باندي راځي .

سـوال :......

کـه يـو چـا د قـضـاء مـطالبه وکړه او بيا قاضي سو ، قضاء يې نافذه ده او که نه؟ ځکه خو مطالبه يې ناجائزه ده .

جواب :......

قـضـاء يـې نـافـذه ده ځـکه ترک الطلب له شرائطو د تقليد د قضاء نه ده مګر بادشاه خليفه بايد داسي کس نکړي قاضي ځکه دا متهم ده؟

و أما ترك الطلب فليس بشرط لجواز التقليد بالاجماع فيجوز تقليد الطالب بلا خوف لأنه يقدر على القضاء بالحق لكن لا ينبغى أن يقلد لأن الطالب يكون متهما .(بدائع الصنائع ص۴۳۹ / ج: ۲)

سـوال :......

هـغـه څـوک چي د قضاء مطالبه وکړي او بی قـاضـي سي قـضاء يې نافذ ده کـه دغـه سـړی لـه دغـه مـطالبې سره سره رشوت هم وچلوي په رشوت دغه قضاء حاصله کړي د دغـه راشي قاضي قضاء هم نافذه ده؟

جواب :......

د رشوت ورکـونـکي قـاضـي قـضـاء نه ده نافذه ځکه دی چي پر قضاء حـاصـلـولـو رشـوت ورکـوي او ځـان نـقـصـاني کوي معلومه ده چي دغه نـقـصـان د حـق کـتـمـان او پـتـېـدلـو بـاندي بيرتـه راګرزي بلکـه پـه دغـه

نقصان کته کوي . معلومه خبره ده چي دغه قاضي د باطل په حق کي فيصله کوي لهذا فيصله يې باطله ده .

"قال فی الخلاصة و من أخذ القضاء برشوة فالصحيح أنه لا يصير قاضيا و لو قضی لا ينفذ حکمه و به يفتی "(معين الحکام ص۹)

سوال:......

قضاء قبلول څه حيثيت لري ځکه بعض علماء کرام وايي چي د قضاء قبلول ډېر مذموم کار ده په ذم کي دغه احاديث مبارکان وايي:

"روی عن النبی عليه الصلاة والسلام أنه قال لابی ذر رضی الله عنه (اياك و الإمارة)"(صحيح مسلم کتاب المغازی ٤٦٩٦)

و روی عنه عليه الصلاة و السلام أنه قال (لا تَأَمَّرَنَّ على اثْنَيْنِ) (صحيح المسلم کتاب الإمارة ١٨٢٦)

و روی عنه عليه الصلاة و السلام (مَنْ جُعِلَ عَلَى القَضَاءِ فَقَدْ ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّيْنٍ) (رواه احمد فی المسند ٢ / ٣٦٥)

همدا راز إمام ابو حنيفهؒ د قضاء له قبلولو منع کړې ده تقريبا درې واره د قضاء پر قبلولو باندي ووهل سو او هر وار دېرش، دېرش لښتي يا تازغوني وهل سويده او إمام محمدؒ يو څه بالا ځلو ښت ورځي يا يو څه بالا پنځوس ورځي د قضاء پر قبلولو بندي سويده او دغسي نورو صالحانو خلکو هم د قضاء له قبلولو منع کړې ده آيا د دغو علماء کرامو قول پر ځای ده ؟

جواب:......

د عامو مشائخو رحمهم الله رأيه دا ده چي په قضاء کي داخلېدل

رخصت ده او منع یې ځیني کول عزیمت ده ماسوی له هغو صورتو چي په څلورم سوال او جواب کي ذکر سو مګر حقیقت دا ده چي قضاء قبلول مذموم کار نه ده بلکه جور او ظلم مذموم ده .

رسول الله ﷺ قضاء کړې ده او هم یې صحابه کرام پر قضاء مقرر کړیدي او هم مخته ثابته سوه چي قاضي مقررول فرض دي او هغه احادیث مبارکان بعضي محمول دي پر هغه قضاء چي بې ضرورته داعي یې یو څوک مطالبه کوي او بعض لکه من جعل علی القضاء فقد ذبح بغیر سکین دغه حدیث بعض علماء کرامو په مدح د قضاء کي ذکر کړیدی نه په ذم کي او إمامانو او صالحانو چي قضاء نه قبلوله د هغو مقصد دا وو چي کېدای سي د قضاء ماحقه حق به نه کړو اداء لهذا د احتیاط او د تقوی په وجه یې قضاء نه قبلوله نه په دې وجه چي نفس قضاء مذمومه ده .

"اعلم ان اکثر المؤلفین من أصحابنا و غیرهم بالغوا فی الترهیب والتحذیر من الدخول فی ولایة القضا و شددوا فی کراهة السعی فیها و رغبوا فی الاعراض عنها و النفوذ و الهرب منها حتی تقرر فی اذهن کثیر من الفقهاء و الصلحاء ان من ولی القضاء فقد سهل علیه دینه و ألقی بیده إلی التهلکه و رغب عما و هو الأفضل و ساء اعتقادهم فیه و هذا غلط فاحش یجب الرجوع عنه و التوبة منه والواجب تعظیم هذا المنصب الشریف و معرفة مکانته من الدین فبه بعث رسول الله و بالقیام به قام السموات و الارض و جعله النبی علیه الصلوة و السلام من النعم التی یباح الحسد علهیا فقد جاء من حدیث ابن مسعود عنه علیه الصلوة و الصلام لا حسد الا فی

Maktaba Tul Ishaat.com

اثنتين رجلٌ اته الله ما لا فسلطه على هلكته في الحق و رجل آتاه الله الحكمة فهو يقضي بها و يعمل بها و جاء من حديث عائشة رضي الله عنها أنه عليه الصلاة و السلام قال هل تدرون من السابقون إلى ظل الله يوم القيامة قالوا الله اعلم و رسوله قال الذين إذا اعطوا الحق قبلوه و إذا سئلوه بذلوه و إذا حكموا للمسلمين حكموا كحكمهم لا نفسهم و في الحديث الصحيح سبعة يظلهم الله تحت ظل عرشه الحديث فبدأ بالإمام العادل و قال ﷺ المقسطون على منابر بن نور يوم اقيامة على يمين الرحمن كلتا يديه يمين و قال عبد الله بن مسعود لأن اقضي يوماً احب اليّ من عبادة سبعين سنة و مرا ده انه إذا قضى يوما بالحق كان أفضل من عبادة سبعين سنة فكذلك كان العدل بين الناس من أفضل الاعمال البرء و لعى درجات الاجر قال الله تعالى : و ان حكمت فاحكم بينهم بالقسط ان لله يجب المقسطين ـ فاىّ شيئ اشرف من محبة الله تعالى ـ

و اعلم ان كل ما جاء من الاحاديث التي تخويف و وعيد فانما هي في حق قضة البحور و العلماء والجهال الذين يدخلون انفسهم في هذا المنصب بغير علمٍ ففي هذين الصنفين جاء الوعيد و أا قوله ﷺ من ولي القضاء فقد ذبح بغير سكينٍ فقد اورده اكثر الناس في معرض التحذير من القضاء و قال بعض أهل العلم هذا الحديث دليل على شرف القضاء و عظيم منزلته و ان المتولي له مجاهد لنفسه و هواه و دليل على فضيلة من قضى بالحق اذ جعله ذبيح الحق امتحانا لتعظم له المثوبة امتناناً فالقاضي لما استسلم لحكم الله و صير على مخالفة الاقارب و الاباعد في خصوماتهم فلم يأخذه في الله لومة لائم حتى قادهم إلى أمر الحق و كلمة العدل و كفهم

Maktaba Tul Ishaat.com

عن دواعی الهوا و العناد جعل ذبیح الحق لله و بلغ به حال الشهداء الذين لهم الجنة ـ

و قد ولی رسول الله ﷺ علی بن ابی طالب و معاذ بن جبل و معقل بن يسار رضی الله عنهم القضاء فنعم الذباح و نعم المذبوحون فالتحذير الوارد من الشرع انما هو عن الظلم لا عن القضاء فا الجور فی الكاحكام و اتباع الهوی فيه من اعظم الذنوب و اكبر الكبائر قال الله تعالی : وَأَمَّا الْقَاسِطُونَ فَكَانُوا لِجَهَنَّمَ حَطَباً ـ و قال عليه الصلوة والسلام ان أعتی الناس علی الله و ابغض الناس إلی الله و ابعد الناس من الله رجل ولاه الله من أمر امة محمد ﷺ شيئاً ثم لم يعدل بينهم و أما قوله ﷺ القضاة ثلاثة قاضيان فی النار و قاضٍ فی الجنة قاضٍ عمل بالحق فی قضائه و قاضٍ قضی بغير علمٍ و استحيا أن يقول لا اعلم فهو فی النار فصح ان ذلك فی الجائر و لاجاهل الذی لم يؤذن له فی الدخول فی القضاء و أما من اجتهد فی الحق علی علم فأخطأ فقد قال عليه الصلاة و السلام إذا اجتهد الحاكم فأصاب فله اجران و إن أخطأ فله اجر و بمثل ذلك نطق الكتاب العزير فی قوله تعالی :وَدَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ إِذْ يَحْكُمَانِ فِيْ الْحَرْثِ إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ الْقَوْمِ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شَاهِدِيْنَ ـ فَفَهَّمْنَاهَا سُلَيْمَانَ وَكُلاً آتَيْنَا حُكْماً وَعِلْماً ـ فاثنی علی داؤد باجتهاده و أثنی علی سليمان باصابته وجه الحكم ـ و قد قال الله تعالی :وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ـ فيجب علی من دخل فی خطة القضاء بذل الجهد فی القيام بالحق والعدل فقد قال بعض ائمة المذهب القضاء محنة و من دخل فيه فقد ابتلی بعظيم لأنه عرض نفسه لله لاك إذا

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب :......قاضي په اسلام كې د احكامو اظهار كوي اثبات يې نه كوي يعني مظهر د حكم دى مثبت د حكم نه دى . د مثال په توګه يو حقوق الله دي او بل حقوق العباد دي په حقوق العباد كې كه متخاصمان و قاضي ته دعوى يوسي او هغه فيصله ور وكړي پر دغو خلكو دده فيصله منل لازم ده په دې شرط كه دغه فيصله د نصوصو خلاف نه وه ځكه قاضي صاحب د دوى حق او باطل ور معلوم كړ يعني له پخوا څخه لا په دوى كې يو حق او بل باطل وو هغه معلوم نه وو قاضي د هغه تعين وكړو او په حقوق الله كې لكه لمونځ او روزه مثلا د قاضي و فيصلې ته هيڅ ضرورت نسته . ځكه دعوى داران نسته د قاضي اعلان صرف ددې لپاره وي چې د مسلمانانو اتحاد او اتفاق وساتل سي .لهذا كه يو كلي مياشت ويني او په كلي كې يو عالم ته ووايي چې موږ مياشت وليدله او هغه ورسره ومني پر دغو خلكو روزه نيول لازم ده كه څه هم قاضي د ملک د نه نيولو اعلان وكړي ځكه د قاضي خبره د مشاهدې خلاف ده او د قاضي خبره خو د اظهار لپاره وه او اظهار مخته لا سوى دى .

همدا رنګه كه يو سړى مياشت وليدله دى به روزه نيسي كه څه هم د ده ليدل د بل چا لپاره حجت نه دى لهذا قاضي مظهر د حكم ده مثبت د حكم نه ده يعني كه يو حكم ثابت هم وي او ظاهر هم وي پر انسان لازم دى نه د قاضي فيصلې ته ضرورت سته او نه دعوې ته ضرورت سته لكه قرض او لمونځ و غيره .

"قوله و قيل غير ذلك : منه قول العلامة قاسم انه انشاء الزام فى مسائل الاجتهاد المتقاربة فيما يقع النزاع لمصالح الدنى فخرج القضاء على خلاف

الاجماع و ما ليس بحادثة و ما كان من العبادات و منه قول العلامة ابن الغرس .... و معنى فى الظاهر أى الصورة الظاهرة اشارة إلى أن القضاء مظهر فى التحيق للأمر الشرعى لا مثبت "(رد المحتار / ص: ۳۳۰ / ج: ٤)

دغه مذکور شیان د قضاء تعریف دی یعني د خصمین په مینځ کي فیصله کول او د دوی په مینځ کي نزاع ختمول په یو خاصه وجه باندي مثلا قضاء به د اجماع خلاف نه وي او قضاء به په نوې حادثه کي وي او په عباداتو کي به نه وي او قضاء د أمر شرعي لپاره صرف مظهره ده مثبته نه ده .

سوال :......

هغه خلک چي د خپل ملک په سرحداتو کي پراته دي دخپل ملک قاضي ۱۰۰۰ کلو میتره ځیني لیري دی او د هغه بل ملک قاضي ۲۰۰ دوه سوه کلو میتره ځیني لیري دی د هغه همسایه ملک قاضي د روژې یا د اختر اعلان وکړي او د خپل ملک قاضي اعلان نه وکړي ، آیا پر دغو خلکو روزه یا اختر لازم دی او که نه، ځکه بعض علماء ورته وایي چي پر هر چا د خپل قاضي اتباع لازمه ده د بل قاضي په اعلان عمل نه سي کولای؟

جواب :......

دغه سوال په موجوده عصر کي ډېر مهم دی لهذا یو څو خبري د تمهید په شکل ذکر کوم بیا جواب نقل کوم انشاء الله اوله خبره دا ده چي په اختلاف د مطالعو کي د علماء کرامو اختلاف دی چي اختلاف مطالع لره اعتبار نسته د احنافو په مذهب کي ظاهر الروایة او مفتی به قول هم دغه دی چي اختلاف مطالع لره اعتبار نسته د أهل مغرب په لیدلو به أهل

Maktaba Tul Ishaat.com

مشرق هم روزه نيسي او هم به اختر جوړوي او د أهل مشرق په ليدلو به أهل مغرب اتفاقاً هم روزه نيسي او هم به اختر جوړوي . په دې كي اختلاف نسته او بعض علماء كرام وايي چي اختلاف د مطالع په بعد د مسافې كي معتبر دى او په قرب د مسافې كي نه دى معتبر . د هغو علماء كرامو په نظر چي اختلاف د مطالع معتبر نه بولي او واضحه ده چي أهل مشر ق د أهل مغرب د قاضي په اعلان عمل كوي د خپل قاضي اتباع يې پاته سوه او همدا رنګه د هغو علماء كرامو په نظر چي اختلاف مطالع معتبر بولي هم دا ثابته سوه چي د خپل قاضي اتباع ضرور نه ده . قاضي كه بعيد وي او كه قريب و على السويه دي ځكه دغه علماء كرام دا دليل نه وايي چي هغه قاضي پره دى دى يا هغه قاضي ليري دى بلكه هغه وايي چي د هغه بعيدو خلكو مطلع زموږ لپاره مطلع نه ده يعني د هغو شهود الشهر زموږ لپاره شهود الشهر نه بلل كيږي . شهود الشهر د روژې او د اختر لپاره داسي سبب دى لكه دلوك الشمس د ماپښين د لمانځه لپاره نو كه پر أهل مشرق باندي دلوك الشمس راغى د هغه دلوك په وجه پر أهل مغرب باندي د ماپښين لمونځ نه فرض كيږي .

دويمه خبره دا ده چي احكام سرحد او باډر په اسلام كي نه لري پر هر ځاى چي وخت داخل سو پر هغو خلكو لمونځ فرض سو مثلا دوه ملكونه و لمر ته په جنوب او په شمال كي مساوي پراته دي كوم وخت چي صبح صادق را پورته سو د هر يوه ملك پر أهل مشرق د سهار لمونځ فرض سو مګر د هر يوه ملك پر أهل مغرب باندي په دغه وخت كي نه دى فرض .

دغـه رنګـه شهـود الشهـر چـي د هر مـلک پـه مغربي کي وسي دهغو علـماء پر مسلک چي د شمس او د قمر په اختلاف کي فرق نه کوي يعني اختلاف مطالع په قمر کي هم معتبر بولي پر أهل مغرب باندي روزه او اختـر لازم دی مـګـر ددغـه ملک پر أهل مشرق باندي بيا نه دی لازم ، ځکه خو شهـود الشهر پر دوی نه دی سوی او د أهل مغرب مطلع او ليدل دوی ته کافي نه بولي مګر افسوس صد افسو د دې عصر پر هغو علماء کرامو چي اختلاف معتبر بولي او په خپل ملک کي معتبر نه بولي که څه هم دغـه ملک له مغربه تر مشرقه ۲۰۰۰ دوه زره کلو ميتره وي يعني که معتبر سي نو بايد ددغه ملک لپاره يو رويت او يو قاضي کافي نسي . بلکه پر هر دوه سوه کـلـو ميتـره يو قاضي او يو رويت وي ، دريمه خبره دا ده چي قـاضـي مـظهـر وي حـکـم لـره مثبت نه وي حکم لره لهذا هر قاضي چي اظهار وکړي بس هغه کافي دی .

څلـورمـه خبره دا ده چي بعـض داسي عبارات ستـه وايي چي د هري منـطقـي خلک د خپـل قاضي تر ولايت لاندي دي د هغه اتباع به کوي او داسـي عبـارات هم ستـه واي چي بل قاضي و دغـه قاضي ته د يو عام سړي حکـم لـري کـه دغـه قريب قاضي د هغه بعيد قاضي قول او قضاء تسليم کـړه نـو پر دغه قوم باندي عمل کول لازم دي او که يې نه کړو قبول بيا پر دغـه قـوم د هـغـه بعيد قاضي پر قول باندي عمل کول لازم نه دی لـه دغو عبـاراتـو بـعـض عـلماء دا ترجمه کوي چي پر هر قوم د خپـل قاضي اتباع لازم ده او دبـل قـاضـي پـه قـول بـه عـمـل نـه کوي او داسي نه ده ځکه دغه عبارات بناء پر هغه وخت دي چي په دنيا کي رسنۍ او د اطلاعاتو اسباب

نـه وو مثـلا نـه راډيـو وه او نـه ټي وي وو او نـه ټليفون وو بلکه هيڅ يو سبب له اسبابو د رسېدلو نه وو د هر ي مطقې به خپل قاضي وو و قاضي تـه بـه ګـواهـان راغـلو هغه چې به منظور کړو نو بيا به يې د ښار پر منار باندي د خلکو د خبرېدلو لپاره اور بل کړو او يا به يې د خپـل دربار کسان پـه خـلـکـو پسـي ولېـږل او يـا بـه يې بله داسي طريقه وکړه چي د ښار او د ښـار شـاو خـوا خـلک بـه يې خبر کړو او دغـه خلک د بل قاضي په هيڅ شي هم نه خبرېدو .

کـه یـو سړی صلحه وکړی د حق مجهول څخه په حق معلوم سره او یا د حق مـجهـول صـلـحـه وکړی پـه حق مجهول سره چي احتیاج نوی و قبض دا صلحه جائز ده که نده جائز ؟
جواب﴾
دا صلحه جائز ده .
صـالـح عـن حق مـجهـول علی معلوم او علی مجهول لا یحتاج فی الی قبض جاز ۱۲ .
سراجیه کتاب الصلح ص ۵۲۱ .
سوال﴾
کـه یو سړی دعوه د نکا ح دیو ښځی وکړی بیا صلحه دا ښځه وکړی ددې سـړی سـره پـر مال باندي چي دا دعوه پریږده او س ئی دا صلحه جائز

ده که نده جائز ؟

جواب ﴾

دا صلحه ئی جائز ده .

ادعی نکاحا فصالحة علی مال علی ان یترک الدعوی جاز ۱۲ سراجیه کتاب الصلح ص ۵۲۱ .

سوال ﴾

که ولی د مقتول شاهدان و دروی پر قاتلْ باندی په قتل سره دلته خو دیته واجبیږی پر عاقله وه باندي بیا وروسته صلحه سره وکی پر کم یعنی پریږ دیته باندي د جنسه د دراهمو دلته صلحه صحیح کیږی که نه صحیح کیږی او صلح چي سره وکړي دلته دیته پر عاقله وه باندي هر کیږی که خالی پر قاتل باندي کیږی؟

جواب ﴾

پر عاقله وه باندي کیږی او په صلحه سره د عاقله وه څخه نه اوړي .

یکون علی العاقلة ولا یتحول عنها بالصلح عنها بالصلح المذکور ۱۲ فتاویٰ الخیریة بما مش تنقیع الحامدیه جلد الثاني ص ۱٦۴ .

سوال ﴾

که وارثان میراث تقسیم کړی او دوی هر یو شاهدی اداء کړی چی وماته خپل حق رسیدلی دی بیا وروسته یو شی پیدا سی چی په وخت د تقسیم کی نه وه اوس سوی ددې دعوه کولی سی که ئی نسی کولی؟

جواب ﴾

هر یو ددې دعوه کولی سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

نعم تصح دعواه في حصة هما ظهر ولا يضره في ذلك تقدم الاشهاد المرقوم ۱۲

فتاوىٰ الخيرية بهامش تنقيح الحامديه كتاب الصلح ص۱۲۳ .

سوال﴾

كه ديو سړي پر بل سړي زر درهم باندي وي هغه سړى و دا بل سړى ته دراهم وراداء كړل مجهول الوزن دا صحيح كيږى كه نه صحيح كيږى؟

جواب﴾

دا نه صحيح كيږى دا رقم فعل ناروا دى اذا كان لرجل على رجل الف درهم فقضاء دراهم مجهولة الوزن لا يجوز .

فتاوى و لوجيه كتاب الصلح جلد خامس ص ۱۵ .

سوال﴾

كه ديو سړي زر همه پر بل سړى باندي وى او هغه سړى دراهم وركړى مجهول الوزن په طريقه سره دا جائز ده كه نده جائز؟

جواب﴾

دا صلحه جائز ده يعني دا رقم فعل جائز دي .

ولو اعطاه على وجه الصلح يجوز و ان كان مجهول الوزن جوز على وجه الصلح ولم يجوز و على وجه القضاء ۱۲ .ولو جية كتاب الصلح جلد خامس ص۱۵ .

سوال﴾

كه غاصب ووائى چى مغصوب زما سره دى صاحب د شئى ورته

وائـى چي يا داشـى هـلاک سـوى دي او بيا صلحه سره وكړى پر طعام باندي تر يو وخته پوري دا صلحه ئى صحيح ده كه نده صحيح ؟

جواب﴾

دا صلحه ئى صحيح ده .

اذا قـال الـغـاصـب الـمـغـصـوب عـندى و قال صاحبه هلک فصالحه على طعام الى اجل جاز ۱۲ .

الو لوجية كتاب الصلح جلد الخامس ص۲۱ .

سوال﴾

كـه سـړى مـنـكـر سـي بيـا وروسته صلحه بيا اقرار وكړي اوس دلته ددې سړي اقرار صحيح دي كه ندى صحيح ؟

جواب﴾

دا اقرار ئى بى فائدې دى

فـلـو انـكـر ثـم صـالح ثم اقر لايلزم ما اقربه ۱۲ بحر الرائق كتاب الصلح جلد السابع ص۴۳۴ .

سوال﴾

كـه يـو سړي صلحه وكړى د هغه زخمى سره چى د زخمى كړى وى يا چـى ده وهـلـى وي هغه د زخم والا سړي جوړ سى نو دا صلحه جائز ده كه نـده جـائـز او كـه د زخـم والا سـړى مـړ سـو دا صـلـحـه ئى باطله ده كه نده باطله ددې څه حكم دى؟

جواب﴾

كـه د زخـم والا سـړى جـوړ سـو بيـا ئـى صلحه صحيح ده او كـه د زخـم

والا سړی مړ سو بیا ئی صلحه باطله نه او پر ده باندې دیت سته .
ولو صالحه من الجراح والجراحة او الضربة او القطع او الشجة او اليد على شئي ثم برئ فهو جائز وان مات بطل وعليه ديته في ماله
١٢ .بحر الرائق كتاب الصلح جلد سابع ص ٤٣٦ .

سوال

که یو سړي دعوه وکړه په بل سړی چې پر ده مې دي او وروسته مدعی و مدعی علیه ته وو ئی چې ما ته بري کړی ئی دغې سړی خپله یا مې بري کړې ئی د خپل خصومت څخه په دغې سړي کې وروسته که مدعی دعوه وکړي دعوه ئی اوریدل کیږي که نه اوریدل کیږي ؟

جواب

دا تولي خبري ئی باطلې دي که ئی دعوه وکړه دعوه ئی نه اوریدل کیږي .

رجل ادعى على رجل دارا وغيرها ثم قال المدعي جميع ما ادعيت تركت هذه الدار وترك خصومتي في هذه الدار وفي دعوى في هذه الدار فهو كما قال حتى لو ادعى ذلك لم يسمع بحر الرائق كتاب الصلح جلد سابع ص ٤٤٠

سوال

که یو سړي د مځکي دعوه وکړه او بیا ئی تسمیه وکړه په بعضی مځکه باندې په دغه باقي مځکه کې خصومت باطلیږي که نه ؟

جواب

په دغه باقي مځکه کې خصومت نه باطلیږي .

ادعـیٰ ارضـا فـصـالـحـه عـلـی البعـض مـنهـا لـم تـبطل خصـومتـه فی الباقي . (سراجیه کتاب الصلح ص:۵۲۲)

سوال﴾

کـه دوه نـفـره وی دوه سرایه لري بیا دوی صـلحه سره وکړي چي یو به په دې سرای کي اوسیږي او بل به په دې سرای کی اوسیږي دا صلحه ئی جائز ده ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

دا صلحه ئی جائز ده .

وکـذلک لو کان بینهما داران فاصطلح علیٰ ان یسکن هذهو هذا هذه فهو جائز کله (النتف فی الفتاویٰ کتاب الصلح ص: ۳۱۰

سوال۷

کـه یو سړی صلح وکړي په ډیره تر خپل خپل حق قدرا او وصفا او یا صـلـحک وکړي په ډیره تر خپل حق قدرا ونه وصفا دا صلحه جائز ده که نه ده جائز؟

جواب﴾

دا صلحه نه ده جائز .

ولـو صـالـح علیٰ اکثر من حقه قدرا او وصفا بان صالح من الف نبهر جة علیٰ الف وخمسمأته جیاد او صالح علیٰ اکثر من حقه قدرا لا وصفا بـان صـالـح مـن الف جیـاد عـلـی الف وخـمسـمأئة نبهرجة لایجوز لانه یـحـمله علی المعاوضة هنا لتعذر حمله علیٰ استیفاء البعض واسقاط الباقی (بدائع الصنائع کتاب الصلح جلد خامس ص:۵۲

سوال:

کـه یـو سړی دغـصب دعـوه وکړي په بل چا باندي بیا صلحه وکړي په مال باندي دا صلحه ئی جائز ده که نه ده جائز ؟

جواب﴿

دا صلحه ئی جائز ده .

ولـو ادعـیٰ غـصبـا عـلـی انســا ن ثـم صـالـحـه علیٰ مـال جـاز الصلح (عـالمکیریه کتاب الصلح جلد الرابع ص:۳۴۱

سوال﴿

که یو سړی مړ سي ماینه ئی پاته سي او ورور ئی پاته سي ماینه ددې مړی دمړه دورور سره صلحه وکړی پر معلوم شي باندي او دا دمړي ورور دترکې ځخه وباسي که چیري دادمړي ورور مړسو دده وزامنو ته ددعوې حق سته که نسته؟

جواب﴿

دده وزامنو ته ددعوې حق نسته .

لیـس لاولاد الا خ ان یـدعـوا فـی التـرکة شیـئـا بـعد التخارج المذکور (فتاویٰ الخیریه بما مش تنقیح حامدیه جلد الثانی کتاب الصلح ص: ۱٦۲

سوال۷

کـه غـاصـب ورتـه ووائـی دا مـغـصـوب شیء هلاک سوی دی صاحب دشي ورته ووائی چي نه دی هلاک سوی بیا صلحه سره وکړي دا صلح صحیح کیږي او که نه صحیح کیږي؟

جواب﴿

دا صلحه ئى صحيح نه ده .

ولو قال الغاصب هلك وقال صاحبه لم يهلک لم يجز الصلح (الولو الجيه كتاب الصلح جلد خامس ص: ٢١

سوال﴾

صلح دشعي څخه جائز ده كه نه ده جائز او شفع باطلوي كه ئى نه باطلوي چي قبوله ئى كي ددې څه حكم دى؟

جواب﴾

صلح دشعي څخه نه ده جائز او شفعه باطلوي هغه وخت چي قبوله ئى كړي .

الصلح عن الشفعة لايجوز وتبطل الشفعة اذ اقبله لانه اعراض عن طلب الشفعة (الولوالجية كتاب الصلح جلد خامس ص: ن١٢

سوال﴾

كه يو سړى دچا ومځكي ته داخل سي هلته اغزي او خوشائي ټولوي ددې څه حكم دى؟

جواب﴾

دا پروا نه لري ې

رجل دخل ارض انسانلجمع السرقين والشوک ارجوا ن لابأس به (خلاصة الفتوىٰ كتاب الصلح جلد الرابع ص:١٨١

سوال﴾

كه يوه سړي دعوه وكړه پر ښځه باندي دنكا ح ددې ښځي او ښځي انكار ځنى وكړى بيا ئى وروسته صلح په مال سره وكړه چي دې وده ته

ور کړی وی دا صلحه ئی صحیح کیږي که نه ؟

جواب ﴾

دا صلحه ئی صحیح ده .

رجل ادعیٰ علی امرأة نکاحها فانکرت ثم صالحته علیٰ مال بذلته جاز وهو فی المعنی کالخلع (خلاصة الفتاویٰ جلد الرابع کتاب الصلح ص:۱۷۷)

سوال ﴾

که ښځي دعوه وکړه پر سړي باندي چي ده له ما سره نکاح کړیده او سړی انکار وکړه بیا ئې وروسته صلح سره وکړه پر هغه مال چي دا سړي ودا ښځي ته ورکړې ده ددې صلحي صحت سته که نه سته؟

جواب ﴾

داصلحه نه ده صحیح .

ولو ادعت امرأت علی رجل انه تزوجها فانکر الرجل فصالحها علیٰ مال بذله لها لایصح (خلاصة الفتویٰ جلد الرابع کتاب الصلح ص:۱۷۷)

سوال ﴾

که یوه سړی دعوه وکړه پر یو چا باندي د زر درهمه و هغه پنځه سوه درهمه ورکړه دصلحي له وجهي بې نه ذکر کولو دصحي دلفظ بې وروست اراده وکړي دردیمو دهغ پنځه سوه درهمو وس مدعي عیه نه طلب دردیمو سته که نسته ؟

جواب ﴾

مدعی علیه لره طلب د دریدو ستـه .

ادعـی عـلـی الاخـر الف درهم فدفـع المدعی علیه خمسمائة من جهة الصـلـح مـن غيـر ان یذکر لفظ الصلح ثم اراد ان یسترد الخمسمأئة له ذلک (خلاصة الفتاویٰ جلد الرابع کتاب الصلح ص:۱۷٦)

سوال﴾

کـه یـوه سړي دعـوه وکړه پر انسـان باندي دمال او صلح ددغـه انسـان سره پـر بـدل مـعـلـوم باندي وکړي بیا وروسته ښکاره سي چي ددې سړي پر دې بـل بـانـدي شـیء نـه وي اوس دلتـه ددې سـړي صلحه باطلیږي که نه باطلیږي؟

جواب﴾

هو کې دا صلحه باطلیږي .

وکـذا لو ادعیٰ مالا علیٰ انسـان وصالحه علیٰ بدل معلوم ثم تبین انه لـم یکن عـلیـه ذلک المال (خلاصة الفتاویٰ کتاب الصلح جلد الرابع ص: ۱۷۹)

سوال﴾

کـه یـو سـړی پـه محضر دصلح کي ولیکي چي ما صلحه کړې ده پر مال معلوم باندي دا کفایت کوي او که ئی نه کوي ؟

جواب﴾

دا کفایت نه کوي تر هغه وخته پوري چي نوی معلوم کړی .

اذا کتـب فـي محضـر الصلح انه صالح علیٰ مال معلوم لـم یـکـف ما لم یبین قدر المـال . فتاویٰ السراجیه کتاب الصلح ص:٥٢٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال ﴾

كه قصار دعوه وكړي چي ما كالي وخاوند ته دكالو وركړي دي او طلب داجرت كوي او خاوند دكالو ووائى چي دا قصار درواغ وائي بيا وروسته صلحه پر نيمائى داجرة وكړي دا صلحه جائز ده كه نه ده جائز؟

جواب ﴾

دا صلحه جائز ده .

ولو ادعي القصار انه دفع الثوب الى رب الثوب وطلب الاجر وكذبه رب الثوب فصالحه من الاجر علىٰ نصفه (كتاب الصلح عالمكيريه جلد الرابع ص:۲۴۵)

سوال ﴾

كه دريم سړى ذمه واري واخلي دمدعى عليه ووائى چي زه مدعى عليه ضامن يم صلحه فافذه كيږي پر مدعي عليه اوس مدعى بنل دمصالح څخه اخلي او كه بې دمدعي عليه څخه اخلي او كه چيري دامصالح مأمور نه وي بيا به مدعى بدل دچا څخه اخلي ؟

جواب ﴾

په اول صورت كي مدعى اختيار من دى كه ئى دمصالح څخه اخلي او كه دمدعى عليه څخه ئى اخلي او په دوئم صورت كى ئى خالي دمصالح څخه اخلي دمدعي عليه څخه ئى نه سي اخيستلاى دا هغه وخت كه چيري مدعى عليه منكره ؤ .

وان قال صالح فلانا على الف درهم على ان ضامن نفذ الصلح على المدعى عليه والمدعى بالخيار ان شاء طالب المصالح بحكم الكفالة

بخلاف ما اذا لم یکن مأموراً فی هذا الوجه فان ثمة ینفذ الصلح علی المصالح ولا یرجع هو علی المدعی علیه هذا کله اذا کان المدعی علیه منکراً (خانیه جلد الثالث کتاب الصلح بما من عالمگیریه ص:٨٥)

سوال﴾

که یو سړی دبل سړي شخه زر روپۍ غصب کړي او غائبی ئی کړي بیا مالک ددې غاصب سره صلحه وکړی پر پنځه سوه او غاصاً پنځه سوه ورکړي ددې زرو شخه یا دنورو شخه دا صلحه جائز ده که نه جائز؟

جواب﴾

داصلحه جائزه ده دقضاء او په مابین دغاصب او دالله جل جلاله کي دا سته چي پنځه سوه نوری هم ورکړي .

رجل غصب من رجل الفا واخفاها وغیبها فصالحه المالک علی خمسمأئة واعطاه الغاصب من تلک الاف او من غیرها جاز الصلح قضاء کان وکان الغاصب فیما بینه وبین الله تعالیٰ ان یرد الباقی (خا نیه جلد الثالث کتاب الصلح بهامش عالمگیریه ص: ٨٩

سوال﴾

که یو سړی بل سړی ته په امانت شیء کښیږدي مودع ووائي چي شیء دي ضائع سوی دی یا ووائی چي وماوتاته در کړی دی او صاحب دشي منکر وي دهلاک شخه او درد شخه اوس دلته دچا قول معتبر دی؟

جواب﴾

دلته قول دمودع معتبر دی سره دقسمه .

رجل اودع رجلاً شیئاً فقال المودع ضاعت الودیعة او قال رددتها

عليک وانکر صاحبها الرداء والهلاک کان القول قول المودع مع اليمين ولا شيء عليه .

(خانيه جلد الثالث كتاب الصلح بهامش عالمگيريه ص:٩٥

سوال﴾

صلح چي واقع شي بيا ماتيږي که نه ؟

کله چي مابين کي دجانبين صلح وسي نو يو جانب لره حق نسته چي رجوع دصلحي څخه وکړي او صلح پريږدي مګر په يو څو مسائلو کي :

اذا تمت الصلح فليس لواحد فقط الرجوع عند سوآء كان الصلح عزا قرار اا و انكاراً سكوته هكذا سئلت فيمن ادعىٰ علىٰ احد ديناً فانكر وصالحه علىٰ شيء ثم اقام المدعى عليه البينة على القضاء او الابراء ينتقض الصلح والجواب لاينقض بل هو علىٰ حاله (بدائع الصنائع)

سوال﴾

که يوه قاضي فيصله وکړ ح بيا دا فيصله محكمين ماتواى سي او که نه؟

جواب﴾

په شر ح مجلة الاحكام المادة ١٨٤٩ کي :ان قضىٰ الحكم فى فصل مجتهد فيه ثم رفع حكمه الى قاضى من السلطان امضاه ان وافق مذهبه لانه لا فائدة فى نقضه .

دشر ح ترجمه که حکم په مجتهد فيه مسئله کي فيصله وکړي بيا ئى فيصله دحکومت له طرفه مقرر شوي قاضى ته لاړه شي نو که هغه

دمذهب له اصولو سره سمه وي هغه نافذوي ځکه دهغې ماتولو او بیا دوباره دفیصلې کولو هیڅ فائده نشته او ددې قاضي دفیصلې نافذولو فائده به دا وي چې که هغه ددې نه پس یو بل قاضي ته لاړه شي او هغه په دې کې اختلاف درائې ولري نو هغه بې نه شی ماتولای او که هغه دمذهب داصولو موافق نه وي نو هغه به باطلوي ځکه چې دمحکم فیصله په مجتهد فیه فیصلو کې خلاف نه رفع کوي په محکمین باندې دهغه دولایت دکمیدو له وجهې دهغوی نه به علاوه باندې او هغه قاضي چې دهغه سره دهغه حکم فیصله شوی ده هغه ددې دواړو نه علاوه دی بهر حال که قاضي په مجتهد فیه مسئله کې فیصله وکړي هغه فیصله وروسته بل قاضي ته لاړه شي نو هغه به دا نه ردوي ځکه چې قاضي ته به ټولو خلکو باندې عام ولایت حاصل وي ګویا هغه فیصله دټولو خلکو په حق کې حجة وي (الدر امختار علیٰ هامش ردالمحتار ج:۴ ص:۳۸۸ باب التحکیم ددې خلاصه داسوه چې حاکم دقاضي فیصله نه سی ردولای ځکه ولایت ئې کم دئ .

سوال﴾

د دوو کسانو سره دعوه وه بیا دواړه اختیار وسپاری وثالثینو ته ثالثینو صلح وکړه دا صلح دمدعی او مدعی علیه ناخوښه سوه آیا شرعاً پر دې صلح بله صلح کیدای سي او که نه ؟

جواب﴾

کل صلح بعد صلح فالثانی باطل وکذا النکا ح بعد النکا ح والحوالة بعد الحوالة الصلح بعد الشراء والاصل ان کل عقد بعد عقد

فالثانی باطل الا فی
ثلث مذكورة فی بيوع الاشباه الكفالة والشراء والاجارة (الدر المختار ج:۲ ص:۱۴۲ کتاب الصلح هکذا فی ردالمحتار ج۴ ص:۵۲۳ کتاب الصلح وفی هندیح ج:٦ص:۳۷ وکل صلح بعد صلح فالاول صحیح لا الثانی .

سوال﴾

آیا قضاء په صلح باندي ماتيږي او که نه ؟

جواب﴾

وفی الهندیه واذا اصطلح الرجلان علیٰ حکم یحکم بینهما فقض ي لاحدهما علیٰ صاحبه فی بعض الدعاوي الذی حکماه فی ذلک ثم رجع المقضي علیه عن تحکیم هذا لحکم فیما بقی بیهما من الدعاوي فان القضاء الاول نافذ وما یقضی بعد ذلک لاینفذ وانما قید الخصمین بقوله شرح مجلة المادة ۱۸۴۲ .

نو له دې عباراتو څخه دا ثابته سوه چي قضاء په صلح سره نه ماتيږي ځکه چي قاضي په خپل قضاء کښي عام ولایت لري مګر که چیري دشریعت څخه مخالفه وي بیا ماتيږي .

Maktaba Tul Ishaat.com

كتاب الشهادة

ســـوال :......

آیا د شهادت مقصد او لغوي معنی او اصطلاحي معنی سته او که نه؟

جواب :......

هو ! د شهادت لغوي معنی رښتیا ویل دپاره د اثبات د حق په لفظ د شهادت په مجلس د قضاء کي . (رد المحتار علی در المختار / ج: ۴ / ص: ۴۱۱)

"هی لغةً خبر قاطع وشرعاً اخبار صدق لاثبات حق بلفظ الشهادة فی مجلس القاضی" (در المختار علی هامش رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٤١١)

ســـوال :......

د شاهدي ادا کولو سبب څه دی؟

جواب :......

سبب د اداء يې طلب د مدعی دی یا ویره پر حق د مدعی ده که دی خبر نه وي:

"و سبب وجوبهما طلب ذی الحق او خوف فوت حقه بان لم یعلم بهما ذوالحق"

ســـوال :......

رکن د شاهدي کوم یو دی آیا د ماضي صیغه به وایي او که مضارع؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب :......

ركن د شاهدي دا دی چي صيغه د مضارع به وايي مثلا اشهد .

"**اشهد فلو قال شهدت لا يجوز**" (ردالمحتار على در المختار / ج: ۴/ ص: ۴۱۱)

سـوال :......

آيا شاهدي اداكول شرطونه لري كه نه ، كوم كوم دي؟

جواب :...... شرطونه د مكان شرائط يې يو دي او د تحمل شرائط يې درې دي .

سـوال :......

د تحمل شرائط يې كوم دي بيان يې كړه؟

جواب :......

يو عقل دی بل ښكاره كېدل د هغه شي چي شاهدي پر ويله كيږي بل ستركي دي:

"**شرطها احد و عشرين شرطا شرائط مكانها واحد و شرائط التحمل ثلاثة العقل الكامل وقت التحمل والبصر و معانية المشهود به**" (رد المحتار على در المختار / ج: ۴/ ص: ۴۱۱)

سـوال :......

آيا د حدودو د شاهدي دپاره كول بهتره دي او كه پټول؟

جواب :......

پټول بهتره دي: لقوله عليه السلام:

"**لحديث رسول الله الذى شهد عنده لو سترته بثوبك و فى عبارة لو سترته ... لكان خيران لك**" فتح القدير / ج: ٦ / ص: ٤٤٩ ـ و كذا فى الهداية ـ و مثله فى الدر المختار على هامش رد المحتار / ج: ٥ / ص:

(۴۱۲)

سـوال:......

آیا په شاهدي کي عدالت شرط دی که نه د فاسق شاهدي قبلیږي که یا؟

جواب:......

نه قبلیږي تر هغو چي توبه و نه کاږي او عمر پر تیر نه سي:

"لو تاب الفاسق لا تقبل شهادته ما لم تمضی ستة اشهر و قال بعضهم سنة و كذا قوله تعلى: لمن ترضون من الشهداء لا يكون مرضياً ای فاسق و قوله تعالى ذوی عدلٍ منكم"(فتح القدير / ج: ٦ / ص: ٤٥٥)

سـوال:......

د ښځي شاهدي یواځي روا ده که نه په کوم ځای کي روا ده؟

جواب:......

د ښځي شاهدي یواځي په باره کي د مرضو د ښځو کي روا ده:

"وتقبل فی الـولادة و البطادة والعيوب بالنساء فی موضع لا يطلع عليه الرجال شهادة أمرأة واحدة لقوله عليه السلام شهادة النساء جائزة فيما لا يستطيع الرجال النظر اليه"(فتح القدير والهداية / ج: ٦ / ص: ٤٥٣، و در المختار على هامش رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٤١٢)

سـوال:......

که قاضي په شاهدي د فاسق سره فیصله وکړه ګناه یې پر چا ده؟

جواب:...... ګناه یې پر قاضي صاحب ده او قضاء نافذه ده. (فتح القدير / ج: ٦ / ص: ٤٥٦)

"الا ان القاضی ان قضیٰ بشهادة الفاسق ينفذ عندنا و يكون القاضی

عاصياً''

سـوال:......

په شاهدي کي کوم شيان شرط دي؟

جواب:......

''و اتفق الكل على اشتراط الحرية والبلوغ والعقل والاسلام''(فتح القدير / ج: ٦ / ص: ٤٥٧)

مقصود ده چي دغه څلور شيان په شاهدي کي شرط او لازم دي .

سـوال:......

په عدالت کي ښکاره عدالت معتبر دی او که پټ؟

جواب:......

په عدالت کي ښکاره معتبر دی څکه مسلمان په ظاهري حال سره معلوميږي:

''قال ابوحنيفةؒ كما اتفق الائمة الأربعة على وجوب العدالة قال ابوحنيفة يقتصر الحاكم على ظاهر عدالة لا كل مسلم ظاهر حاله من التزام الاسلام''(فتح القدير / ج: ٦ / ص: ٤٥٧ و كذا فى الهداية)

سـوال:......

په مشهود به کي شرطونه سته که نسته، څو قسمه دي؟

جواب:......

مشهود به به معلوم وي د قاضي علم په مشهود به مجهول سره نسته او علم يې شرط دی . (هندية / ج: ۳ / ص: ۴۵۱ فيما لم يعلم لا يمكنه القضاء)

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال :......

اقسام د شهادت څو دي او څرنګه دي؟

جواب :......

اقسام د شهادت دا دي : د زنا دپاره څلور شاهدان دي : نارينه، د حدود او د قصاص دپاره دوه نارينه دي، د ښځو شاهد په دې دوو کې قبليږي . كذا فى الهداية و هندية . فتاوى هندية / ج: ۳/ ص: ۴۵۱ .

سوال :......

لفظ د اشهد ويل په شاهدي کي شرط دى او كه نه، كه نه وي بيا څو واري؟

جواب :......

لفظ د اشهد ويل شرط دى په شاهدي کي په نزد د مشائخ د بلخ او د بخارىٰ او مشائخ د عراق په نزد شرط نه دى:

"كذا فى المحيط والقدورى اعتمد على الأول و عليه الفتوى كذا فى الخلاصة"

سوال :......

د وراثت په باره کي که يو چا شاهدي ادا کړه چي دغه سړى وارث دى بل وارث نسته شاهدي يې قبليږي كه نه؟

جواب :......

نه قبليږي ځکه ده په مجهول شي سره شاهدي ادا کړه . اسباب د وراثت مجهول دي او احكام يې مختلف دي . (هندية / ج: ۳/ ص: ۴۵۱)

"إذا شهد رجلان عند القاضى ان فلاناً وارث هذا الميت لا وارث له غيره

Maktaba Tul Ishaat.com

انه لا يقبل شهادتهما لا نهما شهدا بمجهول لجهالة اسباب الوراثة و اختلاف احكامها"

سوال:......

شاهدي د ړانده قبليږي که نه؟

جواب:......

شاهدي د ړانده نه قبليږي که په هغه ځای کي وي چي سماع په کي کافي وي که نه وي:

"ولا تقبل شهادة الاعمى مطلقا سواء عمى قبل التحمل او بعده فيما تجوز الشهادة فيه بالتسامع او لا"(فتاوى هندية / ج: ۳ / ص: ٤٦٤۔ و فی در المختار على هامش رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٤٢١ مثله)

سوال:......

د مخنث هغه څوک چي ځان مشابه کوي له ښځو سره په قصد سره اواز نرمول لکه ښځه يا ماتول د اندامو شاهدي قبليږي که يا؟

جواب:......

نه قبليږي ځکه دا معصيت دی او صفات د ښځو دي:

"قال النبی ﷺ لعن الله المخنثين من الرجال و المترجلات من النساء متشبهات بالرجال "(الحديث) (فتح القدير / ج: / ص: و كذا فی الدر المختار / ج: ٤ / ص: ٤٢٣)

سوال:......

شاهدي په حق د ورور کي يا د اکا کي يا د ماما کي قبليږي که نه؟

جواب:......

Maktaba Tul Ishaat.com

هو ا قبليږي ماسوا له هغه چا چي په مابين کي يې رشته د ولادت وي:

''و يقبل شهادة الاخ لاخيه و عمه و خاله والخالة و تجوز شهادة لاخ لاخته شاهدة لاخ لاخيه و اولاده جائزة و كذا الاعمام و اولاده و الاخوان و الخالات والعمات ـ''(كذا فی فتاوی قاضيخان و فتاوی هندية / ج: ۳ / ص: ٤٧٠)

سـوال :......

هغه څوک چي سلفو ته بد وايي ښکنځل ورته کوي شاهدي يې روا ده که نه؟

جواب :......

شاهدي يې نه قبليږي له ښكار . . . . هغه قبليږي:

''او يظهر سب السلف لظهور فسقه بخلاف من نجفيه لأنه فاسق مستور ''(رد المحتار على الدر المختار / ج: ٤ / ص: ٤١٧)

فرق په مابين د سلف او خلفو کي دا دی:

سلف الصدر الاول من التابعين منهم ابو حنيفةؒ والخلف بالفتح من عدهم فی الخير و بالسكون فی الشر (جر) عن العناية ، عن ابی يوسف رحمه الله لا اقبل شهادة عن سب الصحابة و اقبلها ممن تبرأ منهم لأنه يعتقد دينا و ان كان على باطلٍ فلم يظهر فسقه بخلاف الساب . (و كذا فی الفتح القدير / ج: ٦/ ص: ۴۸٦ ، فتاوی الهندية / ج: ۳/ ص: ۴٦٨) و لا تقبل شهادة من يظهر سب السلف .

سـوال :......

چي يو سړی په بازار کي لوڅ لوڅ ګرځي او ټوکي ټکالي کوي نو شاهدي يې قبليږي که نه؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب :......

نه قبلیږي شاهدي د ده:

"و لا يقبل شهادة من يعتاد الصياح فى الاسواق"

سـوال :......

شاهدي د شراب خور روا ده که نه؟

جواب :......

شاهدي دشراب خور او هر هغه شی چي نشه راولي نه ده روا:

"و لا تجوز شهادة ما من الخمر و من اشتهر بأكل الحرام "(فتاوى هندية / ج: ۳ / ص: ٤٦٦) و كذا فى الرد المحتار / ج: ٤ / ص: ٤٢٥)

سـوال :......

شاهدي د هغه چا چي کبیره گناه کوي روا ده که نه؟

جواب :......نه ده روا شاهدي د داسي چا چي هغه گناوي کوي چي حد پر جاري کیږي:

"اتفقوا على ان الاعلان بكبيرة يمنع الشهادة"(هندية / ج: ۳ / ص: ٤٦٦)

سـوال :......

هغه سړی چي پر توک یې کښلی وي او عورت یې ښکاره وي حمام ته روان وي شاهدي یې قبلیږي که نه چي همېشتوب هم پر کوي؟

جواب :......

نه قبلیږي مګر که یې له دې کار څخه رجوع وکوله بیا صحیح ده:

"هذا لا للحرمة بل لأنه يخل بالالمروة " دا بې غیرتیا ده غیرت نه دی .

سـوال:......

هغـه څـوک چې د خـلکو په مخ کې پر استنجاء کښېني او پر سر پټو اچوي شاهدي يې قبليږي که نه؟

جواب:......

شاهدي يې نه قبليږي:

"**ولا تقبل شهادة من يدخل الحمام بغير ازار (هندية / ج: ۳ / ص: ٤٦٩) او يبولوا و يأكلوا على الطريق (رد المحتار**"

او په نهايه کې وايي: اما إذا شرب الماء و اكل الفواكة على الطريق لا يقدح في عدالته لأن الناس لا تسقبح ذلک. خلک يې بد کار نه بولي (هندية / ج: ۳ / ص: ۴٦٨)

سـوال:......

که عيسايي فيصله په عدل او انصاف سره وکړه بيا مسلمان سو شاهدي يې قبليږي که نه؟

جواب:......

هو! قبليږي:

"**اعدل نصراني ثم اسلم قبلت شهادته**"

سـوال:......

که صبي لوى سي په دې وخت د بلوغ کې دستي د ده شاهدي قبليږي که نه؟ اطمينان د خلکو د ده پر خبره څه وخت کيږي؟

جواب:......

شاهدي د کوچني چې محتلم سوى نه وي تر هغو نه قبليږي چې

خلـكو دا تـجربه كړی نه وي لكه يو مسافر چي كلي راسي خلك باور نه پر كوي تر هغو چي معلوم نه سي چي صالح دی كه نه دی صالح:

"و فی الخانية صبی احتلم لا اقبل شهادة مالم يسأله عنه و لا بدان يتأتی لعبد البلوغ بقدر ما يقع فی قلوب اصل مسجده و محلته كما فی الغريب ان صالح او غيره"(در المختار علی هامش رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٤١٧)

و فـی الـظهرية فرق بينهما بان النصرانی كان له شهادة مقبولة قبل !سلامه بخلاف الصبی و هو يدل علی ان الاصل عند العدالة (حجر) مطلب دا سو د دې مسـئلې چي پـه مـابـين د نـصـرانـي او صبـي كي دا فـرق دی چي د عيسايي تر اسلام له مخه شاهدي قبوله ده نه د صبي . و الله اعلم .

سـوال:......

كـه يـو سړي د زامنو په مابين كي دعوه راغله د نورو زامنو شاهدي پر قبلـيـږي كـه نـه؟ مثلاً د يـوه سړي دوې يـا درې ښځي وې د يو ښځي ډېر زامـن وه ،څلـورو شـاهـدي ادا كړه لـه دې ښـځه پر يوه ورور چي له مېړ ې سره يې زنا كړې ده، آيا دغه شاهدي يې صحيح كيږي كه نه؟

جواب:......

پـه الـمحيط البرهاني كي يې ويلي دي چي قبليږي مګر كه پلار مدعي وو بيا نه قبليږي يا يې مور ژوندی وه . (رد المحتار / ج: ۴ / ص: ۴۱۲)

سـوال:......

په ځنډېدلو د زكات سره د سړي عدالت باطليږي كه نه؟

جواب:......

نـه بـاطـليـږي يعني كه يې زكات وځنډاوه هم عـادل بلـل كيـږي مـګـر پـه

او س عـصـر کـي فـتـوی پـر دې ده چـي باطليږي بې له عذره، ځکه دا حق د فقراء دی:

"و نقل الخلاصة عن القاضی خان ان الفتوی علی سقوط العدالة بتأخير الزكـوة من غير عذرٍ لحق الفقراء دون الحج خصوصاً فی زماننا"(رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٤٢٤)

مـعنى دا سوه چي كه يې حج وځنډاوه عدالت يې نه ځي په هغه کي دق د فقيرانو نسته او په زكوة كي حق د فقيرانو سته .

سـوال :......

كه يو سړی تار ک الجماعة وو شاهدي يې قبليږي كه نه؟

جواب :......نـه صـحـيـح كـيـږي كـه پـه إمـام كي طعن نه وو او د عاقد دا وو چي بهتـره وخـت يـې اول وخـت ده او إمـام لـمـونـځ ځنډاوه بيـا قبليږي، فاسق نه ده:

"قـال فـی الـفتح القدير منها ترك الصلوة بالجماعة بعد ان كون الإمام لا طعن عليه فی دين و لا حال و ان كان متأولاً كأنّ يكون معتقداً أفضليتها اول الـوقـت والا عـام يـؤخـذ الـصـلـوة و غيره ذلك لا تسقط عدالته بالترك"(رد الـمحتر علی الدر المختار / ج: ٤ / ص: ٤٢٤ ـ و كذا فی الهندية مثله / ج: ٣ / ص: ٤٦٦)

سـوال :......

پـه تـرک د جـمـعـې د لـمـانـځـه سره عدالت باطليږي كه نه، فاسق بلل كيږي كه نه؟

جواب :......

عـدالـت يـې بـاطـلـيږي كه بې عـذره د جمعې لمونځ نه كاوه خو بعضي وايي چې په يوه لمونځ سره بعضي وايي چې په درو لمنځو :

"وكـذا بتـرك الجـمـعة من غير عذرٍ بتركٍ واحدٍ كالحلواني او بترك ثلاثة مرة كالسرخسي و الاول اوجه لـكـن قدمنا عند ان الحكم بسقوط العدالة بالارتكاب الكبيرة يحتاج إلى الظهور"(رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٤٢٤ - و مثله هنديه / ج: ٣ / ص: ٤٥٢)

سـوال :......

يـو سړی سـروزونـه آوازونـه اوري يا پـه مـجلس د سروز كي كښيني شاهدي يې روا ده كه نه؟

جواب :......

نه قبليږي، شاهدي د داسي چاچي سروزونه آوازونه اوري:

"ولا تقبل شهادة من يسمع الغناء او يجلس مجلس الغناء او مجلس الفجور و الشراب و ان لم يسكر لأن اختلاله بهم يتركه الأمر بالمعروف فيسقط عدالته"(رد المحتار / ج: ـ / ص: ٤٢٤ ومثله في الهندية / ج: ٣ / ص: ٤٦٧)

سـوال :......

د غزلووالا چي ښځي يا نر شاهدي يې قبليږي كه نه؟

جواب :......

نـه قبـليـږي، شاهدي د داسي سړو او د ښځو چي غزلي وايي پيسې پر اخلي خلک يې غزل جان بولي، په جواب کي هم وايي .

"قال النبي ﷺ لعن الله النائحات لعن الله المغنيات "(فتح القدير /

Maktaba Tul Ishaat.com

ج: ٦ / ص: ٤٨٠ ۔

وکذا فی الدر المختار علی هامش رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٤٢٣، مثله وهندیه مثله / ج: ٣ / ص: ٤٦٧)

سـوال:......

یو سړی ښکنځل ډېر کوي و خپل أهل ته یا و مالک میانو خپل ته په هر ساعت شاهدي یې قبلیږي که نه؟

جواب:......

نـه قبلیږي که یې عادت وو او که یو وخت وه او یو وخت نه وه بیا پروا نلري:

"من یشتم اهله ومماله کثیراً فی کل ساعة لا یقبل و اذ/کان احیاناً یقبل وکذا الشتام للحیوان کدابته"(رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٤٢٤ ۔ ومثله فی فتاوی الهندیة / ج: ٣ / ص: ٤٦٨)

سـوال:......

د شطرنج لوبي کول عدالت باطلوي که نه، شاهدي یې څنګه ده؟

جواب:......

دا شیان شرطونه لري که چیري یو شرط په کي راغلی بیا نه قبلیږي:

"والحاصل ان العدالة انما تسقط بالشطرنج إذا وجد واحد من خمسة الشروط: ١۔ القمار ۔ ٢۔ ترك الصلوة۔ ٣۔ اكثار الحلف عليه ٤۔ اللعب به علی الطریق ٥۔ یذکروا علیه فسقاً ٦۔ و یداوم علیه"(رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٤٢٩، هندیة / ج: ٣ / ص: ٤٦٧)

سـوال:......

Maktaba Tul Ishaat.com

کـه يـو سـړي خـط د شـاهـدي ښـکـاره کـئ او حادثـه يې پـه ياد نه وه دغـه شاهدي قبليږي که نه؟

جواب:......نـه قبـليږي ځکه خط مشابه له خط سره وي او که پـه دفتر کي مخصوص وي بيا عمل پـه کول روا دی . (رد المحـتار / ج: ۴ / ص: ۴۱۷)

”و لا يشهد من رای خـطه و لم يذکرها و کذا القاضی والراوی لمشابهة الخط للخط و جوازه لو فی حوزه و به نأخذ (حجر)“

سـوال:......

د هغـو خـلکـو چي زموږ د مذهب مخالف وي لکه شيعه ګان خوارج وغيره پر مسلمانانو او غير مسلمانانو باندي شاهدي روا ده که نه؟

جواب:......

هو، شهـادت د دې صحيح دی مګر نه د صحيح خطا بينوله دا هغه يوه ډله ده له روافضو څخه . در المختار علی هامش رد المحتار / ج: ۴/ ص: ۴۱۸

”و تقبل شهادة أهل الاهوآء کلهم من المعتزلة والقدرية والخوارج على مثلهم و على أهل السنة والجماعة ماسوا الخطابية“(فتح القدير / ج: ٦ / ص: ٤٨٧)

سـوال:......

شهادت د أهل الذمه وو پر مسلمانانو صحيح دی که نه او پر أهل أهل ذمه وو؟

جواب:......

شاهدي د أهل ذمه وو پر أهل ذمي قبليږي نه پر مسلمان:

”و تقبل شهادة أهل الذمة بعضهم على بعض لتخريج شهادتهم على المسلم“(فتح القدير ٦ / ص: ٤٨٧)

سـوال:......

Maktaba Tul Ishaat.com

د خصي شاهدي قبليږي كه نه، دغه رنګه د ولد زنا شاهدي؟

جواب:......

د خصي او ولد زنا شاهدي صحيح ده كه عادلان وو:

"لأن عمرؓ قبل شهادة علقمة الخصي و لأنه قطع عضو منه ظلماً فصار كما إذا قطعت يديه وولد الزنا لأن فسق الابوين لا يوجب فسق الولد ككفرهما و هو مسلم"(هدايه ، فتح القدير / ج: ٦ / ص: ٤٩٢)

سوال:......

آيا د عمال د باچا د عامل شاهدي قبليږي كه نه؟

جواب:......

شهادت د عمال جائز دی ځکه دی عمل د خپل نفس دپاره کوي او عمل د خپل ځان دپاره فسق نه ده بلکه دی معین دی:

"و شهادة العمال جائزة و المراد عمال السلطان عند عامة المشائخ الخ"(هداية ، فتح القدير / ج: ٦ / ص: ٤٩٢)

سوال:......

د نربنځي شاهدي قبوله ده كه نه يعني خنثیٰ؟

جواب:......

قبوله ده:

"كما فى الهداية و شهادة الخنثى جائزة لأنه رجل او أمرأة و شهادة الجنسين مقبولة بالنص" و فى الفتح القدير / ج: ٦ / ص: ٤٩٢ و شهادة الخنثى المشكل جائزة اذ شهد مع رجل و أمرأ ا فلو شهد مع رجل واحد او أمرأة واحدة لا تقبل۔

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:......

شاهدي د ړانده روا ده که نه ده روا؟

جواب:......

د ړانده شاهدي نه قبلیږي ځکه دی تمیز نه سي کولای په مابین د مدعی او مدعی علیه ولي آواز مشابه له بل اواز سره وي:

"ولا تقبل شهادة الاعمی لأنه لا یمیز بین المدعی و المدعی علیه لأن النغمة یشبه بالنغمة "(فتاوی نوازل کتاب الشهادة / ص: ۳۹۵ ـ و مثله فی الهدایة و لا تقبل شهادة الاعمی ـ و کذا فی الفتح القدیر / ج: ٦ / ص: ٤٧٣)

سوال:......

آیا د پلار شاهدي د زوی دپاره یا د زوی د پلار دپاره روا ده که نه؟

جواب:......

نه ده روا شاهدي د پلار دپاره د زوی او بالعکس:

"و لا تقبل شهادة الولد لوالده و لا لوالد لولده و لا المرأة لزوجها و لا الزوج لأمرأته"(فتاوی النوازل / ص: ۳۹۵ و فی الهدایة و فتح القدیر / ج: ٦ / ص: ٤٧٧)

سوال:......

آیا شاهدي د یوه ورور د بل ورور دپاره صحیح کیږي که نه؟

جواب:......

هو، صحیح کیږي:

"و تقبل شهادة الاخ لاخیه و عمه "(فتاوی نوازل / ص: ۳۹۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:......

آیا شاهدان په خبره کي سره برابر وي که نه، اتفاق ضروري دی که نه؟

جواب:......

هو، د شاهدانو خبره سره برابره وي لفظاً هم معناً هم مثلاً يوه وويل دغه غوا د بل وويل غويی، نه ده روا دغه شاهدي:

"و يعتبر اتفاق الشاهدين في اللفظ والمعنى و لو عهدا في السرقة بقرة و اختلفاء في لونه يقطع عند ابى حنيفةؒ و لو قال احدهما بقرة و الاخر ثور يقطع عنده و عندهما لا يقطع في الوجهين كما لو اختلفا في الذكورة و الأنوثة"(فتاوی نوازل ۳۹۶)

سوال:......

آیا شهادت پر شهادت په حدودو یا وقود کي صحيح کيږي ؟

جواب:......

یا نه صحيح کيږي ځکه شبه پيدا کيږي په شبه سره حد نړيږي:

"هي مقبولة استحسانا في كل حق على الصحيح الا في حدٍ وقودٍ لسقوطهم بالشبهة "(فتح القدير مثله هدايه مثله / ج: ٦ / ص: ٥٢٣)

سوال:......

په کوم وخت کي شاهدي د فرعي له اصله ځخه روا ده؟

جواب:......

چي اصل له اهليت د شاهدي ووتی بيا شاهدي د فرعي روا ده:

"متى خرج الاصل عن اهلية الشهادة بان حرض او فسق او عمى او جن او ارتد بطلت الشهادة"(رد المحتار على الصدر الدر المختار / ج: ٤ /

ص: ٤٣٧)

سـوال:......

که شاهد اصلي مړ سو بيا شاهد د فرعي ځيني صحيح کيږي که نه؟

جواب:......

په دې مسئله کي اختلاف سته:

"قال في الهداية والفتح القدير / ج: ٦ / ص: ٥٢٧ : و لا تقبل شهادة شهود الفرع الا ان يموت شهود الاصل او يغيبوا مسيرة ثلاثة ايام لياليها فصاعدا او يمرضوا مرضاً لا يستطيعون معه حضور مجلس الحاكم لأن جوازها للحاجة و انما تمس عند عجز الاصل و بهذه الاشياء يتحقق ا---- و كذا في الدر المختار"

سـوال:......

ښځه و مجلس ته د قضاء نه سواى ورتلاى، شاهدي د فرعي يې قبليږي که نه؟

جواب:......

که ښځه داسي وه چي تر اوسه له کوره نه وه وتلې په وجه د ستر بيا يې شاهدي د فرعي صحيح کيږي او که داسي ښځه وهچي په بازار کي گرزېده له خپله او پردي سره گډېده، د ستر والا نه وه بيا نه قبليږي:

"او كون المرأة مخدورة لا تخالط الرجل صحيح و اما التى جلست على المنصبة فرآها رجل اجانب كما هو عادة بعض البلاد لا تكون مخدورة"(رد المحتار على الدر المختار / ج: ٤ / ص: ٤٣٧)

سـوال:......

Maktaba Tul Ishaat.com

د فرعي شاهدي كوم وخت باطليږي

جواب :......

په هغه وخت كي باطليږي چي يا منعه وكړي اصل يا ووزي له اهليته يا انكار وكړي:

"و تبطل شهادة الفرع بامورٍ بنهيهم عن الشهادة و بخروج اصله عن اهلتها لفسق و خرس و عمى و انكار اصله الشهادة كقوله ما لنا شهادة او لم نشهد هم او اشهد نا هم و غلطنا"(در المختار على هامش رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٤٣٩)

سوال :......

كه چا له شاهدي څخه رجوع كوله څنګه الفاظ به وايي؟

جواب :......

داسي الفاظ به وايي: رجعتُ عما شهدتُ به نحوه . بيا كه د قاضي په مخ كي منكر سو بيا رجوع نه بالله كيږي:

"فل انكر بها لا يكون رجوعاً بعد القضاء"(در المختار على هامش رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٤٤٠)

سوال :......

د رجوع كولو په وخت كي كوم شرطونه دي؟

جواب :......

يو به په حضور د قاضي يا حاكم كي وي دوم يا بې ضامن وي دريم توبه به كاږي ځكه دا معصيت دى:

"در المختار / ج: ٤ / ص: ٤٤٠ و شرطه مجلس القاضى او توبة كما

Maktaba Tul Ishaat.com

قال علیه الصلوة و السلام السر بالسر والعلانية بالعلانية"

سوال: ...... آیا د امیر یا باچا یا مشر قومندان له طرفه شاهدي د فرعي صحیح ده که نه؟

جواب: ......

که چیري دی په ښار کي وو بیا نه ده روا:

"قال الصدر الشهيد حسام الدين لا تجوز الشهادة على الشهادة من الامير والسلطان إذا كانا فى البلدة كذا فى القنية"

سوال: ......

په وخت د اداء کي د شاهدي فرعي کوم شی حاضرېدل غواړي؟

جواب: ......

چي څوک اراده د شاهدي وکړي د فرعي بیا به: ان يحضر الطالب والمطلوب:

"و ان اراد ان يشهد غيره على شهادته ينبغى ان يحضر الطالب والمطلوب و يشيرا لهما و إذا اراد ان يشهد عند عينيهما ان يذكر اسمهما و نسبهما الا انه إذا كان المشهود عليه غائباً فذكر الاسم والنسب يجوز للاشهاد و لا يكفى هذا القدر القضاء ـ كذا فى المحيط"

سوال: ......

شاهدان د فرعي به د چا نوم اخلي په شاهدي کي؟

جواب: ......

شاهدان د فرعي به اخلي نوم د اصلي شاهد او نوم د پلار د ده او د جد د ده:

"و ينبغى ان يذكر الفرع اسم الشاهد الاصلى و اسمه ابيه و اسم جده

Maktaba Tul Ishaat.com

حتی لو ترك ذلك فالقاضی لا یقبل شهادتهما"(رد المحتار علی الدر المختار / ج: ٤ / ص: ٤٣٩)

ســوال :......

آیا د زوی شاهدي د پلار پر شاهدي روا ده که نه؟

جواب :......

هو ، روا ده شاهدي د زوی پر پلار ، نه قضاء د ده :

"و تجوز شهادة الابن علی شهادة الاب دون قضائه فی روایة والصحیح الجواز کذا فی الفتح القدیر"(هندیه / ج: ۳ / ص: ٥٣٥)

ســوال :......

که یو سړی بندي وو په ښار کي ، فرعي شاهدي د هغه له طرفه یو څوک ادا کولای سي که نه؟

جواب :......

په دې کي اختلاف ستـه بعض علماء وایي که چیري بندي وو په دغه جېل کي چي کوم قاضي دی لا یجوز بیا نه ده روا او که په بل جېل کي وو یا له والي سره وو امکان د خلاصېدو یې نه وو بیا شاهدي د فرعي یې روا ده:

"و قد اختلف مشائخ زماننا بعضهم قالوا ان کان محبوساً فی سجن هذا القاضی لا یجوز و ان کان محبوسا فی سجن الوالی ولا یمکنه الاخراج من الحبس یجوز و قد قیل ینبغی ان لا یجوز"(فتاوی الهندیة / ج: ۳ / ص: ٥٣٥)

ســوال :......

که اصلي شاهد په اعتکاف کي وو فرعي شاهد د هغه له طرفه شاهدي ادا کولی سي که نه:

جواب :......

نه يې سي ادا کولی:

"ان كان الاصل معتكفا قال قاضی بديع لا تجوز سواء كان منذورا او غير منذور"(كذا فی التتارخانية ، فتاوی هندية / ج: ۳ / ص: ۵۳۵ ، باب الشهادة فی الرجوع عن الشهادة فی النكاح و الطلاق و الخلع۔

سـوال :......

کـه د مهرہ او ښځي په دعوه کي شاهدانو رجوع وکړه و قاضي ته څه حکم يې دئ؟

جواب :......

کـه مهـر مثـل د ښـځي له مهر مسمی سره برابر وي يا زيات وي بيا پر شاهدانو ضمان نسته او که تر مهر المسمی کم وي بيا ضمان سته :

"إذا ادعت أمرأة نكاحها علی رجل و اقامت عليه بينة و قضی بالنكاح ثم رجع الشاهدان فان كان مهر مثلها مثل المسی او اكثر لم يضمنا شيئا و ان كان مهر مثلها اقل من المسمی ضمنا الزيادة للزوج كذا فی الكافی"(فتاوی هندية / ج: ۳ / ص: ۵٤۱)

سـوال :......

که زوج دعوه وکړه او شاهدانو شاهدي اداکړه ښځي انکار وکړ قاضي فيصله په شاهدانو وکړه بيا شاهدانو رجوع وکړه څه حکم يې دی؟

جواب :......

په دې صورت کي پر شاهدانو هيڅ ضمان نسته :

"ولـو ادعـی رجل علـی أمرأة الـنكاح و اقام علی ذلك بينة و المرأة

جاحدة فقضیٰ القاضی علیها بالنكاح بالبینة ثم رجعها عن شهادتهما لا یضمنان للمرأة شئیا سواء كان المسمی مثل مهر مثلها او اكثر او اقل"

سـوال: ......كـه په مهر كي اختلاف د مېړه او ښځي راغلو شاهدانو رجوع وكړه بيا به د چا پر قول حكم كيږي؟

جواب: ......

كـه دې رجوع كـړې وه پـه حـال د نـكا ح او يـا وروستـه تـر طـلاق بـعـدالـدخـول بيـا ضـمـان ستـه د . . . . . او كـه يې رجوع كړې وه بعد الطلاق قبل الدخول (بيا ضمان نسته):

"إذا ادعی رجل علی أمرأا انه تزوجها علی مائة درهم فقالت لا بل بالف مهر مثلها الف الخ"(هندية / ج: ۳ / ص: ---)

سـوال: ......

كه شاهدانو شاهدي ادا كړه په نكا ح سره بيا يې رجوع وكړه ؟

جواب: ......

كـه شـاهـدي پـه حـال د ژونـد د زوج كـي وه يـا وروستـه لـه مركه بعد له قضاء د قاضي يې رجوع كړې وه بيا ضمان نسته:

"و إذا شهدوا بـنـكـاح أمـرأة ومات الزوج بعد قضاء القاضی بالنكاح ثم رجعوا عن شهادتهم او كان الرجوع منهم حال حياة الزوج فلا ضمان عليهم ولـو شهـدوا بـالـنـكـاح بعد موت الزوج ثم رجعها ضمنوا حصتها من الميراث لسائر الوراثة"

سـوال: ......

كـه زوی د پـلار د اسلام دعـوه وكـړه قـاضـي ثـابتـه كړه بيـا شـاهدانو

رجوع وکړه ؟

جواب :......

په دې دعوه کې شاهدان ضامنان دي د میراث دپاره . د کافر زوی:

"رجل مسلم كان ابوه كافرا ان اباه مات مسلماً و للميت ابن كافرٌ فقضى القاضى بحال ابيه للمسلم ثم رجعوا عن شهادتهم يضمنون الميراث كله للكافر كذا فى المبسوط"(هندية / ج: ۳ / ص: ٥٤٦)

سـوال :......

کـه یـو هلک یـوه نـجلۍ پـه بندراوړل سو بیـا لوی سول او آزاد سول نـکـا ح سره وکـړه بیا شاهد شاهدي اداکړه چې د یوه پلار اولاد دي قاضي قضاء پر کړې وه روا ده که نه؟

جواب :......

پـه دې مسـئلـه کې د شاهدانو رجوع نه صحیح کیږي خو زوج به له وطي څخه منعه کوي تر څو حال معلوم سي ضمان نسته :

"ولـو ان صبيا و صبية سبيا و كبرا و عتقا و تزوج احدهما الاخرىٰ ثم جاء حربىٌ مسلماً و اقام بينة انهما ولداه فقضى القاضى بذلك و فرق بينهما ثم رجعا عن شهادتهما لم يقبل رجوعهما عن شهادتهما و يمنع الزوج ان يطأها و ان علم انهما شهدا برووره يضمن الشاهدان شيئا عندنا "(فتاوى الهندية / ج: ۳ / ص: ٥٤٦)

سـوال :......

که یو سړي د بل پر شاهدي شاهدي اداکړه بیا هغه منع کړ ؟

جواب :......

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه منع د ده صحیح کیږي او که وروسته یې منع کړي بیا روا ده:

"رجل اشهد علی شهادته ثم نهاه ان یشهد علی شهادته لا یصح نهیه فی قول ابی حنیفة و ابی یوسف حتی لو شهد علی شهادته بعد النهی جازت شهادته۔ کذا فی فتاوی قاضیخان "(هندیة ج۳ / ص: ۵۳۵)باب

الشهادت بالسماع:

سوال:......

مشهود به به پخپله حاضره وي که پر غائبه هم روا ده؟

جواب:......

مشهود به پخپله حاضرېدن غواړي پر غائبه شاهدي نه ده روا، مګر یو څو شیان سته چي شاهدي بالسماع یعني په خالي اورېدو باندي هم روا ده: ۱ . العتق ۲ . والولاء ۳ . المهر علی قول الصحیح بزازلیة ۴ . النسب ۵ . الموت ٦ . النکاح والدخول ۷ . ولایة القاضی ۸ . واصل الوقف . نور تفصیل یې په رد المحتار کي ذکر دی:

"هذا شهد احدٌ بما لم یعانیه الا فی عشرة کلها مذکور ههنا متناً و شرحاً"(رد المحتار علی در المختار / ج: ٤ / ص: ٤١٧)



Maktaba Tul Ishaat.com

(باب التحكيم)

دفيصلې دپاره دريم سړى مقرره كول

سوال)
دوو كسانو دعوه وكړه بيا يې بل سړى حاكم كړى چې ته به حكم كوې په دې شرط چې د بل عالم څخه به پښتنه كوى بيا به حكم كوى او يا د ډيرو عالمانو څخه پوښتنه كوى بيا به حكم كوى نو اوس به دې څنګه حكم كوى؟

جواب)
واذا صطلحا على حكم يحكم بينهما على ان يسال فلانا الفقيه ثم يحكم بينهما جاز وكذا اذا اصطلحا على حكم بينهما على ان يسال الفقها ء ثم يحكم بينهما بما اجمو عليه جاز فان سال ذلک الفقيه فى الفصل الاول و حكم بينهما جاز و هذا ظاهر و اذا سئل فقيها واحدا فى الفصل ثاني و حكم بقوله جاز ايضا .عالمگيرى ص۳۹۸ ج۳
له مذكوره عبارت څخه معلومه شوه چې په هر حال حكم كى صحيح كيږى .

سوال)
زيد او عمر دعوه وكړه په لس درهمه كى بكر يې حاكم كړى تر معلوم وخت پورى مثلا دشنبې څخه بيا تر جمعې پورى د جمعې څخه

وروسته د حاکم حکم صحیح کیږی او که نه صحیح کیږی .

جواب)

المادۃ (۱۸۴۶) اذا تقید التحکیم بوقت یزول بمرور الوقت مثلا الحکم المنصوب علی ان یحکم من الیوم الفلانی الی شهر لیس له ان یحکم بعد مرور ذلک الشهر فاذا حکم فلا ینفذ حکمه کما جاء فی المادۃ (۱۸۰۱)

در الحکام ص۴۹۹ ج۴

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چی په مرور د زمان یی حکم نه دی صحیح

سوال)

د دوه کسانو دعوه په زر روپو وکړه چی مدعی شاهدان حاضر کړل چی حاکم حکم زما لپاره د جمعې په ورځ وکړی چی دغه مال ستا دی مدعی علیه شاهدان حاضر کړل چی حاکم حکم وکړی چی دی می د شنبې په ورځ د مال څخه خلاص کړی؟

جواب)

ولو کان المدعی اقام البینة ان الحکم قضی له بالمال یوم الجمة و اقام المدعی علیه بینة ان الحکم البرئه یوم الثبت فان القضاء الاول صحیح والثانی باطل . فتاوی العالمکیری ص۳۹۹ ج۴

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چی د هر یوه لپاره اول وار حکم وشو هغه صحیح دی هغه بل باطل دی

سوال)

زید په عمر دعوه وکړه چې دغه باغ چې تا کرلی دی دا زما دی عمر انکار وکړی چې ستا نه دی بیا دواړو بکر حاکم کړی بکر لا حکم نه و کړی دوی رجوع وکړه د حکم څخه له رجوع څخه وروسته د مدعیانو د حاکم حکم صحیح دی کنه؟

جواب)

ولکل واحد من المحکمین ان یرجع قبل ان یحکم علیهما لانه مقلد من جهتهما لاِ تفاقهما علی ذلک فلا یحکم الا بر ضا هما جمیعا .

العنایه علی هامش فتح القدیر ص۴۰۷ .

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چې له رجوع څخه وروسته د مدعیانو د حاکم حکم نه صحیح کیږی .

سوال)

زید او عمر په مال کی سره شریکان ؤ بیا یی په دغه مال کی دعوه سره وکړه بکر او خالد یی حاکمان کړل زید بکر ته وکالت ورکړی عمر خالد ته وکالت ورکړی وکیلانو فیصله وکړه بیا مدعیان رجوع کولای شی ددغه فیصلې څخه کنه؟ .

جواب)

وهو انه اذا وکل احد الطرفین احد المحکمین والاخر المحکم الاخر لاجر الصلح فی الخصوص الذی تنازعافیه تصالح الحکمان باضافته عقد الصلح الی موکلهما و ان کان الصلح موافقا للاحکام المشروعة فلیس لا حد الطرفین ان یمتنع عن قبول هذا الصلح کذا فی المادة (۱۵۵۴)

درر الحکام ص۷۰۳ ج۴

Maktaba Tul Ishaat.com

لـه مـذکـوره عبـارت څـخـه مـعلومه شوه چې ددغـه صلح څخه منع نه شي کولای

سوال)

زیـد خپلې ښځې ته وویل ته په حرامه یې په دې لفظ سره یې نیت د طـلاق ؤ بـکـر او عـمـر یـې حـاکمان کړل بکر وویل دغه ښځه بائنه ده عمر وویل دغـه ښځه بائنه په ثلاثه ده نو اوس د کوم یوه حکم صحیح دی

جواب)

ولـو قـال لا مـراتـه انـت عـلـی حرام ونوا الطلاق دو ن الثلاث فحکما رجـلا ن فـحـکـم احد هما بانها بائن و حکم الاخر بانها بائن بالثلاث لم یجر لا نهما یحتمعا علی امرواحد

بحر الرائقص۲٦ ج۷

لـه مـذکـوره عبـارت څـخـه مـعـلـومـه شوه چې د یوه حکم هم نـه صحیح کیږي .

سوال)

زیـد مـړ شـو بـکـر دعـوه ورباندي وکـړه چې زما په زیدلـس درهمه باندې دي تول وارثـان د زید غائب وو یو وارث یې حاضـر ؤ بکر شاهدان هم حـاضـر کـړل بیـا یې خالد حاکم کړی خالد هم حکم وکړی ددغه حاکم حکم په یوه وراثت صحیح دی که نه؟

جواب)

اذا دعـی رجـل عـلـی میت دینـا وورثـة غیـب الاواحـدا فاصطلح هذا الـوارث مـع الـمدعی علی حکم یحکم بینهما فاقام وحکم الحکم بذلک لا

Maktaba Tul Ishaat.com

یظهر حکمه فی حق الغیب غیر ان فی مسئله الورثة یقضی علی الحاظر بجمیع الدین ویستو فی ذلک مما فی یده .

فتاوی العالمگیریه ص۴۰۱ ج۳

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چی حکم یی په یوه وارث صحیح دی .

سوال)

زید او عمر دعوه وکړه په سرای او په آس کی او په لس درهمه چی په بل چایی پور ؤ بکر یی حاکم کړی چی فیصله وکړه په یوه شی بکر هم په دروسره شیانو فیصله وکړه دغه فیصله یی صحیح ده کنه؟

جواب)

ادع دینا فنصبنا محکما لیفصل بینهما فی النزاع علی الدار فلیس لهذا المحکم ان یفصله فی النزاع الحاصل علی الفرس ولا العشر دنا نیر الدین

درر الحکامص۶۹۸ ج۴

له مذکوره عبارت څخه معلومه شو چی په یوه شی کی یی فیصله صحیح ده په هغه نورو کی باطله ده .

سوال)

بکر د زید څخه کتاب واخستی عمر بیا د بکر څخه کتاب واخستی او س په کتاب کی عیب پیدا شو زید او عمر دعوه سره وکړه خالد یی حاکم کړی خالد حکم وکړی درد کولو په زید باندی نو اوس زید هم کولای شی چی کتاب بکر ته ورکړی کنه؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب)

لا يتجاوز حكم المحكم بالرد بالعيب الى البائع كما انه لا يتعدى حكمه الغائب مع انه قد بين فى شرح المادة (۱۳۰) درر الحكام ص۶۹۷ ج۴)

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چی حکم د حاکم بائع او ل ت تجاوز نه کوو مگر د ټولو رضا وی.

سوال)

زيد او بکر په مال کی سره شريکان وو بيا زيد په بکر دعوه وکړه ويل چي درې حصې مال زما دی بکر ويل زه او ته سره نيمی يو بيا يی خالد حاکم کړی د خالد سره د قاضی خط ؤ بل قاضی ته يی ورووړی ده هم په دغه خط فيصله وکړه فيصله يی صحيح ده که صحيح نه ده؟

جواب)

ولا يحكم الحكم بكتاب القاضى الى قاضى لانه لم يكتب اليه الا اذا رضى الخصمان ان ينفذ الحكم القضاء بينهما فيجوز ابتداء لانهما رضيا بحكمه كذا فى محيط سرخسى الخ

فتاوى العالمكيرى ص۴۰۰ ج۳)

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چی مدعيانو په رضا سره فيصله يی صحيح کيږی

سوال)

يوه سړی په بل سړی دعوه وکړه وی ويل چی دغه شی زما دی چی ستا په لاس کی دی مدعی عليه منکر شو بل سړی يی حاکم کړی مدعی

Maktaba Tul Ishaat.com

شاهدان هم حاضر کړل حاکم مدعی علیه ته وویل تا زما په مخکی اقرار وکړی چی دغه شی دده حاکم حکم وکړی د مدعی لپاره دغه حکم صحیح دی کنه؟

جواب)

اذا قال لا حد هما اقرر ته عندی او قامت عندی بینة علیک لهذا فعدلو عندی و قد الزتکر بذلک و حکمت لهذا فانکر المقضی علیه لا یلتفت الی انکاره و مضی القضاء علیه مادام المجلس باقیا الخ .رد المحتار ص۳۸۸ ج۴

له مذکوره عبارت څخه معلومه شوه چی حکم د حاکم صحیح دی .

سوال)

دوو کسانو دعوه وکړه بیا یی یو فاسق او یو کوچنی حاکمان کړل بیا دوی حکم وکړی حکم صحیح نه دی کنه؟

جواب)

والفاسق والصبی لعدم اهلیة الشهادة فیهما لکن اذا حکم الفاسق یجب ان یجوز عند نا کما مر فی اول ادب القاضی ان الفاسق لا ینبغی ان یقلد القضاء و لو قلد جاز العنایه علی هامش فتح القدیر ص۴۰۷ ج۶

له مذکوره عبارت څخه معلومه سوه چی د فاسق حکم صحیح دی د کوچنی حکم صحیح نه

دی

سوال)

که قاضی یا حکم د خپل مور او پلار لپاره او یا د زوی لپاره او یا د

Maktaba Tul Ishaat.com

بنځی لپاره حکم وکړی دغه حکم یی صحیح دی کنه؟

جواب)

و حکم الحاکم سواء کان قاضیا او محکم لابویه وولده و زوجته و کل من لا تقبل شهادة له باطل لمکان التهمة بخلاف ما اذا حکم علیهم یجوز لا نتفائها

فتح القدیر ص۴۱۰ ج٦

له مذکوره عبارت ځخه معلومه شوه چی حکم یی صحیح نه دی

سوال)

دوو کسانو دعوه وکړه بیا یی بل سړی حاکم کړی دغه حاکم بیا حکم بل حاکم ته ور سپاری بیله رضا ځخه د مدعیانو حاکم ثانی هم حکم وکړی سپارل د حکم بل حاکم ته صحیح دی کنه؟

جواب)

ولیس للحکم ان یفضوض التحکیم الی غیره لان الخصمین لم یرضیا بتحکیمه غیره فان فوض و حکم الثانی بغیر رضا هما و اجاز الحکم الاول لا یجوز الا ان یجیزه الخصمان

عالمگیری ص۴۰۰ ج۳

له مذکوره عبات ځخه معلومه شوه چی سپارل د حکم دیوه حاکم بل حاکم ته بیله رضا ځخه د مدعیانو صحیح نه دی .

سوال)

دوو کسانو دعوه وکړه بیا یی بل سړی حاکم کړی شاهدانو هم شاهدی ادا کړله په تهمت سره حاکم هم شاهدان رد کړل دغو شاهدانو بل

Maktaba Tul Ishaat.com

قاضي او يا د بل حاكم په مخكې شاهدي ادا كړه دوى شاهدى د بل قاضي او يا د بل حاكم په مخكې قبليږى كنه قبليږى؟

جواب)

واذا رد الحكم شهادة شهود شهد بتهمة ثم شهدوا اولئك الشهود عند قاضي آخر او عند حاكم آخر فانه يسال عنهم فان عدلو اجازهم و ان حوردهم

العالمگیری ۴۰۰ ج۳

له مذكوره عبارت څخه معلومه شوه كه شاهدان عادلان وو شاهدى يى قبليږى او كه عادلان نه وو نو نه قبليږى .

سوال)

زيد او بكر دعوه وكړه بيا يى مدعيانو وويل چى خالد به حكم كوى يا به عمر حكم كوى په يوه چى حكم وكړى صحيح دى اوس عمر مخكې حكم وكړى بيا خالد حكم كولاى سى كه يى نه سى كولاى؟

جواب)

واذا اصطلحا على ان يحكم بينهما فلان فايهما حكم بينهما جاز واذا تقدما الى احدهما فقد عيناه للخصومة ولا يبقاه الاخر حكما كذا فى المنقط .

عالمگیری ص۳۹۸ ج۳

له مذكوره عبارت څخه معلومه شوه چى هر يوه مخكې حكم وكړى هغه بل به بيا حكم نه شى كولاى .

Maktaba Tul Ishaat.com

کتاب البیوع

سوال:......

د ژوندي حیوان په وزن خرخول او اخیستل جائز دي او که نه یعني پسه، غویی، اوښ، چرګ په وزن یې بیع او شراء جائز ده کنه؟

جواب:......

دصاحب هدایه له عبارا تو ښخه نه جواز معلومیږي:

"قال فی الهدایة لأن الحیوان لا یوزن عادةً و لا یمکن معرفة ثقله بالوزن لأنه یخفف نفسه مرةً و یثقل أخرىٰ"(هدایه / ص: ۸۳ / ج: ۳)

لیکن په عصرِ حاضر کي د ژوندي حیوان لکه چرګه بیع یو عرف عام جوړه سوې ده او دا نه پېژندل د ثقل دا جهالت یسیره دی او دا مفضی و نزاع ته نه ګرزي او کوم جهالت چي مفضی و نزاع ته نه ګرزي هغه مفسد د عقد نه دی لکه شاه کشمیريؒ فرمایي:

"قلت ان الناس یعاملون فی اشیاء تکون جائزة فیما بینهم علی طریق المرؤة و الاغماض فاذا رفعت إلی القضاء یحکم علیها بعدم الجواز و ذلك لأن العقود علی نوعین نحو یکون معصیة بنفسه و ذا لا یجوز مطلقاً و نحو آخر لا یکون معصیة و انما یحکم علیه بعدم الجواز للافضاء إلی المنازعة فاذا لم تقع فیه منازعة جاز"(فیض الباری ص۲۸۹ / ج: ۲، کتاب الوکالة)۔

او په عنایه کي لیکلي دي چي دا جهالت چي مفسد عقد لره ګرځي هغه په هغه مالو کي دی چي هغه دیو جسن وي او مفضی ربوىٰ لره ګرزي او کوم

چي مختلف الجنس وي هغه په کي جهالت د مقدار مفسد دی عقد نه دی:

"قال فی العناية و هذا انما يستقيم اذ لم تكن الاعراض ربوية أما إذا كانت ربوية فجهالة المقدار تمنع الصحة لاحتمال الربوا "(شرح العناية على هامش فتح القدير / ص: ٢٦ / ج: ٤) (درس الهداية / ص: ٢٨٣ ، اوجز المسالك / ص: ١٠٥ / ج: ٥)

سوال:......

د یو سړي په ځمکه کي یا د ده په فارم کي و ابنه پخپله راشنه سول او د بل سړي بیا ودغه وښو ته ضرورت وو آیا مالک د ځمکي دا وابنه پر خرڅولی سي که نه؟

جواب:......

دا وابنه پر دوه قسمه دي که چیري دا وښه په خپله راشنه سوي وو بیایي بیع نه ده جائز ځکه چي نبي علیه السلام فرمایي: الناس شركاء فی ثلث فی الماء و الكلاء و النار (رواه ابو داود) او که چیري ده دا ځمکه او به کوله د دغو وښو د شنه کېدلو لپاره بیا یې بیع جائزه ده:

"و لا يجوز بيع المرعى المراد بالمرعى الكلاء النابت فی أرض غير مملوكة او فی أرض البائع بدون تسبب عنه قيدناه به لأنه لو تسب فی ذلك بأن سقى الأرض او هيأها للانبات جاز له بيع كلاء ها لانه ملكه"(مجمع الانهر ص٥٧ / ج: ٢ - حاشية الهداية / ص: ٤٨٥ / ج: ٧ - والمحيط البرهانی ص٢٩١ / ج: ٧ - تبين الحقائق / ص: ٣٧١ / ج: ٤ - فتاوى محموديه / ص: ١٠٧ / ج: ١٦)

سوال:......

د انټرنیټ په ذریعه کاروبار جائز دی که نه، نن سبا ټول کاروبار پر انټر

نیټ باندې کیږي؟

جواب:......

د کوم شي یا . . . پیسې چې د خرخونکي په اکاؤنټ کې جمع شي او ده ته د میسج په ذریعه سره اطلاع ورسي دی بغیر د تکلیف دا پیسې استعمالولی سي دې ته قبض بالتخلیة وایي او دا هم قبض دی حکماً .

"ان التخلیة قبض حکمًا لو مع القدرة علیه بلا کلفةٍ لکن ذلك یختلف بحسب حال المبیع ففی نحو حنطةٍ فی بیت مثلا فدفع المفتاح إذا امکنة الفتح بلا کلفةٍ قبض و فی حو دارٍ فالقدرة علی اغلاقها قبض ای بان تکون فی البلد فیما یظهر الخ والتفصیل فی رد المحتار (ص ٥٦٢ / ج: ٤ ـ بدائع الصنائع / ص: ٢٤٤ / ج: ٧ ـ والمحیط البرهانی / ص: ١٦٩ / ج: ٧)"

سوال:......

توري نکروځي یا تور رنګ جوړول او بیا خرڅول په اسلام کې دا رنګه بیعه او عمل کول جائز دي او کنه؟

جواب:......

په شریعت کې د جواز او د نه جواز قانون داسې دی چې د یو شي جائز استعمال ممکن وي د هغه شي بیا تجارت هم جائز دی نو د نکروځو او یا د تور رنګ استعمال د مجاهد دپاره جائز دی نو تجارت او کاروبار یې هم جائز دی .

"لأن الحرمة لیست بقائمة بعینه و انما الحرمة فی الاستعمال إذا استعمله خادعاً و من شاب قبل او ان المثیب او خضب لارهاب العدو فی الحرب یجوز له الخضاب بالسواد کما صرح به فی الهندیة" (المحیط البرهانی ص١٢٢ / ج:

Maktaba Tul Ishaat.com

٦ ـ فتاوی الشامی / ص: ٤٢٢ / ج: ٦)

سوال:......

نن سبا د ځمکي سودا په فرد یا انتقال سره کیږي نو یو سړي کال مخته ځمکه واخیستله او انتقال یې پر نامه نه ده اړولې، یو کال بعد هغه سړی چې بائع دی ورته وایي چې دا انتقال زما پر نامه دی نو زه د دې ځمکي مالک یم آیا په شریعت کي دا انتقال معتبر دی او که نه؟

جواب:......

په شریعت کي انتقال ته هیڅ اعتبار نسته بلکه صرف قبضې ته اعتبار دی نو چې کله بائع و مشتري ته قبضه ورکړه بس مشتري مالک د ځمکي جوړ سو.

"المبیع انما یدخل فی ضمان المشتری بالقبض لأن المبیع خرج عن ضمان البائع بقبض المشتری فترد علیه الثمن"(بدائع الصنائع ص٢٤ و ٢٤١ / ج: ٥ ـ هدایه / ص: ٢٠ / ج: ٣، بدائع الصنائع / ص: ٢٤٤ / ج: ٥ ـ امداد المفتین ص٨٩٠ / ج: ٢)

سوال:...... د سګریټ څکول جائز دي او کنه او آمدنی یې حلاله ده او کنه؟

جواب:......

په عصر حاضر کي ټولو ډاکټرانو پر دې اتفاق کړی دی چې سګریټ څکول د صحت دپاره ډېر مضر دي او قدیمه علماء کرامو هم د سګریټ څوک مکروه بللي وو په کار دی چې سړی ځان ځیني وګوري البته کوم آمدن چې دی هغه حرام نه دی بلکه جائز دی:

"و فی الدر المختار قال شیخنا النجم والتتن الذی حدیث و حدوثه بدمشق

سنة خـسمة عشر بعد الالف يدعى شاربه أنه لا يسكر و ان سلم له فانه مفتر و فى الشامية قـوله انتـنن اقـول قد اضطربت أراء العلماء فيه فبعضهم قال بكراهته و بعضهم بحرمتـه و بعضهم باباحتـه و أفردوه بالتاليف و فى شرح الوهبانية للشرنبلالى و يمنع من بيع الدخان و شربه"(الدر المختار مع رد المختار ص۴۵۹ / ج: ٦ـ حاشية الطحطاوی على مراقى الفلاح / ص: ٦٦٥ ـ كفاية المفتى / ص: ١٤٨ / ج: ٩) زموږ په دې باره کې کتاب رساله ستـه فى حرمت ترياق تمباکو .

سـوال:......

پـر يو دوکاندار د خلقو يقين دی او يا يې غالب گمان دی چې دغه دوکاندار د غـلا سـامـان خرڅوي آيا په شريعت کې د دغه سامان اخيستل په بيعه جائز دي او که نه؟

جواب:......

که چيري دغه غلا په يقين سره معلوم وي بيا يې اخيستل نه دي جائز:

"لم يحل للمسلم أن يشترى شيئاً يعلم انه مغصوب او مسروق او مأخوذ من صاحبه بغير حق قال عليه السلام من اشترى سرقة اى مسروقاً و هو يعلم أنها سرقة فقد اشترك فى اثمها و عارها"(الحلال والحرام فى الاسلام / ص: ٣١٦ بدائع الصنائع / ص: ٨٥ ج٧ ـ تاليفات رشيديه / ص: ٤٠٧ ـ كفايت المفتى، ص: ٣٣ / ج: ٨)

سـوال:......

کـه چيري يو سړی د کتاب خانې والا څخه کتاب په پنځوس روپۍ واخلي او يـا مثـلا د پرچون والا څخه يو شی په پنځوس وپۍ واخلي او بعد کې بيا

Maktaba Tul Ishaat.com

ورته ووایي چې دغه پیسې به بیا در کړم وخت یې نه کی معلوم آیا دا بیعه جائزه ده او کنه؟

جواب:......

دغه نامعلوم وخت، که چیري دغه مشتري تر اخیستلو وروسته ذکر کړي بیا صحیح ده او که چیري د بیع په مابین کي ورته ووایي چي دا کتاب یا دا شی په پنځوس روپۍ راکړئ په پور او وخت یې نه کړ معلوم بیا نه ده جائز:

"بخلاف ما إذا باع مطلقة ثم أجل الثمن إلى هذه الاوقات اى إلى الحصاد وغيره حيث جاز لأن هذا تاجيل فى الدين وهذا الجهالة فى متحملة"(الهداية ص٦١ / ج:٣ شرح مجلة ص١٦٨ / ج:٢ - رد المحتار ص٥٣٢ / ج:٤)

سوال:......

یو سړي د زمیندار څخه درختي واخیستلې اوس مشتري دا درختي کاړي بائع ورته وایي چې د ځمکي پر سر به یې کاټوې او مشتري ورته وایي چي د بېخه یعنې د ریښو څخه یې کاږم اوس په شریعت کي د بائع خبره منل کیږي او که د مشتري؟

جواب:......

. په وخت د سودا کي که چیري دغه شرط ذکر سوی وو نو د هغه شرط مطابق به عمل کیږي او که چیري شرط نه وو ذکر سوی بیا به دغه درختي د بېخه کاږي په دې شرط چي که چیري و درختي ته نژدې دېوال وو او یا ځا وه هغه ته به نقصان نه رسیږي که نقصان ورسېدی بیا به یې د ځمکي پر سر کاټه وي:

”و فيها إذا اشترى شجرة للقلع فانه يؤمر بقلعها بعروقها و ليس له حفر الأرض إلى انتهاء العروق بل بقلعها على العادة الا ان شرط للبائع القلع على وجه الأرض او يكون في القلع من الاصل مضرة على البائع كما إذا كانت بقرب حائط او ئبر لأنه فانه يقطعها على وجه الأرض“(البحر الرائق ص۲۹٤ / ج: ٥ ـ رد المحتار / ص: ٥٥٤ / ج: ٤ ـ قاضيخان / ص: ٢٤٥ / ج: ٢ ـ فتاوى الهندية / ص: ٣٥ / ج: ٣)

سوال:......

که چيري يو شخص پر بل سړي غوا او يا پسه خرڅ کړی په دې شرط چي دا بلاربه ده يعني په شرط د حمل او بعد کي هغه غوا او پسه حامله نه وو آيا اوس مشتري لره حق د واپس کېدلو د غواسته او کنه؟

جواب:......

بيع د حيوان په شرط د حمل دا بيعه فقهاؤ فاسده بللې ده او فسخه يې واجبه ده البته په شرح مجله کي دا مسئله ليکلې ده چي که چيري بيع د حيوان بغير د شرطه د حمل وسوه او د بيعي بعد بائع دا وويل چي زه د دې خبري وعده ورسره کوم چي دغه غوا حمل لري او که يې حمل نه وو بيا يې بيرته را واپس کړه نو که چيري غوا حامله نه وه بيا يې حسب وعده واپس کولی سي:

”لو ذكر البيع بلا شرط ثم ذكر الشرط على وجه العدة جاز البيع و لزم الوفاء بالوعد اذ المواعيد قد تكون لازمة فيجعل لازماً لحاجة الناس“(شرح المجلة / ص: ٦١ / ج: ٢ ، فصل في حق البيع بشرط ـ فتح القدير / ص: ٥٢٨ / ج: ٦ ـ الدر المختار مع الرد المحتار / ص: ٥٨٨ / ج: ٤ ـ شرح المجلة ص٦٧ / ج: ٢)

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:......

کـه چیـري یـو سړی هغه شیان را جمع کړي چي هغه په اصل کي مبا ح وي او بيا يې خر ځ کړي مثلا د غره ځغه لرګي کاړي او د غره درختي کاټ کړي او بيا يې خرڅي کړي آيا ذا بيعه جائزه ده او کنه؟

جواب:......

د غـره لـرګـي کنبـل او د غـره درختي کاټول او بيا خرڅول جائز دي البتـه که چيري حکومت پابندي پر لګولې وه بيا به يې نه کاړي او نه به يې خرڅوي:

"والحطب فی ملك رجل ليس لاحد ان يحتطبه بغير اذنه و ان غير ملك فلابأس به ولا يضر نسبته إلى قرية او جماعة ما لم يعلم أن ذلك ملك لهم و يملك المحطب الحطب بمجرد الاحتطاب و ان لم يشده و لم يجمعه "(فتاوى الشامی / ص: ٤٤٠ / ج: ٦ـ شرح المجلة ص١٨٨ / ج: ٤ـ البحر الرائق ص١٨٣ / ج: ٥ و المبسوط السرخسی ص١٥٣ ج٩)

سوال:......

فـقهـاؤ عـلـمـاؤ کـرامـو ليکلي دي چي هر وزني شی به دوه واره وزن کيږي مثلاً يـوه کـونـی د بـرې يا دوړو يا د چولو يا دوريجو به يو وار دکاندار وزن کـوي او بيـا به يې ګراک وزن کوي ځکه چي نبي عليه السلام فرمايي چي پـه خـورکي شي کي بـه دوې صاعي جاري کيږي يوه صاع د بائع ده او يوه صاع د مشتـري ده او سره له دې چي اوس هر شی په يوه وزن خرڅيږي آيا دا بيع جائز ده او کنه؟

جواب:......

وزن پـر دوه قسـمه دی يو حقيقي وزن دی چي په ترازو يې وزن کړي او بل

حكمي وز ن دى چي څونه وز ن پر ليكلي وي او دوكاندار يې بيان كړى نو دغه حكمي وز ن اوس زمانه كي معتبر دى، او دويم په حديث شريف كي چي وز ن معتبر دى د هغه يوه معنى دا ده چي دا وز ن په سلم كي شي:

"نقل إن البائع إذا كال الطعام بعد البيع بحضرة المشترى يكون ذلك الصاع هو صاع المشترى فعندنا قوله حتى يجرى فيه الصاعان اعم من أن يكون جريان الصاعين حقيقة أو حكما و يرشد إليه قوله فيكون لصاحبه الزيادة و عليه النقصان لأنه يدل ان العلة فى النهى انما هو امتياز حق البائع حق المشترى (اعلاء السنن ص۲۳۹ / ج: ۱٤)

و محمل ظاهر الحديث إذا وجد عقدان بشرط الكيل بان يشترى المسلم إليه من رجل كراً لاجل رب السلم و امر رب السلم بقبضه اقتضاء عن سلمه فان فى ذلك يشترط صاعان صاع للمسلم إليه و صاع لرب السلم فيكيله للمسلم إليه ثم يكيله لنفسه"(فتح القدير ص۵۱۷ / ج: ٦ ـ الكفاية شرح على هامش الهداية ص۱٤۱ / ج: ٦ ـ درس الهداية ص۲۵۳)

سوال:......

بعضي تجاران نن سبا د بعضي بهرنيو كمپنيو سره بيع و كړي يعني د يو شي د جوړولو اډر وركړي نو هغه شي لا را رسېدلى نه وي چي دغه تجاريې په ماركيټ كي پر دوكاندارانو خرڅوي آيا دغه بيع جائز ده او كه نه؟

جواب:......

دغه بيع قبل القبض ده او بيع قبل القبض نه ده جائزه البته وعده د بيعي كولى سي ليكن عقد د بيعي نه سي كولى:

"عن ابن عباسؓ أن رسول الله ﷺ قال من ابتاع طعاماً فلا يبعه حتى

Maktaba Tul Ishaat.com

یستوفیه قال ابن عباسؓ واحسب کل شیئ مثله"(رواه مسلم ص۵ / ج: ۲، باب بطلان بیع المبیع قبل القبض ۔ فتح القدیر / ص: ۵۱۰ و ۵۱۲ / ج: ٦۔ تکملة فتح الملهم / ص: ۳۵۳ / ج: ۱ ۔ جدید فقهی مباحث ص:۱٤۱ / ج: ۱۵ ۔ فیض الباری / ص: ۲۵۸ / ج: ۳)

سوال:......

د کفارو په عبادت خانه کي په مزدوري کار کول او یا د کفارو د عبادت خانې لپاره ګاډر او پترۍ خرڅول د مسلمان دپاره جائز دي او کنه؟

جواب:......د امام عظمؒ صاحب په نزد جائز دي او د صاحبینو په نزد نه دي جائز نو بهتره خبره دا ده چي اجتناب ځیني وکړي او که چیري دا بیعه یا مزدوري يې وکړه مال يې حلال دی:

"ولو استاجر الذمی مسلماً لیبنی له بیعة او کنیة جاز و یطیب له الاجر کذا فی المحیط (هندیة / ص: ٤۵۰ / ج: ٤)

وفی الشامیة قوله و جاز تعمیر کنیة قال فی الخانیة ولو آجر نفسه لیعمل فی الکنیة و یعمرها لابأس به لأنه لا معصیة فی عین العمل "(الدر المختار مع رد المحتار ص۳۹۱ / ج: ٦۔ امداد الفتاوی ص۱۱۱ ج ۳ ۔ جواهر الفقه ص٤٤۹ و ٤۵۲ج ۲)

سوال:......

د انسان د ويني خرڅول او اخيستل په شريعت کي جائز دي او کنه يعني يو سړی مريض دی او د ويني ضرورت يې دی اوس وينه مفته نه ملاويږي آيا اخيستل ورته جائز دي او کنه؟

جواب:......

Maktaba Tul Ishaat.com

د وينـي خرخـول او اخيستـل پـه شـريـعـت كي نه دي جائز البتـه كه چيري د مـريـض دپـاره ضرورت وو بيا يې مفت نه سوه پيدا كولی بيا اخيستونكي ته اخيستـل جائز دي:

"لم يجز بيع الميتة والدم والخنزير لعدم ركن البيع و هو مبادلة المال بالمال و بيع هذه الاشياء باطل (تبيين الحقائق / ص: ٣٦٢ ج٤)

بطل بيع ما ليس بمال و المال ما يميل إليه الطبع و يجرى فيه البخل و المنع فخرج تراب و نحوه كالدم المسفوح "(الدر المختار ص٥٠ / ج: ٥)

علـمـاء كرامو د ضرورت په وخت كي اخيستـل يې جائز بللي او خرخول يې نه دي جائز۔(امداد الاحكام ص٣٥٥ / ج: ٣ ۔ جواهر الفقه ص٤٧ / ج: ٧)

سـوال :......

د غـوړو ډبـه دوكـانـدار پـه پنځه كيلو خرڅوي او سره له دې چي يو كيلو ډبه ډبه ده او څلور كيلو غوړي دي او ډبه هم د غوړو په قيمت حساب سوه، آيا دا بيـعـه جائز ده او كنه؟

جواب :......

دا صـورت د بيـع جائـز دی ځـكـه چـي د عـاقـدينو پـه رضا چي وسي دا بيع تعاطي ده او د رضامندي له وجهي جائز ده:

"يـنعقد بالتعاطي في النفيس والخسيس و هو الصحيح لتحقق المراضاة " (الهداية ص١٩ / ج: ٣)

سـوال :......

د ږمـږغي (كهنتهي، شرنكوني) خرڅول او اخيستـل جائز دي او كه نه او په حديث كي چي منع ځيني راغلې ده هغه كومه ږمږغه ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب:.....

د ږمږغي استعمال پر دوو طريقو کيږي يوه دپاره د لهوي او د غناء، او يوه دپاره د غرض صحيح چي هغه غرض او فائده فقهاؤ ليکلي د نو دغه دوئمه استعمال لپاره يې خرڅول او اخيستل جائز دي:

"اختلف العلماء في كراهة تعليق الجرس على الدواب فمنهم من قال بكراهة في الاسفار كلها الغزو وغيره في ذلك سواء قال محمد فاما ما كان فيه منفعة لصاحب الراحلة فلا بأس به قال وفي الجرس منافع جمة منها إذا ضل واحد من القافلة يلحق بها بصوت الجرس الخ"(هندية ص٣٥٤ / ج: ٥ ـ نفع المفتي والسائل / ص: ٤٩١ و / ص: ٤٩٢ ـ امداد الفتاوى / ص: ١١٠ / ج: ٣ـ تكملة فتح الملهم / ص: ١٧٩ / ج: ٤)

سوال:.....

د نسلي پيشي او د سپي خرڅول او اخيستل جائز دي او کنه؟

جواب:.....

د پيشي او د سپي خرڅول جائز دي:

"بيع الكلب المعلم عندنا جائز وكذلك بيع السنور و سباع الوحوش والطير جائز ويجوز بيع جميع الحيوانات سوى الخنزير هوالمختار"(الهندية / ص: ١١٤ج ٣)

سوال:.....

يو سړي و زرګر ته ورغی او ورته يې وويل چې ما ت کوتمې را جوړه کړه زرګر ورته وويل چې زه کوتمې درجوړوم دوه اونسه په زر وي او نور به کيلټ وي په لس زرو روپې او يو اونس په پنځه زره روپې دي، کوتمې

چي تياره سوه په گوتمي، کي دوه نيم اونس زر کار سوي دي آيا دغه نيم اونس روپي، به د اخيستونکي ورکوي او که نه؟

جواب :......

پر دغه اخيستونکي باندي د دغه نيم اونس قيمت و خرخونکي ته ورکول لازم دي البته که چيري زر کر داسي ورته وويل چي هر خوني زر په کي کارسويدي بس لس زره روپي، راکړه بيا يې قيمت ورکول لازميږي:

"ومن ابتاع صبرة طعامٍ على أنها مائة قفيزٍ بمائة درهم و انه وجدها أكثر فالزيادة للبائع۔(الهداية ص۲۲ / ج: ۳)

إذا ظهر نقص او زيادة فيما بيع مقدرًا بكيل او وزن او ذراع و عدد فان كان الثمن مفصلاً كما لو قال كل ذراع بدرهم فالزيادة للبائع "(الموسوعة ص۲٤ / ج: ۹)

سوال :......

يو سړي يو مشين واخيستى په دري لكه په قسطو د مياشتي يو يو لك روپي، وركوي او دغه مشين به خرخونكى و اخيستونكي ته دستي تسليموي او كه چيري چي ټول قسط وصول سي يعني دري لكه؟

جواب :......

خرخونكى به دا مشين دستي تسليموي او د را كرزولو حق نه لري تر ادا كولو د قسطو:

"قال أصحاب نا للبائع حق حبس المبيع لاستيفاء الثمن إذا كان حالاً كذا في المحط وان كان مؤجلاً فليس للبائع ان يحبس المبيع قبل حلول الاجل و لا بعده كذا في المبسوط "(الهنديه ص۱۵ / ج: ۳، البا الرابع في حبس المبيع

Maktaba Tul Ishaat.com

۔ المحيط البرهانی ص۲۲۲ / ج: ۷ ۔ المبسوط السرخسی ص۱۵ / ج: ۱۳ ۔ بدائع الصنائع / ص: ۲٤۹)

سـوال:......

کـه چيـري يـو سړي د قـصاب څـخه د بزې غوښه غوښته هغه د ميړي داور تـللې وه، دی چي راغلی بيا په پوه سو چي داخو د ميړي ده نو اوس داغوښه بيرته ور واپس کولی سي او کنه؟

جواب:......

کـه چيـري دغـه غـوښـه تـر پـخـولـو دمـخه ورمعلومه سوه نو غوښه دي ور واپـس کـړي او کـه چيـري تـر پـخـولـو وروسـتـه ور مـعلومه سوه بيا دي په نـقـصـان سـره رجـوع وکړي يعني چي د بزې غوښه څونه پر ګرانه هغونـدي پيسي دي ځيني واخلي:

"رجـل اشتری طـعـامـاً فوجد به عيباً و قد اکل بعضه يرجع بنقصان ما اکل و يـرد مـا بـقـی بـحصته لأن بالاکل تقرر العقد فتقرر احکامه و هذا قول محمد و به کـان يـفتـی الشيخ الفقيه ابوجعفر الهندانی و ـ ـ ـ للفقيه ابو الليثؒ فان باع نصفه يـرد مـا بـقـی عند محمد و عليه الفتوی او لحم معزٍ فکان لحم ضان و علی عکسه ونـحـو ذلك فـلـه الـخيار "(شرح المجلة ص۲۵۳۔ و / ص: ۲۵۵ / ج: ۲ ۔ فتاوی ولوجيه ص۲۵۳ / ج: ۳ ۔ خلاصة الفتاوی ص٦۹ / ج: ۳)

سـوال:......

يـو سړي په بازار کي يو مشين واخيستی چي کور ته يې راوړی په مشين کي يې عيب وو اوس يې بيرته واپس کوي نوچي کله يې بازار ته وړي دغه د وړلو کرايه پر دوکاندار ده او که پر اخيستونکي ده؟

جواب:......

پـه شريـعـت كـي د دغـه مشـين د بيرتـه ورلو كرايه پر اخيستونكي ده نه پر دوكاندار:

"تنبيهات مهمة الاول وجد بالمبيع الذى له حمل و مؤنة عيباً و ردوه فمؤنة الرد على المشترى "(البحر الرائق ص٣٧ / ج: ٦ ـ فتاوى البزازية على هامش الهندية / ص: ٤٤٧ / ج: ٤ ـ المحيط البرهانى / ص: ٣٠ / ج: ٨)

سوال:......

يـو تـجار و كمپنۍ ته د يو شي اډر وركړي او د هغه شي نمونه يې هم وركړه چي پـر دغـه طريقه يې را جوړ كړه كله چي كمپنۍ هغه شى جوړ كړ هغه د نمونې په رقم نه وو اوس دا تجار د ردېدلو حق لري او كنه؟

جواب:......

دغـه تجار د ردېدلو اختيار لري او دغي بيعي ته د شريعت په اصطلا ح كي استصنا ع وايي:

"اذا انعقد الاستنصاع فليس لا حد العاقدين الرجوع واذا لم يكن المصنوع على الاوصاف المطلوبة المبينة كان المستصنع مخيراً "(شر ح المجلة ص٤٠٦ / ج: ٢ ـ الموسوعة الفقيه ص٣٢٩ / ج: ٣)

سوال:......

يـو سړي و قـصـاب تـه درې زره روپۍ وركړې چي روزانـه پـه زموږ ده پايې يا غوښه را استوې نو آيا دا بيعه جائز ده او كنه او دا بيعه خو به بيع د معلوم نه وي؟

جواب:......

دا بيعه مشابه ده د بيع استجرار سره بيع استجرار و هغه بيعي ته وايي چي

Maktaba Tul Ishaat.com

یو سړی د دو کاندار څخه شیان راوړي او بیا د کال په آخر کي یا د میاشتي په آخر کي حساب ورسره وکړي نو بیع استجراد جائزه ده نو دغه بیع هم جائزه ده .

”ولا بأس بان یضع الرجل عند الرجل درهماً ثم یاخذه منه بثلث او بربعٍ او بکسرٍ معلوم سلعة معلومة“(موطا إمام مالك / ص: ٥٩ ـ شرح المجلة / ص: ٤٠ / ج: ٢ ـ امداد الفتاوی / ص: ١٣٢ / ج: ٣ ـ رد المحتار / ص: ٥١٦ / ج: ٤ ـ البحر الرائق / ص: ٢٥٩ / ج: ٥ ـ وزیادة التفصیل فی البحوث فی قضایا فقیهیة معاصرة / ص: ٥٥ـ٦٦ـ٦٩ ـ / ج: ١)

سـوال :......

د سپي خرڅول او اخیستل په شریعت کي جائز دی او که نه دی جائز او پیسي يې حلالي دي او که نه؟

جوابٌ :......

د سپي اخیستل د ضرورت د پور کېدلو دپاره جائز دی لکه چوکیداري د کور او د فصل لپاره او د خر؟ونکي دپاره يې پیسي هم حلالي دي .

”قال ابو حنیفة عن الهیثم عن عکرمة عن ابن عباس قال رخصَّ رسول الله ﷺ فی ثبت کلب الصید“(مسند إمام اعظم ص٣١٩ باب الرخصة فی ثمن کلب الصید ، الهدایة / ص: ١٠٣ / ج: ٣ ، رد المحتار ص٢٢٧ / ج: ٥ ،

سـوال :......

بعضي خلک په دښتو او په غرو کي مرغان نیسي لکه زرک یا کوتر یا وغیره نور مرغان او بیا يې په بازار کي خرڅوي آیا دا بیعه جائز ده او که نه؟

جواب :......

په شریعت مقدسه کي د مرغانو ښکار کول او نیول جائز دی او بیعه يې هم جائز ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

"وصح بيـع الـكلب و كذا الطيور ای الجوارح الفهد والباری يقبلان التعليم فيـجـوز بيعها علی كل حال ـ"(رد المحتار ۲۲۷ / ج: ٥، الفتاوی الهندية / ص: ١١٤ ج۳ والبرجندی / ص: ۳ / ص: ٤٤)

ســوال: ......

پـه بـعـضـي عـلاقـو كـي دا رواج دی چـي خـلگ خپله خور يا لور په ډېر غټ ولـور وركـوي او بيـا دغـه ولـور يو څه پخله وخوري او يو څه بيا په شيانو د كـور و لـكـوي لـكه د لور دپاره الماری او غالی وغيره نو آيا دغه پيسې چې دوی يې خوري د دغو پيسو خورک ورته جائز دی او كه نه؟

جواب: ......

اول خـو پــه اسـلام كـي مهـر درميـانـه اينبـول سوی دی او دغـه پـه سوال كي مـذكـوره طـريـقـه دا نـاجـائـزه او دغـه مـروجه طريقه ده حر انسـان د خرڅېدلو مرادف ده او دا ناجائز ده:

"لـمـا قـال الـعـلامة التـمرتـاشـی رحمه الهل و بطل بيع ما ليس بمال كلادم والميتة والحر "(تنوير الابصار علی صدر رد المتار ص۵۲ / ج: ٥ ـ الهداية / ص: ٥٣ / ج: ۳ ـ مـجـلة الاحـكـام / ص: ۲۱۰ الـفـصـل الثانی فيما يجوز بيعه) فتاویٰ شهيد حسن جان ج٤،

ســوال: ......

د ويـنـې سوځول او بيا په هغه ايره باندې كيميكل كډول او بيا يې و چرګانو ته وركول او يا خرڅول دا جائز دي او كه نه دی جائز؟

جواب: ......

ډېـر وخـت يـو شـی غيـر متقوم وي په يو وخت كي او بيا متقوم سي لكه د

ويني مسفوحي نو فقهاء علماؤ جواز ورکړی دی او چي کله ایره سي بیا خو
بیخي جائز دی . (فتاوی حقانیه / ص: ٥٦ ج٦)

سوال:......

د انسان د اندامو خرڅول او اخیستل لکه د انسان سترګه او یا ګرده او یا بل اندام په اسلام کي جائز دی او کنه؟

جواب:......

انسان مجموعي طور الله پاک ډېر مشرف او مکرم پیدا کړیدی نو که یې د اعضاؤ خرید و فروخت جائز سي نو دا بیعه به مفضی و اهانت لره وګرزي نو یع یې نه ده جائز البته که چیري یو د سختي مجبوری په حالت کي مریض پېښ سي بیا جائز دی:

"و الانتفاع بـه لأن الآدمی مکرم غیر مبتذل فلا یجوز انیکون شیئ من اجزائه مهاناً و مبتذلاً و فی بیعه اهانة له و کذا فی امتها نه بالانتفاع"(فتح القدیر ص٦٣ ج٦ ۔ البدائع والصنائع ص١٤٥ / ج: ٥۔ رد المحتار / ض: ٣٧٢ / ج: ٦)

سوال:......

یو سړي ځمکه د مسجد دپاره او یا د قبرستان دپاره وقف کړه بیا یې د وقف کولو بعد خرڅولای سي او کنه؟

جواب:......

د وقف بعد کي بیا دغه ځمکه نه خرڅولای سي او نه یې هبه کولای سي او نه په میراث کي وړل کېدلای سي:

"لما قال علی بن ابی بکر المرغینانی رحمه الله و إذا صح الوقف لم یجز بیعه و لا تملیکه"(الهدایة ص٢١٦ / ج: ٢ کتاب الوقف۔ تنویر الابصار صدر الرد

Maktaba Tul Ishaat.com

المحتار ص۳۵۲ / ج: ٤۔ بدائع الصنائع / ص: ۲۲۱ / ج: ٦ کتاب الوقف)

سـوال :......

پلار خپله مملوکه ځمکه پر خپل زوی خرڅولای سي او کنه؟

جواب :......

پـلار پخپـل مملوکه جائیداد کي د هر قسم تصرف حق لري چي پر چا باندي زره غـواړي خرڅولای یې سي نو د زوی په خرڅېدلو کي هیڅ قباحت نسته .

"لـما قال حـافـظ الـدیـن مـحـمـد بـن البزازؔ دار لرجل او مشترك بین الاب والـرجـل و لـلاب ابن صغیر له ام فقالت اشتریت هذه الدار لا بنی بما له و الاب حـاضرو اشتریت منکما لابنی بما له فقال بعنا وقع الملك لابن"(، البزازیة علی هـامـش الهـندیة / ص: ٤٧٦ / ج: ٤ ـ الخانیة علی هامش الهندیة ص٢٧٤ / ج: ٢ـشرح المجلة المادة ١٦٧ ـ / ص: ٧٥)

سـوال :......

د داسـي کـپـړو تـجـارت کـول چـي تر هغو کـپـړو بدن ښکاره کېږي شرعاً یې تجارت جائز دی او کنه؟

جواب :......

دداسـي کـپـړو تـجـارت کـول چـي د هـغـو کـپـړو د جـوړولو بعد کي هم بدن صـاف تـر مـعـلـومـیـږي دا مـعـونـت پر معصیت تره مترادف ده خو البته که چیـري یـې بیـا هـم ایـجـاب او قـبول وسو بیعه یې صحیح ده خو احتراز کول ځیني په کار دي:

"و بیـع الـکـعـب الـمفضی للرجال إذا عم انه یشتریه للبسه یکره البزازیة علی

Maktaba Tul Ishaat.com

هامش الهندية (ص۵۲۰ / ج: ٤) ما قامت المعصية بعينه يكره بيعه تحريماً و الافتنزيهاً و بيع المكعب المفضى للرجل انه يلبسه يكره لأنه اعانة على لبس الحرام"(رد المحتار ص۳۹۲ / ج: ٦، بحر الرائق / ص: ۱٤۳ / ج: ۵)

سوال:......

نن سبا د ځمکي د خرڅېدلو يو نوې بيعه ايجاد سوې ده چي د هغې بيعي تفصيل دا دی چي يو سړي ځمکه پر بل خرڅوي نو و ده ته وايي چي زه دغه ځمکه پر تا خرڅوم تر لس فته په لوړوالي په يو قيمت او تر لس فته لوړ بيا دربانديې خرڅوم په بل قيمت، آيا دا بيعه جائز ده او کنه؟

جواب:......

فقهاء کرامو په دې خبره تصريح کړې ده چي فضا مال نه دی ولي چي ساتنه يې ممکنه نه ده او دا له حقوقو مجرده څخه ده او د داسي حقوقو مجرده خرڅول نه دي جائز:

"سفل و علو بين رجلين انهداماً فباع صاب العلو علوه لم يجز لأن الهواء ليس بمالٍ"(بدائع الصنائع ص۱٤۵ / ج: ۵ لأن حق التعلى ليس بمال لأن المال ما يمكن احرازه .(الهداية على صدر فتح القدير / ص: ٦٤ / ج: ٦)

سوال:......

يو سړي پر بل سړي سرای خرڅ کړلو په دې شرط چي زه به اته مياشتي په دې سرای کي اوسيږم آيا دا شرط په بيع کي ايښول جائز دی او کنه؟

جواب:......

که چيري دا شرط په بيع کي ولګول سو يعني که دا شرط مي بيا زه سودا کوم او که يې نه مني بيا يې زه نه کوم نو دا بيعه نه ده جائز او که چيري د

Maktaba Tul Ishaat.com

مشورې او مصلحت په ډول دا شرط ولګېدی بیا بیعه صحیح ده .
"ولا بیع بشرط لا یقتضیه العقد ولا یلائمه وفیه نفع لاحدهما اولمبیع "(تنویر الابصار علی صدر رد المحتار ص۸۵ / ج: ۵ ـ خلاصة الفتاوی / ص: ۵۰ / ج: ۳ـ فتاوی عالمگیریة / ص: ۳ / ج: ۳ ، کتاب البیوع الباب الاول فی تعریف البیع)

سوال: ......دوه کسان دي په یو کوچ سره شریکان دي بیا یو څه وخت بعد یوه شریک و هغه بل شریک ته وویل چې د کوچ د کال دونه کرایه او منافعه جوړېږي دا منافعه پرّ ما په دونه پیسو خرڅه کړه آیا دا بیعه جائز ده او کنه؟

جواب: ......
په شریعت کي د مبیعي وجود ضرور دی نو په سوال کي ذکر سوی صوت چې سالانه منافع دی دا معدومی دی نو دا بیعه د معدوم ده او بیعه د معدوم نه ده جائز:
"منها ان یکون موجوداً فلا ینعقد بیع المعدوم وماله خطرالعدم ـ"(بدائع الصنائع / ص: ۱۳۸ / ج: ۵) و بیع ما لیس فی ملکه لبطلان المعدوم اذ من شرط المعقود علیه ان یکون موجوداً مالا متقوماً فی نفسه (در المحتار / ص: ۵۸ / ج: ۵ ، البحر الرائق / ص: ۱۱۶ / ج: ٦)

سوال: ......
یو سړي د کهادو ایجنسی خلاصه کړې ده د وخت حکمت د کهادو د خرڅولو خپل یو قیمت مقرر کړی او دا تجار په دې نرخنامه راضي دی لین یو څه وخت بعد د کهادو کمي راغله په بازار کي ،آیا اوس دغه تجار کهاد د سرکاري قیمت څخه په زیات قیمت خرڅولای سي که نه؟

جواب: ......

تجار د حکومت وکیل نه دی ځکه چي د کاروبار ټولي فائدې تجار ته رسیږي البته کله چي ده د حکومت سره په نرخنامه باندي فیصله کړې ده نو لهذا د وعدې خلافي په وج ګناهګار دی او بیعه یې صحیح ده:

"قال الله تعالى ﴿وَأَوْفُواْ بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْؤُولاً﴾(سورة بنی اسرائیل :٣٤) ولا یسعر حاکم الا إذا تعدی الارباب عن القیمة تعدیاً فاحشا فیسعر بمسورة اهل الرأی"(تنویر الابصار علی صدر رد المحتار / ص: ٤٠٠ / ج: ٦)

سوال:......

یو سړي پر بل سړي باندي ځمکه خرڅه کړه په دې شرط چي که چیري هلته بل سړی پر ما ځمکه خرڅوي که چیري هغه سړی پر ما ځمکه نه کړه خرڅه نوزما او ستا بیعه به هم بیرته فسخه کیږي . آیا داسي بیعه کول جائز ده؟

جواب:......

شرطونه د بیعي پر دوه قسمه دي یو شرطونه د بیعي د مقتضیاتو څخه دي او بل د مقتضیاتو او لوازماتو د بیعي څخه نه دي نو د اول شرطونه پوره کول لازم دي او د دویم قسم پوره کول لازم نه دي چونکه دغه مذکوره شرط نه له لوازماتو دبیعي دي او نه مفسد بیعي لره دي نو بیعه صحیح ده او د فسخ کېدلو حق نلري:

"وفی المنتقی قال محمدؒ کل شیئ یشترطه المشتری علی البائع یفسد به البیع فاذا شرطه علی اجنبی فهو باطل (ای فالشرط باطل منحة الخالق کما إذا اشتری دابة علی ایهبه فلان الاجنبی کذا فهو باطل"(البحر الرائق / ص: ٨٦ / ج: ٦ ـ رد المحتار / ص: ٨٥ / ج: ٥ ـ شرح المجلة ماده ١٨٩ / ص: ٨٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:......

په بیعه کې دا شرط ولکوی چې زه دغه ګاډی په دغوندې پیسو درکوم خو شرط دا دی یو څو ورځې به له ما سره وي آیا دغه شرط لګول جائز دی او کنه؟

جواب:......

که چیرې دا شرط د بیعې په مابین کې ولګېدی نو بیعه فاسده ده او که د وعدې په رقم یې ورته وویل بیا پروا نلري:

”ومن باع عيناً على ان لا يسلمه إلى رأس الشهر فالبيع فاسد لأن الاجل في المبيع العين باطل فيكون شرطاً فاسداً و هذا الاجل شرع ترفيهاً فيليق بالديون دون الاعيان“ (الهداية / ص: ٦٣ / ج: ٣ ـ الفتاوى الهندية / ص: ١٤٢ / ج: ٣ ـ البحر الرائق / ص: ٨٥ / ج: ٦) .

محترمو کتونکو راتلونکې مسئلې ټولې د فتاوی مهدیه / ج: ۲ ص۱) څخه دي که چیرې حواله هیروي مهدیه کتلی سئ .

سوال:......

یو سړی د بل څخه مځکه واخیسته او دا سړی ورته وایي ما ته به ته خط په محکمه کې راکوې؟

جواب:...... **”لا يتوقف صحت البيع و لزومه شرعاً على كتب الصك التابع بمحكمة مصر او غيرها“** معنی بیع موقوف پر خط نه ده .

سوال:......

پر یوه سړي پور باندې دی هغه پوروړی یې بندي کړی قاضي د وخت او بندي ضمانت ورکړي، ضامن راولاړ سو د بندي سرای یې په کم قیمت

خر څ کړ خپله یې رانیوی دا جائز دی که نه؟

جواب:......

"اذا ثبت الغبن الفاحش و هو لا يدخل تحت تقويم المتقومين و ثبت التغرير في البيع الخ يكون للبائع فسخ البيع و مجرد الغبن الفاحش بدون تغرير لا يوجب الفسخ على ما به الفتوى"

معنی که یې زیا . . کم خر څ کړي وو بنه دو که یې ورکړې ده بیر ته یې را گرزولی شي .

سوال:......

د کوچني هلک مځکه څوک خرڅولی شي که نه؟

جواب:...... "بيع عقار الصغير من غير من له الولايت بدون مسوغ لا يصح اصلا و الا توقف على الاجازة"

معنی مځکه مشتر که ده د دوو ورونو یو نابالغ او بل بالغ خرڅه کړي نو د نابالغ بیع صحیح نه ده مګر که قاضي یو عذر شرعي ورته پیدا کړي بیا جائز ده .

سوال:......

یو سړي بل سړی مجبور کړو د ځمکې پر خرڅېدو چې کنې بیا دي وژنم آیا دا بیع صحیح ده که نه؟

جواب:......

"لايبطل حق الفسخ مع الاكراه على البيع بموت المكره فلو ارثه الفسخ "

معنی بیع فسخ کولی سي دی هم او د ده د مرګه پس وارثان هم .

سوال:......

Maktaba Tul Ishaat.com

يو سړي سراى خرڅ کړو پر بل ډېر يې زيات دو که کړى تر رانيونکي تر خبر ورکولو خرڅونکى مړ سو، آيا ورثه يې واپس کولى سي که نه؟

جواب: ...... **"لا ينقل الرد بالتغرير للوارث"(تنوير الابصار ـ فتاوى مهدية ص٤ / ج: ٣)**

معنى په دو که سره بيرته شى نه رديږي په ظاهر روايت کي او فتوى په رد ورکولو سوې ده د وجهي د نرمي پر خلکو خو وارث يې نشي ردولاى .

سـوال: ......

آيا سودا په سېمپل يا نمونې سره کفايت د هغه نورو غنمو يا ورجو کوي که نه تپول به ويني؟ .

جواب: ...... **"ما يعرف بالنموزج يكتفى فى اسقاط خيار رؤيت برويته بعضه"**

مطلب نوري ورجي او غنم کتل نه غواړي .

سـوال: ......

يو سړي شى رانيوى په عيب سره معنى عيب يې درلودى، ده هم وليدى مثلاً ورجي وې لندې، ده قبولي کړې بيا يې چي وکتې نو سپوږې يې هم درلودې اوس يې ورکولاى سي چي ما خو لندې درڅخه واخيستې خو سپوږي تا نه دي راته ويلي اوس يې بيرته ور ردولى سي که يا؟

جواب: ......

"شراء معيب بعيب فظهر به عيب آخر قديم فله الرد به" معنى ور ردي دي کړي حق لري د ردېدو .

سـوالْ: ......

يو سړي مځکه خرڅه کړه بيا يې بيرته دعوه وکړه چي دا مځکه د وقف ده

آیا دا خبره یې قبول ده که نه؟

جواب: ...... "باع أرضا ثم ادعى انها وقف لا تقبل وفی قبول البینة اختلاف"

معنی دغه دعوه د وقف نه ده صحیح او قسم یې هم نه دی قبول، ولې قسم تقاضا د صحت د دعوې کوي دالته دعوه کې تناقض دی، یو واری خرڅه کړه بیا وایي دا ما وقف کړې وه او که یې پر وقف شاهدان تېر کړل، شاهدان قبول دي، لکه:

"عمادیته بزازیة قبولها و فی خزانة به نأخذ و فی الخلاصة هو المختار"

سوال: ......

یو سړی مړ سو او دومره قرضدار وو چې جائیداد یې خرڅ کړي نو یې غاړه په خلاصیږي نو متصرف د خرڅېدو یې څوک ګرزي؟

جواب: ...... "و لایت بیع الترکة المستغرق بالدین للقاضی و لکل من الأخ و الأم"

سوال: ......

یو سړی دومره قرضداری او جائیداد لري اوس به قاضي څه په کوي؟

جواب: ...... "اکراه الحاکم المدیون علی بیع ما لم لقضاء ما علیه من الدین سائغ شرعاً"

سوال: ......

یو څوک د بل مال خرڅ کړي او مال هم اجازه ور کړي د خرڅېدو دا اجازه کوم وخت کېدای سي؟

جواب: ...... "شرط اجازة بیع الفضولی قیام المتبایعین والمبیع و کذا الثمن لو کن عرضاً"

Maktaba Tul Ishaat.com

معـنـى بـائـع او مشـتـري او روپـى. کـه عرض وو دا شرط دى اجازې لره د مالک .

ســوال :......

کـه يـو سړي د بل شى خر څ کړ هغه اجازه نه وه کړې هغه پر بل پسې خر څ کړې گټه يې وکړه او يا يې تاوان وکړ نوحکم يې څه دى؟

جواب : ...... "اذا بـاع الـمشترى ثـانياً بـعد الاول بازيد من الثمنالاول أو انقص ينفسخ الاول"

معنى اوله بيعه فسخه کيږي‌دوهمه خپله ولاړه فسخه سوه .

ســوال :......

يـو سـړي د بـل مـال خر څ کـړ هـغـه بيـا پر بل خر څ کړ اوس اصل مال د مال راغـلـى دعـوه يـې پـر دوهـم وکـړه بې لـه حـضـوره د خرڅونکي، آيـا دا دعوه صـحـيـح ده؟

جواب : ...... "تسمع الدعوى عـلـى الـمشترى الثانى بعد القبض بدون حضور البائع "(مهدى / ص: ١١ / ج: ٣)

هو! دعـوه صـحـيـح ده پر دويم هم پر بائع هم .

ســوال :......

دوو کـسـانـو دعـوه وکـړه د رانيولو ديو شي ديوه سړي څخه او تاريخ يې نه وو مـعـلـوم چې کوم يو مخکي دى اويا يې تاريخ د بيعي يو وو حکم يې څه دى؟

جواب :......

"ادعيا الشراء من واحـد ولـم يؤرخا أو ارخا سواءً فهو بينهما وان ادهما اسبق

Maktaba Tul Ishaat.com

یقضی لهما اتفاقاً یرجع المشتری علی بائعه بالثمن إذا کان الاستحقاق بالبینة"

سـوال:......

یو سړي پر بل سړي شی خر څ کړ، مشتري ورته ویل زه تا ته حواله درکوم، بائع ته به روپۍ ورکوې پر حواله نه دی مجبور؟

جواب:...... "لا یجبر البائع علی قبول الحوالة بالثمن"

سـوال:......

یو سړي شی خر څ کړ بل دعوه وکړه د عیب، دعوه یې قبول ده که نه؟

جواب:...... "ما تقبل البینة علی قدم العیب ولا یحلف منکره ما لم یثبت قیامه عند المشتری اولاً"

سـوال:......

شرط فاسد څه ته وایي؟

جواب:......

"بیان شرط الفاسد ومنه التاجیل إلی اجل مجهول"

سـوال:......

یو سړي دعوه وکړه چې دا سودا فسخ کوم او اصل سودا والامر وو او س دا فسخ جائز ده که نه؟

جواب:...... "لا تتوقف صحت الاقالة علی بقاء المتعاقدین فتصح من الوارث"

هو ! وارث هم اقاله کولای شي .

سـوال:......

یو سړي شی خر څ کړ بیا هغه شي هلاک سو خو مشتري تر هلاک وروسته په عیب خبر سو آیا بیا دعوه کولی سي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب :...... "للمشترى الرجوع النقصان بعد هلاك المبيع المعيب"

ســوال :......

پلار د کوچني زوى مځکه خرڅولى سي که نه؟

جواب :...... "يجوز بيع عقار الصغير بمثل القيمة او بغبن يسير إذا كان محموداً او مستوراً"

ســوال :......

يوه سړي شى رانوى بيا يې نيم خرڅ کړ نيم پاته دى اوس يې په عيب خبر سو څه حکم يې دى؟

جواب :......

"باع بعض المبيع المثلى ثم اطلع على عيب قديم بالباقى يکون له رده و به يفتى"

ســوال :......

د بائع او مشتري اختلاف راغلى په نقصان په مبيعه کي، مشتري وايي زما شي کم دى قول د چا معتبر دى؟

جواب :...... "القول للمشتري بيمينه فى النقصان وان وزنه البائع"

ســوال :......

يو شى يې خرڅ کړ بيا يې عيب پيدا کړ؟

جواب :......

"وجد بمشتريه عيباً فاصطلح مع البائع على رد الدراهم من الثمن صح و يجعل خطا و بعكسه لا لکنه رشوة"

ســوال :......

پر وارث د بائع بيع په زور کول او هغه مجبوره کول په بيع، څه حکم يې

دی؟

جواب: ...... "لوارث البائع بالاكراه الفسخ إذا أثبت اكراه مورثه على البيع"

ســوال: ......

یـو سړي سرای رانیوی تسلیم یې کړی بل دعوه په وکړه چې نیمي زما دی قبض هم نه وو راغلی؟

جواب: ......

"ظهـور الاستحقاق فی بعض المبیع قبل القبض یوجب الخیار فی الکل و بعده فی القیمة فقط"

ســوال: ......

دو کـه د چـا د طرفه کېدای سي، معنی څوک خر څ شی رانیولی سي، دو که کولی سي؟

جواب: ...... "التغریر انما یعتبر من احد المتباعین او الدلال "اوس دلالا ن دو مره ظالمان دي چي خپل پلار هم خطا باسي .

ســوال: ......

یـو سړی ډېوالـه سو پس د قبض د مبیعي په اجازه د بائع نو اوس بـه اول غـاړه د بائع باسي که به ټولو ته څه حق ورکوي؟

جواب: ......

"افلـس الـمشتری بعد قبض المبیع باذن البائع فالبائع ا سوة الغرماء فی الثمن ولیس له الاختصاص بالمبیع"

معنی ټولو پوروړیو ته به پر قدر دروپیو قرض لاکوي .(مهدیه/ ص:٣٩/ ج:٣)

Maktaba Tul Ishaat.com

سـوال:......

مشترکه سرای کې سړی خپله خونه یا نیمی خونه خرڅه کړي جائز دد که نه؟

جواب:......

"بـاع بیتـاً معینـاً مـن دار او جزءً مـن بیت معین منها قبل القسمة بدون اذن الشرکاء لا یجوز"

معنی نه سي یې خرڅولی .

سـوال:......

یو سړي غوا یا مېږ خرڅه کړه چې بر البه وه بیا لنګه سوه عیبجنه وه یې په عیب ردلولی سي که نه؟

جواب:...... "الزیادة المنفصلة المتولدة بعد القبض تمنع من الرد بالعیب"

بیـا یـې پـه عیـب نـه سي ورکـولای تـر لـنګـو ن وروستـه او مخکی تر لنګو ن یې ورکولی سي په عیب سره .

مسـئله: . کـه رانیـو نـکي پـه شي کـي عیـب پیدا کړ که عیب قدیم وو رد کولای یې سي که یې عیب د مشتري سره پیدا کړی وو نه یې سي رد کولی . یعود العیب القدیم عند المشتري .

سـوال:......

سړي ځای خر ځ کړی بیا بل دعوه د حق په وکړه اوس دی هغه نیمی سرای چې دعوه نسته پکښې ، هغه راګرزولی سي که نه؟

جواب:......

"فی الجامع الفصولین استحق بعض المبیع فلو لم یمیز الا بضرر کدار و کرم و مصراعی باب یخیر المشتری و الا فلا"

Maktaba Tul Ishaat.com

يعني كه تقسيم تاوان نه وو بيا اختيار سته مشتري ته .

سـوال:.....

يـو سړي بـاغ خر څ كړ خو يو څو درختي نامعلومي يې استثناء كړې اوس دا بيـع جائز ده كه نه؟

جواب:.....

"**جهـالة الـمسـتثنى تفسد البيع**"او كـه يې مـعـلـومـي كړې درختي بيـا بيـع صحيح ده .

سـوال:.....

بيـع وفا جائز ده كه نه ده؟

جواب:.....

"**فـي بيع الوفا تسعة اقوال: منها قول جامع لبعض المحققين و هو انه فاسد في بعض الاحـكـام حتى ملك كل منهما الفسخ و صحيح في بعض الاحكام كحل الانـزال و منافع المبيع و رهن في حق البعض حتى لا يملك المشترى بيعه من آخـر و لا رهـنـه و قـال صحاب البحر بعد نقله و ينبغي ان لا يعدل في الافتاء عن الـقـول الـجامع كذا في حواشي الدر المختار عن الشرنبلاليه و بناء عليه لا يلزم بيع الـوفـاء و لـكل واحد من المتبايعين فسخه وقيل ان حكمه حكم الرهن في جـمـيـع الاحـكام و هو المفتي به في الديار المصرية و عليه للبائع استرداده بعد اداء الدين**"

سـوال:.....

يـو سـړي سـامـان د بل چا څخه رانيوى قبض يې نه وو سوى، رانـيـونكى په كـراچـي كـي دى او خـر څـونـكـى په كوټه كي دى، مال پر لاري ټول يا يو څه

هلاک سو ،آیا ضمان پر بائع دی که پر مشتري؟معنی تر قبض د مشتري مخکي هلاک سو .

جواب :.....

"اذا هلك بعض المبيع فان كان قبل القبض و هلك بآفته سماوية ينظر ان كان النقصان نقصان قدر بان كان مكيل او موزوناً او معدوداً ينفسخ العقد بقدر الهالك و تسقط حصة من الثمن لأن كل قدر من المقدورات معقود عليه فيقابله شيئ من المثمن و هلاك كل المعقود عليه يوجب انفساخ البيع فى الكل فيسقط كل الثمن فهلاك بعضه يوجب انفساخ البيع فى قدره و سقوط الثمن بقدره و المشترى بالخيار فى الباقى ان شاء أخذ بحصته من الثمن و ان شاء ترك لأن الصفقته قد تفرقت عليه و ان كان النقصان نقصان وصف و هو كل ما يدخل فى البيع من غير التسمية كالشجر و البناء فى الأرض و اطراف الحيوان و الجودة فى المكيل والموزون لا ينفسخ البيع اصلا و لا يسقط عن المشترى شيئا من الثمن لأن الاوصاف لا حصة لها من الثمن الازا اورد عليها القبض الجنايت لأنها تصير مقصودة بالقبض والجنايت والمشترى بالخيار انشاء اخذ بجميع الثمن و ان شاء ترك لتعييب المبيع قبل القبض كذا فى واقعات المفتين عن البدائع" (مهدية ص٣٦ / ج: ٣)

سوال :......

یو سړي یوه ټوټه معلومه د سرای په یو طرف کي خرڅه کړه خو د ورونو سره یې تقسیم نه وو کړی؟

جواب : ...... "باع احد الشركاء قصتة معينة من دار قبل القسمة كان لشريكه ابطال البيع"

ســوال:......

يو سړي شی خرڅ کړ ورته و يې ويل چې زه د هر عيب خلاص يم معنی چې هر څه عيبونه پکښې وي زه يې ذمه وار نه يم، ددې څه حکم دی؟

جواب:......

"**يصح البيع بشرط البرأة من كل عيب**" معنی يا چې هر څه عيبونه پکښې وي رانيونکی يې نسي واپس کولی.

ســوال:......

ديوه سړي سرای دی په کندهار کي، مالک يې په جرمني يا بل ملک کي دی په خپل سرای نه دی خبر، بل سړی ورته راغلی چې ستا سرای يا باغ نړېدلی دی او يا د باغ درختي ختلي دي دريه در سوی دی، ډېر يې ډېر قيمت کيږي پر ما يې خرڅ کړه هغه سړي د دوی په قول باور وکړ سرای يا باغ يې خرڅ کړی بيا چې خبر سو سرای هغه رنګه نه وو لکه رانيونکي چې ويلي وو، دوکه يې ورکړې وه، څه حکم يې دی؟

جواب: "اذا ثبت الغبن الفاحش مع التغرير من المشتري للبائع كان له فسخ البيع" معنی بيع ئې ور رد کړي ولي دوکه يې ورکړې ده.

ســوال:

د يو سړي سړی وو خو خو ذی ډېر قرضدار وو قاضي بندي کړی نه يې ورکول په وجه، چې پور نه ورکړ، يو سړی ورته راغی چې سړی پر ما خرڅ کړه ور به يې د کړې، قاضي به ئې بيعه کړي د قيمت هم ورته ډېر کم ورته يې د کړي هغه سړی پر خرڅ کړی بيا يې پيسې پوره پوره ته ورکړې بيا چې خبر سو ډېر يې خفه ستي وو نو اوس د بيع څه کولای سي؟

جواب :......

"اذا تحقق الغبن الفاحش مع التغرير بالوجه الشرعی يكون للبائع فسخ البيع و الله تعالی ا علم"(مهديه ص:٤٠ / ج: ٣)

سوال :......

یو سړي پر بل شی خر څ کړ بیا یې دعوه وکړه چې زه دي خطا ایستلی یم دعوه یې تر قاضي ورسوله او مبیعه یې معیوبه وبلل بیا یې د قاضي مخکي صلح وکړه چې مشتري به ورپیږ و بائع ته څه روپیږ ورکوي بائع به هغه معیوبه مبیعه بیرته د مشتري څخه قبلوي څه حکم یې دی؟

جواب :......

"اذا اصطلحا المبايعين بعد الوجود العيب بالمبيع على ان يدفع المشترى دراهم إلى البائع و يرد المبيع لا يصح لأنه لا وجه له الا الرشوة فلا يجوز" (مهدية / ص:۴۰ ج۳)

سوال :......

یو سړي د بل سرای رانیوی اوشاهدان هم وه د قاضي په مخکي یې رانیوی قبض یې و کړی بیا یو زورواکي یا ټوپک سالار لکه نن زمانه ظالمان د نورو جائیدادونه اخلي په زور سره بل ګراک نه پریږدي چې را یې نه سي بیا هغه مجبور شي پر دغه ظالم جابر یې خر څ کړی په کومو روپو سره اوس دغه غریب سودا کړې ده خو جابر ظالم ورته وایي دا زه تا ته نه درکوم زه اخلم آیا دغه جابر ظالم یې د دغه مسکین مشتري څخه ګرزولی شي که نه، چې عیني واقعه په خروټ آباد کي په نورزو چوک کي زما سره خپله وشوه زما سودا یې ماته کړه خپله یې رانیوله .

Maktaba Tul Ishaat.com

محترمو! نن زمانه ده چې زه فتوی شرعي ورکړم خلق قوم وايي چې مفتي په څه پوهيږي اوس شريعت نه چليږي دا د ملکانو کار دی هغه يې کوي نو ددغه جابرانو دغه قبضې يا فيصلې څنګه دي؟

جواب:...... "ليس لذی شركة المذكورة ابطال بيع الصحيح النافذ شرعًا بدون وجه شرعی والله اعلم" (مهدية ص۴۲ ص۳)

سوال:......

يو سړی کله لېونی وي، کله پرسد وي، اوس يې سودا وکړه پر حال د پرسد کېدو، آيا سودا جائز ده که نه؟

جواب:......

"اذا تصرف من يجن يفيق حال افاقته صحح تصرفه كالعاقل على ما صرح الذيلعی قيده شرنبلالی إذا ما كان لافاقته وقت معلوم فتصرف ذلك الوقت و اما إذا لم يكن لافاقة وقت معلوم فتصرف وقت افاقة فحكمه حكم الصبی يتوقف على اجازة الولی"

سوال:......

يو څو کسان دي په سرای يا دوکان شريک دي يوه شريک سرای خرڅ کړی د نورو را وګرزوی چې موږ يې نه خرڅه وو. او بيا يې په خپل شريک چې سرای يې خرڅ کړی دی دعوه وکړچې ستا حصه زموږ ده، په شفع، آيا دادعوه صحيح ده که نه؟

جواب:......

"لا ينفذ البيع فی نصيب باقی الشركاء بدون اذنهم و يقضی للشريك بالشفع بعد توفر شروطها" (مهدية ص۴۳/ ج:۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

ســوال :......

د غبـن فـاحش او تغرير فرق ستـه که نه او بيع په غبن فاحش يوازي فخسخ کيږي که نه او تغرير ورسره ولي بيا فسخ راځي؟

جواب :...... ”رجـل يـملك حصة في ساقية اشتراها منه رجل آخر بالغبن فاحش مع التغرير“

معنی بيـع په غبن فاحش بې له تغرير نه فسخ کيږي او که تغرير ورسره وو بيا فسخ کيږي .

ســوال :......

تغرير و څه ته وايي چي موږ يې وپېژنو؟

جواب :......

د تـغرير الفاظ دا دي چي ورتـه ووايي چي داستا ملا په دومره قيمت زياته نه ارزي زه پـه بـازار خبـر يم او دغه خبر چي تر دې بالا نه ارځي زه خبر يم هغه د ده پـه قـول بـاور وکـړي رايـې نيسـي او د درواغ ورتـه ويلـي وي دې ته تغرير ويـل کيـږي .

”التغرير بقوله انها لا تساوي كذا“ او د غبـن فاحش تعبير: **ما لا يدخل تحت تـقويم المقومين**۔ نـو دوکـه چي غبـن فـاحـش او تـغرير راسي نو بيع فسخ کيــږي . إذا تـحـقـق الـغـبـن الـفـاحـش مـع الـتـغـريـر يکون للبائع فسخ البيـع . (مهديه / ص: ۴۳/ ج: ۳) او يوازي په غبن فاحش بيع نه فسخ کيږي و الله اعـلم و عـلمه اتم .

يـوه مـعـنـی د تـغرير دا هم ده چي شی د کراچي بندرگاه ته را ورسيږي دی مـختـه ورسـي وراتـه ووايي چي دا مال خو د کراچي يا کوټي په بازارو کي په

Maktaba Tul Ishaat.com

ډېر کم قیمت دی او هغه په کراچۍ او کوټه کې کرل کېږي، دا چې دوکه کېږي لکه بخرۍ او مسله رو پېتونه هم راغلي دي نو دغه تغریر سره فسخ راځي

سوال:

یو سړي پر بل سړي یو شی خرڅ کړ چې روپۍ در کوم خو څه موده وروسته بائع د مشتري څخه طلب وکړی د روپو، مشتري ورته وائي نشته چې هغه مې خلاص کړی هغه روپۍ به در کړم. د جائز دی که نه؟

جواب:

"یجبر المشتری علی دفع الثمن ما اشتراه حیث کان البیع بثمن حال مع قدرته علی ذلك ولو ببیع ما لا یحتاجه فی الحال" معنی روپۍ به نسي ورکوي حیلې او بهانې به نه کوي.

کتبه عبد الرزاق [illegible] هغه ورځ [illegible] شپه چې قبر ته [illegible] هغه د خوشحالۍ [illegible] شپه کېږي [illegible] کتابونه چې [illegible] روپۍ کې [illegible] سوال مې کړی دی د چاپ [illegible] کړی دی [illegible] په [illegible] شه [illegible] څخه. چې [illegible] وحدانیت قائل یم، او د [illegible] چې لا اله الا الله محمد رسول الله [illegible] یقین دی، [illegible] تصنیفات [illegible] چې [illegible]

سول:

[illegible] معلوم کړی، [illegible] بعضې [illegible] کړي [illegible]

پاتـه وو هغـه پاتـه يې پـه تـرکـه کي خر ځ کړو او هلاک سوه، آيا دا بيع صحيح ده او روپۍ به بائع ته د مشتري ورثه ورکوي که نه؟

جواب:...... **"المقبوض على سوم الشراء مضمون بقيمته"**

يعني د وخت په قيمت به روپۍ ورکوي .

سـوال:......

يـو سړي خر ځ کړی خپـل بـاغ يعني مېوه د باغ يې خرڅه کړه په دوه کاله يعني تر دوو کالو پوري يعني راتلونکو کلو پوري مخکي تر مېوې رسېدو او بائع پيسې قبض کړې، آيا بيع غير صحيح ده او د مشتري دپاره بير ته روپۍ اخيستل او پر بائع روپۍ ردول په کار دي که نه؟

جواب:......

"بيع الثمرة قبل ظهورها لا يصح اتفاقاً" و الله تعالى اعلم . عبد الرازق محتاج دعا .

سـوال:......

يـو سړي يـوه کـوټـنـۍ د غـنـمو پر بـل خرڅه کړه په معلمو روپو په ذمه د مشـتري کي، غنم يې نه وو تللي يا پيمانه سوي نه وو او قبض هم نه وو راغلی يعني د بائع په لاس کي ووو او مشتري قبض نه وو کړی بيا هلاک سوه؟

جواب:......

"اذا صح البيع يسلم المشترى الثمن اولاً ثم يسلم البائع المبيع فان هلك عند بائعه يهلك عليه لا على المشترى و هلاكه قبل القبض من ضمان البائع" مطلب تاوان پر بائع دی نه پر رانيونکي . (مهدية / ص:۴۶ / ج:۳)

سـوال:......

Maktaba Tul Ishaat.com

يو سړي پر بل سړي شی خرڅ کړي په ۱۰۰ کلداري او بیرته یې پر خرڅ پر بائع په ۱۱۰ قیمت صحیح ده که نه؟

جواب:...... "يصح بيع المبيع من بائعه بزيادة عن الثمن الاول قبل النقد أو بعده"

معنی بیع صحیح ده په زیادت سره . (مهدية ص۴۷ / ج: ۲)

سـوال:......

قبض څه ته وایي یعني خامخا به یې کور ته وړي یا به یې د دوکانه باسي نو دې ته قبض ویل کیږي؟

جواب:......

"قوله مع الاذن له بقبضه مثل ان يقول خليت بينك و بينه قبض" یعني ور ته ووایي چي دغه شی دی، تا ته تسلیم سو بس دغه کافي ده که یې یوسي که یې نه یوسي دې ته قبض وایي .

سـوال:......

د يو سړي سرای دی د بل سړي سره شریک دی دا سړي يو زورواکي مجبور کړی چي دا سرای دغه ستا حصه به په ما خرڅوې او ده بله لاره هم نه درلوده بې له خرڅولو نو یې سرای په زورواکي خرڅ کړ لکه دلته په پاکستان کي غنډه ورته وایي د خلکو مخکي په زوره قبضه کوي بیا یې خرڅوي . دغه اکراه یې په حجت شرعیه ثابت کړه نو دغه د زورواکي بیع صحیح ده که نه؟

جواب:......

"اذا ثبت الاكراه الشرعي على البيع يكون للبائع فسخ البيع حيث لا مانع"

سـوال:......

يو سړی مړ سو وارثان یې پاته سو، وارثانو یې یوه د پلار جائیداد خرڅ

Maktaba Tul Ishaat.com

کړی آیا دا بیع صحیح ده؟

جواب:...... "**لا یصح بیع احد الشریکین الخ بلا اذن شریکه کبیع بیت من دار کذلك**" (مهدیه / ص: ۵۲/ ج: ۳)

سوال:......

یوه سړي بل ته وویل چې ما ته سرای واخله ته زما وکیل یې، هغه سرای واخیست او بیا ن یې ورته وکړ چې دغسې ځای دی په دغه ښار کې، وکیل وکاتئ او دی د وکیل په کتلو راضي سو، روپۍ یې ورکړې ده بیا، او قاضي بیا خط هم پر ولیکی او بیا یې په کرایه ورکړی یو کال یې کرایه خوړله بیا یې وروسته دعوه وکړه چې زه دا سرای نه کوم ولي ما نه وولیدلی بیرته یې واپس کوي آیا دا جائز دی که نه؟

جواب:......

"**یسقط خیار الرؤیت بتصرف المشتری فی البیع قبل الرؤیت تصرفاً یتعلق به حق الغیر کالاجارة**"

معنی دی یې نه سي واپس کولی، ولي چې ده تصرف کړی دی، روپۍ یې خوړلي دي.

سوال:......

یو سړي بل سړی وکیل کړو په رانیولو د یوه شي، هغه وکیل رانیول وکړه چې مؤکل ته یې راوړی مؤکل بیرته ور رد کړی، آیا دی یې رد پر مؤکل کوی سي که نه؟

جواب:......

"**و هذا کله لو کان الرد علی الوکیل بقضاء اما لو کان بلا قضا فلیس له الرد علی**

مؤكله" (مهديه / ص: ۵۵ / ج: ۳)

معنى نه يې سي واپس كولى پر مؤكل باندي، ولي دا بيع دريم سوه ولي اقاله بيع ده: و هى بيع جديد فى حق ثالث والمؤكل ثالثها كما يستفاد من حواشي الدرر .

سوال:......

د غرر د معنى مي تعريف وكړى، د غرر حق كله ساقط دى معنى چي بيا دې ته غرر نه ويل كيږي؟

جواب:......

" متى عاين المشترى مايعرف باالعيان انتفى الغرر"

سوال:......

حاكم د وخت ديو چا جائيداد په زور خرڅ كړى او پر هغه سړي د چا پور نه وو باندي، آيا دا بيع د زور جائز ده كه نه؟

جواب:......

نه ذا بيعه نه ده صحيح، دا چي قاضي خرڅه كړې ده دا اكراه ده د بل شي په زور خرڅول نه دي جائز .

"نعم لا يكون البيع على وجه مشروع "(مهديه / ص: ۵۷ / ج: ۳)

سوال:......

كه جنجال راغلى د بائع او مشترى پر عيب، بائع ويل دا عيب نوى دى او مشتري ويل دا زوړ دى، د چا قول معتبر دى؟

جواب:......

"برهن البائع على حدوث العيب و المشترى على قدمه فالقول قول البائع

Maktaba Tul Ishaat.com

والبینة للمشتری"

سـوال:......

یو سړي پر بل چا یو شی خر څ کړ په شرعي وجه بیا مشتري پیسې ورنکړې ځنډولې نو په دې ځنډ دا بیعه فسخ کیږي که نه؟

جواب:...... "المماطلة فی دفع الثمن لا تقتضی فسخ البیع الصحیح لازم"

سـوال:......

قاضي یو سړی بندي کړو او ویې واهه پر خرڅېدو د سرای پر یو سړي، هغه بندي د مجبوریت په خاطر سرای خر څ کړی وو او رانیونکي تصرف کې وکړ بیا اصلي مالک دعوه وکړه چې دا زما سرای یې په زور پر ما قاضي خر څ کړی او رانیونکي ویل چې ماخرچه په کړې ده آیا فسخ کولای یې سي که نه؟

جواب:......

"الفساد بالاکراه لا یمنع الفسخ فیه کل تصرف یقبل النقض بخلاف غیره"

معنی که یې سرای په بیع فاسد خر څ کړی هغه تصرف پکښې وکړی بیا ده دعوه د فساد وکړه او رانیونکي دعوه د تصرف وکړه دغه بیع فاسده نه فسخ کیږي په وجه د تصرف او د زور بیع سره د تصرف هم فسخ کیږي.

سـوال:......

یو سړي پر بل یو شی خر څ کړی بیا هغه بیا د مشتري د بائع سره دعوه شوه پر خطا کېدو. بائع و مشتري ته وویل چې مبیعه مه را واپس کوه زه به تا ته روپۍ یو څه درکړم دا جائز ده او که مشتري و بائع ته مبیعه واپس کوله او روپۍ یې هم ورکولې نو خو بائع ته خپله مبیعه هم ورسېده او

مشتري روپۍ هم ورکړې دا نه دی صحیح .

جواب :......

"اصطلحا على أن يدفع البائع دراهم إلى المشترى و لا يرد عليه جاز و يجعل خطا من الثمن و على العكس لا لأنه رشوة" (مهدية / ص: ٦٠ / ج: ٣)

سـوال :......

غـنډه یا زورواکـه د چا څخـه ځـمکه په غنډه کړدي واخیستـه او بیایې ښـه ځای پـر جوړ کړی او آباده یې کړه بیا وروستـه د الله څخه وبېرېدی، خو اوس غـنډه ګـران غـلـه د الله څخه نه بېرېږي و مالک ته وویل چي د مځکي روپۍ بـه درکړم اوس ما خرڅه په کړې ده مالک د مځکي ورتـه ویل چي ما تـه خپـلـه ځـمکـه راکـړه حق نـه دربخښم نو ځمکه یې حق ده که به روپۍ د ځمکي اخلي؟

جواب :......

خپـلـه ځـمکه به و مالک ته ورکوي که د الله څخه بېرېږي او یا به ځمکي والا خوشحاله کوي .

"الفساد بالاكراه لا يمنع الفسخ فيه كل تصرف يقبل النقض بخلاف غيره "(مهديه / ص: ٥٥ / ج: ٣)

معنی خپله ځمکه به ورکوي چي څومره بنګلې یې جوړي کړي وي .

د اوس وخت حاکمان چي د ملک روپۍ لوټ کړي په وزارتو سره او بیا جائیدادونـه پـه رانیسـي او یا مځکي د خلکو قبضـه کړي نو د ده سره به بل حاکم چي ښـه سړی وي دا ټولي قبضې او روپۍ به ور څخه اخلي او تعزیر به هم ورکوي او دا پر بل حاکم چي راسي لازمه ده چي د هغه ظالم وزیر څخه د

مسلمانانو د قبضې او د بینک روپۍ چې لوټ کړیدي واخلي . ولي حدیث
شریف کي دي : کلکم راع و کلکم مسئول عن رعیته ، د دوهم دا وظیفه ده
چې اول غل وزیر ونیسي او لوټ کړی مال ورڅخه واخلي ، که یې لوټ
والی معلوم په شواهدو او یا قرائنو وو که څه هم برطانیه ته ولاړ سي که
لندن ته ولاړ سي ، د عدالت په زور او یا د هغه قرارداد چې د ملکو په مابین
کي وي چې زما خائن غل به راکوې ، زه ستا خائن غل درکوم . په حدیث
شریف عمل ضروري دی او د عربي د کتاب عبارت چې مخته تېرسو
ورسره عملي کړي .

سوال:.....۱

ایا دا حکم چې د غله څخه یا د قابض څخه هغه مال چې د خیانت کړی دی
اخلي ، دا حکم په مجاهدو کي چې مشران دي ډېري ښې بنګلې چمنان ،
موټران او په بینکو کي روپۍ ایښي وي یو مشر امیر پر دوی قدرت
لرونکي به د دوی څخه دا بنګلې اخلي او که مجاهد ته هر څه معاف دي؟

جواب:.....

""نه، مجاهد ته الله په شهادت هر څه معافوي چې شهید شي په اول قطره د
وینو خو یو د بنده حق نه وربخښي هغه ورڅخه غواړي او لوی امیر هم
مسئول دی چې د هغه کسانو څخه چې دوی پو هیږي چې غتې بنګلې
او مالونه ، دا د بیت المال دي یو حدیث شریف کي راځي چې د بیت المال غله
به مال ورسوځي ، کلکم راعی و کلکم مسئول عن رعیته و الأمام راعٍ فی
رعیته حتماً به یې ورڅخه اخلي او خالي صلاح کوي به یې یا به یې د
خپلي وظیفې څخه ایسته کوي ، ولي چې قومندان او یا وزیر یا بل یو مشر

Maktaba Tul Ishaat.com

دا بايد امين او صالح سړى وي .

سـوال :......

دلتـه زموږ پـه ملک کي ډېر وزيران لمونځ نه کوي او غلاوي کوي او بيا دا وايي چي دا د غلو حکومت دی زه غلا کوم ځان پوره کوم ، آيا داخبره درسته ده او يا دا خبره څه تاوان نلري؟

جواب :......

داسي خبره چي غلا ځان ته حلاله بولي ولي وايي دا نور ظالمان ديوه ظلم جبيره په ظلم نه کيږي دا د فقه قانون دی او چي دا غلا ماته روا ده په داخبره سړى کافر کيږي . ولي الله جل جلاله فرمايي چي دا کفار حلال بولي هر څه چي الله حرام کړيدي . آيت دی .

سـوال :......

د بائع او مشتري اختلاف راغلی په عيب کي په نوي‌توب د عيب يا د زوړتيا د عيب؟

جواب :......

"اختلفا فی حدوث العيب و قدمه فالقول لمدعی الحدوث والبينة لمدعی القدم" (المهدية صـ٦٣ ج٣ ، والدرر)

سـوال :......

يوه سړي عطر رانيول چي د ګلاب عطر دي او يا يې يو شی رانيوی چي جاپانی دی يا يې کپړې چي جاپانی دي او مشتري زما وارو نه په پوهېدی ؟

جواب :......

"نعم يكون للمشترى رد المبيع المذكور إذا كان الواقع ما هو المسطور"

Maktaba Tul Ishaat.com

يعني بيا معلوم سو عطر نه وو تېل وو او کپړه جاپانی نه وه پاکستانی وه .

سوال :......

ورونه وو، بعضي بالغان وو بعضي کوچنيان وو، دوی ته د پلار بنه باغ پاتـه سو، يو زورور معنی غنده هغه چا د ده د بندي کېدو قدرت يې درلودی يو د ورونو يې بندي کړ و يې واهه په سخت وهلو سره، په دې چي پر ما دا باغ خرڅ کړه او دا نورو ورونه يې نه وه او دې غنده قدرت ځيني واخيستی پر تـوله مځکه او کښتونه يې ورڅخه وکړه او خورما يې خرڅي کړې اوس چي دا ثابته سي پر زورواکي په شاهدانو، او هغه نور ورونه يې هم راغله او غنده هم د قدرت څخه لوېدلی وو اوس د وخت حاکم باغ او هغه کتـه ورڅخه اخلي که نه؟

جواب :......

"للمكره بعد زوال الاكراه فسخ البيع فی نصيبه كما لباقی الشركاء البائع المذكور رد المبيع الخ و لقاصر بعد بلوغه رشيداً مطالبة من استولی علی نخيله تعديا ببدل ما استهلكه من ثمرته وكذا اللبائع والبائع بالاكراه بعد فسخ البيع تضمين المشتری زوائد المبيع المنفصلة المتولدة كالثمر حيث استهلكها المشتری كما يستفاد من تنقيح الحامدية من اوائل الاكراه"

مطلب د زورو څخه به تول مځکه او هغه کټه او هغه مېوه چي خره کړې يې ده اخلي، زوائد المبيع فاسداً مضمونة بالعقد .

سوال :......

يو سړي يو شی واخيستی د بل سړي څخه او ورته يې وويل چي دغه موټر ما په ......۱ اخيستی دی تا ته يې په ......۱۱ يو لکه کټه درکوم هغه چي موټر

واخیستـی ده مـوتـر پـه ۸۰۰۰۰ اخیستـی وو دوه لکه ګټه یې پر وکړه د دې څه حکم دی؟

جواب:......

"**للمشتری الرد بظهور الخیانة في المرابحة**" مطلب بیرته به یې ور کوي ولې چې خیانت یې ورسره وکړی په ګټ کې .

سـوال:......

محترم مفتي صاحب !

(۱):ـ سوال: زمـوږ پـه عـلاقـه هـلـمند کي زوروا کان زموږ څخه په زوره مځکي اخلي وایي پر موږ یې خرڅي کړئ کنې نو بیا مو بندي کوو .

(۲):ـ سوال: یارا څخه زموږ هلکان بیایي په او بد فعلي ورسره کوي په چرسو او هیرینو یې اخته کوي .

(۳):ـ سوال: او دغه خلګ د بیت المال مال ځان ته روا بولي خوري .

(٤):ـ سوال: او بـعـضـي بیا خلګ اغوا کوي بندي کوي یې و هي یې وژني یې کـه روپـۍ ور نـه کړي اوس زموږ جوابونه مدلل راکړئ، آیا دا خلګ موږ وژلی سو که نه؟

جواب:......

"**الفساد بالاکراه لا یمنع الفسخ الخ إذا المکره**"(**فتاوی مهدیه**)۔

معنی چي د زوروا کي زور ختم سي بیا چي یې هر څومره بنګلې جوړې کـړي وي ور ودي نړوي (۲) او د دغـسـي سړي چي خلګ اغوا کوي دی حکم (۳) چي هلکو سره بد فعلي کوي حکم یې دا دی والحق القراح فی هذا الـمقام ان نبی ﷺ فی ارتکاب الفواحش مستفشیحه (معنی بد) و ذنوب

مستـقبحه و تكرر صدور فاحشة بالقتـل ترهيبا و سياسةً و قطعاً لانتهاک الحرومات الموجب للفسـاد و فی الأرض لا على انه حد مقررا .

معنى سياسةً دغه اغوا كار وژلی شي كه خالي اغواوي يې كولې او كه يې اغـوا سره قتـل هم كـوی لـكه ډېر اغوا كاران همدغسي كوي بيا به يې وژني ولـي قتـل يـې كـړی دی او شواهد به پر قتـل لري . (القول الجازم فی سقوط الحد بنكا ح المحارم، لمولانا اللكهنوي / ص: ٢٣) او د هغه چا چي هلـكـا ن تښتـوي بيا لواطت ورسره كوي درې واره يا همېشه لكه سائل چي پوښتنه كړې وه . "الجواب و فی الفتح القدير ذكر عقوبة مرتكب الواطة الخ و لـو اعتـاد الـواطة قتله الإمام اللوطى فقالت لائمة الثلاثة يجب عليه الحد و قال ابـو حـنيفة يعزر فی اول مرة فان تكرر منه قتل كذا فی رحمة الامة فی اختلاف الائمة القـول الجـازم فـی سقـوط الـحـد بنـكـاح المحارم لمولينا عبد الحى اللكهنوى / ص: ٦"

او بـعـضـي ځايو كي بالكل نكا ح ورسره كوي لكه چي اوس تعريف په هـمجنسي سره كوي د دې حكم دا دی . "روی عـن عثمان و على كما اخرجه ابـن ابـى شيبة امـرا بـالاحـراق فـان خالد بان وليد كتب إليه (اى إلى على) انه وجـد رجـلا فـی بعـض نـواحـی الـعرب يـنكح كما ينكح المرء ة فجمع الصالبة فسئـلهـم فـكـان اشدهم قولاً فيه على ابن ابى طالب فقال نرى ان نحرق بالنار فاجتمع رأيهم على ذلك ـ اخرجه ابن ابى دنيا"

او د بيـت الـمـال د روپـو د خوړلو په حق ستـا سو جواب ۱ : غلا كونكي او خيانت كونكي په زوره كي اچول كيږي ۲ كوم شی چي يې په غلا او خيـانـت د بيـت الـمـال سره اخيستـی وي هغه به په ور ځ د قيامت اُور جوړ

Maktaba Tul Ishaat.com

سي په ده به يې واغوندي يا به پر بار كړل سي او دى به زيات رسوى سي۴ . به نبي كريم ﷺ د شفاعت څخه محروم او بې برخي سي ۵. كه په جهاد كي شهيد شي نو حقيقي شهادت به نه ورته ملاويږي ٦ . كامل مومن به نه ورته ويل كيږي (الارهاب الدلائل النفائس على جمع الذكراة بايدى سفراء المدارس / ص: ۴۹) .

خلاصه اغوا كاران چي خلك نه وژني قاضي يې وژلى سي ، و فسد فى الأرض سياستاً او كه خلك هم وژل بيا يې وژلى سي حدًا او د زوروا كي څخه خپله مځكه بيرته اخيستى سي او هلكان كونكي چي عادت يې لواطت وي وژلى سي او هغه چي نكاح ورسره كوي هغه به وژني مطلقا په اجماع د صحابه كرامو . و الله اعلم و علمه اتم . حرر حقير فقير عبد الرازق .

سوال:......

آيا دغه وژل يا د دوى بندي كېدل دا د هر سړي كار دى كه د حاكم كار دى او حاكم يا امام چا ته ويل كيږي او دا ديو قوم يا يوې ډلي يا پارټى. كار نه دى دا به گورنمنټ كوي؟

جواب:......

"من إمام بقوم بتنفيذ الاحكام و اقامة حدودهم و سد ثغورهم و تجهيز جيوشهم و اخذ صدقاتهم و قهر المتغلبة والمتلصعة و قطاع اطريق و اقامة الجمع و الاعياد و قوبل الشهادات القائمة على الحقوق و تزويج الصغار و الصغائر الذى لا اولياء لهم و قسمة الغنائم قوله قادر اى على تنفيذ الاحكام و انصاف المظلوم من الظالم و سد ثغور و حماية البيغة و حفظ خدود الاسلام و جر العساكر" (رد المحتار ص۴۰۵ / ج: ۱ . ٦ جلده، نوري مسئلې ورسره گډي كړم په وجه د

Maktaba Tul Ishaat.com

ربط لکه مثلا بیع په زور کول او بیرته اخیستل د چا کار دی .

سوال :......

یو سړي شی په بیع فاسده خر څ کړ مثلا قیمت یې نه کړ معلوم یو څه یو څه یې ورکولې اوس څه حکم دی؟

جواب :...... "اذا قبض المشتری المبیع فاسداً برضاء بائعه ملکه بمثله او قیمت یوم قبضه بعد الهلاك "او د وجود د مبیعې په وخت کې منبیعه ور رد کوي .

سوال :......

یوه سړي د پلار بې اجازې پر بل سړي غوییی په کامبنس خر څ کړی او شل زره یې سر پر غوایي والا کنبېښوی بیا یې پلار خبر سو او اجازه یې وکړه ، آیا هغه شل زره به ورکوي که نه، ولې د بیعې په وخت کې د پلار اجازه نه وه؟

جواب :...... هو ! شل زره به ورکوي بیع په اجازه صحیح سوه . "الاجازة اللاحقة کل وکالته السابقة"معنی بیع صحیح ده . (فتاوی مهدیة / ص: ٦٦ج ٣)

سوال :......

یو سړي یو موټر رانیوی یا یې سرای رانیوی بل سړي ورته وویل چې ما هم شریک کړه ، آیا دا صحیح ده که نه؟

جواب :...... "اشتری شیئاً ثم اشرك فیه آخر فهذا بیع النصف بنصف الثمن "مطلب دا بیع د دغه سرای په نیمی روپو سوه .

سوال :......

یو سړي پر بل یوه شی خر څ کړی بیا چې یې ولیدی عیب پکښې وو بیا د دوی اختلاف په عیب ثابت سو په قضا د قاضي ، اوس یې ور رد کړی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

بيا حق لري چي هغه بل ته يې ور رد كړي چي ده ور څخه اخيستى دى كه نه؟

جواب:...... "رد عليه بعيب قديم بقضاء يكون الرد على بائعه وان برضاه لا" هو، رديې كولى سي او كه په رضا سره د عيب يې اخيستى وو بيا يې نسي ردولى .

سوال:......

د دوو كسانو سراى شريک وو، بيا يوه خرڅ كړ، د هغه بل شريک دى وكيل سو، بيا وكيل وويل چي دا سراى دومره قيمت نه لري، دريم يې راوستى مهندس يې راوستى هغو وويل چي په سراى كي يې دوكه را كړې ده اوس دا بيع صحيح ده كه نه؟

جواب:...... هو، د بائع په حصه كي صحت لري او د شريک په حصه كي نه ده صحيح، هغه به قيمت ورڅخه اخلي چي مهندس وويل . "لا ينفذ بيع الوكيل بالغبن الفاحش إذا لم ينضم إليه التغرير على ما به الفتوى"

سوال:......

يو سړي ځاى خرڅ كړى خو په خبر نه وو معنى خپل ځاى يې نه وو ليدلى سودا يې صحيح ده كه نه؟

جواب:...... ""صحيح ده .

سوال:......

كه سړي شى رانيوه ليدلى يې نه وو بيا يې وليدى خوښ يې نه سو، سودا يې صحيح ده؟

جواب:......سودا يې نه صحيح كيږي . "جهل المشترى المبيع يمنع صحة البيع لا جهل البائع"(مهدية / ص: ۷۱ / ج:

Maktaba Tul Ishaat.com

سـوال:......

يـو سـړي بـل وكيـل كړى چي ما ته فلانى شى رانيسه او هغه رانيوه، سودا يې صحيح ده؟

جواب:...... سـودا يې صحيح ده او كه يې بيا پر بل چا خر څ كړي سودا يې نه ده صحيح . **"الوكيل بالشراء لا يملك البيع"**

سـوال:......

كه دوه شريكان په يو شي كي وي يو يې خر څ كړي بې له اجازې د هغه بل، دا جائز دي كه نه؟

جواب:...... **"باع احد الشركاء نخلاً معينا قبل القسمة بدون اذن الباقى فلهم ابطال البيع"**مطلب دا نور شريكان يې راګرځولى سي .

سـوال:......

تغرير د چا له طرف څخه را تلاى سي؟

جواب:......

"التغرير يحصل من احد المتعاقدين والدلال لامن غيرهما كما قال رملى"معنى دو كه د يوه بائع يا مشتري يا دلال د طرف څخه راځي نه د بل چا

سـوال:......

يوسړي سراى خر څ كړ پر بل چا په مدت او په خط كي يې وليكل چي مدت يو كال ده بيا بائع وويل چي نه مدت ډېر ده اوس د چا شاهدان قبول دي؟

جواب:...... **"تقدم بينة المشترى على زيادة مدة الاجل "**

سـوال:......

يوه زور وى د چا څمكه په زوره واخيستـه معنى روپى يې ور كړې، دى په

راضي نه وو بیا چي زور واکی له زوره ولوېد، سړي دعوه په وکړه چي دغه ځمکه زما څخه په زور را نیول سوې او دواړو شاهدان راوستل،اوس د چا شاهدان قبول دي؟

جواب :......

"لتقدم بینة الاکراه علی بینة الطوع ان اتحد التاریخ"(مهدیة / ص: ۸۳ / ج:

۳) معنی د زورواکي شاهدان نه دي قبول، د مسکین شاهدان قبول دي .

سـوال :......

یـو سړي دوه شیـان واخیستـو او یو عیبجن وو اوس بـه دواړه ردوي کـه بـه دواړه اخلي که به یو اخلي بل به پرېږدي؟

جواب :...... "اشتری شیئین و وجد باحدهما عیباً له الردهما او اخذهما قبل قبضهما هما فلو بعد قبضهما له الرد المعیب وحده"

سـوال :......

د ړانده بیع صحیح ده که نه ده صحیح ؟

جواب :...... "صحح عقد الاعمیٰ و لو لغیره و له خیار رؤیة ویسقط خیاره بوصفه قبل الشراء ویثبت بذلك بعده"

سـوال :......

آیا د روېنې بیع صحیح ده کنه ؟

جواب :...... بیعـه د نشیـی صحیح ده ."بیع السکران نافذ علیه و کذا سائر تصرفاته الا فی سبع اجاب فی الاشباه و شرحها ان خلع السکران جائز و کذا سائر تصرفاته الا الردة والاقرار بالحدود و الاشهاد علی شهادة نفسه الخ قال فی الاشباه نقلا عن الخانیة خلع السکران

Maktaba Tul Ishaat.com

(ولو ارتد السکران لم یصح فلا تحرم عرسه) وهذه احدی المسائل السبع یعنی ان حکم السکران من محرم کالصاحی
الافی سبع لا تصیح ردته ولا اقراره بالحدود الخالصة ولا الشهادة علی شهادة نفسه ولا تزویجه الصغر باکثر من مهر المثل اوالصغیر باقل ولا تطلیقه زوجة من وکله بتطلیقها حین محوه وکبیعه متاع من وکله بالبیع صاحیاً ولا رد الغاصب علیه ماغصبه منه قبل سکره (رد المحتار ج۳ ص۱۸۱) مع زیادة فیه۔

(وفی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۳۹۳) (فل فیمن یقع طلاقه وفیمن لا یقع طلاقه وطلاق السکران واقع إذا سکرمن الخمر او النبیذ وهوما مذهب أصحابنا رحهم الله کذا فی المحیط) ومن سکر من البنج یقع طلاقه ویجد لفشو هذا الفعل بین الناس وعلیه الفتوی فی زماننا کذا فی جواهر الاخلاطی) وان شرب من الاشربة المتخذة من الحبوب والعسل فسکر وطلق لا یقع عند ابی حنیفةؒ وابی یوسفؒ خلافا لمحمدؒ ویفتی بقول محمدؒ کذا فی فتح القدیر۔

سوال:......

آیا د مسکر خلع واقع کیږي؟

جواب:......

"خلع السکران والمکره جائز عندنا وخلع الصبی باطل والمعتوه والمغمیٰ علیه ومن عرض بمنزلة الصبی فی ذلك هکذا فی المبسوط"(فتاوی هندیة / ج: ۱ / ص: ۵۰٤)

مسئلة: یجد من النبیع فی زماننا المفتی به ،، وفی الجواهر ولو سکر مطلق تطلق زجراً وعلیه الفتوی ،، إذا سکر من البنج والافیون یقع زجرا وعلیه الفتوی ،، (رد المحتار / ج: ۳ / ص: ۱۱۱)معنی

Maktaba Tul Ishaat.com

مطلب ښځه غريبه چي مېړه يې هيروين والا وي قريبان دي د ښځي مېلمه كړي او بيا دي ګواهان راولي او د هيروينۍ سره دي خلع وكړي او ۱۰۰۰ روپۍ چي وركړي د هيروين والا ډېر په خوشحاله دی تر . . . . ښځه به د عذاب خلاصه سي يعني د عدالت ضرورت نسته چي شی پر كيږي .

سوال:......

يو سړي پر بل چا شی خرڅ كړی معنی چي دا موټر درباندي خرڅوم خو يوه ورځ به زه خپل كار پكښي كوم آيا داجائز دی كه نه؟

جواب:...... "**يفسد البيع شرط فاسد فی صلبه و هو ما لا يقتضه العقد**" هو ، دا بيع فاسده ده .

سوال:......

يوه سړي پربل سړي خر ياآس خرڅ كړی په هغه كي عيب وو او مشتري بيرته بائع ته ردوي خو په مابين كي مشتري مړ سو ، آيا قريبان يې ور ردولی سي كه نه ؟ دا حق د مشتري دی د دوارو حق نه دی؟

جواب:...... "**لايبطل حق الفسخ بموت احد المتبايعين فيخلفه الوارث**" هو ، رديې كولی سي د دوارو طرفينو كه مشتري وي كه بائع وي . (مهديه / ص: ۹۳ / ج: ۳)

سوال:......

درې ورونه دي د پلار ځمكه ور پاته ده يو مشر ورور يې دا ځمكه خرڅه كړه په وكالت د هغه نورو ورونو ، اوس مشتري ځمكه كړله او بناء كي جوړوي كړي ،لس كاله يې تصرف كي كاوی دا نورو ورونو يې ږغ نه كاوی ، لس كاله وروسته دا نور دوه وا ولاړ سوو ، دعوه يې وكړه چي موږ

خو ځمکه نه ده درباندي خرڅه کړې زمونږ دوې حصې ځمکه نه در کوو، آیا دا دوه وروڼه حق د را گرزېدو لري که نه؟

جواب :...... ”اذا ثبت البيع من احد الاخوة المذكورين بطريق الاصالة عن نفسه والوكالة عن باقى الاخوة بثمن المثل طائعا مختارا لا يجون لاحدهم نقضه بدون وجه شرعى حيث استوفى شرائط الصحة واللزوم“

سـوال :......

يو نقلي شی سړي پر بل خر څ کړ هغه بل سړي قبض کړی نه وي بيا پر خر څ کړي دا بيع صحيح ده که نه؟

جواب :......

”لا يصح بيع البائع المنقول قبل قبضة باذن مشتريه لاجله ولا ينفذ باجازته“

سـوال :......

يو سړي پر بل غوا خرڅه کړه مشتري چي قبض کوله جوړه وه کور ته يې بوتله، مريضه سوه حلاله يې کړه غوښيې خرڅي کړې اوس را ولاړ سو د بائع څخه روپۍ غواړي هغه چي ده ورکړي دي، آيا رجوع کولی سي که نه؟

جواب :......

”الجواب لا يكون الرجوع للمشترى بثمن ما اشتراه منه والحال هذه و ليس له الرجوع بنقصان العيب عليه حيث لم يثبت قدمه و تصرف المشترى ببيع اللحم قبل العلم بالعيب او بعده يمنع الرجوع بنقصان العيب القديم لحبسه المبيع بهذه التصرف بخلاف ما لو احدث فى المبيع سبباً يمنع الرد و لو برضاء البائع قبل العلم بالعيب“

سـوال :......

Maktaba Tul Ishaat.com

یو سړي پر بل غوا خرڅه کړه او مشتري قبض کړه بیا یې عیب په کښې پیدا کړی غوا یې راوسته د بائع و ښار ته، بائع یې نه کړ پیدا، غوا یې دالته ایله کړه، هغه مړه کېدله،
خلکو د کلي حلاله کړه او د بائع زوی هم ولاړ وو، غوښې یې خرڅې کړې پیسې یې بائع ته ورکړې، اوس مشتري راغلی ویل یې زما روپۍ راکړه غوا عیبي وه، آیا د روپو حق لري که نه؟
جواب:......
"لا يكون للمشترى الرجوع على البائع بثمن المبيع بعد هلكه في يده قبل رده على بائعه بالعيب ولا الرجوع بنقصان العيب على بائعه إذا لم يذبحه المشترى او غيره بامره او بغير امره بعد اطلاعه على العيب"
سوال:......
یو سړي د بل شخص یو شی واخیست یعني په زرو یې وهلی وو هغه یې ویلي کړی بل شی یې جوړ کړی بیا یې عیب پیدا کړی اوس یې رد کولی سي که نه؟
جواب:...... "ظهر بالمبيع العيب كسره يمتنع الرد و يرجع بالنقصان" (مهديه / ص: ۱۰۱/ ج: ۳)
سوال:......
یوه سړي غوا واخیسته د بل سړي څخه، او هغه ورته وویل چي دا شل کیلو شیدې کوي اوس هغه لس هم نه کوي، آیا مشتري دا بیع ردولی سي که نه؟
جواب:...... "اذا تبين خلاف الوصف المرغوب فيه يكون للمشترى رد المبيع"

Maktaba Tul Ishaat.com

سـوال:......

یـوه سړي د بـلـه موټر واخیست چي راېي وستی کور ته، ويې کتی پریم یا یو ځـای یـې خـراب وو ، اوس بـائع ورتـه وايي تا داعیب نه ولیدی او مشتري وايي ما نه دی لیدلی ؟

جواب:...... "**القول لمنكره الرؤية والبينة لمدعيها**" شـاهدان لیدلو والا معتبر دي، خبره ده نه لیدو والا معتبره ده .

سـوال:......

یـو سـړي بـل تـه لـس مـنـه غـنـم پـه سلم ورکړو کوم وخت چي سلم کېدی د غـنـمـو قـیـمـت ۱۰۰۰ روپـی وو کـوم وخـت چـي د سـلـم وخت پوره سو نو يې قـیـمـت ۵۰۰ روپـی وو اوس لـم والا ورتـه وايـي چي زه پنځه زره درکوم ولي قـیـمـت یـې پـنـځـه زره دی یعني زه لس منه غنم نه درکوم بلکه زه پنځه منه درکوم، چي په اوس وخت پنځه منه کي پنځه به ورکوي که لس منه؟

جواب:......

"**اذا اسـوتـو فـی شـروط الـسـلـم الـمـذكـور يجبر مسلم إليه على ايفاء رب السلم المسلم فيه عند حلول الاجل و لاعبرة بارتفاع الاسعار**

ر بعد عقد السلم"

معنی پوره لس منه غنم به ورکوي نرخ ته اعتبار نستـه غنمو ته دی .

سـوال:......

یو سړي دبل ښځه مځکه واخیستـه کتلي يې نه وه، را نیونکی ولاړی پس د ډېرو کـلـو ښـځـه راغـلـی، بیا يې دعوه وکړه دا مځکه خرابه ده ما خو نه وه لیدلې، آیا داخیار سته که نه زائل سو په ډېر عمر تېرېدو سره؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: ...... "یمتد الخیار ا لرؤیة جمیع العمر ما لم یمنع منه مانع " مطلب خیار سته، نه دی زائل شوی، بیرته به خپله مځکه قبلوي .

سوال: ......

ورونه شریکان دي په مځکه کي، باچا د دوی مځکه خرڅه کړه، چي د حکومت پر یو شي وه او دوی روپۍ نه در لودې باچا خرڅه کړه پر یوه سړي، دوی هم حاضر وو، څه یې نه ویل، بیا لس کاله بعد یو را پورته سو چي زه مځکه نه در کوم ولي چي مځکه تا ارزانه اخیستې ده څه حکم یې دی ؟

جواب: ......

"نعم لا یجاب لذلك بمجرد تعلله المذکور بدون وجه شرعی " (مهدیة / ص: ۱۱۲/ ج: ۳)

سوال: ......

یوه سړي غوا اخیسته په دې شرط چي دا برالبه ده بیا یې په ګوادار معني چي په برالبي پوهیږي وکتله ، هغه وویل چي برالبه ده، بیا د وساتله ،د یوې میاشتي بعد یې بیا سړی راوستی هغه وویل چي نه، دا غوا وچه ده، آیا د دغه سړي خبره په وچېدلو قبلیږي چي غوا بیرته ورکړي که نه قبلیږي؟

جواب: ....

"اذا اشتری البقرة المذکورة علی انها حامل فسد البیع لأنه شرط فاسد لا وصف اذ ما فی البطن لا تعرف حقیقتاً کما صرحوا به و اللّٰه تعالی اعلم"(مهدیه / ص: ۱۱۳ / ج: ۳)

سوال: ......

یوه سړي د بل څخه ځمکه واخیسته قیمت یې نه کړی معلوم، چي بیع

Maktaba Tul Ishaat.com

فاسده هم سوه رانیونکي تصرف پکښې وکړی، پس له تصرفه بیا ردیږي که نه؟

جواب:......

"البیع بدون ذکر الثمن فاسد و یملکه المشتری بالقبض بازن البائع بقیمة یوم قبضه و یمتنع الفسخ ببناء المشتری فیه "مطلب بیع نه سي فسخ کولی .

سوال:......

دوو کسانو بیع وکړه صحیح بیع، بیا یې وروسته شرط ولګاوه بیع فاسدوي که نه؟

جواب:...... **"الاصح ان الشرط الفاسد بعد العقد لا یلتحق به "** مطلب بیع نه فاسدوي، وروسته شرط .

سوال:......

یوه سړي شی رانیوی او قبض یې نه وو کړی، بل سړی راغلی دعوه یې په وکړه، آیا دا دعوه صحیح ده که نه؟

جواب:...... **"اشتری شیئا و لم یقبضه حتی ادعاه آخر لا تسمع الدعوی بدون حضور البائع والمشتری "**

سوال:......

دعوه تر څونه وخته سړی کولی شي تر څونه وخته یې نشي کولی؟

جواب:...... **"لا تسمع الدعوی بعد مضی خمس عشرة سنة الا فی الارث والوقف و وجود عذری شرعی"**

سوال:......

یوه سړي پر بل مځکه خرڅه کړه په دې شرط چي ته به پر دې

ځمکه مسجد جوړوې ، آیا دا شرط صحیح دی که نه ؟

جواب:...... "**باع مساحتاً علی ان یبنی بها مسجد یفسد البیع بهذه الشرط الفاسد**"

سـوال:......

درې ورونه شریکان دي په یو سرای، دا یو ورور را ولاړ سو یو طرف د سرای چي دریمه کېده خرڅ یې کړی، آیا دا بیع صححی ده که نه؟

جواب:...... نه، دا بیعه نه ده صحیح ولي چي تقسیم یې نه دی سوی دابیعه د مشاع سوه دا نه ده صحیح . (مهدیه/ ص: ۱۳۱/ ج: ۳)

سـوال:......

یوه سړي ځمکه پر بل خرڅه کړه حدود یې معلوم کړو ثمن یې معلومي کړې شاهدان یې هم وو بیا دغه ځمکه پر بل خرڅه کړه آیا دا ځمکه د اول مشتري ده که د دوهم؟

جواب:...... "**حیث وقع البیع الاول صحیحاً لازماً لایکون البیع البائع ثانیاً لغیر المشتری الاول بدون اذنه نافذاً و یرتد برد المشتری الاول**"

سـوال:......

یو سړي بل سړی وکیل کړ چي ما ته باغ رانیسه هغه باغ رانیوه . مؤکل ورته وویل چي دا زما دی وکیل ورته وویل چي ما د ځان د پاره اخیستی دی اوس د چا کیږي؟

جواب:......

"**شری لاخیه بلا توکیل و یوجز نفذ علی المباشر ما لم یضف**" مطلب سرای د وکیل دی که یې دا نه وو ویلي چي دا سرای د مؤکل دی . والله تعالی اعلم و علمه اتم و اکمل .

Maktaba Tul Ishaat.com



بسم الله الرحمن الرحيم

باب بيع التمباک والترياق وشربهما

الحمدلله الكبير الوهاب الغفور العظيم التواب الذى بعث علينا رسولاً و انبياء و اجتبى منكم الاصفياء والاحباب و سهل لنا طريق النجاة والفلاح و يسر سبيل الهدايه للنفوس و الارواح و بيّن الحلال و الحرام و اوضح مشبهات الاحكام و حد لنا حدوداً فمن تعدّى حدود الله فاولئك من اهل العذاب و صلى الله على سيّد اصفياء رأس اولياء محمّد ن المبعوث الى كافة الخلق من الانس و الجان و على اله و صحبه ما دار النّيران۔

امّا بعد فيقول العبد الضعيف الراجى الى عفور به القوى فدا محمد بن محمد عريف بن محمد معصوم المعصومى عصمهم الله عن فتن الدنيوى والاخروى انى كنت قد صرفت حينا من الدهر فى غوص للفرائد التى كانت فى التوم والدرر بحضرت قاموس العلم و الحكم ذوالبلاغة و الفصاحة من بين الامم شيخ الحديث والتفسير الحاج مولنا مفتى عبد الرازق رزق الله نعم الدّار النعيم و بعيد هذا ذهب بالسجن

القمقام من ایادی العساکر العلام و بقینا فی المسجد کالیتام و فرغ بعد اربعة اشهر بدون الملك العلام عن سنن الدوادی والیوسفی ﷺ و النعمان رحمة الله علیه و اتی الی اهله و الیتام و لما شرع ثانیاً المحسود الاقران بنظم الدرر و المرجان ..

فامرتُ علی ان احرر قلیلاً من البیان علی حرمت التریاق و اللقات و التنباك و الله اسئل۔

سوال الضارع الخاشع بعد الفراغ ان یجعله مقبولاً و خالصاً یدعونی بالمغفرة و شمول الرحمة و بخیر الدنیا و العقبی والمرجو من الناظرین الکرام ان لا یتتبعوا عوراتی و ان یستتروا علی ذلاتی فیرحم الله امرءً نظر فیها بنظر اللطفَ و الکرم و عفا عن ذلة القدم او طغیان القلم فانی لست ممن یدعی العصمت من کل خطاء و ذلة و لا ممن ینسب الی نفسه الفصاحة والبراعة ان النفس لأمارة بالسوء۔



ضروري اصول او قواعد

د اکثرو شیانو حلت او حرمت په شریعت مطهره کي صراحةً موجود دی خو لکن د انسان دژوند په معاملاتو او حالاتو واقعاتو کي بعض داسي شیان مخي ته راځي چي د هغوی په حقله د قرآن کریم او حدیث نبوی ﷺ صراحةً حکم وجود نلري نو بیا دغه متجدد شیان په قواعدو د فقهاکرامو رحمة الله علیهم عارضیري د عروض نه وروسته یي د حلت او د حرمت حکم صراحةً متعین سي . خکه دا فطري خبره ده چي یو داسي دین چي تر ورځي د قیامته پوري باقی

وي دا پـه ټـولو جزئي واقعاتو او د هغو پر تفصيل باندي صراحةً نسي مشتـمـل کيـدای خـو لـکـن د داسـي جيـد او دائمي دين لـپـاره بـه داسي قـواعـد کـليه خامخا وي چي په آئنده کي هر قسم جزئيات وي پر هغو بـه مشتـمـل وي يـعـنـی د هـغـو جـزئيـاتـو حـکـم بـه لـه دغو قواعدو مـعـلـوميـږي پـه قـرآن مـجيـد او حـديـث نبـوي کي دغسـي بې شمـاره قـواعدي او اصول موجود دي په بعض ځايو کي تصريح په سوې وي او پـه بـعـض ځايو کي اهل علمو پـه اجتـهاد او استنباط سره را استلي وي او دغـه رنـګـه فـقـهـاء رحـمة الله عليهم هم قواعد ايښی دي چي هغه د بنيادي اهميت حامل دئ .

نـو دا مـنـاسـبـه ده چي لـه دغو قواعدو يو څو ضروري قواعدي ذکر کړو .

اوله قاعده

زمـوږ پـر مـذهـب اصـل پـه اشيـاء کي اباحة ده اکثره فقهاء او بل خـاص کـر احـنـاف رحمة الله عليهم په دې آيت مبارک پر اباحة د اشياء باندي دليـل نسـي .

هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ لَکُم مَّا فِیْ الْأَرْضِ جَمِیْعاً (الاية) سـورة البـقرة . آيت نمبر ۲۹ ، پ نمبر ۱)

تـرجـمـه: . هغه الله (جل جلاله) هغه ذات ده چي ځمکه او هغه شيان چي په ځمکه کي دي ټول يې ستاسو د نفعي لپاره پيدا کړي دي .

يـعـنـي ټـول شيان د انسان د نفعي لپاره دي په چا کي ظاهري نفع وي او پـه چـا کـي بـاطـني نفع وي او بعض شيان بيا د عبرت لپاره وي

Maktaba Tul Ishaat.com

لکه مؤذیات مثلاً ماران لړمان او درنده ګان وغیره خو په هر شي کي د الله (جل جلا له) حکمت ـي لکه دا قول د الله (جل جلاله):

رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلاً (الایة : سورة ال عمران ، آیت نمبر ۱۹۱، پ نمبر ۴)

ترجمه: اې زموږ ربه تا نه ده پیدا کړې دا دنیا عبث او باطل .

له دې معلومه سوه لکه څنګه چي الله (جل جلاله) انسان د بندګي او عبادت لپاره پیدا کړې ده دغه رنګه الله (جل جلا له) ټول کائنات د انسان د خدمت او د راحت لپاره پیدا کړي دی ځکه په دنیا کي ډېر داسي شیان سته چي له هغو بغیره د هغو فائده له بل شي څخه انسان نه سي اخیستی نو له دې وجهي محققین علماء لکه امام کرخي رحمه الله او صاحب هدایه بلکه ټول احناف وایی چي پر کوم شي د ناجائز او حرام کیدلو دلیل نه وي هغه مباح ده .

الاصل فی الاشیاء الاباحة .

ترجمه :په اشیاء کي اباحة اصل ده یعنی په حقیقت کي هر شی مباح ده تر څو چي ئې دلیل په وجوب یا په حرمت و غیرهما باندي نه وي موجود سوی . د دې په تائید کي حدیث شریف هم سته .

قال رسول الله ﷺ الحلال ما حل الله فی کتابه و الحرام ما حرم الله فی کتابه و ما سکت عنه فهو مما عفا عنه (ترمذي باب الفراء، الحدیث : ص نمبر ۲۰٦ ، ج نمبر ۱)

ترجمه: رسول الله ﷺ ویلي دي هغه شیان حلال دي چي الله (جل جلا له) په خپل کتاب کي حلال کړي دي او هغه شیان حرام دي چي الله

Maktaba Tul Ishaat.com

(جـل جـلا لـه) پـه خپـل كتـاب كي حرام كړي دي او هغه شيان چي الله (جـل جـلا لـه) يـې حـلـت او حـرمت نه ده ذكر كړى په هغه كي يې عفو كـړې ده يـعـنـي هـغـه مبـا ح دي پـه اتيـا ن او پـه ترک كي يې مواخذه نستـه .

حـاصل يې دا سو چي پر هغه شي يو دليـل د دلا ئلو اربعه څخه چي قـرآن حـديـث و اجـمـا ع و قـيـاس ده پـر حـرمت و حلت باندي نه وو هغه مبا ح ده ترک و ايتايه على السويه ده .

د ويمه قاعده

مـجبوري ناروا شى روا كوي .

د فـقـهـاء رحـمه الله عليهم قاعده ده چي په وخت د ضروت كي حرام شـى و انسـا ن ته حلاليږي **الضرورات تبيح المحظورات** (الاشباه لابن نجيم ۸۵)

تـر جـمـه: ضروريات محظور او ممنوع شيان مبا ح كوي د دې قاعدې بـنيـاد پـه قـرآن و حـديـث دواړو كـي وجود لري . لكه الله (جل جلا له) چي وايي:

فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ (الآية: سورة البقرة آيت نمبر ۱۷۳)

تـر جـمـه: هغه څوک چي مجبور و محتـا ج سي و خوراک ته د حرام شي حـال كـو ن د ده غيـر باغي او غيـر متعدي وي تر حد نو پر ده باندي گناه پـه خوراک د دغـه شـي كـي نستـه امام ابـو حنيفه رحمه الله د باغي او عـادي تـر جـمـه داسـي كـوي وايـى بـاغي هغه چا ته وايى چي حلال شى

مـوجـود وي او دی کـرکه او نفرت ځيني کوي او حرام شي ته د خوند او تـلـذذ په وجه تيری و تناول کوي او عـادي هغـه چا تـه وايی چي تر قدر د ضـروت زيات ځيني وخوري حاصـل يې دا ده چي دونه به ځيني خوري لـه دغـه مـردار شي په وخت د عدم د حلال شي کي چي ځان لـه مرګه په ساتي او په حديث شريف کي راځي .

لا ضرر و لا ضرار (الـحـديث: الاشباه و النظائر نمبر ۱۷۳) يعني دا نه ده جائـز چي انسـان و ځان تـه ضـرر ورسوي او يا بـل تـه بغـير حقه ضرر ورسوي حاصل ئی دا ده چي په اسلام کي نه ضـرر ستـه يعنی چي خپل نـفـس تـه تاوان او نقصـان ورسوي او نـه پـه اسلام کي ضرار ستـه يعنی چـي و بـل تـه بغير حق تاوان ورسوی او نه پـه اسـلام کـي ضـرر بـالـضرر ستـه يعنی چي مقابله ده ضرر په ضرر سره وکړي يعني چي څوک بل څوک ووهي او ښـکـنځل ورتـه وکړي هغـه بل تـه دا حق نستـه چي ښـکـنځل ورتـه وکـړي او يا يې ووهي بلکه هغه به خپـل حق په حاکم بـانـدي ځيـنـي طـلبـوي نـقـل يې له موطاء امام مالک بيهقي مستدرک حـاکـم دار قطني څخه کړی ده دا د انسان د ضرورت او هنګامي او غير مـعمـولي حالاتو تقاضا هم ده نو له دې وجهي فقهاء رحمة الله عليهم د احـکـامـو د تـطـبيـق او د تشـريـح دا يـو مستـقـل اصـل و قـاعـده جوړه کړه زمـوږ د فـقـهـي پـه کتـابـو کي پر دغه قاعده پر سلهاو و مسئلې بنا دي مثلاً د انسـان پـه ستـونـي کـي ګـولـه بـنـده سي لـه شرابو ماسویٰ بل د څښـلـو شـی نستـه نـو دا جـائـز ده چي يو سور د شرابو وکړي او ځان له مرګـه بـچـاو کړي دغه رنګه انسان ته په حالت د اکراه کي کلمه د کفر ۲

Maktaba Tul Ishaat.com

ویل ورته جائز ده په حال د ضرورت کي په مردارو شیانو علاج کول جائز ده . (عالمګیري ص۲۳۷، ج ۵) تاتارخانیه ص ۴۱۸، ج ۱) . دغسي نوري ډېري مسئل بناء دي پر دغه قاعدې باندي . فطلب هناک .

دریمه قاعده

په حلال او حرام کي احتیاط په شریعت کي د حلال او حرام په باب کي احتیاط لازم او ضرور ده په هر هغه ځای کي چي حلال او حرام دواړه سره جمع سي ترجیح و حرام ته ده پر حلال .

ما اجتمع الحلال و الحرام الاغلب الحرام علی الحلال (الاشباه لابن نجیم)

ترجمه: هغه وخت چي حلال او حرام سره جمع سي ترجیح و حرام ته ورکول کیږي پر حلال بعض حضرات د دغه روایت له رسول الله ﷺ څخه نقل کوي لیکن علامه عراقي رحمه الله دا بې اصله او بې بنیاده بللی ده صحیح دا ده چي دا د افقه الامت حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه قول ده او دا هم د اهمیت او اعتبار لپاره کافي او شافي ده . (الاشباء لابن نجیم)

له دې علاوه د دین مجموعي مزاج او مزاق هم د دې تائید کوي د فقهاء رحمه الله علیهم پر دغه قاعده باندي د رسول الله ﷺ ارشاد هم رو ښنایی اچوي :

قال رسول الله ﷺ الحلال بین و الحرام بین و بینهما متشابهات لا یعلمهن کثیر من الناس ـ فمن اتقی المشبهات استبرأ لدینه و عرضه و من

وقع فی الشبهات کراعٍ یرعی حول الحمی یوشك ان یواقعه (الحدیث) رواه البخاری المشکوة نمبر ۲٤۱ ، الاشباء للسیوطی رحمه الله نمبر ۲۰۹)

ترجمه: حلال ظاهر دی او حرام واضح او ظاهر دی . او په مابین ذ حلال او حرام کي متشبهات دي ډېر خلک علم نه ورباندې لري نو که چا ځان وساتی له مشتبه شیانو څخه هغه طالب د براء ة او د خلاصتوب وکو په خپل دین کي له نقائصو او هغه طالب د براء ة او د خلاصتوب وکو د خپل ځان او د عزت لپاره له طعن څخه او هغه څوک که واقع سو په شبهاتو کي داسي ده لکه شپانه چي د ساتلي چراگاه پر شاوخوا باندي پسونه راڅرخوي هغه قریبه ده و دې ته چي ځیني کډ سي حاصل یې دا ده چي دا یو داسي حدیث ده چي دا ممکنه ده چي د دین ټول احکام دي له دغه یو حدیث شریف څخه معلوم سي لکه څنګه چي ابن عربي رحمه الله دغه وینا کوي ځکه په دنیا کي داسي شی نسته چي هغه دي له دغو درو حالاتو څخه بهر وي او امام نوري رحمه الله د دغه حدیث شریف په تشریح کي وایی چي شیان پر درې قسمه دي یو قسم حلال واضح دي چي حلت یې پر هیچا پوشیده نه وي لکه خوراک د ډوډۍ او د فاکهو او لکه خبری کول او تګ کول وغیره او بل قسم حرام واضح دی چي حرمة یې پر هیچا پوشیده نه وي لکه شراب او ویني او دروا غ و اشباه ذلک او دریم قسم مشابهات دي . چي نه یې حلت واضح وي او نه یې حرمت واضح وي نو له دې وجهي ډېر خلک علم نه پر لري بلکه صرف یو څه علماء یې پېژني د هغو حکم یا په نص سره

Maktaba Tul Ishaat.com

او يا په قياس او يا په اجتهاد سره يعنى د الحلال بيّن معنى دا ده چې دليل يې دلالت پر حلت باندي بلا شبه كوي او د الحرام بيّن معنى دا ده چې دليل يې دلالت پر حرمت باندي بلا شبه كوي او د بينهما متشبهات معنى دا ده چې د حلت او د حرمت په مابين كي واسطه وي هم دليل د حرمت وي او هم دليل د حلت وي نو مشتبه او متعسر سي پر ډېرو خلگو باندي ترجيح د احد الجانبين ماسوى له يو څو عالمانو چې مجتهدين دي او كه مجتهدين نه وو نو له داسي شي څخه بيا ځان ساتل لازم دى . ځكه په حديث شريف كي نتيجه دا وه كه څوک ځان له مشتبهاتو څخه نه وساتي هغه به په حرامو مبتلا كيږي نو له دې وجهي فقهاء كرامو دغه قاعده وضع كړې ده پر دې قاعدې باندي هم د فقهاء ډېري مسئلې بنا دي مثلا د حلال او حرام حيوان په اختلاط چي كوم حيوان پيدا سي هغه حرام ده يعني هغه مخلوط حيوان حرام او مردار ده .

دغه رنګه يو سړى ښكار وو يشتي اول دغه ښكار پر يو لاښ پريوزي بيا ځمكي ته را ولويږي دا دواړه احتماله لري يعنى دا احتمال هم لري چي له دغه تيغه يا غيره څخه دي مړ سوى وي او دا احتمال هم لري چي په سبب د دغه لاښ دي مړ سوى وي اول احتمال يې د حلت او دويم احتمال يې د حرمت ده مګر فقهاء رحمة الله عليهم ترجيح و حرمت ته وركړى ده . ځكه دغه ښكار مشتبه سو من وجه حلال ده او من وجه حرام ده دغه رنګه هر هغه شى چي په هغه كي دليل د حلت هم وي او د حرمت هم وي هغه شى حرام ده .

محترمو دغه هره قاعده د را روان مقصود لپاره تمهيد او مقدمه ده بايد په فهم کي ونيوه سي .

څلورمه قاعده

د حرامو د ذرائع او اسبابو دروازه تړل ضروري ده .

که چيري يو سړی د يوې خبري منع کېدل او بندېدل غواړي نو دا فطري خبره ده چي د هغې خبري اسباب و ذرائع هم بند وي . ځکه خو بيا دغه د هغه ممنوع خبري سبب او ذريعه ګرزي مثلاً د خدای (ج) په شان کي ګستاخي بدهٔ خبره ده بلکه کفر ده نو که څوک د معبودانو باطله وو مذمت بيانوي نو ضرور به دغه خدای نا ترسه کفار د معبود برحق په شان کي ګستاخي کوي له دې وجهي الله (جل جلا له) په قرآن کريم کي د معبودانو باطله وو د بدو ويلو څخه منع فرمايلې ده:

قال الله تعالى :وَلَا تَسُبُّواْ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللّهِ فَيَسُبُّواْ اللّهَ عَدْواً بِغَيْرِ عِلْمٍ (سورة الانعام آية نمبر ۱۰۸)

ترجمه :تاسي ښکنځل مه کوئ و باطلو معبودانو ته او يا هغه چا ته چي له خدای (ج) ماسویٰ د اصنامو عبادت کوي ځکه بيا دوی و الله (جل جلا له) ته ښکنځل کوي ظلماً بې له علمه د دوی پر الله (جل جلا له) باندي، کوم وخت چي دغه آيت نازل سو قال الله تعالى : إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ (سورة الانبياء آيت نمبر ۹۸)

ترجمه: تاسي او هغه چي تاسي يې عبادت کوئ بې له الله (جل جلا له) دا به د جهنم خاشاک او لرګي وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

نو مسلمانانو د اصنامو بد ویل شروع کړو کفارو د دوی په مقابله کي و الله (جل جلا له) ته بد ویل شروع کړو نو الله (جل جلا له) مسلمانان له بد ویلو څخه منع کړو که څه هم بد ویل خو اصنامو ته جائز او روا کار ده خو لکن چي دوی ته بد ویل سبب د بدي وینا د الله (جل جلا له) سو نو الله (جل جلا له) مانع وفرمایله .چي اصنامو ته بد مه وایاست .

دغه رنګه د زنا بندېدل مقصود دي لیکن د زنا د دروازې د تړلو لپاره یې د اجنبي له اجنبي سره د خلوت او بې پردګي څخه هم منعه فرمایلې ده یعني یو سړی دا نه سي کولی چي له پردۍ ښځي سره دي په یوه کمره کي دو په دو کښېني که څه هم په دغه نفس ناسته او یو ځای والي کي خو ګناه نسته خو لکن دغه ناسته او خلوت سبب د زنا کرزي نو دغه نفس ناسته ورسره ممنوع ده .

دغه رنګه اصل ممانعت د شرابو او د سود ده خو لکن پېغمبر علیه السلام پر هغه اسبابو باندي هم لعنت ویلی ده چي هغه ذریعه او سبب د شراب نوشي او سود خوري وي لکه رسول الله ﷺ چي وایی :

لعن رسول الله فی الخمر عشرة عاصرها و معتصرها و شاربها و حاملها والمحمولة الیه و ساقیتها و بائعها و اکل ثمنها و المشتری لها و المشتراة له

(الحدیث ترمذی ۱۵۵ کتاب البیوع ، ج ۱)

ترجمه: رسول الله ﷺ وایی لعنت دي وي په شرابو کي پر لسو باندي په نښتېځونکي باندي او پر هغه چا چي و ده ته یې ور نښتېځي او پر څښونکي باندي او پر بارېدونکي باندي او پر هغه چا چي ور وړل .

کیږي او پر جوړونکي باندي او پر خرڅېدونکي باندي او پر هغه چا چي پیسې یې خوري او پر هغه ښځه چي و دې ته اخیستل کیږي او پر هغه نر چي و ده ته اخستل کیږي .

د فقهاء رحمة الله علیهم په زبان کي د یو فساد د ختمېدو لپاره چي کوم سبب او ذریعه وي د هغه سبب و بندېدلو ته سد ذریعه وایی یعنی په ظاهر دغه سبب جائز او مباح وي خو لکن دغه سبب داسي درجې ته رسیږي چي هغه شرعاً ناجائز وي . (الموافقات ۱۸۹ ج ۴)

علماء کرام څه نا څه اختلاف لري چي کومه ذریعه ممنوع ده او کومه نه ده ممنوع خو لکن د ددې لپاره علماء کرامو یو څو اصول لیکلي دي چي د هغو خلاصه دا ده د ذریعې لپاره څلور درجې دي .

اوله درجه:

که دا یقیني معلومه وه چي ده شي سبب او ذریعه د فساد او ناروا ده داسي ذریعه او سبب بالاتفاق ممنوع ده یعنی که دغه ذریعه په خپله یعنی بذاته ممنوع وي خو فبها والنعمة او که په خپله نه وي ممنوع خو لکن د ممنوع او ناروا لپاره سبب او ذریعه یقیني وي نو بیا د هغه مسبب په وجه دغه سبب او ذریعه منع ده .

دویمه درجه:

که دغه شی یقیني نه وي معلوم چي دغه سبب او ذریعه د فساد او ناروا ده خو لکن غالب گمان یې دا وي چي دغه شی سبب او ذریعه ده فساد ده نو دا صـــورةً هم په حکم د اولی درجې کي ده یعني د داسي سبب بندېدل هم لازمي دي ځکه په عملي احکامو کښي غالب گمان

Maktaba Tul Ishaat.com

په درجه د يقين کي وي .

دريمه درجه :

يعني دغه شى شاذ و نادر سبب د فساد جوړيدو يعني نه يې يقين وي او نه يې غالب گمان وي چي دغه شى سبب د فساد او ناروا ده بلکه يو وخت داسي پيښيږي چي دغه شى سبب د فساد وگرزي هغه هم نادره وي داسي اسباب بيا په اتفاق سره جائز دى يعني حکم د ممانعت نه سي پر کولى نو دغه دري صورته اتفاقي دي د علماء کرامو اختلاف نسته پکښي د هغو اولو دوو صورتو اسباب بالاتفاق بند او ممنوع دي او د دريم صورت أسباب بياجائز او صحيح دي .

څلورمه درجه :

کوم شى چي په کثرت سره سبب د فساد گرزي خو لکن اکثره وخت سبب د فساد نه وي يعني په ډېر استعمال سبب د فساد گرزي نو دغه درجه په منځ د دويمي درجې او د دريمي کي واسطه ده په دغه درجه کي د امامانو عليهم الرحمه اختلاف ده .

ځکه دلته دوه اصله متعارض راغلي دي ديوه اصل تقاضا جواز ده او د بل اصل تقاضا عدم جواز ده . ځکه چي و دې ته وگوري چي دغه سبب خو نه په طريقه د يقين سره او نه په طريقه د ظن سره سبب د فساد ده نو بيا دغه سبب جائز ده بندېدل يې نه دي پکار او چي و دې ته وگوري چي دا خو په کثرت استعمال سره دغه شى فساد ته رسيږي يعني سبب د فساد گرزي نو بيا د دې اصل تقاضا دا ده چي دغه سبب دى ناجائز سي ځکه سبب دفساد فساد وي نو شوافع صاحبان رحمة

الله علیهم و اول اصل ته نظر کوي د دغي درجې اسباب جائز بولي او احناف و مالیکه صاحبان رحمة الله علیهم دویم اصل مخته ایږدي هغه د دغي درجې ذریعه هم ممنوع بولي مثلا د یوې میاشتي په پور یو شی په زر ۱۰۰۰ روپی خرڅ کړي پیسې یې بائع ته نه وي ورکړې بیرته یې تر زر ۱۰۰۰ روپی په کمه واخلي شوافع صاحبان رحمه الله علیهم و دغي دویمي بیعي ته جواز ورکوي وایی دغه بیعه ده .

بیع په شریعت کښي جائز ده او احناف و مالیکه صاحبان رحمة الله علیهم وایی چې دغه بیع ممنوع ده ځکه دا شبه ربویٰ ده .

دا په کثرت سره ذریعه د فساد ګرزي چې عین ربویٰ ده نو لکه څنګه چې عین ربویٰ منع ده دغه رنګه شبه ربویٰ هم منع ده ځکه شبه ربویٰ سبب او مفضي وعین ربویٰ ته ده او دغه رنګه د اجنبي ښځي سره خلوت کول ممنوع ده په نزد د احنافو او مالکیه وو صاحبانو رحمه الله علیهم ځکه دغه که ممنوع نه سي اخیر مفضي وفسادته ده چې زنا ده او هم دا رنګه سفر کول د غیر محرم سره ممنوع ده ځکه دا اخیر مفضي و زنا ته ده او همدغه رنګه پر قبرو باندي مساجد جوړول چې اخیره نتیجه یې د مړي عبادت شروع کول دي او یا دفحشاو فحاشي مرکز جوړول دي نو له دې وجهي د دغي درجې اسباب و ذرائع ممنوع دي په نزد د احنافو او مالکیه صاحبانو رحمه الله علیهم که څه هم په نفس دغه سبب کي خو بدي او فساد نسته خو لکن مفضي فساد ته ده نو ځکه دا اسباب ټول ممنوع دي .

پنځمه درجه :

Maktaba Tul Ishaat.com

په معصیت کي معونت کول .

د سد ذریعې اصول چي ذکر سوله هغو دا سوال پیداسو چي د گناه په کار کي د معونت کولو څه حکم ده تر دغه قاعده لاندي خو مطلق تعاو ن په معصیت کي معصیت ده لکه دا قول د الله (جل جلا له) : وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ (ایت ۲، سورة المائدة)

ترجمه: معونت مه کوئ پر معصیت او پر تعدیٰ باندي . سوال دا ده چي له آیت مبارکه څخه خو دا معلومېږي چي مطلق معونت علی المعصیت منع ده که بعید وي او که قریب وي او حال دا ده که مطلق معونت علی المعصیت منع سي نو د خدای (جل جلا له) مخلوق به په سخته تنګي کي مبتلا سي او خاص کر په معاملاتو کي او د شریعت مزاج دا ده چي هغه د انسان لپاره د حرج او د تنګي سامان نه ده بلکه باعث د سکو ن او د سهولت ده الجواب دغه دواړي خبري په نظر کي نیول سوي دي نو ځکه فقهاء رحمه الله تعالی علیهم د تعاو ن بعض صورتونه ممنوع او بعض صورتونه جائز کړي دي په دې سلسله کي د فقهاء رحمه الله علیهم په تصریحاتو او قیاساتو کي اختلاف هم سته او تعارض هم .

د فقهاء رحمة الله علیهم مختلف تصریحات او جزئیات چي مخ ته کښېږدئ داسي څیي فهمېږي چي په معصیت کي د تعاو ن درې صورتونه ناجائز او گناه ده .

اول صورت

په داسي شیانو کي معونت کول چي د هغو وضع د گناه لپاره

سوې وي مثلا د داسي آلاتو او اسبابو تجارت چي له هغو څخه مقصد خاص لهو او لعب وي مثلا بت فروشي او د غزلو ويلو سامان د فلمي غزلو کېستان ، فحش تصويرونه ، د شرابو او ترياقو خرڅېدل وغيره دا ټول ګناه او ممنوع دي ځکه دا شيان بالذات د ګناه ذريعه ده يعنی دا معصيت قائم په دې پسې ده د دغو شيانو مقصد د ګناه او معصيت د اشاعت نه ماسویٰ بل هيڅ خبره نسی کېدلی . (رد المحتار کتاب الحظر والاباحة ، فصل فی البیع ۲۷۷ ، ج ۵)

دويم صورت

داسي کار کول چی بالذات جائز وي او د دا سړي نيت هم صحيح وي مګر بعض داسي قرائن موجود وي چي په داسي عمل د يو سړي د معصيت او ګناه قوت حاصليږي دا صورت هم معونت علی المعصيت ده و دې ته فقهاء رحمه الله عليهم مکروه وٸيلي دي مثال يې دا ده چي له يو داسي سړي سره د مرييي بيع وکړي چي په هغه باندې دغه بائع خبر وي چي دغه مشتري د لواطت مريض ده .

يا پر داسي ملک باندي اسلحه خرڅول چي هغه له مسلمانانو سره پر سر د عداوت وي چي و هغه ته فقهاء رحمه الله عليهم دار الحرب وايی نو دا واضح قرينه ده چي دغه مرييی د ګناه او معصيت لپاره اخستل کيږي دغه رنګه دغه اسلحه د عالم اسلام د ضرر رسولو لپاره خرڅيږي . (رد المحتار ۲۷۷ ، ج ۵)

دريم صورت

يعني چي يو کار په نيت د معونت علی المعصيت کوي يعني

هغه کار په اصل کي د معصيت لپاره نه وي لکن استعمال يې د گناه لپاره هم کېدای سي دا صورت هم ناجائز ده له دې وجهي چي د کار د بدوالي لپاره دوه صورته دي يو صورت دا ده چي دغه کار بالذات مذموم او گناه ده او دويم صورت دا ده چي دغه کار په اعتبار د ذات سره صحيح وي خو ليکن په وروسته کي چي کوم نيت او جذبه وي هغه مذموم او ناپسنده وي نو دغه درې صورته د معونت ناجائز او ناروا دي .

په اول صورت کي دا عمل بالذات مذموم ده ځکه خو دا معصيت قائم په دغه شي پوري ده او په دويم صورت کي که څه هم دغه عمل بالذات جائز ده خو لکن سبب لپاره د معصيت ده نو دا هم ناجائز سو . په معونت علی المعصيت کي داخل سو او دريم صورت بالذات جائز ده او سبب لپاره د معصيت هم نه ده خو ليکن نيت مذموم کړو . لکه ځنګه چي رسول الله ﷺ وايي انما الاعمال بالنيات . (الحديث)

ترجمه:دار او مدار د اعمالو موقوف تر نيت پوري ده له دې معلومه سوه چي انسان که څه هم صحيح عمل په نيت د فساد سره وکړي نو دغه عمل ممنوع او ناروا ده . (حلال وحرام مع زيادة)



المقصد الاولی

فی حرمة المسكرات والمفترات

مقصد اول په حرمت د مسکراتو او مفتراتو کي په دې کي ټول آئمه و مجتهدين دين متين سره متفق دي چي مسکرات مفترات

حرام دي ځکه اصول اربعه پر دې ګواهي ورکوي چي منشيات حرام دي خو ليکن صرف په خمر کي د امام ابو حنيفه رحمه الله عليه او د امام شافعي رحمة الله عليه اختلاف ده امام ابو حنيفه رحمة الله عليه هر مسکر حرام بولي خو مګر خمر نه ورته وايي او امام شافعي رحمه الله عليه و هر مسکر ته خمر وايي دغه اختلاف به هم انشاء الله العزيز بيان کړو په لږ وروسته کښي الله (جل جلا له) وايي: يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا۔ ترجمه: له تا څخه سوال کوي اې محمد ﷺ د شرابو او د قمار، ته ورته ووايه چي په شرابو او قمار کي غټه ګناه ده نفع هم پکښې سته خو ليکن ګناه يې تر نفعي غټه ده .

اعلم ان قوله: يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ۔ ليس فيه بيان انهم عن اى شئ سألوا ، فانه يحتمل انهم سألوا عن حقيقة و ماهية و يحتمل انهم سألوا عن حل الانتفاع به و يحتمل انهم سألوا عن حل شربه و حرمته الا انه تعالىٰ لما اجاب بذكر الحرمة دل تخصيص الجواب على أن ذلك السئوال كان واقعا عن الحل والحرمة۔

امام رازي رحمة الله عليه وايي چي په دغه قول کي يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ دا بيان نسته چي دوی له څه شي سوال وکو ځکه خو دا احتمال لري چي دوی دي له حقيقت او ماهيت د شرابو او د قمار څخه سوال کړی وي او دا احتمال هم لري چي له نفع اخستلو څخه دي سوال کړی وي او دا احتمال هم لري چي له حلت او له حرمت د څښلو څخه دي کړی وي خو لکن کوم وخت چي الله (جل جلا له) په ذکر د حرمت

سره جواب ورکو نو دغه تخصیص د جواب دلالت پر دې باندي کوي چي د دوی سوال له حل او له حرمت د څښلو څخه وو . . و فی الآية مسائل:

المسئلة الاولیٰ

قالوا نزلت فی الخمر اربع آيات نزل بمكة قوله تعالى: وَمِن ثَمَرَاتِ النَّخِيْلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَراً وَرِزْقاً حَسَناً (سورة النحل آية ۹۷) وكان المسلمون يشربونها و هى حلال لهم ثم ان عمر و معاذ و نفر من الصحابة رضى الله عنهم قالوا يا رسول الله ﷺ افتنا فى الخمر فانها مذهبة للعقل مسلبة للمال فنزل فيها قوله تعالى قُلْ فِيْهِمَا إِثْمٌ كَبِيْرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ۔ فشربها قوم وتركها اخرون ثم دعا عبدالرحمن بن عوف ناساً منهم فشربوا و سكروا فقام بعضهم يصلى فقراء قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ۔ لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ۔ فنزلت لَا تَقْرَبُوْا الصَّلٰوةَ وَ اَنْتُمْ سُكَارٰى ۔ (سورة النساء آية ۴۳)

فقل من شربها ثم اجتمع قوم من الانصار و فيهم سعد بن ابى وقاص فلما سكروا افتخروا و تناشدوا الاشعار حتى انشد سعد شعر فيه هجاء للانصار فضربه انصارى بلحى بعير فشجه شجة موضحة فشكا الى رسول الله ﷺ فقال عمر رضى الله عنه اللهم بين لنا فى الخمر بياناً شافياً فنزل اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ الىٰ قوله فَهَلْ اَنْتُمْ مُنْتَهُوْن۔ (سورة المائدة ۹) فقال عمر رضى الله عنه انتهينا يا رب۔

امام رازي رحمه الله علیه وایي چي په دې آیت کي مسائلي دي او له مسئله په دې کي ده چي په خمر کي څلور آیتونه نازل سوي دي په

مکه مکرمه کي دغه آیت نازل سو . وَمِن ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَراً وَرِزْقاً حَسَناً (سورة النحل نمبر ٦٧)

یعني د مېوو نه د کجور او د انګورو نه جوړوي د دې څخه نشه او عمده خوراک نو مسلمانانو به شراب څښل ځکه خو شراب حلال وو و دوی ته له دې وروسته حضرت عمر رضی الله عنه او معاذ رضی الله عنه او یو څه نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم و رسول الله ﷺ ته وویل چي موږ ته په شرابو کي فتویٰ را کړه دا خو مذهب عقل لره دی او مسلب مال ره دی نو بیا دغه آیت مبارک نازل سو: قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ اې محمد ﷺ ورته ووایه چي په دې کي ګناه تر نفع غټه ده له دې وروسته بعض خلکو څښل ځکه خو قطعا نه وو بند او بعض خلکو پرهېښوو له دې وروسته عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه له قوم څخه خلک را وغوښتو په مېلمستیا . هغوی راغلو بیا یې شراب وڅښل او نشه سو بعضي و لمانځه ته ولاړ سو په لمانځه کي دغه سورة شروع کړو قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ـ لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ـ دغه الفاظ یې رد و بدل ویل د لا اعبد پر ځای یې اعبد ویل نو بیا دغه آیت مبارک نازل سو لا تَقْرَبُوْا الصَّلٰوةَ وَ اَنْتُمْ سُكَارٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ ـ

یعني اې ایماندارو مه نږدې کیږئ و لمانځه ته کوم وخت چي تاسو په نشه کي یاست تر دې چي پوه شئ چي تاسو څه وایاست له دې آیت وروسته بیا د شرابو څښل ډېر کم سو بیا یو وخت د انصار و یو څه خلک سره یو ځای سو او په دوی کي سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه هم وو کوم وخت چي په شراب څښلو سره نشه سوو نو فخرونه یې

کول او شعرونه یې جوړول سعد یو شعر جوړ کو چې په هغه کې د انصارو ذم او بدي وه نو یو انصاري د اوښ د زامې په هډو کې . دی ښکاره ټپ یې پکښې جوړ کو سعد خپله غصه نوش کړه او شکایت یې و رسول الله ﷺ ته وکو حضرت عمر رضی الله عنه وویل یا الله (جل جلا له) موږ ته په شرابو کې پوره بیان وکړه نو بیا دغه آیت نازل سو إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ۔ إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ(سورة المائدة نمبر ۹۱)

فقال عمر رضی الله عنه انتهینا یا رب۔

یعني شراب او قمار او بتان او غشي مردار دي د شیطان کارونه دي د دې شیانو څخه ځان وساتئ نو په تحقیق سره به نجات پیدا کړئ له دغو نقصانو څخه شیطان خود غواړي چې واچوي ستاسو په مینځ کې دښمني او بغض په ذریعه د شرابو او قمار او منع کړي تاسو د الله (جل جلا له) د یاد څخه پس اوس هم تاسو به منع شئ ؟ حضرت عمر رضی الله عنه وویل موږ منع یو یا ربه .

قال القفال رحمه الله علیه والحکمة فی وقوع التحریم علی هذا الترتیب ان الله تعالی علم ان القوم قد کانوا ألفوا شرب الخمر و کان انتفاعهم بذلك کثیرا فعلم أنه لو منعهم دفعة واحدة لشق ذلك علیه فلا جرم استعمل فی التحریم ۔ هذا التدریج و هذا الرفق۔

حضرت قفال رحمة الله علیه وایی چې په وقوع د تحریم کې پر

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه ترتیب حکمت داوو چي الله (جل جلا له) پر دوی عالم وو چي قوم د شرابو څښلو سره ډېره مینه او الفت لري او ډېره نفعه وربانديِ اخلي نو که يې چیري په یوه وار ځیني بند کړي نو پر دوی باندي به ډېر سخت سي نو ځکه يې په تحریم کي دغه ترتیب او نرمي استعمال کړه.

المسئلة الثانی

اعلم ان عندنا ان هذه الاية دالة على تحريم الخمر فنفتقر الى بيان ان الخمر ما هو؟ ثم الى بيان ان هذه الايات دالة على تحريم شرب الخمر۔

دویمه مسئله امام رازي رحمة علیه وایي چي په دې خبره پوه سه چي زموږ پر مذهب باندي دغه آیت مبارک دلالت پر تحریم د شرابو کوي نو موږ و دې بیان ته محتاج یو چي خمر څه شي ته وایي او له هغه وروسته و دې بیان ته محتاجه یو چي دغه آت مبارک پر حرمت د څښلو دخمر باندي دلالت کوي.

اما المقام الاول فی بیان أن الخمر ما هو؟

اول مقام په دې کي ده چي خمر کوم شی ده؟

قال الشافعی رحمة الله علیه کل شراب مسکر فهو خمر و قال ابو حنیفه رحمة الله علیه الخمر عبارة عن عصیر العنب الشدید الذی قذف بالذبد۔

امام شافعي رحمه الله علیه و هر مسکر شرابو ته خمر وایي او امام ابو حنیفه رحمه الله علیه وایي چي خمر عبارت دی له هغو اوبو چي

Maktaba Tul Ishaat.com

لـه انـګـورو يـې و نښتـېـځـي او سـخـت سي او بيـا ځک غـور ځوي امـام شافعي رحمة الله عليه پر خپل دغه قول باندي چي هر مسکر خمر دی يعني هر مستي را وستونکی شی شراب دي . دلائل وايي:

الحجة الاولیٰ

احـدها ما روی ابو داود فی سننه عن الشعبی عن ابن عمر رضی الله عنهما قال نزل تحريم الخمر يوم نزل و هی من خمسة من العنب و التمر و الحنطة و الشعير والذرة والخمر ما خمر العقل -

اول دليـل دا ده چـي امـام ابـو داؤد رحـمة الله عـليـه پـه خـپـل سنن ابو داود کـي لـه شـعبـي رحـمة الله عليه روايت کوي او هغه يې له ابن عمر رضـی الله عـنـه روايت کـوي هـغـه ويـلي دي چي پـه کـومـه ورځ چي تـحـريـم د خـمـر نـازل سـو پـه هـغـه وخـت کي شراب لـه پـنځـو شيـانو جـوړيدو لـه انګورو او لـه خرما او لـه غنمو او لـه اوربشو او لـه جوارو او شـراب هـغـه شـي تـه وايي چي عقل پټوي . حاصل د دليـل يې دا ده چي حـضـرت عـمـر رضـی الله عـنـه يا ابن عمر رضی الله عنه تصريح پـه دې بـانـدي کـړې ده چـي پـه وخـت د حـرمـت د خـمـر کـي خمر لـه دغو پـنځـو شيـانـو جـوړيـدو . او دی عـالم پر لغت هم وو داسي نـه سي ويـل کـيدای چي د ده دعلم پر لغت د خمر باندي نه وي نو لـه دې دا معلومه سوه چي لـکـه څـنـګـه چـي و هـغـه مسکر تـه چي لـه انګورو جـوړ سوی وي خمر وايي دغـه رنګـه و هغـه مسکر تـه هم خمر وايي چي لـه خرما او لـه غـنمو وغـيـره څـخـه جـوړ سـوی وي او دغـه رنګـه دغـه مذکوره حضرت رضـی الله عـنـه پـه اخـيـر د حـديـث شـريف کي وايي چي خمر هغه شی تـه وايي

چي عقل مغلوب كوي نو دغه لفظ بيا عام ده تخصيص تر عنب پوري نه لري .

الحجة الثانية

روى ابو داود عن النعمان بن بشير رضى الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ان من العنب خمرا و ان من التمر خمرا و ان من العسل خمرا و ان من البر خمرا و ان من الشعير خمرا۔

دويم دليل دا ده چي امام ابو داود رحمة الله عليه له نعمان ابن بشير رضى الله عنه څخه روايت كوي هغه ويلي دي چي رسول الله ﷺ وويل چي خمر له انګورو وي او خمر له خرما وي او خمر له عسلو وي او خمر له غنمو وي او خمر له اوربشو وي .

والاستدلال به من وجهين احدهما ان هذا صريح فى ان هذه الاشياء داخلة تحت اسم الخمر فتكون داخلة تحت الآية الدالة على تحريم الخمر ۔

والثانى انه ليس مقصد الشارع تعليم اللغات فوجب ان يكون مراده من ذلك بيان ان الحكم الثابت فى الخمر ثابت فيها او الحكم المشهور الذى اختص به الخمر و هو حرمة الشرب فوجب ان يكون ثابتاً فى هذه الاشربة۔

امام شافعى رحمة الله عليه په دغه مذكور حديث باندي له دوو وجهو دليل نيولى ده او له وجه دا ده چي په دغه حديث شريف كي دا صراحةً ذكر دي چي دغه پنځه شيان تر نامه دا مر د خمر لاندي دي نو كوم وخت چي تر نامه د خمر لاندي سو نو تر هغه آيت لاندي سو كوم

چي دلالت کوي پر تحریم د خمر باندي چي هغه إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ ده.

دویمه وجه دا ده چي مقصود د شارع ﷺ په دغه حدیث کي تعلیم د لغاتو نه ده نو چي تعلیم د لغاتو مقصود نه سو نو دا لازمه ده چي مراد د شارع له دغه حدیث دا ده چي کوم حکم په خمر کي ثابت ده هغه حکم په دغو نورو کي هم ثابت ده یعنی لکه څنګه چي په خمر کي دا حکم ثابت وو چي د خمر څښل حرام دي دغه رنګه په هغه نورو کي هم دا حکم ثابت ده یعنی د هغو څښل هم حرام دي:

قال الخطابی رحمة الله علیه و تخصیص الخمر بهذه الاشیاء لیس لاجل ان الخمر لا یکون الا من هذه الخمسة باعیانها و انما جری ذکرها خصوصاً لکونها معهودة فی ذلك الزمان فکل ما کان فی معناها من ذرة او سلت او عصارة شجرة فحکمها حکم هذه الخمسة کما ان التخصیص الاشیاء الستة بالذکر فی خبر الربوا لا یمنع من ثبوت حکم الربوٰ فی غیرها۔

خطابي رحمه الله علیه وایي چي تخصیص د خمر په دغو شیانو پوري له دې وجهي نه ده چي خمر خاص له دغو شیانو جوړیږي له بل شی نه جوړیږي بلکه تخصیص یې له دې وجهي ده چي په هغه زمانه کي له هغو شیانو جوړیدو یعنی له غنمو او له اوربشو او له انګورو او له خرما او له عسلو نو هر هغه شی چي په معنا د دوی کي وي چي هغه عبارت ده له جوارو او له هغه اوربشو چي پوستکی یې نه وي او له څپوسه د درختو هغو لره حکم ددغو پنځو شیانو ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

لکه تخصیص د هغه شپږو شیانو په ذکر کولو سره په حدیث د ربوی کي چي منع نه راولي له ثبوت د حکم د ربوی په غیر د دغو شپږو شیانو کي یعني لکه څنګه چي په حدیث د سود کښي چي الحنطة بالحنطة والشعیر بالشعیر الی قوله مثلاً بمثلٍ . دغه سود مختص تر دغو مذکورو شیانو پوري نه ده بلکه هر هغه شی چي د دوی په معنا کي وي په غه کي سود راځي دغه رنګه په دغه حدیث د خمر کي چي کوم پنځه شیان ذکر دي دا مختص تر خمر پوري نه دي بلکه هر هغه شی چي په معنی د دغو پنځو کي وي هغه ته خمر وایي لکه بنګي او تریاق ځکه دوی هم مذهب او مخمر عقل لره دي نو تر لفظ د خمر لاندي دي .

الحجة الثالثة

روی ابو داود ایضاً عن ابن عمر قال قال رسول الله کل مسکر خمر و کل مسکر حرام ـ

دریم دلیل دا ده چي دا هم ابو داود رحمة الله علیه روایت کړی ده له نافع رضی الله عنه هغه روایت کړی ده له ابن عمر رضی الله عنه هغه وایي چي رسول الله ﷺ وویل چي هر مسکر شی خمر ده او هر مسکر حرام ده .

قال الخطابی رحمة الله علیه قوله علیه السلام (کل مسکر خمر) دل علی وجهین احدهما ان الخمر اسم لکل ما وجد منه السکر من الاشربة کلها والمقصود منه ان الآیة لما دلت علی تحریم الخمر و کان مسمی الخمر مجهولا للقوم حسن من الشارع ان یقال مراد الله تعالی من هذه

Maktaba Tul Ishaat.com

اللفظة هذا ام على سبيل ان هذا هو مسماه في اللغة العربية او على سبيل ان يضع اسماً شرعياً على سبيل الاحداث كما في الصلوة والصوم و غيرها۔

خطابي رحمة الله عليه وايي چې رسول الله ﷺ دغه قول كل مسكر خمر په دوو وجهو پر خپل مدعي باندي دلالت كوي او له وجه دا ده چې خمر د هر هغه څښونكي شي نوم ده چې له هغه سكر او مستي پېښيږي او مقصود له دې قول څخه دا ده چې دغه آيت إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ الى قوله فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ چې كوم وخت دلالت پر حرمت د خمر وكو نو خمر قوم ته نه وو معلوم چې خمر د كومو شرابو نوم ده نو شارع دا ور وښوده چې د الله (جل جلا له) مراد له لفظه د خمر څخه دغه مسكر شى ده په دې طريقه چې د دغه مسكر شي نوم په لغت عربيه كي خمر ده او يا په دې طريقه چې الله (جل جلا له) و دغه مسكر شي ته اوس نوى په شرع كي دغه لفظ كي لفظ د خمر وضع كړو لكه الله (جل جلا له) چې و دغه فعل مخصوص ته په شرع كي لفظ د صلوة مثلاً وضع كړى ده .

والوجه الآخر ان يكون معناه كالخمر في الحرمة و ذلك لان قوله هذا خمر فحقيقة هذا اللفظ يفيد كونه في نفسه خمراً فان قام دليل على ان ذلك ممتنع وجب حمله مجازا على المشابهة في الحكم الذى هو خاصية ذلك الشئى۔

خطابي رحمه الله عليه وايي چې بله وجه دا ده چې د دغه قول (كل مسكر خمر) معنا دا كېدلى سي چې دغه مسكر لكه خمر داسي دى

پـه حـرمت کي ځکه که څوک داسي ووايي چي دا خمر دی يعنی شراب دی مثلاً نو دغه لفظ خو دا تقاضا کوي چي فی نفسه دی دغه خمر وي او کـه پر دی باندي دلـيل قائم سي چي دغه شی کله خمر وو حقيقتاً نو بيـا دا لازمـه ده چـي مـجـازاً بـه اطلاق د خمر ور باندي کوي پر دغه شي بـانـدي يـعـنـی دا به وايي چي حکم يې حکم د خمر ده ځکه چي پر خمر بـانـدي چـي حکم د حرمت پـه کوم علت سوی وو هغه علت په دغه شي کي هم موجود ده چي هغه علت سکر ده .

الحجة الرابعة

روى ابـو داودرحـمـه الله عـن عـائشة رضـى الله عنها انها قالت سئل رسول الله ﷺ عن البتع فقال كل شراب مسكر فهو حرام۔

قـال الـخـطـابـى رحـمـه الله عـليه البتع شراب يتخذ من العسل و فيه ابطال كل تاويل يذكره اصحاب تحليل الانبذة و افساد لقول من قال ان الـقـلـيـل مـن الـمـسكـر مبـاح لانـه عـليـه السلام سئل عن نوع واحد من الانبـذة فاجاب بتحريم الجنس فيدخل فيه القليل والكثير منها و لو كان هناك تفصيل فى شئى منٰ انواعه و مقاديره لذكره و لم يهمله۔

څـلـورم دلـيـل دا ده امـام ابـو داود رحـمـه الله لـه ام الـمؤ منين بي بي عـائـشـه صديقة رضی الله عنها څخه روايت کوي دا وايي چي له رسول الله ﷺ څـخـه سـوال لـه بـتـع وسو رسول الله ورتـه وويـل چي هر هغـه شراب چي نشه او مستي راوسـتـونـکـي وي هغه حرام دي خطابي رحمه الله عـلـيـه وايـي چـي بـتـع هـغـه شرابو ته وايي چي له عسلو جوړ سوی وي او دا واي چي پـه دغـه حديث شريف کي ابطال د هر هغـه تـاويـل دی

Maktaba Tul Ishaat.com

چي اصحاب تحليل الانبذه يې ذکر کوي او فساد د هغه قول ده چي وايي قليل له مسکر څخه مباح ده ځکه له رسول الله څخه سوال له يوې نوعې د شرابو وسو او ده جواب په تحريم د جنس سره ورکړ نو په جنس کي قليل او کثير دواړه داخل دي نو که چيرې بالفرض و التقدير تفصيل پکښې واى مثلاً چي فلانى قسم حلال دى او فلانى قسم حرام دى يا مثلا که دونه مقدار وو نو بيا حلال دي او که دونه وو بيا حرام دي نو بيا به ئې دغسي مهمل نه ويل چي کل شراب اسکر فهو حرام يعني هغه نوع او مقدار يې بيا ذکر کول .

الحجة الخامسة

روى ابو داود رحمة الله عليه عن جابر بن عبد الله رضى الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ما اسکر کثيره فقليله حرام۔

پنځم دليل دا ده امام ابو داود رحمة الله عليه له جابر ابن عبد الله رضى الله عنهما څخه روايت کوي هغه وايي چي رسول الله ﷺ وويل هغه شى چي ډېر يې مستي راوستونکى وي د هغه لږ هم حرام ده يعني قليل او کثير د مسکراتو على السويه دى .

الحجة السادسة

روى ايضاً عن القاسم عن عائشة قالت سمعت رسول الله ﷺ يقول کل مسکر حرام و ما اسکر منه الفرق فملءُ الکف منه حرام قال الخطابى رحمة الله عليه الفرق مکيال يسع ستة عشر رطلاً و فيه ابين البيان ان الحرمة شاملة لجميع اجزاء الشراب۔۔

شپږم دليل دا ده چي مذکور راوي له قاسم رضى الله عنه هغه له

Maktaba Tul Ishaat.com

بي بي عائشه رضي الله عنها څخه روايت کوي دا وايي چي ما له رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي هغه ويل هر مسکر حرام ده او هغه شي چي د هغه فرق مستېدونکی او نشه راوستونکی وي له هغه شي څخه يو موټ هم حرام ده . خطابي رحمه الله عليه وايي چي فرق هغه پيمانې ته وايي چي په هغه کي شپاړس رطل ځايږي او په دې حديث کي واضح تر بيان دا ده چي حرمت و ټولو اجزاء د شرابو ته ور شامل ده .

الحجة السابعة

روى ابو داود رحمه الله عن شهر بن حوشب عن ام سلمه قالت نهى رسول الله ﷺ عن كل مسكر و مفتر۔

اوم دليل امام ابو داود رحمة الله عليه له شهر بن حوشب رضی الله عنه څخه روايت کوي او هغه يې له ام سلمه رضی الله عنها څخه کوي هغه وايي چي رسول الله ﷺ منع وفرمايله له هر مسکر شي او له هر مفتر شي څخه .

قال الخطابى رحمه الله المفتر كل شراب يورث الفتور و الخدر فى الاعضاء و هذا لا شك انه متناول لجميع الانواع الاشربة فهذا لاحاديث كلها دالة على ان كل مسكر خمر و هو حرام۔

خطابي رحمه الله چي وايي مفتر و هر هغه شراب و ته وايي چي مورثه يې فتور او خدر وي په اعضاء کي يعنی چي په اندامو کي سستي او کهالي پيدا کوي هغه ته مفتر وايي او دا حديث بېشکه و ټولو اقسامو د شرابو ته شامليږي امام رازي رحمة الله عليه وايي چي

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه احادیث ټول دلالت کوي پر دې باندي چي هر مسکر خمر دی او خمر حرام دي .

نو له دې دا معلومه سوه چي هر هغه شی چي مستي او نشه پیدا کوي په بدن کي لکه شراب وغیره مثلا هغه تر لفظ د مسکر لاندي دی هر هغه شئی چي په بدن کي سستي او کهالي پیدا کوي لکه نسوار وغیره هغه تر لفظ د مفتر لاندي دی .

النوع الثانی

من الدلائل علی ان کل مسکر خمر

دویمه نوع له دلائلو پر دې باندي ده چي هر مسکر خمر دی .

التمسك بالاشتقاقات قال اهل اللغة اصل هذا الحرف التغطية سمی الخمار خماراً لانه یغطی رأس المرء ة و خمرت رأس الاناء ای غطته والخامر هو الذی یکتم شهادته قال ابن الانباری رحمه الله علیه سمیت خمر لانها تخامر العقل ای تخالطه۔

دلیل په اشتقاقاتو سره ده اهل اللغة والا وایي چي اصل ددغه حرف تغطیة ده یعني پو ټیدل دي و ټکري ته ټکری وایي یعني خمار ورته وایي له دې وجهي چي د ښځي سر ور پټوي او دغه رنګه د خمرت رأس الاناء معنی دا ده چي ما د لوښي سر ورپټ کړ او دغه رنګه خامر و هغه چا ته وای چي خپله شاهدي پټوي او ابن انباري رحمه الله علیه وایي چي و خمر ته خمر وایي له دې وجهي چي عقل پټوي او سره ګډوډ کوي یې .

الاشتقاقات دالة علی ان الخمر ما یکون ساتراً للعقل کما سمیت

مسـكراً لانها تسكر العقل اى تحجزه و كأنها سميت بالمصدر من خمره خمراً اذا ستره للمبالغة و يرجع حاصله الى ان الخمر هو السكر لان السكر يغطى العقل و يمنع من وصول نوره الى الاعضاء فهذه الاشتقاقات من اقوى الدلائل على ان مسمى الخمر هوالمسكر۔

دغه اشتقاقات پر دې باندي دلالت كوي چي خمر و هغه شي ته وايي چي پټېدونكى عقل لره وي لكه څنګه چي مسكر نامدار سو ځكه خو عقل منع كوي او بندوي يې يعنى دا خمر په مصدر سره نامداره سو مبالغةً يعنى حق خو داوو چي د دغه خمر نوم مخمر واى خو لكن مبالغةً يې خمر ورته وويل لكه په زيد عدل كي مثلاً چي حق دا ده چي زيد عادل وو ايي خو لكن د زيادت عدل په وجه باندي زيد عدل وويل مبالغةً . حاصل د كلام دا ده چي خمر و دغه سكر ته يعنى و دغه نشې ته وايي ځكه خو دا سكر يعني دا نشه عقل سلبه وي نو دغه اشتقاقات له اقوىٰ دلائلو څخه دي پر دې باندي چي خمر د مسكر شي لپاره نوم ده يعني هغه مسكر يې مسمىٰ ده نو هر مسكر خمر ده او هر خمر حرام ده .

النوع الثالث
من الدلائل على ان الخمر هو المسكر

ان الامة مجمعة على ان الآيات الواردة فى الخمر ثلاثة اثنان منها ورد بلفظ الخمر احدهما هذه الآية والثانية آية المائدة والثالثة وردة فى السكر و هو قوله لَا تَقْرَبُوْا الصَّلٰوةَ وَ اَنْتُمْ سُكَارٰى ۔ و هذا يدل على ان

Maktaba Tul Ishaat.com

المراد من الخمر هو السکر ۔

دریمه نوع له دلائلو چې هغه دلالت کوي پر دې باندې چې خمر و مسکر ته وایي هغه دا ده چې امت اجماع پر دې باندې کړې ده چې هغه آیتونه چې په خمر کي وارد سوي دي هغه درې دي دوه په لفظ د خمر وارد سوي دي چې یو دغه آیت ده . وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ۔ او بل إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ .

او دریم دغه آیت چې لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَ اَنْتُمْ سُكَارٰى ۔ بلکه څلور آیتونه دي څلورم دا ده وَمِن ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَراً وَرِزْقاً حَسَناً ۔ نو دا دلالت کوي پر دې باندې چې مراد له خمر څخه سکر ده ځکه خو بعض آیتونه په لفظ د خمر سره راغلی دی او بعضې په لفظ د سکر سره اغلي دي مقصد او هدف د آیتونو یو شی ده نو دا معلومه سوه چې سکر او خمر یو شی دی .

النوع الرابع

من الدلائل ان سبب تحريم الخمر هو

ان عمرو معاذ قالا يا رسول الله ان الخمر مسلبة للعقل مذهبة للمال فبيّن لنا فيه فهما انما طلبا الفتوى من الله و رسوله بسبب كون الخمر مذهبة للعقل فوجب ان يكون كل ما كان مساوياً للخمر فى هذا المعنى اما ان يكون خمراً او اما ان يكون مساوياً فى هذا الحكم ۔

څلورمه نوع له دلائلو دا ده چې سبب د تحریم د خمر دا ده چې عمر و معاذ رضی الله عنهما وویل چې یا رسول الله چې خمر خو مذهب مال

لـره دى او مسـلـب عـقـل لـره دى نو تـه مور تـه بيان ښکښي وکړه يعني دوى دوو خـو لـه الله (جـل جـلا لـه) او الله (جـل جـلا لـه) لـه رسـول څخـه فتـوى طلب کړه لـه دې وجهي طلب کړه چي دغـه خمر مذهب او مسلب عـقـل لـره وو نـو الله (جـل جـلا لـه) دا فتـوى ورکړه چي دغـه مردار دي د شيـطـان عـمـل ده نـو لـه دې دا معلومه سوه چي دا لازمه ده چي هر هغـه شـى چى لـه خـمـر سـره مساوي وي پـه دغـه معنى کي يعنې چي مسلب عـقـل لـره وي نـو هغـه شى بـه يا پـه خپـل خمر وي او يا بـه لـه خمر سره پـه حـکـم کـي مسـاوي وي چي الله (جل جلا لـه) پـه دغـه آيت کي هغـه حکم ذکر کړ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ اه . . حـاصـل يې دا سو چي هر هغـه شى چي مذهب عـقـل لـره وي هغـه بـه يا عين خمر وي او يا بـه مسـاوي لـه خمره سـره وي نو ترياق و افيـون وغيـره کـه څـه هم پـه عيـن خمريت کي علماء اختلاف لـري چي عيـن خمر نـه دى لکن پـه مسـاويت کي لـه خمر سره هيـڅـوک اختـلاف نسـي کـولـى . ځـکـه خـو دوى هم داسي مذهب او مسـلـب عـقـل لـره دي لکـه خمر چي وو نـو دوى بـه لـه خمر سـره پـه حکم کي مشترک وي . يعني پـه حرمت کي نـه پـه نجسيت کي .

النوع الخامس من الدلائل

ان الله عـلـل تحريم الخمر بقوله تعالى : إِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْـنَـكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءِ فِيْ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ(سورة المائدة آيت ۹۱)

الله (جل جلا لـه) عـلـت د حرمت د خمر پـه دې خپـل قـول بـاندي ويلى ده چي شيـطـان اراده لري د دې چي ستـاسو پـه منځ کي دښمني او بغـض

واچـوي پـه ذريعـه د شـرابـو او د قمار او منع کړې تاسو لره له ياده د الله (جل جلا له) او له لمانځه څخه .

و لا شك ان هذا الافعال معللة بالسكر و هذا لتحليل يقيني فعلى هذا تكـون هـذه الاية نصاً فـي ان حـرمة الـخمر معللة بكونها مسكرة فاما ان يجب القطع بان كل مسكر خمر و ان لم يكن كذلك فلا بد من ثبوت هذا الـحـكم في كل مسكر و كل من انصف و ترك العناد علم ان هذه الوجوه ظاهرة جليلة في اثبات هذا المطلوب.

پـه دې کـې شک نسـتـه دغه افعال چې بغض او دښمني ده او بندېدل دي د خـداى (جـل جـلا لـه) لـه يـاده او لـه لمانځه څخه دا معلل پـه سکر سـره دي يـعـنـي د دغـو افـعـالـو علت نشه ده که دغه نشـه نه وي نو دغه افعال لـه انسـانـه نـه صادرېږي او دغه تعليل هم يقيني ده يعني الله (جل جـلا لـه) شـراب هـم په دغه وجه حرام کړي دي چې بغض او دښمني او بـنـدېـدل د خـداى (ج) لـه يـاده او لـه لمانځه څخه دي او دا چې راځي په سبب د شرابو راځي نو بنا پر دې باندي دغه آيت چې إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ (الاية) دا صـراحةً دلالت کـوى پر دې باندي چې شراب له دې وجهـي حـرام دي چـي مـسـکـر دي يعني دا سکر ى علت د حرمت ده نو له دې بيـانـه لازمـه سـوه چـې يا به قطع او يقين پر دې باندي کوي چې هر مسـکـر خـمـر دى . او کـه دا قـطـع نـه وسي بيا دا لازمه ده چې ثبوت د دغـه حـکـم بـه کـوي پـه هـر مـسـکر کې حاصل د کلام دا ده چې الله (جل جلا لـه) شراب په دې وجه حرام کړيدي چې انسان د خداى له ياده او له لـمـانـځـه څخه باسي او انسان د خداى (ج) له ياده او له لمانځه تر هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

وختته نه وزي چي نشه نه وي يعني په نشه سره انسان د خداى (ج) له
ياده او لـه لمانځـه وځي او نشـه په شرابو كي موجود ده نو ځكه دغه
نشــه علـت د حرمت د شرابو سوه نـو پــه هـر هغـه شي كي چي نشه
مـوجـوده وي هـغه به يا عين شراب وي او يا به په حكم د شرابو كي وي
يـعـنـي لـكـه څـنـګـه چي الله (جـل جـلا لـه) د شرابو په حقله وايي چي
شـراب مـردار دي د شيـطان عمل ده پرهيز ځيني وكړئ دغـه رنګه به د
دغـه مسكر شي په حقله هم واى چي دا د شيطان عـمل ده پرهيز ځيني
وكړئ .

پـه امـام صـاحب رحمة الله عليه پسي بعض شوافع رحمه الله عليه
وايـي چي امام صاحب رحمة الله عليه پر دې خبره باندي چي هر مسكر
خـمـر نـه ده بـلـكـه هغه يو مذكور شي خمر ده چي عـصير العنب الشديد
الـذى قذف بالذبد ده پـه دې آيت دليل نيولى ده . وَمِن ثَمَرَاتِ النَّخِيْلِ
وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَراً وَرِزْقاً حَسَناً ـ

تـرجـمـه:لـه ميـوو د خـرما او انـګـورو څخه جوړوي نشـه او رزق حسن
يعني الله (جل جلا له) پرموږ باندي احسان كړى ده په نشه جوړولو او
رزق حسن سره نـو دا لازمـه ده چـه چي دا نشـه بـه مبا ح وي . ځكـه
احسـان پـه مبا ح سره وي په حرام سره احسان نسي كېدلاى خو لكن دا
خبره غلطه ده چي امام صاحب پر خپله مدعى په دغه آيت دليل نيولى
ده بـلـكـه پـر دې بـانـدى شـريک بـن عبد الله دليـل نيولى ده هغه له خمر
مـاسوى نور تول شيان مبا ح بولي (مبسوط ۵، ج ۱۲، فتح القدير ۳۱
، ج ۹) امـام ابـو حـنيـفه رحمة الله عليه وايي چي هر مسكر حرام ده خو

Maktaba Tul Ishaat.com

هر مسکر خمر نه ده خمر عبارت له دې بولي عصير العنب الشديد الذی قذف بالذبد يعنی خاص له انګورو څخه او به باسي او هغه په جوش و غیره سره سخت سي او بيا څک غورځوي هغه ته خمر وايي . له دې ماسوی نور مسکرات حرام دي خو لکن حرمت يې تر،مر کم ده . ثمره د اختلاف په مينځ د امامانو کي په دې کي ظاهريږي امام صاحب رحمه الله عليه چي خمر خاص و عصيرالعنب ته وايي يعني پر دې مذکور شي اطلاق د خمر حقيقةً کول کيږي او پر هغه نور يې مجازاً کول کيږي ځکه دا په اجماع سره ثابت ده اجماع پر دې راغلې ده چي و دغه عصير العنب ته خمر وايي نو دغه مذکور شی حرام قطعي ده ځکه په دليل قعطي سره ثابت ده او هغه نور حرام ظني دي ځکه په دليل ظني سره ثابت دي چي اخبار احاد دی نو په عصير العنب کي علت د حرمت سکر نه ده بلکه عين يې حرام او مردار ده او هغه نورو مسکراتو کي علت د حرمت سکر ده امام صاحب رحمه الله عليه وايي په عصير العنب کي په قليل خوراک او کثير خوراک حد جاري کيږي يعني ولو که دونه وخوري چي مسکر نه وي او بيع يې باطله ده مستحيل يې کافر ده او ماسوی له عصير العنب څخه هغه نور مسکرات بيا داسي نه دي يعني مستحيل يې کافر نه ده او بيع يې په نفس جواز سره جائز ده او حد تر هغه وخته پوري يې په خورونکي باندي نه جاري کيږي تر څو چي مسکر نه وي يعني په قليل خوراک باندي يې حد نه جاري کيږي او امام شافعي رحمه الله عليه يې فرق نه کوي هغه وايي هر مسکر خمر ده او هر خمر حرام

ده .يعنـي علت د حرمت سكر ده لكه مختنه چي ذكر سوا او مستحل د تـولـو كافر ده او بيع يې باطله ده حاصل يې دا سو چي امامان صاحبان رحمه الله عليهما لـه عـصير العنب څخـه ماسوى د هغو نورو مسكراتو په حرمت كي سره متفق دي په خمريت كي سره مختلف دي كـه څـه هـم د امام صاحب رحمه الله عليه په قول كي غير مفتي به او مرجوع عنـه قولونه سته په آئنده كي به يې انشاء الله ذكر كړو بيرته خپل مقصد ته راځو چي حرمت د خمر ده .

المقام الثانی

فی بیان ان هذه الآية دالة على تحريم الخمر و بيانه من وجوه ﴿الاول﴾

ان الآية دالة على ان الخمر مشتملة على الاثم و الاثم حرام لقوله تعالى : قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالإِثْمَ وَالْبَغْيَ - (سورة الاعراف ۳۳) فكان مجموع هاتين الايتين دليلاً على تحريم الخمر ـ

دويم مقام په دې كي ده چي دغه آيت إِنَّمَا الْخَمْرُ دلالت پر حرمت دخمر باندي كوي او بيان يې له ډېرو وجهو ده اوله وجه دا ده چي دغه آيت دلالت كوي پر دې باندي چي خمر مشتمل دى پر ګناه باندي ګناه يې دا وه قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ـ

او ګناه حرام ده پـه دې قول د الله (جل جلا له) سره يعني ته ورته ووايه اې محمد ﷺ چي زما رب حرام كړي دي د بې حيايى خبري كومي چي پكښي ښكاره دي او كومي چي پكښي پټي دي او ګناه لره

او ناحقه زیاتي کولو لره په دغه لفظ داثم کي هر قسم گناه راغله خواه د عقیدې گناه وی یا د عمل گناه وي او بیا د ذاتي عمل گناه وي او که د خلقو دحقونو گناه وي نو دغه مجموع دواړه آیتونه دلالت کوي پر تحریم د مسکراتو باندي .

﴿الثانی﴾

ان الاثم قد یراد به العقاب و قد یراد به ما یستحق به من العقاب من الذنوب و ایهما کان فلا یصح ان یوصف به الا المحرم۔

دویمه وجه دا ده چي په لفظ داثم سره کله عقاب یعني عذاب مراد وي او کله هغه شی مراد وي چي په هغه سره انسان مستحق د عذاب کرزي چي هغه عبارت ده له گناه څخه چي هر یو مراد سي له محرم شئ ماسوی د بل شي توصیف نه په صحیح کیږي یعني په آیت کي د خمر توصیف په اثم سره سوی ده او اثم چي په هر معنی واخلي د محرم توصیف په کیږي نو دا معلومه سوه چي خمر حرام دي .

﴿الثالث﴾

انه تعالی قال و اثمهما اکبر من نفعهماصرح برجحان الاثم والعقاب و ذلك یوجب التحریم ۔

دویمه وجه دا ده الله (جل جلا له) ویلي دي چي گناه د دوی تر نفع غټه ده په ترجیح د اثم او عقاب ئی تصریح و کړه او دا تحریم واجبه وي .

الاثم الکبیر

فیه امور احدهما ان عقل الانسان اشرف صفاتها والخمرعدو العقل و

Maktaba Tul Ishaat.com

کل ما کان عدو الاشرف فهو اخس فیلزم ان یکون شرب الخمر اخس الامور و تقریره انما سمی عقلا لانه یجری مجری عقال الناقة فان الانسان اذا دعاه طبعه الی فعل قبیح کان عقله مانعاً له من الاقدام علیه فاذا شرب الخمر بقی الطبع الداعی الی فعل القبائح خالیاً عن العقل المانع منها و التقریب بعد ذلك معلوم ـ

پـه دې آیت شریف کې اثم کبیر ذکر ده په دې کې دا امور دي اول امر دا ده چې د انسان عقل اشرف د صفاتو ده او خمر دښمن د عقل ده نو هر هغه شی چې دښمن د اشرف وي هغه به اخس وي نو دا لازمه سوه چې د خمر څښل اخس د امورو ده تقریر یې دا ده چې عقل ته عقل وایي ځکه دا جاري پر ځای د کونډې د اوښ ده ځکه انسان چې کوم وخت طبعیت یې و یو بد فعل ته ور وغواړي نو عقل یې مانع سي له دغه بد فعل کولو څخه هغه یې نه ور پرېږدي و دغه بد کار ته لکه د اوښ لپاره چې کونډه ده کونده و هغې رسۍ ته وایي چې د اوښ د مخ پښه ور غبرگه کړي او په وې تړي او کوم وخت چې انسان شراب څیښي نو د ده هغه طبعیت چې بلونکی وي و بد فعل ته هغه خالي سي له عقله څخه هغه عقل چې منع کونکي وو له اقدام کولو څخه پر دغه بد فعل نو په دغه وجه اثم کبیر ده یعني غټه گناه ده .

ذکر ابن ابی الدنیا أنه مر علی سکران و هو یبول فی یده و یمسح به وجهه کهیئة المتوضئ و یقول الحمدلله الذی جعل الاسلام نور او الماء طهوراً و عن العباس بن مرادس أنـه قیل لـه فی الجاهلیة لمَ لا تشرب الخمر فانها تزید فی جرئتك فقال ما انا بأخذ جهلی بیدی فادخله

جوفی ولا ارض ان اصبح سید قوم و امسی سفیهم۔

د هغه مختته وجهی په تائید کي دغه کلام ذکر کيږي داسي ذکر سويدي چي ابن ابی الدنيا پر يو نشه يی باندي تبرېدی هغه په لاس کي بولي کولې په مخ يې مبتلي لکه اودس کونکی او ويل يې حمد دي وي هغه ذات لره چي اسلام يې نور کرزولی ده او اوبه يې پاکونکي کرزولي دي او له عباس بن مرداس څخه نقل سوی ده چي يو وخت په جاهليت کي و ده ته يو چا وويل چي ته شراب ولي نه چښې دا خو ستا په جرأت کي زياتوب راولي ده ورته وويل چي زه په خپل لاس جهل په خپل نس کي نه اچوم او نه زه په دې راضي کېږم چي سهار سردار د قوم يم او مابنام هغه بې عقل د قوم يم .

﴿وثانيها﴾

ما ذکره الله تعالى من ايقاع العداوة والبغضاء والصد عن ذکر الله و عن الصّلوة۔

او دويم امر هغه ده چي هغه عبارت ده له وقوع د دښمني په خپل ميانځ کي او منع کېدل له ياد د خدای (ج) څخه او منع کېدل له لمانځه څخه دغه هر يو اثم کبير ده يعني غټه گناه ده .

﴿وثالثها﴾

ان هذه المعصية من خواصها ان الانسان كلما كان اشتغاله بها اکثر و مواظبة عليها اتم كان الميل اليها اکثر وقوة النفس عليها بخلاف سائر المعاصی مثل الزانی اذا فعل مرة واحدة فترت رغبته فی ذلك العمل و كلما كان فعله لذلك العمل اكثر كان فتوره اكثر و نفرته اتم بخلاف

Maktaba Tul Ishaat.com

الشرب فانه کلما کان اقدامه علیه اکثر کان نشاطه اکثر و رغبته فیه اتم فاذا واظب الانسان علیه صار الانسان غرقاً فی اللذات البدنیة معرضاً عن تذکرة الاخرةو المعاد حتی یصیر من الذین نسوا الله فأنساهم انفسهم و بالجملة فالخمر یزیل العقل و اذا زال العقل حصلت القبائح باسرها و لذلك قال علیه الصلوة والسلام الخمر ام الخبائث ۔ تفسیر کبیر ص ٤٠١، ج ٢)

دریم امر دا ده چي معصیت او ګناه د خمر له خواصو څخه دي یعني چي د انسان شغل هر کله وربانديِ ډېر وي او همیشتوب یې وربانديِ تام وي دغونه یې میل و دوی ته ډېر وي او نور ګناهونه دغسي نه دي لکه زاني چي یو وار د زنا فعل وکړي نو د ده رغبت په دغه فعل کي سستیږي یعني چي ثونه یې د زنا فعل اکثر وي دغونه یې سستي او نفرت ځیني اتم او اکمل وي او شراب داسي نه دي ځکه چي پر هغو باندي چي ثونه اقدام اکثر وي دغونه یې رغبت پکښي اتم وي نو هر کله چي انسان همیشتوب وربانديِ وکړي نو انسان غرق ګرزي په لذات بدنیه کي او اعراض کونکی ګرزي له یاده د اخرت څخه حتی چي انسان ګرزي له هغو کسانو چي الله یې هېر وي او دوی هېر کړي وي خپل نفسونه او حال دا ده الله (جل جلا له) وایي: و لا تکونوا کالذین نسو الله فأنساهم انفسهم .

یعني تاسو مه کیږئ لکه هغه کسان چي الله (جل جلا له) یې هېر کړی وي نو هېر کړی وي دوی خپل نفسونه حاصل د کلام دا ده چي خمر عقل زائلوي نو کوم وخت چي عقل زائل سي نو ټول قبائح

گناهونه او معصيتونه پخپله حاصليږي نو ځکه رسول الله ﷺ وايي الخمر ام الخبائث يعني خمر د ټولو بدو شيانو مور ده .

قال الراغب فی کتابه مفردات القرآن

سمی الخمر لکونه خامرا للعقل ای ساترا له و هو عند بعض الناس راس لکل مسکر و عند بعضهم للمتخذ من العنب خاصةً و عند بعضهم المتخذ من العنب و التمر و عند بعضهم بغير المطبوخ و رجح انه اسم لکل شئ ستر العقل و کذا قال غير واحد من اهل اللغة منهم الدينوری والجوهری۔

امام راغب په خپل کتاب مفردات القرآن کي وايي چي شرابو ته خمر وايی له دې وجهي چي دوی خامر او پټونکي دي عقل لره دا خمر په نزد د بعض الناس نوم لپاره د هر مسکر ده او په نزد د بعض الناس نوم خاص لپاره د هغه شي ده چي له انګورو او له خرما جوړ سوې وي او په نزد د بعض الناس نوم لپاره د هغه شي ده چي پو خ سوي نه وي ترجيح و هغه ته ورکول سوې ده چي نوم لپاره د هغه شي ده چي پټيدونکي عقل لره وي او دغه رنګه غير واحد له اهل لغة څخه په دغه خبره قول کړی ده چي بعض له هغو څخه دينوري او جوهري دی .

قال صاحب الهداية من الحنفية الخمر ما اعتصر من ماء العنب اذا اشتد و هو المعروف عند اهل اللغة و اهل العلم قال و قيل هو راس لکل مسکر لقوله عيه السلام کل مسکر خمر و لانه مشتق من مخامرة إلعقل و ذلك موجود فی کل مسکر قال و لنا اطباق اهل اللغة علی تخصيص الخمر بالعنب و لهذ ا اشتهر استعمالها فيه و لان تحريم الخمر قطعی و

تحريم ماعد المتخذ من العنب ظنى قال و انما يسمى الخمر خمراً لتخمره لا لمخامرة العقل قال و لا ينافى ذلك كون الاسم خاصاً فيه كما فى النجم فانه مشتق من الظهور ثم هو خاص بالثرياء آه

صاحب د هدايې لـه احنافو څخه وايي چي خمر د انګورو اوبو ته وايي چي لـه انګورو يې ونښتېځي او سختي سي او پـه ځک سره غورځېدل كوي دا پـه نزد د اهل اللغة او اهل علم باندي معلوم شي ده يعني و دغـه مذكور شي ته وايي او دى وايي چي يو ډا ويلي دي چي خمر د هر مسكر شي نوم ده له جهتـه د دې قول د رسول الله ﷺ كل مسكر خمر او بل خمر مشتق ده له مخامرة د عقل يعني چي عقل پټوي نو يې خمر بولي او دا خمريت پـه هر مسكر كي پروت ده . او دى وايي چي موږ لره اطباق د اهل اللغة ده پر تخصيص د خمر تر انګورو پوري يعني چي اهل اللغة د انګورو والا تـه خمر وايي نو موږ هم د انګورو و اوبو تـه خمر وايو نو لـه دې وجهي استعمال د خمر هم د انګورو پـه اوبو كي مشهور ده او بل تحريم د خمر و قطعي ده او تحريم د هغو شيانو چي هغه له انګورو ماسوىٰ له بل شي څخه جوړ سوي وي ظني ده او دى وايي چي خمر ته خمر وايي له دې وجهي چي خميره كيږي نه، له دې وجهي چي عقل پټوي او دى وايي چي دا لـه دې سره منافي نه ده چي يو شى دې مخامر وي عقل لره خو لكن خمر دي نـه ورتـه وايي يعني تاسي خو واياست چي خمر له دې وجهي ورته وايي چي عقل پټوي نو هر هغه شى چي عقل پټوي هغه خمر ده . دى وايي دا خو بعيده خبره نـه ده چي عقل دي پټوي او خمر دي نه ورته

وايي لكه نجوم چي مشتق له نجم څخه ده او نجم ظهور ته وايي نو بايد و هر ستوري ته نجم ووايي ځكه خو هر يو ظاهر ده خو لكن اوس خاص تر ثريا پوري ده يعني تر پړوني پوري .

قال في الفتح

والجواب عن الحجة الاولى ثبوت النقل عن بعض اهل اللغة بأن غير المتخذ من العنب يسمى خمرا الا يرى انه قال في قاموس اللغة الخمر ما أسكر من عصير العنب او عام و قال العموم اصح لانها حرمت و ما بالمدينة خمر عنب و ما كان شرابهم الا البسر و التمر انتهى و هذا صريح في ان الخمر عند بعض اهل اللغة يعم ماء العنب و غيره و ان العموم اصح عند صاحب القاموس . (فتح القدير ۲۲ ج۹)

صاحب الفتح وايي چي د اول دليل جواب دا ده چي له بعض اهل لغتو څخه دا نقل ثابت ده چي هغه شی چي له انكورو ماسوی له بل شي جوړ سوی وي هغه ته خمر وايي لكه صاحب قاموس چي په خپل كتاب قاموس اللغة كي وايي خمر هغه شي ته وايي چي مسكر وي هغه له انكورو جوړ سوی وي او كه عام وي او ويلي دي چي عموم اصح ده ځكه كوم وخت چي خمر حرام سو په هغه وخت كي په مدينه منوره كي د انكورو شراب نه وو په هغه وخت كي د و چي خرما او د لندې خرما شراب وو نو ابن همام رحمه الله عليه وايي چي دغه عبارت صراحةً دا دلالت كوي چي خمر په نزد د بعض اهل اللغة عام دي د انكورو و اوبو ته هم وايي او و نورو ته هم وايي .

و قال الخطابی زعم قوم ان العرب لا تعرف الخمر الا من العنب

فیقال لهم ان الصحابة رضی الله عنهم الذین سمو غیر المتخذ من العنب خمرا لعرب فصحاء فلو لم یکن هذا الاسم صحیحاً لما اطلقوه ۔

خطابي رحمة الله علیه وایي چي یو قوم دا کمان کړی ده چي عرب خمر صرف و هغه شي ته وایي چي له انګورو جوړ سوي وي نو و دغه قوم ته دا ویل کیږي چي صحابه کرامو رضی الله عنهم فصیح عرب دي د هغه باوجود و هغه شي ته چي له انګورو ماسوی له بل شي جوړ سوي وي خمر وایي نو که دغه اسم و هغو شیانو ته صحیح نسي نو صحابه کرامو رضی الله عنهم په دغه نامه ولي ورته ویل ۔

و قال ابن عبد البر قال الکوفیون الخمر من العنب لقوله تعالی اعصر خمراً فقالوا فدل علی ان الخمر هو ما یعصر لا ماینبذ قال و لا دلیل فیه علی الحصر قال اهل المدینة و سائر الحجازئین و اهل الحدیث کل مسکر خمر و حکمه حکم ما اتخذ من العنب فیکفر مستحلها و تصیر نجسة و لا قیمة لها فی حق المسلم لا یجوز بیعها ولا الانتفاع بها۔

ابن البر رحمه الله علیه وایي چي کوفیان صرف د انګورو و اوبو ته خمر وایي له دې وجهي چي الله (جل جلا له) وایي اعصر خمراً نو دغه اعصر لفظ دلالت پر دې باندي کوي چي خمر و هغه شي ته وایي چي نښتېځل کیږي و هغه ته نه وایي چي خمیره کیږي نښتېځل صرف له انګورو کیږي له بل شي نه کیږي نو ځکه صرف د انګورو و اوبو ته خمر وایي ابن البر رحمة الله علیه وایي په دغه آیت کي پر دغه حصر باندي هیڅ دلیل نشته ځکه اهل المدینة او باقي اهل الحجاز او اهل الحدیث یعني محدثین دا وایي چي کل مسکر خمراً یعني هر

نشيـي شـي خـمر ده او حـكم يې حكم د هغه شي ده چي له انګورو جوړ سـوى وي او مسـتـحيـل يې كـافـر ده پـه حق د مسلمان كي يې قيمت نشته او نفع وربانديي اخستل ناروا ده .

قال القرطبى رحمة الله عليه

الاحـاديث الـــــواردة عن انس وغيره على صحتها و كثرتها تبطل مذهب الكوفين القائلين بان الخمر لا يكون الا من العنب و ما كانت من غيره فلا يسمىٰ خمراً و لا يتناولها اسم الخمر و هو قول مخالف للغة العرب والسنة الصحيحة و الصحابة الفصحاء۔

قـرطبـي رحـمة الله عـليـه وايي هـغـه ډېر احاديث صحيحه چي واردسـوي دي لـه انـس رضى الله عـنـه و غيـره څخـه هغـه باطلوي د كـوفيانو مذهب چي دوى قائلين دي پـه دې بانـدي چي خمر نه وي مګر لـه انـګـورو وي او هـغـه شى چي له بل شي وي هغه ته خمر نه وايي او هغـه تـه د خمر نوم نه ورشامليږي دغه قول مخالف له لغتو د عربو ده او مـخالف لـه سنة صـحيحه څخه ده او مخالف له فصيحو صحابه كرامو رضى الله عنهم څخه ده .

لأنهم لما نزل تحريم الخمر فهموا من الامر باجتناب الخمر تحريم كل مسكر و لم يفرقوا بين ما يتخذ من العنب و بين ما يتخذ من غيره بل سووا بينهما و حرموا كل نوع منها و لم يتوقفوا و لم يشكل عليهم شئ من ذلك بادروا الى اتلاف ما كان من عصير العنب و هم اهل اللسان و بلغتهم نزل القرآن الكريم فلو كان عندهم فيه تردد لتوقفوا عن الاراقة حتى يستكشفو الامر و يتفصلوا و تحققوا التحريم۔۔

یعني د کوفیانو قول له فصیح صحابه کرامؓ څخه مخالف ده ځکه کوم وخت چي تحریم د خمر نازل سو چي الله (جل جلاله) وویل له خمر اجتناب وکړئ نو صحابه کرامؓ له دغه امره تحریم د هر مسکر وفهماوه فرق یې نه وکو په مینځ د هغه کي چي له انګورو جوړیږي او د هغه کي چي له بل شي جوړیږي بلکه ټول یې علی السوی حساب کړو او نه یې توقف وکو او نه دغه امر پر دوی مشکل سو بلکه چسپاندي ئی وکړه و اتلاف د هغه شیانو ته چي له انګورو ماسوی له بل شي جوړ سوي وو او سره له دې چي صحابه کرامؓ اهل اللسان وو او د دوی پر لغتو باندي قرآن کریم نازل وو نو که چیري صحابه کرامو ته یو څه تردد او شک پکښې وای نو دوی به له چپه کېدلو د شرابو منع کړې وای تر هغه وخته چي و دوی ته امر معلومېدای او دا په واضحه توګه ورښکاره کېدای چي فلانی قسم حرام دی او فلانی قسم نه دی حرام .

و قد ذهب الی التعمیم

الامام علی کرم الله وجهه و سیدنا عمر بن خطاب و سعد ابن ابی وقاص و عبد الله بن عمر و ابو موسی اشعری و ابو هریرة و ابن عباس و السیدة عائشة رضوان الله تعالی عنهم اجمعین ۔

او حال دا ده چي و تعمیم ته امام علي کرم الله وجهه او حضرت عمر بن خطاب او حضرت سعد بن ابي وقاص او عبد الله بن عمر او ابو موسی اشعري او حضرت ابو هریره او عبد الله ابن عباس او اُمنا حضرت عائشه رضوان الله عنهم اجمعین دغو ټولو صحابه کرامؓ

Maktaba Tul Ishaat.com

تک کړی ده يو يې هم مختص تر عنب پوري نه بولي او بل حضرت عمر رضی الله عنه چې په کوم وخت په تقرير کي تحريم د خمر بيانوی د دې تعميم انکار يوه صحابي هم نه کاوه .

و قد ذهب الى التعميم من التابعين رحمه الله عليهم

الامام ابن المسيب رحمة الله عليه و عروة والحسن البصری رحمه الله عليه و سعيد ابن جبير رحمة الله عليه و آخرون و هو قول مالك رحمه الله عليه و الاوزاعی رحمة الله عليه والثوري رحمه الله عليه و ابن المبارك رحمه الله عليه و الشافعی رحمة الله عليه و احمد رحمة الله عليه و اسحاق رحمة الله عليه و عامة اهل الحديث الفقه على المذاهب الاربعة (٦٨، ج٥) .او دغه رنګه مذکور امامانو له تابعينو او عام اهل حديثو هم و تعميم ته تک کړی ده . حدثني نافع عن ابن عمر رضی الله عنه قال نزل تحريم الخمر و ان بالمدينة يومئذٍ لخمسة اشربة ما فيها شراب العنب ای الا قليلاً۔

و ماته حديث بيان کړ حضرت نافع له ابن عمر رضی الله عنه څخه دی وايی چې حرمت د خمر نازل سو په دغه وخت کې په مدينه منوره کې د پنځو شيانو شراب وو د انګورو شراب نه وو پکښې مګر ډير کم وو .

حدثنا عبد العزيز بن صهيب قال أنس بن مالك ما كان لنا خمر غير فضيخكم هذا الذی يسَمّونه الفضيخ فانی لقائم اسقی ابا طلحة و فلاناً و فلاناً اذا جاء رجل فقال هل بلغكم الخبر فقالوا و ما ذاك قال حرِّمت الخمر قالوا احرق هذه القلال يا انس قال فما سألوا عنها و لا راجعواها

بعد خبر الرجل۔

و مور ته حدیث بیان کړو عبد العزیز بن صهیب هغه وایي چي انس بن مالک ویل چي خمر له فضیخ ماسوی بل شی نه وو فضیخ و هغه شرابو ته وایي چي له خرما جوړ سوي وي نو زه ولاړوم و ابا طلحه و فلان و فلان ته مي خمر ورکول هغو څیښل په دغه وخت کي یو سړی راغی و یې ویل تاسي په دغه نوي خبر باندي خبر یاست صحابه کرامو ورته وویل په کم خبر باندي هغه سړي ورته وویل چي خمر حرام سویدي . صحابه کرامؓ وویل ای انس دغه منګی چپه کړه انس رضی الله عنه وایي چي دوی له دغه خبره وروسته نه بیا پوښتنه کړې ده د خمرو او نه یې بیا رجوع ورته کړې ده .

حدثنا عیسی و ابن ادریس عن ابی حیان الشعبی عن ابن عمر؛ قال سمعت عمر علی منبر النبی ﷺ یقول اما بعد ایّها الناس انه نزل تحریم الخمر و هی من خمسة من العنب و التمر و العسل و الحنطة والشعیر و الخمر ما خمر العقل ۔(بخاری ٦٦٤، ج ٢)۔

عیسی و ابن ادریس روایت وکړ له ابن حیان ، هغه روایت کړی ده له شعبي رحمه الله علیه هغه روایت کړی ده له ابن عمر رضی الله عنه هغه وایي چي ما له حضرت عمر رضی الله عنه أورېدلي دي د رسول الله ﷺ پر منبر باندي چي ویل یې امابعد ای خلکو حرمت د خمر نازل سویده او خمر له پنځو شیانو وي له انګورو او له خرما او له عسلو او له غنمو او له اوربشو او خمر هغه شي ته وایي چي عقل پټوي یعني خلل ور رسوي .

Maktaba Tul Ishaat.com

اعلم ان الخمر اسم لكل شراب مسكر سواء كان من العنب او التمر او غيرهما من الاشياء الخمسة التى سبق ذكرها انفا بل قالوا ليس منحصرا فى هذه الخمسة ايضاً هذا هوا الذى عليه الائمة الثلاثة و غيرهم من الجماهير السلف والخلف قالوا كل مسكر خمر و كل مسكر حرام و ما اسكر كثيره فقليله حرام۔(حاشيه ترمذى ۱۰ ، ج ۲ ، باب ما جاء فى الحبوب) ۔

پوه سه ای مخاطبه چي خمر د هر مسكر شي نوم ده هغه له انگورو وي او كه له خرما وي وي او كه له بل شي وي له هغو پنځو شيانو بلكه منحصر په دغو پنځو كي هم نه ده دا هغه قول ده چي پر هغه باندي ائمة ثلاثه او سلف و خلف جمهور دي . دوی وايي چي هر مسكر خمر ده او هر مسكر حرام ده او هغه شی چي كثير يې مسكر وي د هغه قليل هم حرام ده انتهى . كه انسان د انصاف په ستر گو و دې حديثو مباركو ته وگوري نو نور منشيات خو پر پرېږده خو د نسوار حرمت صراحةً ځيني معلوميږي ځكه سكر په معنى د نشې ده په معني د مستي نه ده لكه الله (جل جلاله) چي وايي: وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُم بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ (سورة الحج)

يعنى د قيامت په ورځ به خلك ويني نشه او په حقيقت كي به نشه نه وي و لكن د الله عذاب سخت ده او رسول الله ﷺ وايی كل مسكر خمر او اكابرين صحابه وايي لكه حضرت عمر رضى الله عنه وغيره الخمر ما خامر العقل يعنى خمر و هغه شي ته وايي چي عقل مغلوبه كوي او رسول الله ﷺ وايي ما اسكر كثيره فقليله حرام،

یعنی هغه شی چي ډېر يې عقل مغلوبه کوي د هغه شي لږ هم حرام دی نو لږ نسوار د غیر عادي انسان عقل مغلوبه کوي او ډېر نسوار د عادي انسان عقل هم مغلوبه کوي او ډېر نسوار غیر عادي انسان مرکته رسوي بلکه عادي انسان هم ختموي او په نشه کي اول وهلت معتبر ده و عادت ته اعتبار نشته . حاصل د کلام داسو چي هغه منشیات لکه شراب و تریاق و چرس و بنګي مثلا هغه خو دي حرام بلکه نسوار په داسي انداز کي دي چي په حرمت کي خو دي څوک شک نه کوي یعني که څه هم خمر نه دي د خمر په انواعو کي که نه سي داخل خو لکن حرام له شک خلاص دي .

اتفقت المذاهب الثلاثة و امام محمد رحمه الله علیه

من الاحناف المفتی به هو رأیه عند الحنفیة علی تحریم جمیع الاشربة المسکرة قلیلها و کثیرها نیّها و مطبوخها سواء کانت خمرا و هی عصیر العنب المتخمر أم غیرها من الاشربة الاخری المتخذة من الذبیب او التمر او العسل اوالتین او الحبوب کالقمح والشعیر و الذرة و نحوها و یحد کما سنوضح فی بحث الحدود شارب القلیل و الکثیر منها غیر الحنفیة و لا یحد الا بالسکر من الاشربة غیر الخمر او بشرب القلیل او الکثیر من الخمر عند الحنفیة لقوله علیه السلام کل مسکر خمر و کل خمر حرام ـ (رواه مسلم و الدار قطنی ،خلاصة الفقه الاسلامی ص ٥٥٠٤ ، ج ٧) البدائع ص١١٧ ، ج ٥) نتائج الافکار ص ٢٦ ، ج ١٨) و مابعدها الدرالمختار ص٣٢٤ ، ج ٥) (اللباب ص ٢١ ، ج ٢) بدایة المجتهد ص٤٥٧ ، ج ١) (شرح الکبیر و الدسوقی ص٣٥٢ ، ج ٤) (القوانین الفقیه

Maktaba Tul Ishaat.com

ص ١٧٤) (مغنی المحتاج ص ١٨٧ ، ج ٤) (المهذب ص ٢٨٦ ، ج ٢)
(المغنی ص ٣٠٤ ، ج ٤) و مابعدها کشاف القناع ص ١١٦ ، ج ٤) و
مابعدها مذاهب ثلاثه ۔

او امام محمد رحمة الله علیه له احنافو چي مفتي به قول په نزد د احنافو هم دغه ده متفق دی پر حرمت د ټولو اشربه مسکره وو یعني چي هر نشه راوستونکی شی حرام ده هغه نشه راوستونکی شی لږ وي او که ډېر وي اور مسح کړی وي او که یې نه وي مسح کړی هغه خمر وي چي له انګورو جوړ سوی وي او که نور اشربه وي چي له وڅکو جوړ سوي وي یا له خرما جوړ سوي وي یا له عسلو جوړ سوي وي او یا له انځرو او یا له دانو لکه غنم او اوربشي او جواري وغیره او په نزد د غیر احنافو باندي پر قلیل او کثیر باندي انسان په حد کیږي یعني حد پر قلیل او کثیر باندي جاري کیږي او په نزد د احنافو باندي چي دونه وخوري چي و سکر ته ورسیږي نو حد پر جاري کیږي که تر هغه کم وو بیا نه پر جاري کیږي او په شرابو کي پر قلیل او کثیر باندي جاري کیږي او په نزد د احنافو دغه مذکور کتابونه ټول دا وایي چي هر نشیي شئی حرام ده لکه رسول الله ﷺ چي وایي و أنا انهاکم عن کل مسکر یعني زه تاسو له هر نشیي شي څخه منع کوم او رسول الله ﷺ وایي کل مسکر خمر و کل خمر حرام او رسول الله ﷺ وایي ما اسکر کثیره فقلیله حرام او رسول الله ﷺ وایي ان من العنب خمراً و من العسل خمرا و من الزبیب خمرا و من الحنطة خمرا و من التمر خمراً و انا انهاکم عن کل مسکر (رواه احمد و اصحاب

السـنـن . ددغـو حـديثـو تـرجـمـه مختـه ذکر سوې ده . الحافظ الكبير ابـى بكر عبد الرزاق بن همّام الصنعاني رحمه الله عليـه دخمر او اشربه پـه متعلق تقريباً پنځه پنځوس صفحې حديث ليکلي دي خو موږ يې د خـوف تـطـويـل پـه وجـه نـه سـو ذكر كولاى . د هغو حاصـل دا دی چې رسول الله ﷺ وايي لکه موږ چې مختـه ذکر کړو چې هر مسكر خمر دي او هر خمر حرام دی او زه تاسو له هر نشيي شي څخه منع کوم د هر نشيي شي قـليـل او كثيـر حرام ده او زر به زما امتيان شراب په نوي نـومـانـو پيداکړي خـو هـغـه ټول خمر دي حرام دي پر دغه طرز ټولي صفحې ډکي دي . مصنف عبدالرزاق ص ۲۱، ج ۹) و الله اعلم و علمه اتم و اكمل .



المقصد الثانی

فی حرمت اكل المسكرات والمفترات

دويم مقصد پـه حرمت د خوراک د مسكراتو او مفتراتو كښي ده .

دا مـقـصـد هـم د تېر مقصد پـه شان متفق عليـه ده ځکه پـه حرمت د مسكراتـو او مـفـتـراتـو ټـول ائـمـه اربـعـه او اهـل حديث او كـوفـين او حـجـازئيـن او خـلف و سـلف جمهور ټول متفق دي خو لکن پـه درجه د حرمت كي اختلاف ده نو دا مقصد هم دغسي متفق عليـه ده ځکه چې پـه حرمت د مسکراتو او مفتراتو متفق وو نو پر حرمت د خوراک د مسکراتـو او مـفـتـراتـو بـه پـه طريقه اولى سره متفق وي ځکه داسي شئی نسته چې حرام دي وي او خوراک دي جائز وي و لو که دا حرمت

د نجاست په وجه نه وي بلکه د مسکرة یامضرة په وجه وي ځکه دا لازمه نه ده چي که یو شی حلال وو نو خوراک به یې هم حلال وي بلکه یو شی دي حلال وي مګر خوراک دي حرام وي حرمت دی د یو بل شي په وجه وي لکه ضرر او سکر وغیره مثلا او دا لازمه ده چي که یو شی حرام وو خوراک به یې هم حرام وي ماسوی له حالت اضطراري او هغه ځانته مسئله ده نو له دې وجهي موږ وایو چي دا مقصد هم متفق علیه ده پر حرمت د خوراک یې ټول علماء متفق دي که څه هم د تېر مقصد د ذکر کولو په وجه د دې مقصد د بیانولو ضرورت نه وو خو لکن په دې مقصد کي یو څه داسي دلائل او عبارت وو چي هغه د دې جدید عصر تر منشیاتو پوري تعلق لري نو له دې وجهي موږ دغه مقصد ځان ته یو مقصد وبلئ .

لقد زعم بعض الفساق

ان البــــــيرة حلال شربها لانها من ماء الشعير وكذلك نقيع البلح (العرقی) و خمير الخبز الشعير (البوظة) و نبات (القات) و (الحشيش) و (الفتكه) زعموان هذه المشروبات و غيرها من المخدرات حلال شربه بحجة ان هذه المشروبات لم تكن فی عصر الرسول ﷺ و لم يرد نص بتحريمها ـ

بعض فاسقانو داګمان کړی ده چي د بیر څښل حلال دي ځکه دا د اوربشو له اوبو څخه جوړیږي او دغه رنګه عرقي چي یو قسم د شرابو ده یعنی هغه شراب دي چي کچه خرما په هغه خپل طرز خمیره کړي کم وخت چي شراب سي بیا لږ اوبه ور ګډي کړي و دغه ته عرقي وایي

او دغـه رنګـه البوظة دا هم یو قسم شـراب دي چې لـه اوربشـو يې جوړوي او دغه رنګه القات دا يو وابنه ده چې پاڼې يې ژوولې کيږي په کثير کي کسل او سستي ستـه پـه قليل کي نسته چې په پاکستان کي پان ورتـه وايي يعني دا يو قسم پان ده او يو قسم پان د تنبول له پاڼو جوړوي پـه هغـه کي نشـه نستـه پـه شرط د دې چې نور نشيي شيان نـکړي پـه ګـډ او دغـه رنګه حشيش يعني چرس او فتک چې يو قسم نشه ده دوی دا ګمان کړی ده چې دغه مشروبات او دغه رنګه نور مخدرات د دغو خيبنـل او خوراک حلال ده ځکه دغه مشروبات نه د رسول اللـه ﷺ پـه زمـانـه کي وو او نه يې په تحريم باندي نص وارد سوی ده .

و قد اجتمع كلمة العلماء على تحريم هذه المشروبات و غيرها من المخدراة المحدثة مثل الحشيش و الافيون وغيرهما و قد صدرة الفتوى من فضيلة الاستاذ الاكبر مفتي الديار المصرية نشرت في مجلة الازهر في عدد شعبان سنة ١٣٦٠ نلخصها هنا لعموم الفائده حتى ينتفع بها الجميع و يقنع بها من في قلبه شك او ريب في حرمتها فنقول انه لا يشك شاك و لا يرتاب مرتاب في ان تعاطي هذا المواد حرام لانها تودى الى مضار جسمية و مفاسدة كثيره فهي تفسد انعقل و تفتك بالبدن الى غيرذلك من المضار والمفاسد الخطيرة فلا يمكن ان تأذن الشريعة بتعا طيها مع تحريمها لما هو اقل منها مفسدة و اخف ضرراً و لذلك قال بعض علماء الحنفية (ان من قال بحل الحشيش زنديق مبتدع) شامی ٤٥٨ ج ٦) و هذا منه دلالة على ظهور حرمتها و وضوحها و انه لما كان الكثير من

الـمـواد يـخـامـر الـعـقـل و يغطيه و يحدث من الطرب و اللذة عند متناولها كـانـت داخـلـة فيـمـا حرمه الله (جل جلا له) تعالى فى كتابه العزيز و على لسان رسول الله ﷺ (من الخمر) (والسكر) -

او پـه تـحـقـيـق سـره د عـلـمـاء كـلـمـة جمع سوې ده پر تحريم د دغو مشـروبـاتـو او دغـه رنګـه پـر نورو عصريه وو مخدراتو لکه چرس او افيـو ن او غيـر هـمـا او دغه رنګه له استاذ اكبر مفتي ديار المصر څخه فتـوى صـادره سوې ده پـه ميـاشـت د شـعبا ن سنـه ۱۳۶۰ کي موږ د عام فـائـدې لپـار ه د هـغـه خلاصه بيانه وو تر داسي حده چي ټول خلق فائده وربـانـدي واخـلـي او د هـغـه چا چي پـه زړه کي يې شک او ريب وي پـه حرمـت د دغـو شيانو کي هغه شک او ريب يې له زړه ورباندي وخيژي نـو مـږ وايـو چي شاک او مرتاب دي شک او ريب نه کوي په دې کي چي تـعـاطـى د دغـو مـوادو يـعـنـي شمول او تناول اخذ و ګرفت د خوراک او څښـاک د دغـو مـوادو حرام ده څـکـه دا مـفـضـى د بدن و ضرر او ډېرو مـفـاسـدو تـه ده څـکـه دغـه اشياء عقل فاسدوي او بدن تـه سستي ور پيښـوي دغـه رنـګـه نـور ضـررونه او غټ غټ فسادونه صورت ته ور پيښـوي نو دا امکان نه لري چي شريعت مطهره دي د هغه شي د تناول او شـمـول اجازه نه کوي چي هغه دي تر دغو موادو په فساد کي کم وي او پـه ضـرر کي سپک وي . او دهغو اجازه دي وکړي چي دهغو ضرر او فسـاد زيـات او ډير وي .نو ددغـو اجازه خو په طريقه اولى سره نه کوي نـو لـه دې وجهي بعض عـلـمـاء احناف وايي کوم څوک چي د حشيش په حلت باندي قول کوي هغه زنديق او مبتدع ده . (شامي ص ۴۵۸ ج ٦)

دغـه قـول پـر ظاهر او واضح حرمت د دوی باندي دلالت کوي او بل داسي ډېر مـواد چي هغه عقل خميره کوي او عـقل پټوي او په وخت د شـمـول او تـنـاول کي خوشحالي او خوند پيدا کوي هغه په هغه شيانو کـي چي الله (جـل جـلا لـه) په کلام عزيز کي حرام کړي دي داخـل دي او پـه هـغـو کـي داخـل دی چي الله (جـل جلا له) د رسول الله ﷺ په ژبه حرام کړي دي چي هغه عبارت له خمر او سکر څخه ده .

قال الشيخ الاسلام ابن تيميّه
فى كتابه(السياسة الشرعية)

ما خلاصته ان الحشيش حرام يحد متناولها كما يحد شارب الخمر و هى أخبث من الخمر من جهة انها تفسد العقل والمزاج حتى يصير فى الرجل تخنث و دياثت و غير ذلك من الفساد و انها تصد عن ذكر الله و عن الصلوة و هى داخلة فيما حرم الله ورسوله من الخمر و السكر لفظاً او معناً۔

شيخ الاسلام ابن تيميّه په خپل کتاب سياسة الشرعية کي ويلي دي خـلاصه يې دا ده چي حشيش چرس حرام دي څکونکی يې داسي په حد کيـږي لـکـه شراب څيښـونـکی چې په حد کيږي او دا حشيـش تر شرابو هم بد دي له دې وجهې چي دغه عقل او مزاج فاسده وي حتی په سړي کـي نـر ښـځيتـوب او دېوث تـوب پيـدا کوي او له دې ماسوی نور فسـادونـه هم پيدا کوي او انسـان د خدی (ج) لـه يـاده بندوي او لـه لـمانځه يې بندوي نو دا داخل دی په هغه شي کي چي الله (جل جلا له) او د الله (جل جلا له) رسول حرام کړي دي چي هغه عبارت ده له خمر او

Maktaba Tul Ishaat.com

لـه سـکر څخه يعني داشيان يا داخل په لفظ د خمر کي دي يا پـه حکـم د خمر دي .

قـال ابـو مـوسی اشعری رضی اللّه عنه يا رسول اللّه افتنافی شرابين کـنـا نـصـنـعهـمـا باليمن البتع و هو العسل ينبذ حتی يشتدوالمزر و هو من الــذرة و الشعــيرة ينبذ حتی يشتد قال و کان رسول الله ﷺ قد اعطی جوامع الکلم بخواتمه فقال (کل مسکر حرام) - رواه البخاری و المسلم)

ابـو مو سی اشعري رضی الله عنه وويل يا رسول رسول الله ﷺ و مـوږ تـه فتـوی راکـړه پـه دغـو شـرابـو کـي چـي هغه موږ پـه يمن کي جـوړه وو يـو قسـم بتـع دي بتـع هغه شراب دي چي عسـل نبيذ کړی تر داسـي و ختــه چـي سـخـت سي او بـل قسـم مزر دي هغـه بيـا جواري او اوربشـي نبيـذ کړي يعني په هغه خپله طريقه يې سره خشّتي کړي تر داسـي و ختـه چـي سـخـت سي او ويلي دي چي رسول الله ﷺ د داسـي کـلـمو خاوند ووچي يو کلمه به يې وويله تر پايه به دغه کلمه و خپلو افـرادو تـه ور شـامـلېـده . نـو رسول الله ﷺ په جواب کي ورتـه وويل کـل مســکـر حرام يعني هر نشيي شئی حرام ده که داغه شـرابـين وي او که نور نشيي شيان وي . (رواه البخاري و مسـلم)

وعـن الـنـعـمـان بـن بشير رضی اللّه عنه قال قال رسول الله ﷺ ان مـن الحنطة خمرا و من الشعير خمرا و من الذبيب خمرا و من التمر خمرا و من العسل خمرا و أنا انهی عن کل مسکر - (رواه ابو داود و غيره)

نـعـمـا ن بـن بشـيـر رضـی الله عـنـه وايي چي رسول الله ﷺ وويـل چي لـه غنـمو خمر وي او لـه اوربشـو خمر وي او لـه وڅکو خمَر وي او لـه

Maktaba Tul Ishaat.com

خرما خمر وي او له عسلو خمر وي او زه له هر مسکره نهي او منع کوم يعني تخصيص تر شئ پوري نه لري .

وعن ابن عمر رضى الله عنهما ان النبى ﷺ قال كل مسكر حرام و فى رواية كل مسكر خمر كل خمر حرام رواهما مسلم۔

د حضرت عمر رضی الله عنه زوی وايي چي نبی عليه السلام وويل چي هر نشيي شئ حرام ده او په بل روايت کي وايي چي هر نشيي شئ شراب ده او هر شراب حرام ده نو نتيجه يې دا سوه چي هر نشيي شئ حرام ده .

وعن عائشة رضى الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ كل مسكر حرام وما أسكر الفرق منه فملءُ الكف منه حرام قال الترمذى هذاحديث حسن و الفرق مكيال يسع ستة عشر رطلا و معناه ما اسكره كثيره فقليله حرام۔

حضرت عائشه رضی الله عنها وايي چي رسول الله ﷺ وويل چي هر مسکر حرام ده او هر هغه شی چي فرق يې مسکر وي له هغه شي څخه يو موټ هم حرام ده فرق هغه پيمانې ته وايي چي په هغه کي شپاړس رطل ځايږي شپاړس رطل اوه کلو يو څه بالا کيږي . حاصل ئی دادی هر هغه شی چي ډېر يې مسکر وي د هغه لږ هم حرام ده يعني و لو که يې دغه لږ مسکر نه وي هم دغه لږ حرام ده .

وروى اهل السنن عن النبى ﷺ من وجوه أنه قال (ما أسكر كثيره فقليله حرام) صححه الحفاظ۔

اهل السنن له رسول الله ﷺ دغه حديث شريف په نورو وجوهو

Maktaba Tul Ishaat.com

هم روايت کړی ده دی وايي چې رسول الله ﷺ وويل د هر هغه شي چې ډېر يې مسکر وي د هغه شي لږ هم حرام ده . حافظانو مبارکانو و دغه حديث شريف ته صحيح ويلی ده .

وعن جابر رضى الله عنه ان رجلاً سأل النبى رسول الله ﷺ عن شراب يشربونه بأرضهم من الذرة يقال له المذر قال أسكر هو قال نعم فقال كل مسكر حرام۔

حضرت جابر رضى الله عنه وايي چې يو سړي له رسول الله ﷺ څخه د يو قسم شرابو پوښتنه وکړه چې هغه دوی په خپل وطن کې څښل او هغه يې له جوارو څخه جوړول د هغو نوم مزر وو رسول الله ﷺ په جواب کې ورته وويل دغه شراب مسکر دی؟ دا سړي ورته وويل هو مسکر دی . رسول الله ﷺ ورته وويل هر مسکر حرام ده او دا رسول الله ﷺ پسې وويل:

ان على الله عهدا لمن يشرب المسكر ان يسقيه من طينة الخبال قالوا يا رسول الله ما طينة الخبال قال عرق اهل النار او عصارة اهل النار۔(رواه مسلم)

او رسول الله ﷺ وويل کوم څوک چې مسکرات څښي الله (جل جلاله) دا عهد کړی ده چې و هغه ته به له هغه فاسدي ختې اوبه‌دل ورکوي صحابه کرامو وويل يا رسول الله ﷺ هغه کومه ختې ده رسول الله ﷺ ورته وويل هغه د دوزخيانو ويني او يا خوله يعني چې په دغو جوړه وي او يا څڅخول د دوزخيانو يعني د دوزخيانو ويني او خوناب چې په کوم ځای کې جمع کيږي الله (جل جلاله) له

Maktaba Tul Ishaat.com

هغـه او بېدل ور کـوي . الله (جـل جـلا لـه) دي ټول مسلمانان څيني وساتي .

عـن ابـن عبـاس رضـى الله عنه عن النبى ﷺ كل مخمر و كل مسكر حرام- (رواه ابو داود) (و المخمر) ما يغطى العقل -

ان عبـاس رضـي الله عـنـه لـه نبـي ﷺ څـخـه روايت كـوي چي هر مـخـمـر او مـسـكـر حـرام ده مـخـمـر هغه شى ته وايي چي عقل مغلوبه كوي .

و الاحـاديـث فـى هـذا البـاب كثيرة جمع رسول الله ﷺ بما اوتيته مـن جـوامـع الـكلم كل ما غطى العقل و أسكر و لم يفرق بين نوع و نوع و لا عبرة لكونه مأكولاً او مشروباً و كل ذلك حرام و حدوثها بعد عصر النبى ﷺ و الائمة لم يمنع من دخولها فى عموم كلام رسول الله عن المسكر فقد حـدثـت أشربة مسكـرة بعـد الـنبـى ﷺ و كـلهـا داخلة فى الكلم الجوامع من الكتاب والسنة-

پـه دې بـاب احـاديـث ډېـر دي خو رسول الله ﷺ هر هغه شئى چي عـقـل پټوي او نشـه راولي جمع كړي دي په خپـل كلام كي پـه دې سبب چي رسـول الـلـه ﷺ جـوامـع الـكـلم وو يعني هر ه كلمـه يې جامع وه لكه (كل مسكر حرام مثلا) او د مسكراتو د انواعو مينځ كي فرق نه ده كـړى چي فـلانـى قسـم حـرام او فـلانـى قسم حلال ده او مـأكـول او مشـروب لـره هـم اعـتبار نسته نو دغـه مسكرات ټول حرام دي د محمد مـصـطفـىٰ ﷺ تـر زمانه وروسته پيدا سوي دي او ائمة كرام رضوان الله عـنـهـم اجـمـعـيـن هـم دا مـنـع كړې چي كـل مـسـكـر حـرام نـو دغـه

منشیات چي د رسول الله ﷺ تر زمانه وروسته پيدا سويدي دا ټول د قرآن و حديث په دغه جامع کلماتو کي داخل دي چي: انما الخمر او مسکر دي . بيان يې مخته په کراتو تېر سويده .

و قد تکلم ابن تيميّه رحمة الله عليه عن الحشيشة غير مرة فی فتاواه فقال ما خلاصة هذا الحشيشة الملعونة هی و آکلوها و مستحلها الموجبة لسخط الله تعالی و سخط رسوله و سخط عبادة المؤمنين المعرضة صاحبها لعقوبة الله تشتمل علی ضررفی دين المرء و عقله و خلقه و طبعه و تفسد الامزجة حتی جعلت خلقا کثيراً مجانين و تورث من مهانة آکلها و دناوة نفسه و غير ذلك ما لا تورث الخمر ففيها من المفاسد ما ليس فی الخمر فهی بالتحريم اولی و قد اجمع المسلمون علی ان السکر منها حرام و من استحل ذلك و زعم انّه حلال فانه يستاب فان تاب و الا قتل مرتداً لا يصلی عليه و لا يدفن فی مقابر المسلمين و ان القليل منها حرام ايضاً بالنصوص الدالة علی تحريم الخمر (و تحريم کل مسکر)

امام ابن تيميه ډېر ځله پخپله فتاوی کي د حشيشو بيان کړی ده د هغه خلاصه دا ده چي دغه حشيش او د دوی خوړونکي او مستحل ټول ملعون دي او دغه حشيش موجب د خدای (ج) د غضب او د رسول الله ﷺ د غضب او د مؤمنانو د غضب دي او دغه حشيش د سړي دين ته ضرر رسوي او عقل ته يې ضرر رسوي او طبعيت ته يې ضرر رسوي او د انسان صحت فاسدوي حتی ډېر خلق يې لېونيان کړي دی او دغه منشيات داسي شئی په ميراث ورکوي چي هغه شی شراب يې هم نه ورکوي مثلا خوراک خوار او حقير او خوړونکی

خسیس او ذلیل وي او په دغه منشیاتو کي چي کوم مفاسد دي هغه
په شرابو کي هم نسته نو له دې وجهي دا منشیات په تحریم سره اولی
او لائق دي او مسلمانانو اجماع کړې ده پر دې باندي چي د دغو
حشیشو نشه حرام ده او که چا حلال وبلل چي دغه حلال دي هغه دي
توبه وکاږي پر دغه خپل گمان که یې توبه وکښه خو فبهاو النعمة او
که یې نه وکښه هغه مرتد ده قتل دي سي د جنازې لمونځ دي نه
ورکوي او د مسلمانانو په مقبره کي دي نه دفن کوي او له دغه نشې
څخه لږ هم دغسي حرام ده لکه ډېر . په واسطه د هغو نصوصو چي
هغه دلالت پر تحریم د خمر کوي او پر تحریم د هر مسکر .

وقد تبعه تلمیذه الامام المحقق ابن القیم رحمه الله علیه

فقال فی کتابه (زاد المعاد) ما خلاصته ان الخمر یدخل فیها کل مسکر مائعاً کان او جامداً عصیراً او مطبوخاً فیدخل فیها لقمة الفسق والفجور و یعنی بها الحشیشة لان هذا کله خمر بنص رسول الله ﷺ الصریح الذی لا مطعن فی سنده و لا اجمال فی متنه اذ صح عنه قوله کل مسکر خمر و صح عن اصحابه ؛ الذین هم اعلم الائمة بخطابه و مراده بأن الخمر ما خمر العقل علی أنه لو لم یتناول لفظه ﷺ کل مسکر لکان القیاس الصحیح الصریح الذی استوی فیه الاصل و الفرع من کل وجه حاکما بالتسویة ۔ بین انواع المسکر فالتفرقة بین نوع و نوع تفریق بین متماثلین من جمیع الوجوه۔

او د امام ابن تیمیه شاګرد امام ، محقق ابن القیم رحمه الله علیه

Maktaba Tul Ishaat.com

په خپل کتاب زاد المعاد کي ويلي دي خلاصه يې دا ده چي په خمر کي هر مسکر داخل ده نرم وي او که وچ وي عصير وي او که پوخ کړی سوی وي نو هغه د فسق او فجور کوله هم پکښې داخله ده په دې سره زموږ چرس مراد دي ځکه دا ټول شراب دي په حديث د رسول الله ﷺ سره هغه داسي صريح حديث ده چي نه يې په سند کي تر طعن او تهمت لاندي کس سته او نه يې په متن کي اجمال سته ځکه صحيح دا قول له رسول الله ﷺ څخه نقل سويده . (کل مسکر خمر) او صحيح دا قول له صحابه کرام ؛ څخه نقل سويده . (الخمر ما خمر العقل) او صحابه کرام ؛ هغه کسان دي چي تر ټول امت په خطاب او مراد د رسول الله ﷺ ښه پوهېدل او که بالفرض والتقدير د رسول الله ﷺ دغه کل مسکر شامل نسي دغه حشيشو وغيره لره نو بيا به هغه قياس صحيح و صريح چي په هغه کي اصل و فرع من کل وجه برابر وي هغه به حاکم سي پر تسويه او برابرتيا د اقسامو د مسکر نو په مينځ د اقسامو د مسکر کي تفرقه کول دا تفرقه ده په مينځ د متماثلين کي من کل وجوه او دا باطله ده ځکه قياس وايي و دې ته چي په اصل کي يو حکم وسي د يو علت په وجه نو بيا چي هغه علت په فرع کي موجود سي هغه د اصل حکم وربانديکيږي . حاصل يې دا ده چي که چيري د دغو منشياتو حرمت چي په حديث شريف سره نسي ثابت په قياس سره له شک خلاص ثابت ده .

وقال صاحب (سبل السلام و شرح بلوغ المرام) أنه يحرم ما أسكر من اى شئى و ان لم يكن مشروباً كالحشيشة۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د سبـل السـلام شـر ح بلوغ المراد صاحب ويلي دي هغه شئی چي مسـکـر وي هـغـه کـه له هر شي څخه وي حرام ده که څه هم مشروب نه وي لکه حشيش .

و نقل عن الحافظ ابن حجر ان من قال ان الحشيشه لا تسكر و انما هی مخدر مكابر فانها تحدث ما تحدثه الخمر من الطرب و النشوة۔

لـه حافـظ ابـن حجر څخه نقل سويده هغه څوک چي وايي حشـيش مسـکر نه دي هغه نشه او مستي نه لري بلکه مخدر دي يعني سستي او کهالـي صـرف لـري دغـه دعـوه بلا دليله ده ځکه له دغو چرسو هغه څـه پيښيږي کوم څه چي له شرابو پيښيږي چي هغه عبارت له خوند او خوشحالي څخه ده .

و نقل عن ابن بيطار من الاطباء

ان الحشيشة التی توجد فی مصر مسكرة جداً اذا تناول الانسان منها قدر درهم او درهمين و قبائح خصالها موجودة فی الافيون و فيه زيادة مضار۔

لـه ابـن بيـطـار طيـب څخه نقل راغلی ده وايي هغه حشيش چي په مصر کي پيدا کيږي هغه ډېر مسکر دي هغه وخت چي انسان يو درهم يا دوه درهم ځيـنـي وخـوري او قبـيـح بـد خـصلتونـه يې ډېر دي بعض علماوو يـو سل شل ۱۲۰ ديني او دنياوي ضررونه شمېرلي دي او هغه بد خصلتونـه يې پـه افيونو کي موجود دي او افيون تر دوی زيات ضررمند دي .

و ما قاله الشيخ الاسلام ابن تيمية و تلميذه ابن القيم رحمه الله عليه

Maktaba Tul Ishaat.com

و غير هما من العلماء هو الحق الذى يسوق اليه الدليل و تطمئن به الانفس و اذقد تبين أن النصوص من الكتاب والسنة تناول الحشيش فهى تناول الافيون ايضاً الذى بين العلماء انه اكثر ضرراً و يترتب عليه من المفاسد ما يزيد على مفاسد الحشيش و تناول ايضاً سائر المخدرات التى حدثت و لم تكن معروفة من قبل اذ هى كالخمر من العنب مثلا فى انها تخامر العقل و تغطيه و فيها ما فى هذه الخمر من مفاسد و مضار و تزيد عليها بمفاسد اخرى كما فى الحشيش بل افظع و اعظم كما هو مشاهد و معلوم ضرره و لا يمكن ان تبيح الشريعة الاسلامية شيئاً من المخدرات و من قال بحل شئى منها فهو من الذين يفترون على الله الكذب او يقولون على الله مالا يعلمون۔

هغه چي شيخ الاسلام ابن تيميه او د هغه شاګرد ابن القيم او نورو علماء له دوی ماسوی چي کوم څه ويلي دي هغه حق ده داسي حق چي د دليل مطابق ده او د نفس اطمينان ورباندي کيږي او په دې وخت کي په تحقيق سره دا ښکاره سوه چي هغه نصوص له قرآن او حديث څخه چي حشيشو ته ور شامليږي هغه نصوص دغه رنګه افيونو ته هم ور شامليږي هغه افيون چي علماوو بيان کړی ده چي تر حشيشو ډېر ضرر مند دي او کوم مفاسد چي په افيونو مرتب دي هغه تر مفاسدو د حشيشو زيات دي او دغه رنګه دغه نصوص ټولو مخدراتو ته ورشامليږي هغه مخدرات چي اوس پيدا سويدي او مخته چا نه پېژندل څکه دغه مخدرات لکه د انګورو شراب داسي دي په خميره توب او پټېدل دعقل کي او هغه مفاسد او مضار چي په شرابو کي دي

هغـه مفـاسـد پـه دغـه مـخدراتو کي موجود دي او پـه دې مخدراتو کې داسې مفـاسـد دي چې هغه د حشیشو تر مفاسدو هم زیات دي بلکه په دې مـخـدراتـو کـې ډېر بـد او ډېر غټ مـفـاسـد دي لکه څنګه چې هغه بالمشاهده دي او د هغو ضرر معلوم ده او دا امکان نه لري چې شریعت اسلامیـه دي یـو شـئـی لـه مـخـدراتـو مباح کړي او هغه څوک چې یو شـئـی لـه دغـو مـخـدراتـو حـلال بـولـي هغـه لـه غـو کسانو ده چې پـه الله (جـل جلا لـه) باندي دروغ تړي او پر الله (جل جلا لـه) باندي قـول کوي په هغه شئی چې دوی علم نه په لري .

و قد سبق أن قلنا ان بعض علماء لاحنفية قال ان من قال (بحل الحشيشة زنديق مبتدع) و اذا كان من يقول بحل الحشيشة زنديقاً مبتدع فالقائل بحل شئی من هذا المخدرات الحادثة التی هی اكثر ضرراً و اكبر فساداً زنديق مبتدع ايضاً بل اولی بأن يكون كذلك ۔

دا مـخـتـه مـوږ ذکـر کړو چې بعض عـالمـانو د احنافو ویلي دي هغه څـوک چې د حشیشـو پـه حـلـت بـاندي قول کوي هغه زنديق او بدعت کـونکی ده نو هغه څوک چې د دغـو نویو مخدراتو په حلت باندي قول کوي چې د هغو ضرر تر حشیشو زیات ده او فـسـاد یې تر حشیشو غټ ده هغـه هـم زنديق مبتدع ده بلکه اولی و بهتره دا ده چې دغـه کس دي زنديق مبتدع سي .

و كيف تبيح الشريعة الاسلامية شيئاً من هذه المخدرات التی يلحق ضررها البليغ بأمة افراداً و جماعات مادياً و صحياً و أدبياً حيث ان مبنی الشريعة الاسلامية علی جلب المصالح الخاصة او الراجحة و علی ردة

المفاسد و المضار کذلک۔
او څنګه به شریعت اسلامي یو شئی له دغو مخدراتو مباح کړي هغه مخدرات چې د هغه ضرر بلیغ د امت په هر فرد او جماعت پوري پیوسته کیږي من حیث الماده او صحة او آداب ته نه ګوري چې د شریعت اسلامي بنیاد پر جلب د مصالحو خاصه وو یا راجحه باندي ده او په رد د مفاسدو او مضار باندي هم دغه رنګه ده یعني په کوم شئی کي چې مصلحت خاصه او یا راجحه وي هغه ته شریعت اسلامي جواز ورکوي او په کوم شئی کي چې فساد او ضرر وي هغه منع کوي .
و کیف یحرم الله سبحانه تعالی العلیم الحکیم الخمر من العنب مثلاً کثیرها و قلیلها لما فیها من المفسدة و لان قلیلها داعٍ الی کثیرها و ذریعة الیه و یبیح من المخدرات ما فیه هذه المفسدة و یزید علیها بما هو اعظم منها و اکثر ضرراً للبدن و العقل و الدین و الخلق و المزاج هذا الحکم لایقوله الا رجل جاهل بالدین اسلامی او زندیق مبتدع کما سبق القول به فتعاطی هذه المخدراة علی ای وجه من وجوه التعاطی من أکل او شرب او شم او احتقان حرام باجماع الأمة۔
او څنګه الله (جل جلا له) سبحانه د انګورو شراب مثلاحرام کړي دي لږ او ډېر ځکه په دوی کي فساد ده او لږ یې داعی د ډېرو ده او ذریعه و سبب د ډېرو دی او مخدرات دي مباح کړي هغه مخدرات چې په هغو کي دغه فساد وي او ضرر دي و بدن و عقل و دین و طبعیت ته تر شرابو هم زیات وي دغه حکم یعني چې شراب دي حرام وي او مخدرات دي حلال وي نه کوي مګر هغه څوک یې کوي چې په دین

اسلامي ناخبره وي او يا زنديق مبتدع وي لکه څنګه چي دا خبره مخته تېره سوه نو شمول د دغو مخدراتو په هره وجه د وجهو د شمول يعني خوراک او څښاک بويېدل او څکول حرام دي په اجماع د امت باندي .

ان اعداء الاسلام يروجون الحشيش

وغيره من المخدرات بقصد اضعاف شباب الأمة الاسلامية و ضياع مالها و رجولتها و فتل شهامتها و افساد عقول رجالها حتى تستمر فى التأخر عن مصاف الامم المتقدمة و يتغلب عليها الاجانب و يقهر الاعداء و يستعمرون بلادهم كما تفعل اسرائيل من ترويج الحشيش و الافيون بين بلاد العربية بقصد هلاكها و لو ان الناس فهموا هذا الحكم الشرعى و وعوه و عملوا به و اعرضوا عن تعاطى هذه المخدرات و تلك المسكراة لحفظنا على الأمة شبابها و قوتها و عزها و كرامتها و حريتها و استقلالها۔ (الفقه على المذاهب الاربعة ص ٣٩ ، ج ٥)

د اسلام دښمنان حشيش او نور مخدرات په دې قصد رواجوي چي د امت ځوانان ضعيف کړي او مال يې ور ضائع کړي او مردانيت يې ور ختم کړي او هيبت و قوت يې ور مات کړي او عقلونه يې ور فاسد کړي حتى په آخير کي د امت متقدمه له نقش او قدم څخه يې خطا کړي او بيګانه ورباندي غالبه کړي او دښمن ورباندي قوي کړي او ښارونه ئې ني قبضه کړي لکه څنګه چي اسرائيليانو حشيش او افيون په عربو ممالکو کي رواجول په قصد د هلاکت د عربو نو که چيري خلک په دې شرعي حکم باندي پوه سي او وساتي او عمل

وربانـدي وكـړي او لـه دغـو مخدراتو او مسكراتو څخه اعرض وكړي نو د امت ځوانـان او قـوت و عـزت و كـرامـت و حـريـت و استقلال بـه وساتي . أكـل الافيون و جلد الخشخاش حرام لانه يفسد العقل و المزاج و ينشئي الغفلة (فتاوى شامى نور الهدى ٤١٦) د افيونو او د خشخاش د پـټـو كـي خـوراك حـرام ده ځـكـه عـقـل او طبـعـيت فاسدوي او غفلت پيداكوي .

والخلاصة ان جميع المخدرات الحادثة

من قرون بعد القرون الستة الأولى حرام كالخمر لمخامرتها العقل و تغطيتها اياه و فيها مفاسد الخمر و مضاره و تزيد عليها فهى اكثر ضررا و اكبر فساداً من الخمر لانها تضر الأمة ضررا بليغاً و افراداًو جماعات مادياً و صحياً و أدبياً و لا شك بأن الشريعة الاسلامية تحرم المفاسد و المضار و تجيز ما فيه مصالح حقيقة خالصة أو راجحة و اما ما يزعمونه من مصالح و منافع فهى وهمية خادعة۔

حـاصـل يې دا ده چې ټول هغـه مـخـدرات چي لـه شپـږو پېړيو وروستـه پيـدا سـوي دي حرام دي لـكـه شراب ځـكـه دغـه مخدرات هم عـقـل خـمـيـره كـوي او پټوي او پـه دغـه مخدراتو كي هغـه مفاسد او مضـار دي كـوم چي په شرابو كي دي بلكه ضرر يې تر شرابو ډېر ده او فساد يې تر شرابو غټ ده . ځكه دغه مخدرات و امت مسلمه ته ضرر بليغ رسوي و هر فرد او جماعت د ه من حيث الماده و صحت و ادب او پـه دې كـي هيـڅ شک نستـه چي شـريـعـت اسلاميـه مفـاسد او مضـار حـرامـوي او اجـازه وركـوي و هـغـه شي تـه چي پـه هغـه كي حقيقة

مصلحت وي خالصاً اويا راجحاً او هغه څوک چي دا ګمان کوي چي په دغه مخدراتو کي مصلحت او نفع ده هغه محض وهم او دوکه ده . (الفقه الاسلامی ۵۵۱۶، ج ۷)

مخته په کراتو او مراتو باندي دا خبره ذکر سوه چي هر نشه دار شئی حرام ده او خوراک يې هم حرام ده دا قول د امام محمد رحمة الله تعالی ده او دا قول تولو فقهاء رحمه الله عليهم مفتي بهٖ ګرزولي ده .

و حرمها محمد مطلقاً و به يفتی

(شامي ۳۹۲ ، ج ۵) والكل حرام عند محمد و به يفتی رد المحتار۴۵۶، ج ٦ ـ او داخبره هم مخته ذکر سوه چي حرمت د اشياء موقوف پر ميلان باندي نه ده لکه څنګه چي علامه حصکفی رحمه الله عليه ليکلي دي . شامی ۴۵۷، ج ٦، کتاب الاشربة . و يحرم أكل البنج والحشيشة و الأفيون لانه مفسد للعقل و يسد عن ذكر الله و عن الصلوة (دز المختار علی هامش رد المحتار ص ۳۹٤ ، ج ۵) د بنګو او د چرسو او د افيونو خوراک حرام ده ځکه دغه شيان مفسد عقل لره دي او انسان د خدای (ج) له ياده او له لمانځه څخه بندوي .

قال العلامة الحرار اليمنی رحمة الله عليه و لا يجوز أكل البنج و الحشيش و الافيون و ذلك كله حرام الجوهرة النيرة ـ (ص ۲۷۰ ، ج ٤ ، و مثله فی خلاصة الفتاوی ص۲۰۵ ، ج ٤ ، كتاب الاشربة)

قال العلامة شمس الدين محمد بن عبد الله التمر تاشی رحمه الله عليه و يحرم أكل البنج الحشيشة و الافيون و لكن دون الحرمة الخمر (تنوير الابصار علی صدر رد المحتار ص ٤٥۷ ، ج ٦) كتاب الاشربة و مثله

Maktaba Tul Ishaat.com

فی فتاوی قاضیخان علی حامش الهندیه ص ۲۳۱ ، ج ۳ و مثله فی الفتاوی الکاملیة ص ۲۷۰ کتاب الاشربة فتاوی حقانیة ص ٤٣٥ ج ٦)

بعض اهل علم لیکلي دي که چا د بنګو او حشیسو وغیره پر حلت باندي فتوی وکړه علامه ابن تیمیه هغه د حلال ویلو والا ته کافر ویلِ ده تر داسي حده چي نجم الدين زاهدي داسي سړی مبا ح القتل ښودلی ده . در مختار علی هامش رد المحتار ص ۲۹۵ ، ج ٦٥ ، الحلال و الحرام و مثله فی الفتاوی محمودیه للمفتی محمود الحسن رحمه الله علیه .

و اما الاشربة المتخذة من الشعر او الذرة او التفاح او العسل اذا اشتد و هو مطبوخ او غیر مطبوخ فأنه یجوز شربه ما دون السکر عند ابی حنیفة و ابی یوسف رحمة الله علیهما و عند محمد حرام شربه قال الفقیه و به نأخذ کذا (فی الخلاصة عالمگیري ص ٤١٤ ، ج ٥)

هغه اشربه چي له اوربشو یا له جوارو یا له عسلو او یا له سیبانو جوړ سوي وي هغه وخت چي سخت سي پو خ کړل سي او که نوپو خ کړی سوي د هغه ځیښاک جائز ده تر هغه وته چي حد د سکر ته نه وي رسیدلي په نزد د امام ابو حنیفه رحمه الله علیه او امام ابی یوسف رحمة الله علیه او په نزد نزد د امام محمد رحمه الله علیه باندي حرام ده . فقیه رحمه الله علیه وایي چي دغه اخیري قول مفتیٰ به ده:

السکر من البنج ولبن الرمکة حرام بالاجماع کذا فی جواهر الاخلاطی عالمگیري ٤١٥ ، ج ٥)

د بنګو او د مادیاني د شیدو نشه کول په اجماع سره حرام ده . و

مـع نهـی و لـی الامـر عـنـه حرم قطعاً در مختـار ص١٦٠، ج ٦، او له کوم
شـي څخه چې اولو الامر منع وکړي هغه قطعي حرام ده ځکه خو اتباع
يې لازم ده . وعن ابی امامة رضی الله عنه . .

قال قال رسول الله ﷺ

لا تـذهـب الـلـيـالـی و الايـام حتـی تشرب طـائفة من امتی الخمر و يسمونها بغير اسمها رواه ابن ماجه ـ له امامه رضی الله عنه څخه روايت ده دی وايي چې رسول الله ﷺ وويل شپې اور ورځې به نه سې تېرې تر هغه وختـه پـورې چې زمـا لـه امتـه به يوه پارټۍ شراب څيښې او نـامـداره کـړي به يې وي په بل نامه سره يعني تر قيامت مختـه به زما بـعـض امتيـان داسـې نشـې کـوي چې هغه به عين شراب وي خو لکن صـرف نـوم بـه يې وربدل کړي وي . **يشرب الـنـاس مـن أمتـی الخمر و يسمونها بغير اسمها** ـ (رواه نسائی رحمة الله عليه) هغه نوي نومان چې پـه اوس وخـت کـې پـر ايښـې دي هغه لکه افيون البيرة البوظة القات التنكة العرقی وغيره ،له مسکراتو څخه ځکه دا ثابته سوه چې هر مسـکـر تـه خـمـر ويـل کيږي يعني که عين خمر نسي په معني د خمر کې خو بالاتفاق دی . والله اعلم بالصواب .

المقصد الثالث

فی اتجار المخدرات و المسكرات

دريم مقصد په تجارت د مخدراتو او مسکراتو کې ده .

دا مـقـصـد يـخـتـلـف فـيـه ده پـه مـابين د علماء رحمه الله عليهم کې امـام ابو حـنيفـه رحـمـة الله عـلـيـه وايي (خمر) عبارت ده لـه عـصير

العنب الذی قذف بالزبد څخه لکه څنګه چي مخته ذکر سو و نورو مسکراتو ته (خمر) حقیقةً نه ویل کیږي نو د نورو مسکراتو حرمت د (خمر) تر حرمت کم ده .

حاصل یې دا ده چي د نورو مسکراتو په قلیل خوراک باندي حد نه جاري کیږي تر څو چي سکر ته نه وي رسېدلی او په شرابو کې په قلیل او کثیر باندي حد جاري کیږي ځکه په شرابو کي علت د حرمت خمریت ده او په نورو مسکراتو کي علت د حرمت مسکریت ده چي سکر ته نه وي رسېدلی حد نه پر جاري کیږي یعني حرمت د خمر قطعي ده او مستحیل یې کافر ده او بیع یې ناجائز ده او د نورو مسکراتو حرمت ظني ده .

او مستحیل یې کافر نه ده او بیع یې جائزه ده دلیل په دې قول د رسول الله ﷺ وایي (أدرؤو الحدود بالشبهات) حدود په شبهات سره ونړوئ یعنی په کوم شئی کي چي شبهه وي قطع او یقین په کي نه وي په هغه حد نه سي جاري کېدای نو د دغو مسکراتو حرمت ظني ده قطع او یقین نسته پکښې نو بیع یې داسي جائز ده لکه د سرقین سرقین که څه هم نجس دي خو بیع یې جائز ده ځکه سرقین مال متقوم او منتفع بها شرعاً دی .

او امام شافعي رحمه الله علیه وایي چي خمر تخصیص تر یو خاص مسکره پوري نه لري بلکه هر مسکر ته خمر ویل کیږي لکه څنګه چي زموږ په اول او دویم مقصد کي پر دې بحث وکو نو چي خمر ورته وویل سوو د خمر مستحیل خو کافر ده او حد یې پر قلیل

خوراک او کثیـر بـانـدي‌جاري کیـږي او نفع وربـاندي حرامه ده او بیع یـې نـاجـا ئـزه ده د نـورو مـسـکـراتـو هم دغه حکم ده ځکه هغه هم عـین خـمـر دی او د اهـل د مدینې منورې او د اکثر حجازئین او محدثینو هم داغـسـې رایه ده .

او دغـه رنـګـه امـام مـالک رحـمـه الله علیـه او امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه هم داغسې وایي او له احنافو رحمة الله علیهم څخه .

امام ابو سف او امام محمد رحمة الله علیهما

یـې هـم پـه دوارو بیـع د داسـې مسـکـراتـو نـاجـائزه بولي امـام ابو حنیفةؒ د بیع د جواز دا دلیـل وایي:

انه یقول هذا شراب مختلف فی اباحة شربه

بین العلماء رحمهم الله فیجوز بیعه کالمثلث و هذا لأنه لیس من ضرورة حرمة تناول حرمة البیع فان الدهن النجس لا یحل تناوله و یجوز بیعه و کذلك بیع السرقین جائز و ان کان تناوله حراماً و السرقین محرم العین و مع ذلك کان بیعه جائزاً فکذلك المنصف و ما اشبه و بطلان بیع الخمر عرفناه بالنص الوارد فیه و ما عرف بالنص لا یلحق به الا ما یکون فی معناه من کل وجه و هذه الا شربة لیست فی معنی الخمر من کل وجه بدلیل حکم الحد و حکم النجاسة فجاز بیعها باعتبار الاصل (مبسوط ص ۱۹ ، ج ۲۳)

امـام ابو حنیفه رحمة الله علیـه وایي چې له عـصیر العنب ماسوی پـه دغـه نـورو اشـربـه وو کـې د عـلـمـاء اختلاف ده په څښـلو کې د دوی بـعـض وایـي چـې څښـل یـې جائز دي تر هغه وخته چې سکر ته نه وي

رسېدلی او بعض وايي چي د قليل او كثير څښل حرام دي لكه د
عصير العنب نو له دې وجهي يې بيع جائز ده لكه د مثلث چي بيع يې
جائز ده مثلث هغه شرابو ته وايي چي د انګورو له اوبو يې جوړ کړي
او بيا يې په اور باندی جوش کړي دوې حصې په اور باندي په جوش
سره ختم کړي او يوه حصه پاته سي هغه پاته حصې ته مثلث وايي او
داخبره ثابته ده ځکه دا لازمه نه ده چي تناول او شمول وشي ته که
حرام وو نو بيع به يې هم حرام وي لکه مردار غوړي چي تناول ورته
حرام ده مګر بيع يې جائزه ده او دغه رنګه خوشايي بيع يې جائزه ده او
تناول ورته حرام ده او خوشايي محرم العين دي او سره له دې بيع يې
جائزه ده او دغه رنګه منصف . منصف هغه شرابو ته وايي چي د
انګورو له اوبو جوړ سوي وي بيا يې په اور سره جوش کړي تر ثلثين
کم ختم سي نصف ته ورسيږي او که نه وي رسېدلي او هغه چي
مشابهه وي له ده سره لکه جمهوري او نقيع الزبيب و الفضيح و
السکر او د خمر د بيع بطلان خو موږ پېژندلی ده په نص سره هغه
نص چي په خمر کي نازل سويده او هغه شئی چي په نص سره
وپېژندل سي په هغه پوري بل شئی نه پيوسته کيږي مګر هغه شئی
پوري پيوسته کيږي چي هغه من كل وجوه د ده په معنا سره وي او
دغه اشربه په معنی د خمر من كل وجه نه دی په دليل د حکم د حد او
حکم د نجاست يعنی پر دغو اشربه وو حد نه جاري کيږي او پر خمر
حد جاري کيږي او دغه اشربه نجس نه دي او خمر نجس دي نو له دې
وجهي د دغو اشربه وو بيع جائز ده امام شافعی رحمة الله عليه او

ملکري د بیع د عدم جواز دا دلیل وایي :

عن انس رضی الله عنه قال لعنَ فی الخمر عشرة عاصرها و معتصرها و شاربها و حاملها و محمولة الیه و ساقیها و بائعها و أکل ثمنها والمشتری لها و المشتری له (رواه الترمذی و ابن ماجه و مشکوة شریف ص ۲٤۲)

له انس رضی الله عنه څخه رویات ده دی وایي رسول الله ﷺ په شرابو کي پر لسو شیانو لعنت ویلی ده پر جوړونکي باندي د ځان لپاره وي او که د بل لپاره او پر هغه چا چي د جوړولو طلب یې کوي د ځان لپاره یا د بل لپاره او پر څښونکي باندي او پر بارونکي باندي او پر هغه چا چي و ده ته ور باریږي او پر اوبېدونکي باندي او پر خرڅېدونکي باندي که څه هم وکیل یادلال وي او پر هغه پیسو خوړونکي باندي هغه پیسې چي په دغه بیع سره موجودې سي که څه هم دا خوړونکی بائع نه وي او پر اخیستونکي باندي د څښلو لپاره وي که د تجارت لپاره وي او پر هغه چا چي د ده لپاره اخیستل کیږي .

و لا یحل للمسلم بیع الخمر و لا اکل ثمنها لان الله تعالی سماها رجساً فیقضی ذلك نجاسة العین و فساد المالیة و التقوم کما فی المیتة و الدم و لحم الخنزیر و قد آمر بالاجتناب عنها فاقتضی ذلك ان لا یجوز وللمسلم الاقتراب منها علی جهة التمول بحال و فی الحدیث ـ

او وایي چي مسلمان ته نه د خمر بیع حلاله ده او نه یې د پیسو خوراک ځکه الله (جل جلاله) مردار ورته ویلي ده نو داتقاضی د نجس العین کوي او د فساد المالیة و التقوم یعنی نه مال ده او نه

Maktaba Tul Ishaat.com

متقوم ده لکه مرداره او مسفوحه وینه او خنزیر چي نجس العین دي او فساد المالیة و التقوم دی او الله (جل جلا له) امر په اجتناب کړی ده له دوی څخه په انما الخمر و المیسر (الایة) کي نودا تقاضی کوي چي و مسلمانان ته هر قسم نزدیکت په هر حال کي پر جهت تمول او د میلا ن ناجائز او ناروا ده .

و فی الحدیث ان ابا عامر کان یهدی لرسول لله ﷺ روایة من خمر کل عام فاهدی له فی العام التی حرمت فیه فقال علیه السلام ان الله قد حرم الخمر فلاحاجة لی فی خمرك قال خذها و بعها و انتفع بثمنها فی حاجتك فقال علیه الصلوة والسلام یا اباعامر ان الذی حرم شربها حرم بیعها و اکل ثمنها۔

ابا عامر به هر کال و رسول الله ﷺ ته یوه راویة شراب هبه کول نو په هغه کال چي شراب حرام سوي وه هم ده و رسول الله ﷺ ته شراب هبه کړو رسول الله ﷺ ورته وویل شراب حرام سویدي زه ستا و شرابو ته احتیاج نه لرم ابا عامر رضی الله عنه ورته وویل در وا یې خله خرڅې کړه په پیسو یې خل حاجت پوره کړه رسول الله ﷺ ورته وویل اې ابا عامره رضی الله عنه د کوم شي چي څنباک حرام سي د هغه بیعه هم حرامه ده او روپۍ یې هم حرامي دي .

و سئل ابن عمر رضی الله عنه عن بیع الخمر و اکل ثمنها فقال قاتل الله الیهود حرمت علیهم الشحوم فجملوها و باعوها و اکلو ثمنها و ان الذی حرم الشرب حرم بیعها و اکل ثمنها و ممن لعنه رسول ﷺ فی الخمر بائعها و مشتریها۔ (مبسوط ٢٤ ، ج ٢٤)

لـه ابـن عـمـر رضـی الله عـنـه ځـخـه سوال وسو له بیع د شرابو او له خوراک د پیسو د شرابو ده رضی الله عنه ورته وویل الله (جل جلا له) لعنت کړی ده پر یهودو باندې وازګې پر دوی باندې حرامې کړې دوی به ویلې کړې بیا بې خرځې کړې اور وېې بې وخوړې او د کوم شي چې څښناک حرام وي د هغه بیع هم حرام ده او د پیسو خوراک یې هم حرام ده او لـه هغـه چا چې رسول الله ﷺ لعنت پر ویلی ده په شرابو کې خرڅېدونکی او اخیستونکی هم ده .

ان التجارة بالمخدرات بيعاً و شراً و تهريباً و تسويقاً امر حرام كحرمة تناول المخدرات لان الوسائل في الشريعة ياخذ حكم المقاصد و يجب سد الذرائع الى المحرمات بمختلف الامكانات و الطاقات لان التاجر يسهل رواج المخدراة و تعاطيها فيكون الثمن حراماً و المال سحتاً والعمل ضلالاً والتجارة بها اعانةً على المعصية و البيع باطل قال الله تعالى و تعاونوا على البر والتقوى و لا تعاون على الاثم والعدوان (المائدة ٣) الفقه االاسلامى ص ٥٥١٦ ، ج ٧)

دا قـول مـطـلق د ه تـعـلق یې تر یوه مذهبه پوري هم نه ده ور کړی حاصل یې دا ده چې د مخدراتو تجارت یعنی خرڅول اخیستل په کوریزي باندې وړل او بل پر وړلو باندې باعث کول داسې حرام کار ده لکه د مخدراتو خوړل او څیښل او څکول . ځکه په شریعت محمدي ﷺ کې اسبابو او وسائلو لره حکم د مقاصدو وي او هغه شی چې سبب او ذریعه و حرامو ته وي د هغه سبب بندول په مختلف طاقتو سره واجب ده ځکه تاجر رواج او شمول دمخدراتو اسانه کوي پر خلګو

باندي نو دغه پیسې حرامې دي او مال يې حرام و مباح الاخذ ده او
عمل يې ګمراهي ده او تجارت يې اعانة على المعصية ده او بيع يې
باطل ده الله (جل جلا له) وايي پر نېکي او پر تقوی باندي معاونت
سره کوئ پر ګناه او پر دښمني باندي معاونت مه سره کوئ يعنی دغه
تجارت خريد او فروخت معونت على المعصيت ده او سبب و ذريعه و
خوراک و څېښاک ته د ه خوراک او څېښاک يې حرام ده نو دغه
تجارت چي سبب د خوراک او څېښاک ده دا هم حرام ده امام ابويوسف
رحمة الله عليه او محمد رحمة الله عليه وايي :

ان عين المسكرات محرمة التناول فلا يجوز بيعه

كالخمر و هذا لان البيع باعتبار صفت المالية والتقوم باعتبار كونه
منتفعاً به شرعًا و لا منفعة فى هذا لمشروب سوى الشرب و اذا كان محرم
الشرب شرعاً كان فاسدا لماليته والتقوم شرعاً فلايجوز بيعه كالخمر و لان
صاحب الشرع ﷺ سوى فى الخمر بين البيع و الشرب حين لعن بايعها و
مشتريها كما لعن شاربها و هذا لان البيع يكون تسليطاً للمشترى على
الشرب عادة فاذا كان الشرب حراماً حرم البيع ايضاً و هذا المع
موجود فى هذه الاشربة۔ (مبسوط ۱۸، ج ۱۲)

دوی دواړه وايي چي عين د مسکراتو ته شمول حرام ده نو
يې هم حرامه ده لکه د شرابو او دا خبره ثابته ده ځکه بيع په اعتب
صفت ماليت سره وي او تقوم يې په اعتبار د دې سره وي چي منتفع ب
شرعاً وي او په دغه مسرورباتو کي له څېښلو ماسوی بل منفعت
نشته او څېښل يې په شرع کي حرام ده نو ماليت او تقوم يې هم په

Maktaba Tul Ishaat.com

شـرع کـي فـاسد ده نو مالیت او تقوم چي په شرع کي فاسد سو نو بیع یې هم نـاجـائـز ده لـکـه د شـرابـو ځـکـه خو بیع پـه اعـتـبار د مالیت او انتفاع به شرعاً سره وي او صاحب الشرع ﷺ په شرابو کي تفرقه نه ده کړې پـه مـیـنځ د بیع او څیښلو کي په هغه وخت کي چي لعنت یې پـر وایو پر خرڅیدونکي او اخیستونکي یې داسي لعنت ویلی ده لکه پـر څیښـونـکـي باندي او دا خبره ثـابـتـه ده ځکه په بیع سره مشتري مسـلط کیږي پر څیښلو باندي نو څیښـل چي حرام وی بیعه به یې هم حـرامـه وي او دغـه مـعـنـی پـه دغـو اشـربـه وو کي موجوده ده یعني خـوراک او څیښـاک د ټولو حرام ده نو بیع یې هم حرامه ده دا یوه قاعده کـلیـه ده لپـاره د فـقـهـاء رحمة الله عـلیهـم چي د هـر شـی خوراک یا څیښـاک حرام وي یا بل داسي د لهو او لعب شی وي چي معصیت قائم پـه ده پـوري وي د هـغـه بیـعـه حـرام ده لـکـه څـنـکه چي موږ په پنځمه قـاعـده کـي ذکـر کـړو ځـکـه پـه دا بیـع سـره مشتري مـسلط کیږي پر خـوراک او څیښـاک د هغه شي نو چي خوراک او څیښـاک یې حرام وي بیـع بـه یې هم حـرامـه وي لـه دې وجهـي چـي دا عـیـن معونـت علی المعصیت ده .

و یجوز بیع البربط والطبل والمزمار و الدف و النرد و اشباه ذلك فی قوله ابی حنیفة رحمة الله تعالی علیه و عندهما لا یجوز بیعها قبل الکسر الی قوله ۔

والفتوی علی قولهما

امـام ابـو حـنیـفـه رحـمـة الـلـه وایي چـي د بربط بیع جائز ده بربط

داسې شی ده لکه دوتاره فرق يې دا ده چې کاسه يې تر دوتاري غټه ده او دسته يې تر دوتاري کوچنۍ ده او دغه رنګه د ډاله بيع جائز ده او دغه رنګه د نل بيع جائز ده او د دريا بيع جائز ده او د کلب و کرم بوډ بيع جائز ده او د اشتباه د دوی بيع جائز ده او امام ابو يوسف رحمه الله عليه او امام محمد رحمه الله عليه وايي چې تر ماتېدو مخته يې بيع نه ده جائز يعني يو وار دي مات کړي چې له آليت د سرود څخه ووزي بيا دي خرڅ کړي ددې عبارت په اخير کي دا قول ده چې فتوی پر قول د صاحبين ده:

قال ابو حنيفة رحمة الله عليه يجوز بيع الاشربة المحرّمة كلها الا الخمر و على مستهلكها الضمان و قال ابو يوسف و محمد رحمهما الله لا يجوز بيعها ولا يجب الضمان على مستهلكها كذا فى المحيط عالمگيري ص ۱۱٦ ، ج ۳) .

امام ابو حنيفه رحمة الله عليه واي د ټولو حرامو اشربه بيع جائز ده ماسوی له شرابو او هغه څوک چې دغه اشربه په قصد هلاک کړي پر هغه ضمان يعني تاوان سته او صاحبين وايي نه يې بيع جائز ده او نه پر مستهلک باندي ضمان سته .

و جاز بيع عصير العنب ممن يعلم انه يتخذ خمراً لان المعصيت لا تقوم بعينه بل بعد تغيره و قيل يكره لاعانة على المعصية و نقل المصنف عن السراج و المشكلات ان قوله ممن اى من كافرٍ اما بيعه من المسلم فيكره و مثله فى الجوهرة و الباقياني و غيرهما زاد القهستاني معزيا للخانية انه يكره بالاتفاق - (در مختار ص ۳۹۱ ، ج ٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

د عصیر العنب بیع خرید و فروخت پر هغه چا باندي جائز ده چي هغه له دغه عصیر العنب څخه شراب جوړوي ځکه معصیت خو قائم په ذات د عصیر العنب پوري نه ده بلکه وروسته له تغیره پوري قائم ده او چاویلي دي چي دغه بیع مکروه ده . ځکه دا اعانة علی المعصیت ده و لو که معصیت پوري قائم نه وي او مصنف نقل له سراج و المشکلات څخه کړی ده چي دغه ممن څخه کافر مراد ده یعني دغه عصیر العنب پر هغه کافر باندي خرڅول چي ته په خبر يې چي دغه کافر شراب ځیني جوړوي جائز ده او پر هغه مسلمان باندي خرڅول ناجائز ده چي ته په خبر يې چي شراب ځیني جوړوي دغه رنګه نورو کتابو هم په دغه اخیري طرز لیکلي دي .

اقول وهو خلاف اطلاق المتون

و تعلیل الشروح بما مرو فیه انه لا یظهر الاعلی قول من قال ان الکفار غیر مخاطبین بفروع الشریعة و الاصح خطابهم و علیه فیکون اعانة علی المعصیت فلافرق بین المسلم و الکافر فی بیع العصیر منهما فتدبر۔ (رد المحتار ۳۹۱، ج ٦)

علامه ابن عابدین رحمة الله علیه وایي چي دغه قول یعني چي پر کافر باندي خرڅول جائز ده او پر مسلمان باندي ناجائز ده دا د متنو د اطلاق مخالف ده ځکه متنونو مطلق ناجائز بللی ده او د شروحو د تعلیل خلاف ده چي اعانة علی المعصیت ده یعني داقول هلته صحیح کیږي چي کفار مخاطب په فروعو د شریعت سره نسي او اصح دا ده چي کفار مخاطبین په فروعو د شریعت سره دي نو کافر او د

مسلمان په دې بیع کې هیڅ فرق نسته په دواړو کې اعانة علی المعصیت ده یعني لکه څنګه چې د عصیر العنب خرڅېدل پر مسلمان باندې منع دي په هغه مسلمان چې ته په خبر یې چې شراب ځیني جوړوي دغه رنګه پر کافر باندې هم منع دي پر هغه کافر چې شراب ځیني جوړوي .

بخلاف بیع الامرد ممن یلوط به و بیع سلاح من اهل الفتنة لان المعصیة تقوم بعینه حواله مذکوره و یکره تحریماً بیع السلاح من اهل الفتنة لانه اعانة علی المعصیت آه ۔ (رد المحتار ص ۲٦۸، ج ۳)

لغړ زنی غلام پر هغه چا باندې خرڅول چې هغه لواطت ورسوه کوي ناجائز ده ځکه معصیت قائم په ذات د ده پوري ده او دغه رنګه سلا ح پر اهل د فتنې خرڅول ناروا ده ځکه معصیت په ذات پوري قائم ده اپه بل ځای کې وایي چې سلا ح خرڅول په اهل د فتنو باندې مکروه تحریمي ده ځکه دااعانة علی المعصیت ده .

قال العلامة ابن نجیم رحمة الله علیه ان ما قامت المعصیة بعینه یکره بیعه تحریماً آه (بحر الرائق ۱٤۳، ج ۵)

علامة ابن نجیم رحمة الله علیه وایي چې هر هغه شئی چې معصیت پوري قائم وي په ذات د هغه شي پوري د هغه شي بیع مکروه تحریمي ده .

و ایضاً قال العلامة رحمة الله علیه نظیره بیع المزامیر یکره هنا ان ماقامت المعصیت بعینه یکره بیعه و الا فلا (بحر الرا ئق بتغیر یسر)

او دغه رنګه علامه رحمة الله علیه وایي چې مثال یې نل و دول

Maktaba Tul Ishaat.com

و غیـره دي یـعـني بیع د دغو شیانو مکروه تحریمي ده یعني که پر هر شي پـوري معصیت قائم وه د هغه بیع ناجائز ده او که معصیت پوري نه وو قائم د هغه بیع جائز ده و مثله فی تنقیح الحامدیه ص ۱۵۳ ، ج ۲ کتاب الاجارة ، فتاوی حقانیه ۴۶، ج ٦)

ان البیع الکرم ممن یتخذ الخمر من عینه جائز لا بأس به و کذا الارض ممن یغرس فیها کرما یتخذ من عینه الخمر و هذا قول ابی حنیفة و هو القیاس و کره ذلك ابو یسف و محمد رحمهما الله استحساناً لان البیع العصیر و العنب ممن یتخذ خمراً اعانة علی المعصیت و تمکین منها و ذلك حرام و اذا امتنع البائع یتعذر علی المشتری اتخاذ الخمر فکان فی البیع منه تهیج الفتنة و فی الامتناع تسکینها و من اهراق خمر مسلم فلا ضمان علیه لان الخمر لیس بمال متقوم فی حق المسلم و اتلاف ما لیس بمال متقوم لا یجب الضما ن کاتلاف المیتة و هذا لان الضمان انما یجب جبر المادخل علی المتلف علیه من نقصان المالیة ۔ (مبسوط ص۳۲ ، ج ۱۲)

د انګورو تاکان پر هغه چا خرڅول چي هغه شراب ځیني جوړوي جائز ده پـروا نـه لري او دغه رنګه ځمکه پر هغه چا خرڅول چي هغه د انګورو تاکان پر ږدي او بیا له تاکانو شراب جوړوي جائز ده . دا قول د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ده او قیاس هم دا ده او امام ابو یوسف رحمة الله علیه و امام محمد رحمة الله علیه یې مکروه بولي استحساناً ځکه د انګورو او به یا انګور پر هغه چا خرڅول چي هغه شراب ځیني جوړوي دا اعانت علی المعصیت ده او قدرت پر

معصيت ده او دا حرام ده ځکه خو الله (جل جلا له) وايي :و لا تعاونوا على الاثم والعدوان چي خرڅېدونکي دغه شيا ن نه کړي پر خرڅ نو پر اخيستونکي باندي شراب جوړول سخت او ګران سو نو د دغو شيانو په بيع کي پر داسي سړي باندي فتنه انګيزي او پورته کيده د فتنې دي او په منع کي يې د فتنې ختمېده دي او چا که د مسلمان شراب توى کړل په هغه تاوان نسته ځکه شراب مال متقوم نه دى په حق د مسلمان کي کوم شئى چي مال متقوم نه وي د هغه په تلف کيدو سره تاوان هم نه لازميږي لکه د مرزکي په تلفېدو کي چي تاوان نسته ځکه دغه تاوان خو په عوض د هغه نقصان کي لازميږي کوم نقصان چي د مال و ماليت ته رسېدلى وي د مبسوط پر مذکور متن باندي يو څه بحث کول پکار دي تر هغه مخته به يو وار يو بل متن نقل کړو بيا بحث پر کړو انشاء الله .

ان الارباح التى يستفيد منها التجار و المتعاملون فى المخدرات كلها سحت و حرام

لما يأتى ١ ـ قوله تعالى و لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل (البقرة ١٨٨) و أكل المال بالباطل يتناول جرائم السرقة و الخيانة و الظلم و الغصب و القمار و العقود المحرمة من بيع و شراء و نحوهمامن التجارات و كل الخدمات المبذولة فى سبيل ارتكاب المعاصى و المنكرات و كل ما حرمه الشرع و ا ن رضى به المالك ـ ٢ ـ الحديث النبوى ﷺ و هو ما رواه ابن أبى شيبة عن ابن عباس أن رسول الله ﷺ قال ان الله اذا حرم شيئًا حرم ثمنه فكل ما حرم الله الانتفاع به حرم الانتفاع بعوضه او

ثمنه بدليل ما رواه احمد و مسلم و النسائي عن ابن عباس والحميدى عن ابى هريرة فى بيع الخمر ان الذى حرم شربها حرم بيعها و روى مسلم و غيره عن ابى سعيد الخدرى ان النبى ﷺ قال ان الله حرم الخمر فمن ادركته هذه الآية (انما الخمر و الميسر) المائدة ٩٠ و عنده منها شئى فلا يشرب و لا يبيع قال فا استقبل الناس بما كان عندهم منها طرق المدينة فسفكوها و روى ابو داود عن ابى هريرة مرفوعاً ان الله حرم الخمر و ثمنها و حرم الميتة و ثمنها و حرم الخنزير و ثمنه ۔ (الفقه الاسلامى ص ٥٥١٨ ، ج ٧)

هغه گټې و نفعې چې تجاران او معامله گر چې کوي په مخدراتو کې تولې حرامې دي . يو له دې وجهې چې الله (جل جلاله) وايي تاسو پخپل مينځ کې مالونه په باطل او ناحقه سره مه خورئ د باطل مال خوراک غلا و خيانت و ظلم و غصب و قمار او حرام عقدونه مثلا خرڅېدل او اخيستل اور نور دغسي عقدونه لکه اخيستل او خرڅېدل کوم چې په تجارتو کې کيږي او تول هغه خدمتونه چې د گناه او د منکراتو په لار کې کيږي او په هر هغه شي کې چې شريعت حرام کړي وي که يې څه هم مالک په راضي وي دغو تولو ته ورشامليږي نو ځکه د دغو مخدراتو گټه او تجارت حرام ده او بل له دې وجهې چې د نبى عليه الصلوة والسلام حديث مبارک ده هغه حديث ابن ابى شيبة سه ابن عباس رضى الله عنه څخه روايت کړى ده هغه وايي رسول الله ﷺ وويل چې الله (جل جلاله) چې کوم وخت يو شئى حرام کړي د هغه پيسې هم حرامى وي يعني په هر هغه شي باندې چې الله (جل

جلا له) نفع اخیستل حرام کړي د هغه شي په عوض یا په پیسو باندي بیا نفع اخیستل هم حرام ده د مثال په توګه که یو سړی خر پر یو ظالم او مردار خواره قصاب باندي خرڅ کړي او په دې هم خبر وي چي دغه یې د حلالېدلو لپاره اخلي او قصاب هم ورته وایي چي د حلالېدو لپاره یې اخلم نو دغه قصاب که په عوض کي هر شئی ورکړي پیسې وي او که بل شئی وي پر هغه باندي د خره مالک نفع نسي اخیستی ځکه خو پر خره باندي د خوراک نفع اخیستل الله (جل جلا له) حرام کړې ده په دلیل د هغه حدیث مبارک چي احمد و مسلم و نسائی له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت کړی ده او حمیدی له ابی هریرة رضی الله عنه څخه روایت کړی ده په بیع د شرابو کي هغه شئی چي د هغه څیښل حرام سویدي د هغه یبع هم حرامه ده او مسلم وغیره له ابی سعید خدري رحمه الله علیه څخه روایت کړی ده چي نبی علیه الصلوة والسلام وویل الله (جل جلا له) شراب حرام کړي دي نو که چا ته دغه آیت ورسېدو . یعني آیت د انما الخمر و المیسر او له ده سره یو شئی وو له شرابو نو نه دي څیښي او نه دي خرڅوي .

ابی سعید خدري رضی الله عنه وایي چي خلګو راتګ وکو په شرابو سره کوم چي له دوی سره وو پر لار و دمدینې منورې او تول یې چپه کړو او ابو داود روایت کړی ده له ابی هریره رضی الله عنه څخه هغه و رسول الله ﷺ ته رسولی ده وایي الله (جل جلا له) مرزکه حرامه کړې ده عوض د مرزکي یې هم حرام کړی د ه او الله (جل جلا له) خنزیر حرام کړی ده او عوض د خنزیر یې هم حرام کړی ده نو دغه آیات

او احادیث مبارکانو و ټولو مسلمانانو ته دا سبق ورکوي چي ګټه او تجارت د ټولو مخدراتو حرام او ناروا ده و لوکه نسوار وي ځکه دا ټول یامسکرات دي او یا مفترات دي د حرمت ذکر او اثبات يې مخته ذکر سو .

اعلم ان المکروه اذا اطلق فی کلامهم یرادبها التحریم

قال ابو یوسف قلت لابی حنیفة اذا قلت فی شئی أکرهه فما رأ لك فیه قال التحریم۔ (رد المحتار ص ۱۵۰ رسول الله ﷺ ج ۱)

پوه سه ای مخاطبه پر دې باندي مکروه چي مطلق ذکر سي په کلام د فقهاء کي مراد ځیني تحریم ده امام ابو یوسف رحمة الله علیه وایي چي ما و امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته وویل کوم وخت چي ته دا ووایې په یو شي کي چي زه دغه مکروه بولم له دې ستا څه مراد وي امام ابو حنیفه رحمة الله علیه راته وویل چي زما تحریم ځیني مقصد وي حاصل يې دا سو چي امام ابو یوسف رحمة الله علیه او امام محمد رحمه الله علیه ددغو مذکورو شیانو بیع حرامه بولي کوم چي په مبسوط کي ذکر سو .

و اذا کان فی مسئلة قیاس و استحسان فالعمل علی الاستحسان

الا فی مسائل معدودة مشهورة و ایضاً قال الرملی رحمة الله علیه لو کان احدهما استحسان و الاخر قیاس الاصل تقدیم الاستحسان الا فیما استثنی کما قدمناه فیرجع الیه عند التعارض ۔(رد المحتار ص۴۹ ، ج ۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

کـه پـه يـو مسـئـلـه کي قيـاس او استـحسـان دواړه وو عـمل پـه استـحسـان باندي کول کيږي ماسوی له هغو يو څو معدودو مشـهورو مسئلو څخه او دغه رنګه امام رملي رحمه الله عليه ويلي دي :

وايـي کـه چيـري يـو استـحسـان وو او بل قيـاس وو اصل تقديم د استـحسـان ده پر قياس باندي ماسوی له هغو يو څو مسئلو څخه لکه څـنـګـه چـي مـوږ مـختـه ذکـر کـړو پـه وخـت د تـعـارض د قيـاس او استـحسـان کي و هغه ته رجوع کوئ .

و ان خالف أبا حنيفة رحمه الله عليه صاحباه فى ذلك

فـان كـان اختلافهم اختلاف عصر و زمان كالقضاء بظاهر العدالة يأخذ بقـول صـاحبيـه لتـغير أحـوال الناس و فى المزارعة و المعاملة و نحوهما يختار قولهما لاجتماع المتأخرين على ذلك۔(قاضيخان ص۳ ، ج ۱)

کـه امـام ابـو حنيفـه رحمه الله عليـه پـه يو مسـئله مختـلف فيـها کي له صاحبين سره مخالف وو نو دغـه د دوی اختـلاف که اختـلاف د عصـر ووزمـان وو نـو نـيـول پـه قـول د صـاحبيـن بـاندي کيږي او پـه کښـتـو و مـعـامـلـو کـي د دوی قـول مـختـاره ده ځـکـه پر دې اجمـاع د متاخرينو راغـلـې ده حـاصـل يـې دا سو چي د مبسـوط پـه متن کي امام ابو حنيفه رحـمـه الله عـلـيـه قيـاس کـوي او صـاحبين يې استحسـانا حرام بولي پـه وخـت د تـعـارض د قيـاس او اسـتـحسـان کـي ترجيح استـحسان ته ده پر قيـاس بـانـدي ، مـاسـوی لـه يو څو معدودو ځايو او دغـه رنګـه پـه وخـت د اختـلاف د امـام ابـو حـنيـفـه رحـمـه الله عـلـيـه کـي لـه صـاحبين سره پـه

Maktaba Tul Ishaat.com

مزارعاتو و معاملاتو کي ترجيح و قول د صاحبين ته ده دغه رنګه په هر رسمي مفتي کي ليکلي دي چي فتوی پر قول د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه ده په عباداتو کي مطلقا او پر قول د امام محمد رحمه الله عليه ده په بيوعو کي او پر قول د امام ابو يوسف رحمة الله عليه ده په قضاء و شهاداتو کي او پر قول د امام زفر رحمة الله عليه ده په اولس مسائلو مشهورو کي نو د مخدراتو او مسکراتو بيع مکروه تحريمي ده ځکه صاحبين يې مکروه تحريمي بولي .

و يجوز بيعها ای المسكرات و يضمن متلفها عند ابی حنيفة رحمه لله عليه خلافاً لهما فيهما لانه مال متقوم و ما شهدت دلالت قطعية بسقوط تقومها بخلاف آه قال ابن همام تحت هذا القول (لانه مال متقوم و ماشهدت آه) اقول فيه نظر اما اولاً فلانهم صرحوا بان معنی تقوم المال اباحة الانتفاع به شرعاً و سيجئ التصريح عند قريب بان هذه الاشربة مما لا ينتفع بها بوجه من الوجوه فكيف يتصور التقوم فيها و اما ثانياً فلان الدلالة القطعية انما تعتبر فی حق وجوب الاعتقاد دون وجوب العمل ألا تری أن خبر الواحد من السنة يوجب العمل و لا يوجب علم اليقين بل يوجب غلبة الظن علی المذهب الصحيح المختار عند الجمهور كما تقرر فی علم الاصول و ما نحن فيه من العمليات فينبغی ان يكتفی فيه بمجرد غلبة الظن كيف لا و قد اكتفی به فی الحكم بحرمة هذه الاشربة اذ هی ايضاً اجتهادية لا قطعية كما صرح به آنفا۔(فتح القدير ص ۳۱ ، ج ۹)

امام بو حنيفه رحمه الله عليه وايي چي د مسکراتو بيع جائز ده او پر تلف کونکي باندي تاوان سته او صاحبين يې ناجائز بولي د امام

صاحب دليل دا ده وايي چي دغه شيان مال متقوم دي او يو دلالت
قطعي نه ده پيش سوی پر سقوط د تقوم د دوی باندي او علامه ابن
همام صاحب فتح القدر د امام صاحب پر قول باندي اعتراض لري
وايي يو خو فقهاؤ رحمه الله عليهم پر دې باندي تصريح کړې ده چي
مال متقوم هغه ته وايي چي په شرع کي نفع اخيستل باندي مباح
وي او نزدې به دغه تصريح راسي . بان هذه الاشربة مما لا ينتفع بها
بوجه من الوجوه . يعنی په دغه اشربه وو باندي په يو وجه له وجوه
نفع نه اخيستل کيږي نو بيا به يې څنګه سړی د تقوم تصور وو هي
او بل دلالت قطعي په حق د وجود د اعتقاد کي معتبر ده نه په حق د
وجوب د عمل کي . ته نه وينې چي خبر واحد له احاديثو عمل
واجبوي او علم يقين نه واجبوي بلکه غلبة الظن واجبوي پر مذهب
صحيح المختار باندي په نزد د جمهورور لکه څنګه چي دغه خبره په
علم اصولو کي ثابته سوې ده او زموږ بحث په اعمالو کي ده نو بايد
په مجرد غلبة الظن باند اکتفا وسي او ولي به نه وسي څکه په حکم
کي په حرمت د دغو اشربه هم په غلبة الظن باندي اکتفا سوې ده
دلالت قطعي نسته په کي . علامه ابن همام رحمه الله عليه که څه هم
حنفي مذهبه ده لکن په بعض ځايو کي تفرد کړی وي څکه بعض
معاصرينو په طبقه د مجتهدينو کي حساب کړی ده او بعض له اهل
ترجيح حساب کړی ده لکه په دغه ځای کي چي تفرد يې کړی ده
ترجيح يې و قول د صاحبين ته ورکړې ده حتی تر صاحبينو يې
تجاوز کړی ده يعني تفرد يې له تولو کړی ده څکه صاحبين د دغو

Maktaba Tul Ishaat.com

مسـکـراتـو بیـع ناجائزه بولي عدم جواز په معنی د عدم حلت اخلي نه په معنی د عدم صحت . یعني عقد د بیع صحیح ده لکن حرامه ده او ابـن هـمام رحمه الله علیه عدم جواز په معنی د عدم صحت اخیستی ده یعـنـي نفـس عـقـد د بیـع صـحیـح نه ده . ځکه ده رحمه الله علیه دغه مسـکـرات لـه مـالیتـه متـقـومه څخه ایستلي دي لکه څنګه چې امام شافعي رحمه الله علیه وغیره ایستلي دي دا که څه هم ده د امام صاحب پر قول اعتراض کړی ده خو لکن دا د ده رایه هم ده ځکه جواب یې نه ده ورکړی . والله اعلم وعلمه اتم

تطبیق په مابین د احنافو کتبي

د فقهاؤ رحمه الله علیهم له کتابو دا صراحةً معلومیږي چې بیع د هغـه شیـانـو چې معصیت قائم په هغه شي پوري وي او د هغو شیانو چې مـعـصیـت قـائـم پـه هغه شي پوري نه وي خو لکن سبب او ذریعه لپـاره د هغه شي وي چې په هغه شي پوري معصیت قائم وي اول لکه بیـع د مسـکـراتـو و مـخـدراتـو او ډول و سرنا و چکـه وغیـره . ځکـه دا مـعـصیت قائم په دوی پوري ده او دویم لکه بیعه د انګورو پر هغه چا بـاندي چې شراب ځیني جوړوي هغه مسلمان وي او که کافر وي دغه دواړه قسمه بیع داخله په اعانت علی المعصیت کي ده په خاص بیع د مسکراتو کي .

د امام شافعي رحمة الله علیه مذهب داده چې بیع یې نه ده صحیح ځکـه دا مـال متـقـوم نـه دی دا عیـن خمر دي لکه څنګه چې مخته ذکر سوو د عـلامـه ابن هـمام رحمة الله علیه او د محمد بن محمود صاحب

العنایه رحمهم الله هم دغسي رایه ده او د نورو احنافو رحمه الله علیهم په دې کي مختلف اقوال دي امام ابو یوسف رحمه الله علیه او امام محمد رحمه الله علیه یو وار قول په کراهیت سره کړی ده لکه په دې قول د دوی کي:

وکره ذلك ابو یوسف رحمه الله علیه ومحمد رحمة الله علیه استحساناً لان البیع العصیر والعنب ممن یتخذ خمراً اعانة علی المعصیت وتمکین منها وذلك حرام الخ (مبسوط ص۳۲، ج ۱۲)

او بل وار یې قول په عدم جواز سره کړی ده لکه په دې قول کي: ان عین المسکرات محرمة التناول فلا یجوز بیعه کالخمر تر دې ځای پوري لان البیع یکون تسلیطاً للمشتری علی الشرب عادةً فاذا کان الشرب حراماً حرم البیع ایضاً وهذه المعني موجود فی هذه الاشربة۔(مبسوط ص۱۸، ج ۱۲)

او بل دا قول فقهاء یې د مطلق احنافو له طرفه ذکر کوي یعني د امام صاحب او د صاحبین پکښي اتفاق ده ان ما قامت المعصیت بعینه یکره بیعه تحریماً آه (بحر الرائق ص۱٤۳، ج ۵)

دغه درې سره بیعي فی الجملة اعانت علی المعصیت دي که څه هم په خپل مینځ کي یو څه فرق سره لري او سره له دې چي یو وار یې قول په کراهیت مطلق کړی ده او بل وار یې په عدم جواز سره کړی ده اودریم قول یې په مکروه تحریمي سر کړی ده دغه رنګه امام ابوحنیفه رحمه الله علیه یو وار قول په جواز باندي کړی ده لکه په دې قول کي یجوز بیع الاشربة المحرمة کلها الا الخمر آه(عالمګیري

Maktaba Tul Ishaat.com

ص۱۱٦ ، ج ۳)
او بل واریې په مکره تحریمي سره کړی ده لکه په هغه قول متفق علیه کي ان ما قامت المعصیة بعینه یکره بیعه تحریماً آه بحر الرائق ص ۱٤۳، ج ٥) .
نو اوس دلته د صاحبینو اقوال په خپل مینځ کي سره ټکر دي او د امام صاحب رحمه الله علیه اقول پخپل مینځ کي سره ټکر دي . دغه رنګه د صاحبینو رحمة الله علیهما اقوال د امام ابو حنیفه رحمه الله علیه سره ټکر دي . د احقر بنده په نظرباندي تطبیق داسي کیږي . فقهاء رحمه الله علیهم په بیوع کي دوه لفظه استعمالوي (یجوز) او (لا یجوز) یجوز په معنی د (یحل) او یجوز په معنی د (یصح) یجوز که په معنی د یحل سره سي بیا له حرمت او کراهیت سره منافی ده او که په معنی د یصح سره سي صحت منافات له حلت او حرمت او کراهیت سره نه لري مثلا صحیح به هم وي او حرام به هم وي .صحیح به هم وي او مکره به هم وي صحیح به وي نه به حرام وي او نه به مکروه وي بلکه حلال به وي مګر هغه صحیح چي هم صحیح وي او هم حلال وي هغه صحیح ته مقابل حرام ویل کیږي اوهغه صحیح چي هم صحیح وي او هم حرام وي وهغه صحیح ته مقابل حلال ویل کیږي (او لا یجوز) کله په معنی د (لا یصح) سره وي او کله په معنی د (لا یحل) سره وي که په معنی د (لا یصح)) سره وه نو بیا حلت او حرمت و کراهیت ورسره منافی دی . ځکه د لا یصح خو دا معنی ده چي نفس عقدیی نه صحیح کیږي او حلت و حرمت و

کراهیت خو افراد د یصح دي او د یصح دا معنی ده چې نفس عقدیه صحیح ده بیا به یا حرام وي یا به حلال وي مثلا او که په معنی د (لایحل) سره وه بیا حلت ورسره منافي ده او حرمت وکراهیت منافات نه ورسره لري بلکه حرمت ورسره عین ده ځکه عدم تحلیل مرادف د تحریم ده نو اوس که د صاحبین و اقوالو ته نظر وسي هیڅ ټکر به نه سي پکښې پیدا .ځکه له دوې درې قوله صادر سوي وو اول یې په لا یجوز سره وو او بل مکروه تحریمي وو او بل مکروه مطلق هغه لا یجوز په معنی د لا یحل سره ده لا یحل مرادف د یحرم ده دغه رنګه د (لا یجوز) د کلام اخیر الفاظ هم دال پر دې باند دي چې هغه لا یجوز چې په سر کې ذکر ده هغه په معنی د لا یحل سره ده هغه اخیر الفاظ دا دي:

لان البیع یکون تسلیطاً للمشتری علی الشرب عادة فاذاکان الشرب حراماًا حرم البیع ایضاً آه۔(مبسوط ص ۱۸ ، ج ۱۲)

یعنی په اخیر کې لفظ د حرم ویلی ده او مکروه تحریمي وحرام په نزد د جمهورو علماؤ سره عین دي دریم کلام یې مکروه مطلق وو او دا مخته ذکر سو مکروه چې مطلق ذکر سي مراد ځیني تحریم ده . (رد المحتار ص۱۵۰، ج ۱)

نو د ټولو اقوالو مفاد یې دا سو چه د هر هغه شئی بیع چې په هغه کې اعانت علی المعصیت وي د هغه بیع حرام ده و لو که نفس عقد صحیح وي . دغه رنګه د امام ابو حنیفه رحمه الله علیه په یوه قول کې چې (یجوز) ذکر ده او په بل قول کې (مکروه تحریمي) ذکر ده

Maktaba Tul Ishaat.com

(یجوز) په معنی د یصح سره ده له صحت سره حرمت منافی نه ده یعنی هم صحیح ده او هم حرام نو داهغه یصح ده چي مقابل د حلال وي او مکروه تحریمي هم مقابل د حلال ده نو د دواړو قولو مفاد یې دا سو چي په هر هغه شي کي چي اعانت علی المعصیت وي بیع یې حرامه ده نو د صاحبینو رحمة الله علیهما اقوال په خپل مینځ کي هم متحد او متفق سو او له اقوالو د امام صاحب رحمة الله علیه سره هم متحد سو . دغه رنګه د امام صاحب رحمة الله علیه اقوال په خپل مینځ کي هم متفق سو او له اقوالو د صاحبین سره هم متفق سو ځکه د ټولو قول دا سو چي د داسي شیانو بیعه حرامه ده و لو کې نفس عقد صحیح ده لکه څنګه چي علاء الدین حصفکي رحمة الله علیه ویلي دي:

وصح بیع غیر الخمر مما مر و مفاده صحة بیع الحشیشة و الافیون قلت وقد سئل ابن نجیم رحمه الله علیه عن بیع الحشیشة هل یجوز؟ فکتب لا یجوز فیحمل علی أن مراده بعدم الجواز عدم الحل قاله المصنف ـ(در مختار ص ٤٥٤ ، ج ٦) کتاب الاشربة ـ

وایي مخته تېر سو چي له شرابو ماسوی د نورو شیانو بیعه صحیح ده مفاد یې دا ده چي د چرسو او افیونو بیعه صحیح ده او له ابن نجیم رحمة الله علیه څخه د چرسو د بیعي پوښتنه وسوه ده په جواب کي لا یجوز ورته ولیکل وایي زه وایم چي د ده مراد په عدم جواز سره عدم حل ده یعني حلاله نه ده بلکه حرامه ده .

(سوال) بیع افیون و بنگ صحیح است یا نه و بر تقدیر اول حلال است یا نه؟

Maktaba Tul Ishaat.com

(جواب) این بیع صحیح است و نافذ است اما حلال نیست۔ مجموعة الفتاوی علی خلاصة الفتوی ص ۲۵۔ ج ۳) کتاب البیوع۔

سوال: د افیونو او د بنګو بیع صحیح ده او که نه که صحیح وي حلاله ده او که نه؟

جواب: د دغه بیع صحیح او نافذه ده مګر حلاله نه ده.

و یجوز بیعها آه (ای المسکرات) اقول المراد بالجواز ما یترتب علیه الثمرات مطلوبة لا ما یقابل الحرمة - (سعدی چلپی علی هامش فتح القدیر ص ۳۱، ج ۹).

سعدي چلپي رحمه الله علیه په دې قول کي و یجوز بیعها وایي چي مراد په جواز سره هغه جواز ده چي ثمرات مطلوبه وربانديې مرتب کیږي یعنې نفس عقد یې صحیح ده او مالک د رقبې او د تصرف سو په دغه بیعه سره هغه جواز نه ده چي مقابل د حرام ده یعني حرام اوس هم ده.

ان المسلم ممنوع عن التصرف فی الحرام اقول فینبغی ان لا یجوز بیعها لکن المراد بالجواز فی قوله و یجوز بیعها لیس ما یقابل الحرمة بل ترتب الثمرات المطلوبة کما فی البیع المکروه۔ (سعدی چلپی علی هامش فتح القدیر ص ۳۲، ج ۹)

مسلمان په حرامو کي له تصرف څخه منع ده سعدي رحمة الله علیه وایي نو مناسب دا ده چي د دغو شیانو بیعه نسي جائز او مراد په جواز سره په هغه قول کي و یجوز بیعها هغه جواز نه ده چي مقابل د

حرام ده بل هغه ځيني مراد ده چې ثمرات مطلوبه باندي مرتب کيږي لکه په بيع مکروه کي و دغه بيع حرامي ته په شريعت کي بيع فاسده او بيع مکروه او بيع منهي عنه وايي له جهته د ورود د نهي له دغه بيع څخه حکم د داسي بيع دا ده چي کول يې حرام ده او فاعل يې ګناهکار ده که يې بالفرض له دغه حرمة سره دا بيع وکړه ثمرات مطلوبه ور باندي مرتب کيږي چي هغه عبارت له نفس عقد او ملک رقبه و ملک تصرف څخه دي دا بيع مقابل د باطلي ده په بيع باطله کي نه نفس عقد صحيح کيږي او نه ملک رقبه فائده کوي او نه ملک تصرف . والله اعلم بالصواب .

فائده د تطبيق د اختلاف دا ده

که دغه تطبيق نه وکړ سي او يجوز و لا يجوز په خپله معنی متبادره سره سي نو بيا بايد ټولو فتاویٰ وو پر بيع د هغه شي چي په هغه کي اعانت علی المعصيت وي حکم په لا يجوز باندي کړی وای . ځکه دا مختته ذکر سو چي د مفتي دا رسم ده چي په بيوعو او معاملاتو کي د امام ابوحنيفه رحمه الله عليه او د صاحبين اختلاف سره راسي فتوی به پر قول د صاحبين کوي . (قاضيخان ص ۳، ج ۱) او سره له دې چي بعضي فتاوٰی وي د داسي شي پر بيع باندي حکم په لا يجوز سره کوي او بعضي يې په يجوز سره کوي له تطبيق وروسته دا معلومه سوه چي نه اختلاف په مابين د امام ابوحنيفه رحمه الله عليه او د ابو يوسف رحمه الله عليه و محمد رحمه الله عليه کي سته او نه اختلاف په ميانځ د فتاویٰ وو کي سته يعنی نزاع د ټولو لفظي ده

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه فتاوی وي چې په لا يجوز سره حکم کوي هغه لا يجوز په معنی د لا يحـل ده عـدم تـحـلـيـل مرادف د تحريم ده يعني دا بيعه حرامه ده و لو که يې نفس عقد صحيح وي او هغه فتاویٰ وي چې حکم په يجوز سره کوي هغه يجوز په معنی د يصح ده هغه يصح چې مقابل د حلال ده د حرام نـه ده يعـنـي دا بيـعه حلاله نه ده بلکه حرامه ده و لو که يې نفس عـقـد صـحيـح وي نـو دا تـر لـمـر ظـاهـره سوه چې د ترياقو او افيونو او چرسو او د ټولو مسکراتو او مفتراتو بيع فاسده او حرامه ده په مذهب د احنافو رحمهم الله د ترياقو دبيع په بطلان باندي به انشاء الله په بحث د ايـجـارې کـي دلائـل ذکـر کړو . هـذا ما عندی و الله اعلم و علمه الم و اکمـل .

و قـال رسـول الـلـه ﷺ ان الله اذا حـرم شيئاً حرم ثمنه - (اخرجه ابن همام ، فتح التحرير ص ٤٤ ، ج ٦) .

او رسـول الله وايي الله (جـل جـلا لـه) چـې کوم وخت يو شئی حرام کړي د هغه شي عوض هم حرام وي .

و قـال رسـول الـلـه ﷺ ان الله تعالـی اذا حـرم علی قوم أكل شئ حرم عليه ثمنه(اخرجه مسلم) .

او رسول الله ﷺ وايي الله (جل جلا له) چې کوم وخت پر يو قوم بـانـدي د يـو شـي خـوراک حـرام کـړي نـو د هغه شي عـوض هم حراموي هغه عـوض پيـسې وي او کـه بـل شی وي .

و قـال حسـان بـن ابـی سـنـان مـا رأيـت شيئاً اهون من الورع دع ما يريبك الی ما لا يريبك -(رواه البخاری ص٢٧٥، ج ١)

حسان بن ابي‌سنان رحمه الله عليه وايي ما تر پرهيزګاري اسانه شى نه ده ليدلى دفع كوه هغه شئى چي تا په شک كي اچوي و هغه شي ته چي تا په شک کي نه اچوي . (رواه البخاري ص ۲۷۵، ج ۱)

و قد ورد عن رسول الله ﷺ احاديث كثيرة فى تحريم بيع الخمور منها ما روى البخارى و مسلم عن جابر رضى الله عنه ان النبى ﷺ قال ان الله حرم بيع الخمر و الميتة و الخنزير و الاصنام۔

له رسول الله ﷺ ډېرحديثونه د شرابو د بيع په حرمت كي نقل سوي دي بعض له هغو هغه دي چي امام بخاري و مسلم رحمهما الله له حضرت جابر رضى الله عنه نقل كړي دي وايي رسول الله ﷺ وويل الله (جل جلا له) د شرابو او د مړزګي او د خنزير او د بتانو بيع حرامه كړې ده علت يې دا ده چي پر دغو مذكور شيانو الله (جل جلا له) نفع اخيستل حرامه كړې ده نو ځكه يې بيع حرامه ده .

و ورد عنه أحاديث كثيرة تفيد أن ما حرم الله الانتفاع به حرم بيعه و أكل ثمنه فيتناول التحريم بيع هذا المخدرات لما يترتب على ترويجها من المفاسد و المضاربين افراد الامت فهو كالمتسبب فى هلاكها و دمارها بل أنه يقتل الانفس و يضيع الاموال فهى و ان كانت تجارة فى ظاهرها كما يظن بعض الناس لكنها تجارة بأرواح الناس و فساد الشباب و ضياع الاخلاق و هلاك الامة۔

له رسول الله ﷺ ډېر احاديث منقول دي مفاد يې دا ده الله (جل جلا له) چي هر هغه شئى حرام كړى وي د هغه شي بيع يې هم حرامه كړې ده او د عوض خوراک يې هم حرام كړى ده نو دا د مخدراتو د بيع و

حرمت ته هم ورشامليږي ځکه د مخدراتو په رواجولو باندي د امت په افرادو کي فسادونه او ضررونه مرتب کيږي نو دغه بائع لکه متسبب داسي ده په هلاکت او خرابتيا ده افرادو د امت کي بلکه نفسونه قتل کوي او مالونه ضائع کوي نو داکه څه هم په ظاهر کي تجارت ده لکه څنګه چي بعض خلګو داګمان کړی ده لکن په حقيقت کي د خلګو په روحو او د ځوانانو په فسادو او د اخلاقو په ضائع کېدو او د أمت په هلاکېدو باندي تجارت ده .

فلا شك فی حرمت الاتجار بها و لانها تعين على المعصيت و الله تعالى قد نهانا عن التعاون على الاثم و العدوان فقال الله تعالى و تعاونو على البر و التقوى و لا تعاونوا على الاثم والعدوان فالتجارة فی هذه الاشياء لا شبهة فی حرمتها لدلالة القرآن الكريم على تحريمها و لهذ قال جمهور العلماء بان هذه المخدرات لا قيمة لها فی حق المسلم فلا يجوز بيعها و لا يضمن غاصبها و لا متلفها لان ذلك دليل عزتها و تحريمها دليل اهانتها و قد روى عن النبی ﷺ أنه قال ان الذی حرم شربها حرم بيعها و أكل ثمنها ـ (الفقه على المذاهب الاربعه ص۴۵ ، ج ۵)

نو شک په حرمت د تجارت د مخدراتو کي نسته او بل دغه بيع و خريد معونت پر ګناه ده او حال دا ده چي الله (جل جلا له) وايي معونت پر نېکۍ او تقویٰ باندي سره کوئ پر ګناه او دښمني باندي مه سره کوئ نو په حرمت د تجارت د دغو شيانو کي هيڅ شک او شبهه نسته له جهت د دلالت د قرآن کريم پر تحريم د دغو شيانو باندي نو ځکه جمهور علماء ويلي دي چي د دغو مخدراتو قيمت په حق د مسلمان

کې نستـه نـو نـه يې بيعـه جـائز ده او نـه ضمـان پر غـاصب او تلف کونکي باندې سته ځکه قيمت او ضمان يې دليل د عزت ده او حرمت يې دليـل د سپـکتيـا ده او لـه نبي ﷺ څخه روايت نقل سوی ده چې د کـوم شي چې څيښـل حرام وي د هغه بيعه هم حرام ده او عوض يې هم حرام ده . (الفقه على المذاهب الاربعه ص٤٥ ، ج ٥)

او بعض هم عصر علماء

د ترياقـو او چرسـو او افيـونو وغيـره بيع جائز بولي قياس يې پر سلا ح بـانـدې کـوي . وايـې دغـه افيـو ن وغيـر ه مثلاً داسې دي لکـه سلا ح د سلا ح بيع جائز ده ځکه عقاب او ثواب پر استعمال د سلا ح بـانـدې مـرتب کيږي مثلاً که دي په جهاد کې استعمال کړه خدای (ج) ثـواب درکـوي او کـه دي پـر مسـلمـانـانو ناحقه استعمال کړه الله (جل جلا لـه) عـذاب درکوي دغه افيو ن وغيره هم داغسې دي مسلما ن دي خـرڅوي او لـه استعماله دي ځان ساتي له هغو دلائلو ماسوی چې مورږ پـر حـرمـت د بيـع د مسـکـراتـو بـانـدې ذکـر کړل و دغـو علماؤ تـه اول دا جـواب ورکـوو دا نـه منـو چې بيع د سلا ح مطلقاً جائز د ه او عقاب يې منحصر په استعمال کې ده ځکه بيع سلا ح پر هغه چا باندې چې هغه بـر سـر عـداوت وي لـه مسلمانانو سره ناجائز او حرامه ده ځکـه دا اعانت عـلـی الـمـعـصـيت ده و لـو کـه يـې اسـتـعمال بائع نـه ده کړی او ناحقـه اسـتـعـمـال يـې پـر مسلمانانو ، خو عين معصيت ده په شريعت مطهره کـې لکـه څنـګـه چې مـعـصيـت مـنـع او حرام ده دغـه رنګـه اعانت على المعصيت هم منع او حرام ده دغه بحث مخته په مراتو تېر سوی ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

عـلامـه ابـن عـابدين رحمة الله عليه د انكورو خرڅول پر هغه كافر بانـدي چي شراب څيني جوړوي حرام بللي دي او پر مسلمانانو باندي خـو پـه اتـفـاق سـره حـرام دي هـغـه مسلمان چي خمر څيني جوړوي نو افيـو ن وغيـره بـه بيا څـنـګـه جائز سي پـر كـفارو باندي ځكه انكور وروستــه لــه تبديلــه د مـاهيت حـرام شئى څيني جوړيږي او افيون وغيـره پـه خپـلـه حـرام دي او سـره له دې عبد الرحمن جزيري رحمه الله عليه ليكلي دي چي اسرائيل هر وخت دا كوښښ كوي چي د مخدراتو مواد په عربي مملكتو كي رواج كړي د دوى د هلاكت لپاره نو بيا خو د مـخـدراتـو خـرڅـول پـر كـفـارو بـانـدي عيـن د سلا ح خرڅول دي پر دښمنانو باندي او سلا ح خرڅول پر دښمنانو د اسلام باندي په اتفاق د فقهاء باندي حرام او اعانة على المعصيت ده .

او دويـم جـواب دا وركـوو چـي ددغــه مـسـكـراتو قيـاس پـر سلا ح بـانـدي نـه صـحيـح كيـږي ځكه سلا ح مال متقوم ده او مبا ح الاصل ده قـطـع نـظـر لـه استـعـمـالـه او بـعد له استعمال ثواب او عقاب دواړه پر مـرتـب كيـږي او مـسـكـرات مـال دي خو لكن غير متقوم دي ځكه مال متـقـوم هـغـه تـه وايـي چـي پـه شريعت كي چي نفع اخيستل ورباندي مبا ح وي‌او پر مسكرات و مفتراتو باندي نفع اخيستل حرامه ده لكه څـنـګـه چـي‌مختـه ذكر سو او بعد له استعماله عقاب او ثواب دواړه نه پر مـرتـب كيـږي بـلـكـه يـوازي عـقاب پر مرتب كيږي نو دا قياس مع الـفـارق ده او بـعـض هـم عـصـر عـلـمـاء رحمة الله عليهم يې پر سرقين قيـاسـوي وايـي خـوشـائـي مـحـرم التـناولـه دي او سره لـه دې بيعـه يې

جائز دي نو مسكرات هم محرم نشو نه نو بيه بيعه يې جائز دي
مو ړ: جواب ورکوو چې دغه بيع قياس مع الفارق دى ځکه سرقين مال
متقوم دى يعنې منتفع به شرعاً دى مثلاً [illegible] به ځمکه کې
شيندل د ځمکې د قوت لپاره د جائز دي [illegible]
معصيت نشته او مسکرات خو [illegible] غير متقوم دي لکه څنګه چې
ذکر سو يعنې غير منتفع به شرعاً دي [illegible]
معصيت دى نو [illegible] قياس [illegible] صحيح نه دى
او [illegible] دغه سرقين که د خوړو لپاره [illegible]
لپاره خرڅ کړي نو [illegible] هم حرام [illegible]
ځکه [illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible] حلال [illegible]
[illegible]
[illegible] حلال [illegible]
[illegible]
ځمکې [illegible] حلال [illegible]
[illegible] مسکرات [illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

لپاره خرڅ سي دوايي په کول جائز ده نو بيا په دغه وخت کي بيع هم جائز ده او دغه رنګه انګور مثلاً حلال دي بيع يې عادتا د خوراک لپاره کيږي خوراک يې حلال ده نو بيعه يې هم حلاله ده او که بالفرض د شراب جوړولو لپاره خرڅ سي نو بيا يې بيعه حرامه او فاسده ده په دې قاعده سره هغه توهمات دفعه سوو چي بعض متوهمين به دا توهم کاوه چي خاوره او سرقين و تيل نجس وغيرهم دي تر دې قول لاندی سی قال رسول الله ﷺ ان الله اذا حرم شيئاً حرم ثمنه۔ يعني رسول الله ﷺ ويلي دي الله (جل جلا له) چي کوم وخت يو شئی حرام کړي د هغه عوض هم حراموي او تر دې قول دي لاندي سي .

قال رسول الله ﷺ الله تعالیٰ اذا حرم علی قوم أکل شئی حرم عليهم ثمنه۔ (اخرجه مسلم)۔ يعني رسول الله ﷺ ويلي دي الله (جل جلا له) چي کوم وخت د يو شي خوراک په يو قوم حرام کړي د هغه عوض هم حراموي او بعض متوهمين دا توهم کوي چي مسکرات دي تر دغه قول لاندي سي . قال رسول الله ﷺ ان الله تعالی (خلق لکم ما فی الارض جميعاً۔ نو دا ټول توهمات دذفع سوو تفصيل ته ضرورت نه لري . والله الموفق و المعين .



المقصد الرابع

فی الربح الناتج من التجارة المخدرات

څلورم مقصد په کښه د تجارت د مسکراتو کښي ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

لقد علم ان بيع هذه المخدرات حرام فيكون الثمن الناتج من هذه التجارة حراماً لقوله تعالى (و لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل) اى لا ياخذ و لا يتبادل بعضكم مال بعض بالباطل و ذلك من وجهين الاول اخذه على وجه الظلم و السلب و السرقة و النهب و الخيانت و التدليس و ما جرى مجرى ذلك الثاني اخذه من جهت محظورة كاخذه بلعب القمار او بطريق غير شرعى كالعقود المحرمة كما فى المعاملة بالرباء و بيع ما حرم الله الانتفاع به كالخمر المتناولة للمخدرات المذكورة فان هذا كله حرام مثل السرقة سواء بسواء و ان كان بطيبة النفس من مالكه۔

دا معلومه سوه چې بيع د دغو مخدراتو حرامه ده نو هغه پيسې چې په دغه تجارت سره يې انسان وګټي هغه هم حرامي دي له جهته د دې قول د الله (جل جلا له) (و لا تأكلوا اموالكم بينكم باطل) يعني تاسي خپل مالونه په خپل مينځ کي په ناحقه مه سره خورئ يعني مه يې اخلئ او مه يې بعضي له بعضو سره خپل مال په ناحقه بدلوئ او دغه اخيستل او بدلېدل په ناحقه سره له دوو وجهو کيږي يو اخيستل دي په طريق د ظلم او د غصب او د غلا او د لوټماري او خيانت او د وديعت يعني فريب و چلول دوکه او نور دغسي شيان او دويم اخستل دي په يو محظور او ممنوع وجه سره لکه په قمار سره اخيستل او يا په بله غير شرعي طريقه سره لکه حرام عقدونه لکه د سود په معامله کي او بيع د هغو شيانو چې پر هغو باندي الله (جل جلا له) نفع اخيستل په شرع کي حرام کړي وي لکه شراب هغه شراب چې و دغه مخدراتو ته هم ور شامليږي ځکه ټول حرام ذي او

Maktaba Tul Ishaat.com

لکه غلا په غلا باندي یعني یو سړی له بله څخه وزني یا کیلي یا عددي شئی غلا کړي او هغه بل بیا له ده څخه هغه رنګه شی هغونه مقدار غلا کړي که یې څه هم مالک په راضي وي خو لکن دا خوراک او تبدیل په باطل سره ده او بل له جهته د هغو حدیثو چي هغه دلالت پر حرمت د ثمنو د هغه شي کوي چي پر هغه باندي نفع اخیستل په شرع کي حرامه وي لکه دا قول د رسول الله ﷺ ان الله اذا حرم شیئاً حرم ثمنه (رواه ابن شیبة عن ابن عباس) و قد جاء فی الکتاب زاد المعاد ما نصه قال جمهور الفقهاء أنه اذا بیع العنب لمن یعصره خمرا حرم أکل ثمنه بخلاف ما اذا بیع لمن یأکله و کذلك السلاح اذا بیع لمن یقاتل به مسلماً حرم أکل ثمنه و اذا بیع لمن یغز به فی سبیل الله فثمنه من الطیبات و کذلك ثیاب الحریر اذا بیعت لمن یلبسها ممن یحرم علیه لبسه حرم أکل ثمنها بخلاف بیعها ممن یحل له لبسها آه و اذ کانت الاعیان التی یحل الانتفاع بها اذا بیعت لمن یستعملها فی معصیة الله علی رائی الجمهور الفقهاء و هو الحق یحرم ثمنها لدلالت ما ذکرنا من الأدلة و غیرها علیه کان ثمن العین التی لا یحل الانتفاع بها کالمخدرات حراماً من باب أولی۔

رسول الله ﷺ وایي الله (جل جلا له) چي یو شئی حرام کړی د هغه عوض هم حراموي روایت یې ابن شیبه له ابن عباس رضی الله عنه څخه کړی ده انګور چي په هغه چا خر څ کړي چي هغه شراب ځیني جوړوي د هغو انګورو پیسې حرامي دي او چي په هغه چا یې خر څ کړي چي هغه یې خوري بیا پروانه لري او دغه رنګه سلا ح

چي پر هغه چا خرڅه کړي چي هغه مسلمان په وژني د هغې سلاح عوض حرام ده او چي پر هغه چا يې خرڅه کړي چي هغه جهاد په کوي نو بيا يې عوض طيب او حلال ده او دغه رنګه وربښمينه جامه چي پر هغه چا خرڅه کړي چي هغه يې اغوندي او اغوستل يې وي پر حرام نو بيا يې پيسې حرامي دي او چي پر هغه چا يې خرڅه کړي چي و هغه ته يې اغوستل جائز وي بيا عوض هم جائز ده نو چي د هغو اعيانو او ذواتو چي پر هغو نفع اخيستل جائز او حلال وي هغه پر داسي چا خرڅول چي هغه يې په معصيت الله كي استعمالوي عوض يې ناجائز او حرام ده پر مذهب د جمهورو فقهاؤ او هغه حق هم ده له جهته د هغو دلائلو چي موږ ذکر کړو وغيره نو د هغو اعيانو و ذواتو چي دوی پخپله حرام وي ده هغو عوض په طريقه اولیٰ سره حرام ده .

و اذا كان ثمن هذه المخدرات حراماً كان خبيثاً

و كان انفاقه فى القربات كالصدقات و بناء المسجد و حج بيت الله الحرام غير مقبول اى لا يثاب المنفق عليه ـ

نو هر کله چي پيسې د دغو مخدراتو حرامي سوې نو خبيث دی طيب نه دی نو دغه پيسې په ثوابي شيانو كي نفقه كول لكه خيرات كول او مسجد پـه جوړول او حج پـه كول غير مقبولي دي يعنى الله (جل جلاله) پر دغو قرباتو باندي ثواب نه وركوي:

فقد روى مسلم عن ابى هريرة رضى الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ان الله طيب لا يقبل الا طيباً و ان الله تعالى امر المؤمنين بما امر به المرسلين فقال الله تعالى يا ايها الرسل كلوا من الطيبات و اعملوا

صالحاً (الاية) و قال الله تعالى يا ايها الذين آمنو كلوا من الطيبات ما رزقناكم و شكروا الله ان كنتم اياه تعبدون ـ ثم ذكر الرجل يطيل اسفر أشعث أغبر يمديده الى السماء يا رب يا رب و مطعمه حرام و مشربه حرام و ملبسه حرام و غذى بالحرام فان يستجاب لذلك؟

امام مسلم رحمه الله عليه له ابِ هريره رضى الله عنه څخه روات کړى ده وايي رسول الله ﷺ ويلي دي چي الله (جل جلا له) طيب ده طيب مال قبلوي خبيث نه قبلوي او الله (جل جلا له) مؤمنان په هغه شي امر كوي په كوم شي چي رسولان امر كړي دي الله (جل جلا له) ويلي دي اې رسولانو خوراک له طيباتو څخه کوئ يعني له پاکو او حلالو شيانو څخه او صالح عمل کوئ او په بل آيت كي الله (جَل جلا له) ويلي دي اې كسانو مؤمنانو خوراک له پاک او طيب هغه رزق څخه کوئ کوم چي موږ درکړى ده او د الله (جل جلا له) شكر ادا كوى كه چيري تاسي خاص د الله (جل جلا له) عبادت کوئ بيا رسول الله ﷺ هغه سړى ذكر كړ چي اوږد سفر يې کړى وي او ببر سر يې وي او په خاورو خړ پړ وي او لاسونه د اسمان طرفته كشوي او د يا رب يا رب نارې وهي او خوراک يې حرام وي او څښناک يې حرام وي او جامه يې حرامه وي او لوى سوى په حرامو وي نوزه د دغه سوال قبلوم يعني الله (جل جلا له) وايي د داسي سړي سوال نه قبلوم خبيث او طيب چي په دغه آيتو کي ذکر دي .

و يحرم عليه الخبائث آه كلوا من الطيبات (الاية) مفسرين كرام وايي چي هر ضار شئى په خبيث كي داخل ده او هر نافع په طيب كي

Maktaba Tul Ishaat.com

داخل ده .

و قد جاء في الحديث الذي رواه احمد في سنده عن ابن مسعود رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال والذي نفسي بيده لا يكسب عبد مالاً من حرام فينفق منه فيبارك له فيه و لا يتصدق فيقبل منه و لا يتركه خلف ظهره الا كان زاده في النار ان الله لا يمحو السيئي بالسيئي و لكن يمحو السيئي بالحسن ان الخبيث لا يمحوا الخبيث۔

او په حديث شريف كي راغلي دي هغه حديث چي احمد په خپل مسند كي له ابن مسعود رضی الله عنه څخه نقل كړيده چي رسول الله ﷺ ويلي دي زما د قسم په هغه ذات وي چي زما نفس د ده په لاس كي ده يو بنده به د حرام مال كسب نه وكړي چي بيا له هغه زكات وركړي او الله (جل جلا له) ده ته بركت پكښې ور واچوي او نه به له حرامو صدقه و خيرات وكړي چي الله (جل جلا له) يې ځيني قبول كړي او نه به يې تر شا پرېږدي مګر توشه به يې په اور كي وي الله بدي په بدي باندي نه محو كوي بلكه الله بدي په نېكي باندي نيستي كوي خبيث خبيث نسي نيستي كولی .

و روی عن ابی هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال من كسب مالاً حراماً فتصدق به لم يكن له آجر و كان اجره يعني اثمه وعقوبته عليه۔

ابي هريرة رضی الله عنه له رسول الله ﷺ څخه نقل كوي واي كه چا د حرام مال كسب او كاروبار كاوه او بيا يې خيرات ځيني وكړ د هغه اجر نسته او ګناه وعذاب يې پر ده باندي دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

وما فی مراسل القاسم بن مخیرة قال رسول الله ﷺ ما اصاب مالاً من مأثم فوصل به رحمه او تصدق به او نفقه فی سبیل الله جمع ذلك جمیعاً ثم قذف به فی نار جهنم . وایي رسول الله ﷺ ویلي دي که چا په غیر شرعي طریقه سره مال حاصل کړ او بیا یې وصل رحمي په وکړه او یا یې خیرات ځیني وکړ او یا یې د خدای په لار کي نفقه ځیني وکړه دا ټول را جمع کیږي په اور د دوزخ کي غورځیږي .

و روی عن النبی ﷺ انه قال ان اذا خرج الحاج بالنفقة الخبیثة فوضع رجله فی الغدز ای الرکاب و قال لبیك ناداه ملك من السماء لا لبیك و لا سعدیك و حجك مردود علیك .

له رسول الله ﷺ څخه روایت سوی ده وایی حاجي چي په حرامه نفقه سره راووزي د حج لپاره او پښه په رقاب کي کښېږدي او ووایی لبیک یعني په خدمت ولاړ یم تا لره یو ملکه له اسمان څخه اواز وکړي وایی لا لبیک یعنی په خدمت نه یې ولاړ و خپل رب ته ولا سعدیک او نه دي نېکبختي او خوښالي وي تا لره او حج دي مردود ده پر تا باندي یعني غیر مقبول ده .

فهذه الاحادیث التی یشد بعضها بعضاً تدل علی انه لا یقبل الله صدقة و لا حجة و لا قربة اخریٰ من القربات من مال حرام من أجل ذلك نص علماء الحنیفة علی أن الانفاق علی الحج من الحرام حرام۔

دغه احادیث چي بعضي د بعضو تائید کوي دلالت کوي پر دې باندي چي الله (جل جلا له) له حرام مال څخه نه صدقه قبلوي او نه حج قبلوي او نه بل ثوابي او خیراتي کار قبلوي نو له دې وجهي علماء

احنافو تصريح کړې ده پر دې باندي چي په حرام مال باندي حج کول حرام ده .

و نستطع أن نخلص ما ذكرناه فيما يأتى . موږ طلب د توفيق کوو چي هغه شيان چي موږ ذکر کړو چي د هغو خلاصه بيان کړو .

اولاً تحريم تعاطى الحشيش و الافيون والقات و غيرها من المخدرات المسكرات والمفترات۔ ثانياً تحريم الاتجار فيهاو اتخاذها حرفة تدر الربح ثالثاً حرمة تهريبها و مساعدة التجار على رواجها و التدليس عليه رابعاً حرمت زراعتها لاتخاذ المادة المخدرة لتعاطيها او الاتجار بها خامساً ان الربح الناتج من الاتجار فى هذه المواد حرام خبيث و ان انفاقه فى الطاعات غير مقبول ۔ (الفقه على المذاهب الاربعة ۴۲، ج ۵)

خلاصه يې دا ده اول د چرسو او افيونو او د ټولو مخدرات که مسکر وي او که مفتر وي خوراک او څيښاک او څکېدل حرام ده دويم د دغو مخدراتو تجارت او د ځان د کټې لپاره کسب جوړول حرام ده دريم له تجارانو سره په ګريزي او کرايه و مزدورۍ سره وړل د دغو مخدراتو حرام ده څورم د دغو مخدراتو فصل کرل هغه د خپل خوراک او څکېدن لپاره وي او که د تجارت لپاره وي حرام ده پنځم هغه ګټه چي د دغو مخدراتو په تجارت کي يعني په خريد او فروخت کي حاصله کړي هغه پيسې وي او که بل شی وي حرام ده د هغو نفقه کول په طاعاتو کي غير مقبول ده حرام پر دوه قسم دي يو قسم هغه حرام دي چي د انسان په ملک کي نه راځي مثلاً لکه مال د سرقې او د

غصب او هغه پیسې چې په بیوع باطله وو باندي یې ځانته حاصلې کړي وي دغسې مال د انسان ملک نه ګرزئی په دې باندي انسان غني نه بلل کیږي یعني په دې باندي پر انسان نه حج فرضیږي او نه زکوة او بل قسم هغه حرام دي چې د انسان ملک ګرزي لکه ثمن او مثمن د بیوعو فاسده ؤ او د سود وغیره مثلاً په دې باندي انسان غني بلل کیږي او حج پر فرضیږي او زکوة پر فرضیږي او دغه رنګه سړی حج په وکړي یا زکوة ځیي ورکړي فرض په ساقطیږي خو لکن قبلیږي نه ګټه او تجارت د دغو مخدراتو له دغه اخیره قسمه څخه ده ځکه دا موږ ذکر کړو چې د دغو مسکراتو بیعه فاسده ده هغه ثمني یې حرامې دي په دغه حرمت سره یعني چې حج پر فرضیږي او زکوة پر فرضیږي مثلاً او په ادا سره یې هغه فرض هم ځیني ساقطیږي خو لکن قبلیږي نه .

و یجتهد فی تحصیل نفقة حلال فانه لا یقبل بالنفقة الحرام کما ورد فی الحدیث مع انه یسقط الفرض عنه معها۔ (بحرالرائق ص۳۰۹ ، ج ۳) تحت قوله هو زیارة مخصوص الخ و کذا فی الشامی ص ۱۹۱ ، ج ۲ ،، عالمگیری ص ۲۳۰ ، ج ۱ ،، فتاوی رحمیه ص ۳۷ ، ج ۸ ،، فتح القدیر ۳۱۹ ، ج ۲)

یعنی د حلال نفقې کوښښ دي کوي ځکه په حرامه نفقه سره نه قبلیږي لکه څنګه چې په حدیث شریف کې هم دغسې راغلې دي که څه هم فرض په ساقطیږي او قبلیږي نه ځکه د اسقاط د فرضو او د عدم قبول په مینځ کې منافات نسته لکه څنګه چې ابن همام رحمه

الله عليه ويلي دي .

و لا تنافى بين سقوطه و عدم قبوله فلا يثاب لعدم القبول و لا يعاقب فى الاخرة عقاب تارك الحج (فتح القدير ص ۳۱۹، ج ۲) .

المقصد الخامس فى زراعت المخدرات

پنځم مقصد په کښت دمخدراتو کي ده د مسکرات و مفتراتو کښت په اتفاق سره حرام ده د مختينو مقاصدو څخه د کښت حرمت په واضحه توګه سره و هر چا ته معلوميږي و تفصيل ته ضرورت نه لري نو لهذا په يو څو محدودو دلائلو اکتفاء کوو ځکه مشت نمونه خروار است .

اتفق الائمة على تحريم ذراعة الحشيش والخشخاش

لاستخراج المادة المخدرة منهما لتعاطيها او الاتجار فيها و حرمت ذراعتها من وجوه۔

عن ابن عباس رضى الله عنهما ان رسول الله ﷺ قال (ان من حبس العنب ايام القطاف حتى يبعه ممن يتخذه خمرا فقد تقحم النار) فهذا دليل على حرمت ذرعتها بطريق دلالة النص۔

ټول امامان پر حرمت د کښت د چرسو او خشخاشو متفق دي ځکه په دې کښت سره مخدره مواد حاصليږي هغه مواد د خپل ځان د خوراک او د څکهدن لپاره وي او که د تجارت لپاره وي او د کښت حرمت له ډېرو وجهو ده اوله وجه هغه ده چي له ابن عباس رضى الله عنه څخه روايت سوى ده وايي چي رسول الله ﷺ وويل که چا انګور

Maktaba Tul Ishaat.com

د رسد او د پختیا په وخت کي بند کړو نه یې خرڅول د دې لپاره چي بیا به یې پر هغه چا خرڅکړي چي هغه شراب ځیني جوړوي نو هغه سړی خپل ځان په شدت او مشقت سره په اور د جهنم کي واچاوه نو دغه حدیث دلالت پر دې باندي کوي چي کښت د هغو مخدراتو چي هغه یا عین شراب دي او یا په حکم د شرابو کي دي بناءً علی اختلاف المذهبین حرام ده ځکه چي پاکه او حلاله میوه ایښودل حرامه ده په دې نیت چي بیا یې پر هغه چا خرڅه کړي چي هغه شراب ځیني جوړوي او رسول الله ﷺ هغه وعید ورته بیان کړی ده نو د هغو حرامو او مضر موادو کرل به بیا څنګه نسي حرام چي د هغو ضررا و نقصان و هر چاته تر لمر ښکاره ده او و هغه کرونکي ته به بیا هغه وعید څنګه نسي راجع کوم چي اوس ذکر سو .

ثانیاً

ان زراعة هذه المخـــــدرات اعانة علی المعصیت و هی تعاطی المخدرات و الاتجار فیها و الاعانة علی المعصیة معصیة ۔

دویم وجه د حرمت دا ده چي د دغو مخدراتو کښت اعانة علی المعصیت ده هغه معصیت او ګناه چي هغه خوراک او څکېدن او تجارت د مخدراتو ده او د ګناه په کار کي کومک او مدد کول ګناه ده نو د مخدراتو کښت او فصل کرل هم ګناه او حرام ده .

ثالثاً

ان زراعتها لهذا الغرض رضاً من الزراع بتعاطی الناس لها و اتجارهم فیها و الرضاء بالمعصیت معصیت و ذلك لان انکار المنکر بالقلب الذی

هـو عبارة عن كراهية القلب و بغضه المنكر فرض على كل مسلم فى كل حال بل ورد فى صحيح مسلم عن رسول الله ﷺ ان من لم ينكر المنكر بقلبه (بالمعنى الذى بينا) ليس عنده من الايمان حبة خردل۔

دريـمـه وجـه د حـرمـت دا ده چي د مخدراتو كښت د دې غرض لپاره كـرل چي خـوراک ځـكېدن او تـجـارت ده لـه دا مـعلوميږي چي دغـه كـرونـكـى په دغه خوراک او ځكېدن او تجارت د خلكو باندي راضي ده او رضـا پـه گـنـاه بـاندي گناه ده او دا خبره ثابتـه ده ځكه له منكر شي څـخـه په زړه باندي انكار په هر حال كي پر هر مسلمان باندي فرض ده انكار د منكر له دې عبارت ده چي له منكر څخه به په زړه باندي كركه او بغض كوي بلكه له رسول الله ﷺ څخه په صحيح مسلم كي نقل سوى ده كـه چا لـه مـنكر شي څخه په زړه باندي انكار نه كاوه له هغه سره ديوه نخود د دانې په مقدار ايمان نستـه .

و فيه مخالفة لولى الامر الذى نهى عنها بالقوانين التى وضعت لذلك لـوجـوب طـاعة ولـى الامر فيـمـا لـيـس بـمـعصية لله و لرسوله بـاجـماع المسلمين۔(الفقه على المذاهب الاربعة ٤٠، ج ٥)

او بـل د مـخـدراتـو پـه كـرلـو كـي د اميـر مـخالفت ده هغـه امير چي مـخـدرات يـې بـنـد كـړي وي پـه هـغـه قـانـون بـاندي چي د مخدراتو د بـنـدېدو لپـاره يـې ايـښـى وي او اطـاعـت د د اميـر واجب ده پـه اجماع د مسـلـمـانانو په هغه شي كي چي په هغه كي د الله (جل جلا له) او د الله (جـل جـلا لـه) د رسـول گناه او نافرماني نه وي . (الفقه على المذاهب الاربـعـة) لـكـه رسـول الـلـه ﷺ چي وايـى لا طـاعـت لـلـمخلوق فى

Maktaba Tul Ishaat.com

معصیة الخالق یعنی په کوم شي کي چي انسان د الله (جل جلا له) په معـصیت او ګـنـاه کـي واقـع کـیږي په هغه شي کي د مخلوق اطاعت نسـتـه هـغـه مـخـلـوق امیر وي او که مور او پلار وي او که پیر او استاد وي که هر څوک وي .

زراعة الـحشیـش و الـخشخاش والقات وتصنیع الافیون و الکوکابین و الهـرویـن ان کـل مـا یـودی الـی حـرام فهـو حـرام و کل مـا یعین علی المعصیت فهو معصیت فتکون زراعة الحشیش و غیرها و استخراج المواد المخدرة العنایة بها حفظاً وتعلیماً و تهریباً للأسباب التالیة۔

دغـه بیـان پـه کښت د چرسو او د خشخاشو او د القات کي ده او په جـوړولـو د افیـونو او د کوکابینو او د هریوینو کي ده القات هغه وابنه ته وایی چي له پانو یې پان جوړیږي . حاصل یې دا ده چي هر هغه شي کـي چـي اعانة علی الـمعصیت وي هغه معصیت ده نو د چرسو وغیره ؤ کښـت او د مـخـدره مـوادو جوړول او غم خوردني په کول مثلا ساتل او وربښـودل او زده کـول او یـا پـه کـرښت او کـاتن کي بندول ځکـه پـه بـعـضـي نسـخـو کـي د تـعـلیـمـاً پر ځای تعلیباً راغلی ده او په کرزوي باندي وړل او لـه یوه مـکانځخه بـل مکان ته نقل کول دا د خدای (ج) په شرع او پـه دین کي یو حرام کار ده د غـو روانو اسبابو په وجه .

۱۔ ان زراعة مـا یـؤدی الـی الـحـرام یعـد رضاً صریحاً من الزارع بتعاطی الناس له و اتجارهم فیه و الرضا بالمنکر او المعصیة یعد منکراً و عصیاناً۔

۲۔ تبیـن مـمـا ذکر أن کل ما فیه اعانة علی المعصیت یعد معصیت کما أن الزراعة لوسائل المخدرات معصیت۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۳۔روى ابوداود في سننه عن ابن عباس رضى الله عنه ان رسول الله ﷺ قال ان من حبس العنب أيام القطاف حتى يبيعه ممن يتخذه خمراً فقد تقحم النار ، و هذا دليل صريح على حرمة زراعة الحشيش والقات و كل ما يؤدى لاستخراج عصارة الافيون و الهروين و الكوكابين و غير ذلك۔(الفقه الاسلامى ص۵۵۱۷ ، ج ۷)

په دې ځای کې نور دلائل هم ذکر دي خو د ټولو حاصل هغه ده کوم چې په مخته عبارت کې ذکر سو نو له دې وجهې یې ترجمه هم نه ذکر کوو اکتفاء په هغه مختنۍ ترجمه باندې کوو .

دا سوال دې څوک نه کوي

چې د انګورو کښت دې هم حرام سي ځکه خو له هغو هم شراب جوړیږي له دې وجهې چې دا مخته ذکر سو چې په بیعه سره تسلط د مشتري راځي په مبیعه باندې نو هغه مبیعه عادةً که د هر شي لپاره اخیستل کېده و خرڅېده و هغه شي ته کتل کیږي که هغه شئی حرام وو دغه بیعه هم حرامه ده او که هغه شئی حلال وو دغه بیعه هم حلاله ده نو دلته هم دغه قاعده ده انګور عادتاً د خوراک لپار کرل کیږي خوراک یې حلال ده نو کرل یې هم حلال او جائز دي او بالفرض که په نیت او قصد د خموریت وکرل سي بیا یې کرل حرام دي او مسکرات عادتاً د خوراک او څکېدن لپاره کرل کیږي خوراک او څکېدن یې حرام ده نو کښت یې هم حرام ده نو دا معلومه سوه چې د انګورو قیاس پر مخدراتو نسي کېدلی . و الله اعلم و علمه اتم و اکمل .



المقصد السادس فى اجارة المخدرات

شپږم مقصد په اجاره د مخدراتو كي ده په اجاره د مسكراتو ومفتراتو كي عين هغه بحث ده كوم چي په بيع د مسكراتو و مفتراتو كي موږ ذكر كړو ځكه اجاره عين بيع ده صرف دا فرق يې ده چي بيع (عقد على الاعيان بعوض او اجاره عقد على المنافع بعوض) (تكمله فتح القدير ص۱۴۵، ج ۷ ,, البدائع ص۱۷۴ ج ۴,, تبين الحائق ص ۱۰۵ ، ج ۵ وغيرها) نو له دې وجهي هغه بحث مكمل دوباره نه ذكر كوو هغه بايد په غور و كتل سي لكن يو څو مهمي خبري ذكر كوو يوه اجاره على المعصيت ده او يوه اجاره پر اعانت على المعصيت ده په اجاره على المعصيت كي نفس قعد نه صحيح كيږي او په اجاره د معونت على المعصيت كي نفس عقد صحيح ده خو لكن حرام ده يعني اجاره فاسده ده او په اول كي نفس عقد ځكه نه صحيح كيږي چي په اجاره كي دا شرط ده چي معقود عليه به مباح وي شرعاً او معصيت خو مباح نه ده بلكه حرام ده .

الشرط الثالث ان تكون المنفعة مباحة لغير ضرورة و ان تكون مقصودة فلا تصح الاجارة على ضرب شخص او فعل حرام كالنياحة كما لا تصح اجارة الدار لتكون محلاً للباغيات او بيع الخمر او للقمار او نحو ذلك مما لا يحل ـ (الفقه على المذاهب الاربعة ص ۱۰٦ ، ج ۳)

دريم شرط داده چي دغه منفعت به مباح وي بغير له حالتـه اضطراري څخه او مقصود به وي د سړي پر وهلو باندي اجارلا نه

صـحيـح كيـږي او دغـه رنګه پر فعل حرام باندي نه صحيح كيږي لکه نيـاحة مثلا يعني يو چا ته پيسې ورکړې چي ته راسه زما پر ځای زما پر مړي بانـدي چيـغـاري وبغـاري ووهـه او سرو ګرېوان شکوه دغـه مزدوري نه صحيح كيږي لکه چي څنګه سرای ورکول په اجاره باندي نـه صـحيـح كيـږي و هـغـه چا تـه چي د باغيـانو ځای و مرکز ځيني جوړوي او يـا د شرابو خريد و فروخت پـه کي كوي او يا قمار پـه کي كـوي او يـا بـل داسي كار په کي كوي چي هغه په شريعت کي ناروا وي .ويجوز العقد على المنافع المباحة۔

اما المنافع المحرمة كما

عرفنا فلا تجوز الاجارة عليها

لانها محرمة فلا يجوز اخذ العوض عليها كالميتة والدم و ذلك باتفاق العلماء ۔(الفقه الاسلامی ص۷۵۹، ج ٤)

عـقـد د مزدوري پـر مبـاحـو مـنـافـعـو بـانـدي جائز ده او پر حرامو مـنـافـعـو باندي مزدوري اخيستـل نه ده جائز ځکه هغه خو حرام دی او پـر حـرامـو مزدوري اخيستـل ناروا ده لکه پر مړ ګه او مسفوحه وينه بـانـدي چي عـوض اخيسـتـل نـاروا ده او پـر دې خبره باندي ټول علماء متفق دي .

قـال العلامة المرغيناني رحمه الله عليه ولا يجوز الاستجار على الغنا والنوح و كذا سائر الملاهى لانه استيجار على المعصيت والمعصيت لا تستحق بالعقد۔(الهدايه ص ۳۰۱ ، ج ۳)

عـلامـه مـرغـيـنـانـي رحـمـه الله عليـه وايی چي اجرت اخيستـل پر

Maktaba Tul Ishaat.com

سرود او پر چيغارو و بغارو او پر ډول و دوتاره وغيره باندي ناروا دي ځکه دا اجرت اخيستل دي پر گناه باندي او گناه په عقد سره نه مستحق کيږي ځکه په عقد د اجارې سره تسليم د معقود عليه مستحق کيږي شرعاً او دا نه ده جائز چي عقد د اجارې دي پر سرې داسي شئى حق کړي چي په هغه دي گنهگار کيږي له دې وجهي نه ده جائز چي د معصيت اضافت شريعت و نه سي .

قال العلامة ابو البركات النسفى رحمه الله عليه و لا يجوز على الغناء و النوح والملاهى۔(كنز الدقائق ص٣٦٤ ، كتاب الاجارة و مثله فى رد المحتار ص ٥٥ ، ج ٦ ، مطلب فى استيجار على المعاصى الفتاوى حقانيه ص٢٥٧ ، ج ٦) ان تكون المنفعة المعقود عليها مباحة شرعاً آه (الفقه الاسلامي ص ٧٤٤ ، ج ٤)

دا قول اتفاقى ده يعني په اتفاق د علماء باندي‌دا عقد باطل ده او بل اجاره پر اعانة على المعصيت ده په دې کي بيا هغه اختلاف ده کوم چي په بيع کي ذکر سوو . حاصل يې دا ده چي بعدالتطبيق له اقوالو د احنافو څخه هم له فساد او له حرمت څخه په يو آن کي نه سي خالي کېداى .

يجوز للشخص عند ابى حنيفة رحمة الله عليه ان يؤجر نفسه او سيارته او دابته بأجر لتعمر كنيسةغ او لحمل خمر ذمى لا لعصرها لان لا معصية فى الفعل عينه لان عقد الاجارة على الحمل ليس بمعصية و لا سبب لها و انما تحصل المعصية باختيار الشارب و قد يكون حملها للاراقة او التخليل اما عصرها بقصد الخمرية كمعاصر الخمور فى بلادنا او فى

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

د شرابو جوړوي کله هغه جوړونکی چې زموږ په وطنو کې جوړوي او یا یې په امریکا کې جوړوي مثلا هغه حرام ده ځکه په دغه نفس فعل کې معصیت او ګناه ده او دغه رنګه امام ابو حنیفه رحمه الله علیه جائز کړی ده . کوټه په کرایه ورکول و کافر ته چې هغه عباد خانه ځیني جوړه کړي او یا شراب په کې خرڅ کړي په هغه وطنو کې چې غالبه اهل یې اهل ذمه وي ځکه دغه اجاره و کرایه خو پر منفعت د کوټې واقع کیږي نو له دې وجهې یې په نفس تسلیم سره اجرت واجبیږي او ګناه خو یې په فعل د مستأجر کې ده یعنې چې شراب خرڅول دي او یا کفري عبادت کول دي او هغه په دغه خپل فعل کې اختیارمند ده او دغه اجاره نه ده جائز په هغه وطنو کې چې غالبه اهل یې اهل الاسلام وي ځکه اهل ذمه بیا دا قدرت نه لري چې عبادت خانه جوړه کړي او یا شراب په ښکاره باندې خرڅ کړي او یا بل داغسې کار وکړي .

او امام ابو یوسف رحمه الله علیه و محمد رحمه الله علیه سره له امامانو ثلاه وایی دغه مذکوري اجارې ټولې مکروه دي ځکه دغه اعانة علی المعصیت ده او بل رسول الله ﷺ په شرابو کې پر لسو کسانو لعنت ویلی ده له هغو لسو څخه یو وړونکی ده او امام ابو حنیفه رحمة الله علیه دغه حدیث حمل کړی ده پر هغه وړلو باندې چې په قصد د معصیت وي خو په هر حال رایه د امام ابو حنیفه رحمه الله علیه قیاس ده او رایه د صاحبین استحسان ده او دغه د صحابین رایه په ډېرو فتاوی ؤ کې معول علیه و مرجع الیه ده یعنی مفتی به ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

قال الزيلعي على هذا الخلاف لو اجره اى الكافر دابته لينقل عليها الخمر او اجره بنفسه ليرعى له الخنازير يطيب له الاجر عند ابى حنيفة رحمه الله عليه و عندهما يكره (شامي استنبولى كتاب الحظر و الاباحة ص ٣٤٥، ج ٥، وفى الخلاصة ١٤٩ ، ج ٣ ، كتاب الاجارة)

زيلعي رحمة الله عليه وايي كه چا كافر ته حيوان په كرايه وركړو ددې لپاره چې شرابورباندي يوسي او يا يې خپل ځان ور مزدور كړ د دې لپاره چې د هغه خنزيران ور وپيايي دغه مزدوري ورته جائز ده په نزد د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه او په نزد د صاحبين باندي دغه مزدوري مكروه ده او دا موږ ذكر كړي دي چې مكروه چې مطلق ذكر سي مراد ځيني تحريم ده .

وكذلك اجر نفسه ليحمل له الخمر يكره لان التصرف فى الخمر حرام قال رحمه الله عليه هكذا اطلق لكن هذا قولهما و اما على قول ابى حنيفة رحمه الله عليه لا يكره . احقر محمد شفيع ديوبندي رحمه الله عليه .

ددې عبارت ترجمه د تېر عبارت په شان ده:

اگر چہ نفس عقد جائز مگر بوجہ اعانت علی المعصیت ایسے معاملات سے احتراز لازم ہے بندہ اصغر حسین رحمہ اللہ علیہ عفی عنہ (امداد المفتین ۷۱۷، ج ۲) و مثلہ فی عزیز الفتاوی ص ۱۳۸، ج ۱۔

له دې مذكورو عباراتو دا صرحةً معلوميږي چې ترياقو وهل په مزدوري باندي ناجائز دي په نزد د امام ابوحنيفه رحمه الله عليه سره له

صاحبين . ځکه د اما م ابو حنيفه رحمه الله عليه له صاحبين سره اختلاف په جوړونکي او نښتېځونکي د شرابو کي نسته يعنی د هغه کس مزدوري چي انګور په قصد د شرابو باندي نښتېځي او يا شراب له بل شي څخه جوړوي لکه څنګه چي د صاحبين په نزد ناجائزه ده دغه رنګه د امام ابو حنيفه رحمه الله عليه په نزد هم ناجائز ه ده نو ترياق وهل په نزد د ټولو باندي ناجائز ده . ځکه دغه وهل يې عين جوړول دي نو دغه وهل عين معصيت سو او د عين معصيت په حرمت او ممانعت کي د دوی اختلاف نسته او بالفرض و التقدير که د اوويل سي چي دغه فعل د وهلو يې معصيت نه ده بلکه اعانة علی المعصيت ده او په اعانة علی المعصيت کي د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه له صاحبين سره اختلاف ده امام صاحب رحمه الله عليه يې طرف د جواز نيولی ده او صاحبينو يې د عدم جواز او کراهيت نيولی ده نو دا به په جواب کي ورته وويل سي چي د امام ابو حنيفه رحمه الله عليه و جواز ته دي څوک نه ګوري ځکه دا مخته موږ ذکر کړو چي تعارض د قياس او استحسان چي سره راسي استحسان پر مقدم ده . (رد المحتار ۴۹، ج ۱)

په اعانة علی المعصيت کي امام ابو حنيفه رحمه الله عليه قول په قياس سره کوي او صاحبين يې په استحسان سره کوي او بل دا موږ ذکر کړو اختلاف د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه او د صاحبين رحمه الله عليهما چي سره راسي اخذپه قول د صحبين کول کيږي . (قاضيخان ص ۲، ج ۱) او بل دا موږ ذکر کړو په مقصد د بيع د

مسـکـراتـو کـي چي جـواز او فسـاد سـره مـنافي نه دي جائز دي هم وي او فاسد دي هم وي يعني امام ابو حنيفه رحمه الله عليه چي و داسي عقد ته جائز وايي سره له جوازه دي فاسد وي ځکه الفاسد من العقود ما کان مشروعاً باصلـه دون وصفه والباطـل ماليس بمشروعاً اصلا لا بأصله و لا بوصفه (رد المختار ص ٤٦، ج ٦) .

فـاسد عقد هغـه ته وايي چي من حيث الذات مشرو ع او منعقد وي او مـن حيـث الـوصف بـاطل وي او باطل عقد هغه ته وايي چي نه نفس ذات د عقد منعقد وی اونه يې وصف .

حـاصـل د بيـان دا سـو چـي دغـه تـريـاق وهـل پـه مزدوري باندي په صـورت د مـعـصـيت کي يعنی چي دغه وهل يې معصيت سي نو دغه عـقـد يـې بـاطـل او حـرام ده پـه نـزد د ټـولو احنافو باندي او که بالفرض والتـقـديـر معصيت نه سي اعانة على المعصيت خو بالاتفاق ده نو په صـورت د اعـانة عـلـى الـمـعـصـيت کي هم دغـه عقد فـاسد او حرام ده پـرقـول مـفـتـى بـه باندي دا تقرير د مقصد له سره بيا تر دغـه ځای پر دې تـقـديـر ده چي د عـمل پـه مقابل کي نقدي پيسې ورکړي او چي د عـمـل پـه مقابل کي يعني په اجرت کي ترياق ورکړي لکه څنګه چي معمول ده پـه افـغـانسـتـان کي بيا د احقر بنده پـه خيال راجح دا ده چي دغـه اجاره بـاطـله ده ځکه په اجرت کي دا شرط ده چي مال به متقوم وي نو ترياق که څه هم مال دی خو متقوم نه دی .

و أما شروط الأجرة فهى اولاً تكون
الاجرة مالاً متقوماً معلوماً

Maktaba Tul Ishaat.com

(البدائع المصدر السابق ۱۹۳ ، الفقه الاسمی ص ۷۴۹ ، ج ٤) .یعنی د اجرت شرائط دا دي چي اجرت به مال متقوم وي او معلوم به وي . و المال عند الحنيفية كما عرفنا سابقاً ما يميل اليه الطبع و يمكن اذخاره لوقت الحاجة و بعبارة اخرى هو كل ما يمكن ان يملكه الانسان و ينتفع به على وجه معتاد و الاصح انه هو كل عين ذات قيمت مادية بين الناس و المتقوم ما يمكن اذخاره مع اباحته شرعاً و بعبارة اخرى هو ما كان محرزاً فعلاً و يجوز الانتفاع به في حالة الاختيار۔(حاشيه ابن عابدين ص ۳ ، ج ٤، الفقه الاسلامی ص ٤٥ ، ج ٤) .

مال په نزد د احنافو لکه څنګه چي موږ مخته وپېژندی هغه ته وايی چي طبعيت سليمه ميلان ورته کوي او ذخيره کېدل يې د وخت د حاجت لپاره ممکن وي او په بل عبارت مال هر هغه شي ته وايی چي د دې امکان لري چي انسان يې په ملک کي راولي او په معتاد وجه سره نفع ورباندي واخلي او ډېر صحيح دا خبره ده چي مال هر هغه ذات ده چي خاوند د قيمت مادي وي په ميانځ د خلکو کي او متقوم هغه شئی ته وايی چي ذخيره کېدل يې ممکن وي سره له اباحت شرعي او په بل عبارت متقوم هغه شي ته وايی چي بالفعل محرز وي يعني ساتل کړی سوی وي او په حال ت د اختيار کي نفع ورباندي اخيستل جائز وي او مسکرات ټول غير منتفع به دي شرعاً لکه څنګه چي صاحب د هدايې ويلي دي :: ان هذه الاشربة ما لا ينتفع بها بوجه من الوجوه فكيف يتصور التقوم فيها الهدايه (فی فتح القدير ص ۳۲ ، ج ۹)

دغه اشربه له هغه قسم دي چي په يوه وجه له وجهو نفعه نه

وربانـدي اخيستـل كيـږي نـو بيـا بـه د تـقـوم تصور څنګه په دوي كي وو هـل سي .

وقال رسول الله ﷺ كل مسكر و مفتر حرام و قال رسول الله ﷺ اذا حرم شئيا حرم ثمنه و قال رسول الله ﷺ اذا حرم على قوم أكل شئى حرم عليهم ثمنه (اخرجه مسلم) .

د دې حديثـو ترجمه مخته مكرره ذكر سوې ده حاصـل يې دا ده چي مسـكـرات و مـفـترات حرام دي او د حرامو پيسې حرامي دي نو بيا به د تـقـوم تـصـور څـنګـه انسـان پـكښې ووهي دغـه رسـالـه اكـثـره پر دې ولـيـكـلـه سوه چي دغـه حـرام غيـر منتفع به شرعاً دي او اعادې ته يې ضـرورت نستـه نـو هر كله چي دغه شرط وو په ايجاره كي چي اجرت بـه مـال متـقـوم وي او مسـكـرات و مفترات مطلقا متقوم نه وو نو په اجـرت كـي نـسـي وركـېدلـي . ځـکـه پـه انتـفـاء د شـرط سـره انـتـفـاء د مشـروط راځـي او كـوم وخت چي په اجرت كي نه سواى وركېداى نو اجـاره بـاطـلـه ده ځـكـه اجرت شرط ده په اجاره كي نو بـيـا هغـه قاعده ده چـي پـه انتـفـاء د شـرط سـره انـتـفـاء د مشروط راځي نو هر كله يې چي اجـاره بـاطله سوه نو بيعه يې هم باطله ده ځكه لكه څنګه چي دا شرط وو چي اجرت به مال متقوم وي په اجاره كي دغـه رنګه دا شرط ده چي مبيعه به مال متقوم وي په بيع كي .

وكـون الـمـبـيـع مـالاً متـقـومـاً مـقـدور التسليم و سيجـى ذكـرهـا مشتتا ـ (الهدايه الثالث حاشيه ۲٤ ، ج ۳) و ان يـكـون مالاً متقوماً شرعاً مـقـدور التسليم فـى الـحـال او فـى تـالـى الـحـال (كذافى الفتح القدير

Maktaba Tul Ishaat.com

عالمگیری ص ۳، ج ۳) .

یعنی مبیعه به مال متقوم وي یعني منتفع به شرعاً به وي او مقدور التسلیم به وي په حال د عقد کي یا په وروسته د عقد کي او بل هر هغه شی چي صلاحیت د ثمنیت لري په بیع کي هغه صلاحیت د اجرت لري په اجاره کي او هر هغه شئی چي صلاحیت دا اجرت لري په اجاره کي دا لازمه نه ده چي هغه به صلاحیت د ثمنیت لري په بیع کي یعني اجرت د اجارې عام ده تر ثمنیت د بیعي نو هر کله چي تریاقو وغیره من المسکرات والمفترات صلاحیت د اجرت نه درلود په اجاره کي نو صلاحیت د ثمنیت په طریقه اولی سره نه لري په بیع کي ځکه نفی د عام مستلزم وي نفي د خاص لره نو ځکه ئې بیعه هم باطله ده

و ما جاز ان یکون ثمنا فی البیع جاز ان یکون أجرة فی الاجارة لان الأجرة ثمن المنفعة فیعتبر بثمن المبیع و ما لا یصلح ثمناً یصلح أجرة ایضاً کالاعیان۔(الهدایه الثالث ۲۹۱، ج ۳) .

دا یې د عموم او د خصوص بیان ده یعني هر هغه شئی چي صلاحیت د ثمنیت لري په بیع کي هغه صلاحیت د اجرت لري په اجاره کي ځکه اجرت ثمني د منفعت دي نو معتبرېږي په ثمنو د مبیعي باندي او هغه شئی چي صلاحیت د ثمنیت نه لري په بیع کي هغه هم صلاحیت د اجرت لري په اجاره کي لکه اعیان ذوات .

و ما صلح ان یکون ثمناً فی البیع کالنقود و المکیل والموزون صلح ان یکون اجرة فی الاجارة و ما لا یصلح ثمناً صلح اجرة ایضاً کالاعیان مثل العبید والثیاب ۔ (کذا فی الکافی عالمگیری ص ٤١٢، ج ٤

Maktaba Tul Ishaat.com

حاصل د دواړو عبارتو يو ده . حاصل د ټول باب دا ده لکه څنګه چي په بيع کي داشرط ده چي ثمن او مثمني به دواړه مال وي او متقوم به وي يعني منتفع به شرعاً به وي په حالت اختياري کي او معلوم به وي او مقدور التسليم به وي دغه رنګه په عقد د اجارې کي دا شرط ده چي اجرت به مال وي متقوم به وي معلوم به وي او مقدور التسليم به وي نو ترياق که څه هم مال دی خو لکن نه متقوم دی او نه معلوم دی او نه مقدور التسليم دی د عدم معلومتيا او د عدم مقدور التسليم وجهي به يې انشاء الله په آئنده مقصد کي ذکر کړو نو چي شرط منتفي سو مشروط هم منتفي کيږي نو اجاره باطله ده په دې دليل سره د علامه ابن همام رحمة الله عليه تائيد وسو چي په مقصد البيوع کي ذکر سو چي هغه يې بيع باطله بلله او دغه رنګه په دې دليل سره يې امامان اربعه يعنی امام ابو حنيفة رحمه الله عليه و امام شافعی رحمة الله عليهم و امام مالک رحمة الله عليه و امام احمد بن حنبل رحة ه الله عليهم او محدثين او امام ابويوسف رحمة الله عليهم و امام محمد رحمة الله عليه ټول يې اجاره باطله بولي او په دې کي اختلاف نسته نو ترياق په مزدوري کي ورکول ناجائز او ناروا دي عقد يې باطل ده . والله اعلم علمه اتم و اکمل .



المقصد السابع فی اجارة المخدرات بالحصة

اوم مقصد په مزدوري د مخدراتو کي ده په حصه سره هر کله چي دا ثابته سوه چي په اجرت کي مطلق ترياق ورکول ناجائز دي نو دا خو په

Maktaba Tul Ishaat.com

طريقهٔ اولیٰ سره ناجائز دی .

چي په اجرت کي ترياق ورکړي په حصه سره

ځکه يو خو نفی د عام مستلزم وي نفی د خاص لره او بل دوې وجهي د بطلان د اجارې نوری پکښې پيدا سوې .

اوله وجه دا ده

چي ترياق په حصه سره په معنی کي د قفيز طحان دی قفيز طحان منهی عنه ده هر هغه شئی چي په معنی کې د قفيز طحان وي هغه هم منهی عنه وي قفيز طحان هغه ته وايی چي زرنده وال ته (اسيوان) درې کونۍ غنم مثلا ورکړي چي دغه درې کونۍ وړه کړه بيا يوه کونۍ وړه ستا دي يا يوه کونۍ غنم ورکړي چي دريمه حصه يا څلورمه حصه مثلا بيا ستا ده له قفيز طحان څخه رسول الله ﷺ منع کړې ده . لانه ﷺ نهی عن عسب الفحل و عن قفيز الطحّان (رواه الدار قطني عن ابی سعيد خدری رضی الله عنه نيل الاوطار ص ۲۹۲ ، ج ۵) .

ځکه رسول الله ﷺ منع کړې ده د منده له ختلو او له قفيز الطحّان څخه يعني رسول الله ﷺ د هغه مرداري نطفې په بدل کي چي اجرت اخلی له هغه يې منع کړې ده لکه په اوس وخت کي چي غوا په پيسو باندي غوايی ته نيسي او له قفيز الطحّان څخه يې منع کړې ده .

لانه ﷺ نهی عن عسب الفحل و عن قفيز و عن قفيز الطحّان (رواه الدار قطنی عن ابی سعيد دری رضی الله عنه ، نيل الاوطان ص ۲۹۲ ج ۵،) .

ځکه رسول الله ﷺ منع کړې ده د منده له ختلو او قفيز الطحّان څخه يعني رسول الله ﷺ د هغه مرداري نطفې په بدل کي چي

اجرت اخلي له هغه يې منع کړې ده لکه په اوس وخت کي چي غوا په پيسو باندي غوايي ته نيسي او له قفيز الطحان څخه يې منع کړې ده .

صـــــورة قفيز الطحّان أن يستاجر الرجل من آخر ثور اليطحن له الحنطة على ان يكون لصاحبها قفيز من دقيقها ان يستاجر انساناليطحن له الحنطة بنصف دقيقها او ثلثه او ما اشبه ذلك فذلك فاسد(عالمگیری ص ٤٤٤، ج ٤) .

يعني صورت د قفيز الطحّان دا ده چي يو سړی له بل سړي څخه نر غوايی کرايه کړي پر دې باندي چي زه به پر دغه غنم ژرندي ته يوسم بيا به و تا ته يو پيمانه وړه در کړم او يا انسان مزدور کړی پر دې باندي چي دغه غنم راژرنده کړه بيا به نيم وړه يا دريمه حصه يا څلورمه حصه مثلا در کړم دغه عقد فاسد ده ځکه علت منعی د قفيز الطحّان عدم قدرت د مستأجر يعنی د غنمو د مالک ده پر تسليم د اجری په وخت د عقد کي ځکه په اجاره کي دا شرط ده چي مستاجر يعني د کار مالک به قادر وي پر تسيم د اجرت په وخت د عقد کي نو په هر اجاره کي چي اجرت جز وي له عمله د آجيره يعنی د مزدوره هغه فاسد ده ځکه يو خو عمل د آجير په وخت د عقد کي وجود نه لري او بل هغه جز د عمل د آجير خو حاصليږي په فعل د اجير سره نه د مستاجر نو مستاجر قادر نه بلل کيږي په قدرت د غير سره چي آجير ده نو حاصل يې دا سو چي مستأجر قادر نه سو پر تسليم د اجرت په وخت د عقد کي دغه عدم قدرت ئې علت منعي ده .

ومن دفع الى حائك غزلاً ينسجه بالنصف فله اجر مثله وكذا اذا

استأجر حمارًا یحمل علیه طعاماً بقفیز منه فالاجارة فاسدة لانه جعل الاجر بعض ما یخرج من عمل فیصیر فی معنی قفیز الطحّان و قد نهی النبی علیه السلام عنه و هو ان یستاجر ثور لیطحن له حنطة بقفیز من دقیقه هذا اصل کبیر یعرف به فساد کثیر من الاجاراة لاسیماً فی دیارنا و المعنی فیه ان المستأجر عاجز عن تسلیم الاجرة و هو بعض المنسوج او المحمول و حصوله بفعل الاجیر فلا یعد هو قادر بقدرة غیره (الهدایة ص٣٠٣، ج ٣) .

که چا وکښې باب ته یعنی او بدونکي ته د مېږو د وړیو څخه او یا د بزو د اوزغنو څخه او بدل یې تار ورکړو چې له دغه کمبله مثلا را جوړه کړه بیا مو سره نیمی ده او یا به وړیء او وزغني مثلا ورکړي چې له دغه تار یعنی ورته را جوړ کړه په نیمایی باندي نو دغه اجاره فاسده ده و دغه مزدور ته به اجر مثل ورکوي او دغه رنګه یو سړی خر کرایه کړ چې زه پر دغه باندي غنم وړم زرنده کوم یې بیا له هغه وړو څخه یو ه کاسه مثلا در کوم دغه اجاره هم فاسده ده ځکه دغه اجرت د آجیر د عمل جزء ده نو دغه په معنی د قفیز طحان کي ګرزي او له قفیز الطحّان څخه رسول الله ﷺ منعه کړې ده هغه دا ده چي نر غوایی کرایه کړي چي زه غنم په وړه کوم بیا له هغه وړو څخه دو نه مقدار مثلا وړه در کوم او دا یوه غټه قاعده ده په دې قاعده سره ډېر فسادونه په اجارو کي په پېژندل کیږي او بیا خاص کر زموږ په علاقه کي د دې علت دا ده چي مستأجر عاجزه ده له تسیم د اجرت څخه چي هغه بعض د هغه او بدل کړی سویده او یا بعض د هغه بار کړی سویده نو دغه

مستأجر قادر نه بلل کیږي په قدرت د غیر و مثله فی الفقه علی المذاهب الاربعه ص ۱۲۸، ج ۳)

او تریاق په حصه سره هم اجرت ده له عمل د اجیره یعنی مستاجر قدرت پر تسیم د اجرت نه لري په وخت د عقد کي دغه عدم قدرت يې علت منعي ده لکه په قفیز الطحّان کي .

دویمه وجه دا ده

چي معلومیت د اجـــرة شرط ده په اجاره کي لکه څنګه چي دا شرط وو په اجرت کي چي مال متقوم به وي او مقدور التسلیم به وي دغه رنګه دا شرط ده چي اجرت به معلوم وي .

ان تکون الأجرة مالاً متقوماً معلومًا وهذا باتفاق العلماء و محترزات هذا لشرط معروفة کما مر فی عقد البیع و الاصل فی اشتراط العلم بالأجرة قول النبی ﷺ (من استأجر اجیراً فلیعلمه أجره) والعلم بالاجرة لا یحصل الابالاشارة والتعین او بالبیان (تکمله فتح القدیر ص۱٤٨،ج ٧ ،، البدائع ص۱۹۲ ، ج ٥ ،، الفقه الاسلامی ص ٧٤٩ ، ج ٤)

یعنی اجرت به مال متقوم وي او معلوم به وي او دا په اتفاق د ټولوعلماء ده او ددې شرط محترزات معلوم دی لکه څنګه چي په عقد د بیع کي تیر سو او دلیل په اشتراط د علم کي پر اجرت باندي د رسول الله ﷺ قول ده یعني که چا مزدور ودراوه مزدوري دي ور معلومه کړي او علم پر اجرت باندي نه حاصلیږي مګر په اشاره او په تعین باندي او یا په بیان باندي .

Maktaba Tul Ishaat.com

ولو دفع سمسماً الی دهان لیعصره علی ان یکون بعض الدهن له او شـــاة لیذبحها علی ان یکون بعض اللحم له لا یجوز کذا فی خزانة المفتین۔(الفتاوی الهندیة ص ٤٤٥، ج ٤) .

که چا کنجدي و غوړ وایستونکي ته ورکړې چي غوړي ځیني راوباسه بیا یو څه غوړي ستا دي او یا یې پسه ورکو چي دغه را حلال کړه بیا یو څه غوښې ستا دي دغه عقد ناجائز ده . فلو قال له انفض لی هذه الشجرة هزماً و لك سدس ما ینزل منها او ثمنه او نحو ذلك فانه لا یصح لان الشجر یختلف فی ذلك منه ما یسقط من ثمره بالغز کثیر و منه ما یسقط قلیل فیکون القدر الذی ینزل منه مجهول و کذا اذا قال له اعصر هذا الزیتون او القرطم و لك جز مما یخرج منه فانه لا یصح لا ن القدر الذی یخرج من الذیت مجهول و صفت الزیت الخارج بالعصر مجهولة اذ یمکن أن یکون جیداً و أن یکون ردئیاً ثخیناً او رقیقاً نقیاً او مشوباً بما ینقصه ۔(الفقه علی المذاهب الاربعة ص ۱۳۲، ج۳)

یعنی که چا مزدور ته وویل چي دغه درخته را وخنډه د هغه میوې شپږمه حصه یا اتمه حصه یا بله حصه مثلا بیا ستا ده دا نه صحیح کیږي ځکه په دې کي درختي سره مختلفي وي بعضي درختي ډېره میوه کوي او بعضي درختي لږ میوه کوي نو هغه اندازه یې نه معلومیږي چي دغه درخته مثلا خاص دونه مقدار میوه کوي ۔ او دغه رنګه که یې مزدور ته وویل چي دغه زیتون را ونښتېځه او یا دغه عصفر تخم را ونښتېځه قرطم یو قسم وابنه ده چي د رنګېدلو رنګ ځیني جوړیږي او له غوټیو څخه دوایی جوړیږي بیا له هغه ما

حصل غوړو څخه يو څه حصه ستا ده دا هم نه صحيح کيږي ځکه هغه مقدار غوړي کوم چي له زيتون او يا له هغه تخم څخه ار ووزي هغه نه دي معلوم او صفت د غوړو هم نه ده معلوم ځکه دا امکان لري چي ښه دي وي او دا امکان هم لري چي بد دي وي او دغه رنګه کېدلی سي چي ټينګ دي وي او دا هم کېدلی سي چي نري دي وي او دغه رنګه دا کېدلی سي چي صاف دی وي او دا هم کېدلی سي چي صاف دنوی بلکه هغه شئی دي په ګډ وي کوم شئی چي دوی ته تاوان ورسوی هغه ترياق چي په حصه سره په اجرت کي ورکول کيږي هغه هم دغسي مجهول دي ځکه پنځم مَن يا شپږم يا لسم مثلا د مزدور وي او پر دی .

يو خدای (ج) علم لري چي دغه فصل شل منه کوي يا دېرش کوي نو چي له سره يې محصل مجهول سو اجرت به يې خامخا مجهول وي او دغه معلوميت د اجرت په يوه طريقه سره هم نسي کېدای ځکه خو ټول مجهول دي بلکه معدوم دي معلومتيا ئې نه په اشاره او تعين سره کيږي او نه په بيان سره کيږي ځکه خو قلت او کثرت جيدت او ردئت يې مستاجر ته نه ده معلوم نو بيا يې اجير ته څنګه ور معلوم کړي له دغو وجهو چي هره يوه په يو شي کی موجوده سي د هغه اجاره ناجائزه ده او ټولي چي پکښي موجودي سي لکه په ترياقو کي نو بيا يې په طريقه اولیٰ سره ناجائزه ده ټولي د فساد او د حرمت دري وجهي په ترياقو کي پيدا سوې يوه په مختني فصل کي ذکر سوه چي عدم تقوم ده او دوې په صورت د حصې کي پيدا سوې چي عدم مقدور

التسلیم او عدم تعین او معلومتیا ده .

بعض خلک دا سوال کوي

چي تریاق په حصه سره دي قیاس پر مزارعت سي ځکه مزارعت په معنی د قفیز الطحّان ده او سره له دې چي اجازه ورکړه سوې ده موږ په یو څو وجهو جواب ورکوو .

اوله وجه

دا ده چي تریاق په حصه سره په مزارعت نسي قیاس کېدای ځکه تریاق په حصه سره په دلالت النص سره ثابت دي هغه نص چي په قفیز الطحّان کي وارد سوی ده او مزارعت په قیاس سره ثابت وو . ځکه تریاق په حصه سره من کل وجوه په معنی د قفیز الطحّان ده او مزارعت من وجه په معنی د قفیز الطحّان ده او من وجه په معنی د مضاربت ده نو په مزارعت کښي دوې وجهي دي یوه د جواز او بله د منع په دې وجه چي په معنی د قفیز الطحّان ده نو ممنوع ده ځکه د قیاس دا تقاضا ده چي منع دي سي او په دې وجه چي په معنی د مضاربت ده نو جائز ده ځکه خو مضاربت جائز ده نو د خلکو د احتیاج په وجه فقهاء کرامو مخالف القیاس جواز ورکو و دې ته استحسان وایی یعني استحسان من وجه عمل په قیاس ده او من وجه مخالف القیاس ده او په تریاقو کي په حصه سره دغه وجهي نسته بلکه من کل وجوه په معنی د قفیز الطحّان ده نو خو دی قفیز الطحّان ثابت په عبارت نص سره ده او هر هغه شئی چي په معنی د قفیز الطحّان وي من کل وجوه هغه ثابت په دلالت النص سره ده لکه تریاق په حصه

Maktaba Tul Ishaat.com

سره او هر هغه شئی چي په معنی د قفیز الطحّان وي من وجه هغه ثابت په قیاس سره ده لکه مزارعت نو هر هغه شئی چي ثابت په قیاس سره سي هغه په استحسان سره متروک کېدلی سي او چي ثابت په دلالت النص سره سي هغه په استحسان سره نسي متروک کېدلی حاصل یې دا سو چي تریاق په حصه سره پر مزارعت نسي قیاس کېدلی ځکه تریاق په حصه سره په قیاس سره ثابت نه دي بلکه په دلالت النص سره ثابت دی لکه ابن همام رحمه الله علیه چي وایی:

ان المزارعت فاسدة عند أبی حنیفة رحمه الله علیه جائزة عند صاحبیه و ذکر الدلیل من الجانبین قال الا ان الفتوی علی قولهما لحاجة الناس الیها والظهور تعامل الامة بها والقیاس یترك بالتعامل كما فی اللاستصناع آه و لا یقتضی ذلك أن یطلق القیاس علی كل ما فی معنی قفیز الطحّان بل انما یقتضی أن یطلقه علی المزارعة و هی فی معنی قفیز الطحّان من وجه أی من حیث أنها استیجار ببعض ما یخرج من عمله كما ذکر فی دلیل ابی حنیفه رحمه الله علیه علی فسادها و فی معنی المضاربة من وجه ای من حیث أنها عقد شركة بین المال و العمل كما ذکر فی دلیل الامامین علی جوازها بخلاف ما نحن فیه فانه فی معنی قفیز الطحّان من كل وجه لانه استیجار محض لیس فیه شائبة المضاربة فلهذا قیل انه ثابت بدلالة النص دون القیاس۔ (فتح القدیر ۵۰، ج ۸).

حاصل د دې عبارت دمختني تفصیل ښخه په واضحه توکه معلومیږي .

دويمه وجه

دا ده چي ترياق په حصه سره پر مزارعت نسي قياس کېدلی ځکه مزارعت هم من وجه په معنی دقفيز الطحّان ده نو قياس دا تقاضا کوي چي ممنوع دي سي خو لکن د عرف په وجه خلاف القياس جواز ورکول سوی ده او دا د فقه قاعده کليه ده چي هر هغه شئی چي خلاف القياس ثابت سي پر هغه شي بيا بل شئی نه ور قياسيږي مثلا روژه په هېره سره نه ماتيږي دا ثابته مخالف القياس ده او روژه د خطاء نه پر قياسږي چي په خطا دي هم نسي ماته . ماده ۱۴ ما ثبت على خلاف القياس فغيره لا يقاس عليه معين القضاة والمفتين ص۵، و كذا في شرح المجلة اتاسی) .يعني هر هغه شی چي خلاف القياس ثابت سي پر هغه بيا بل شئی نه قياسيږي .

دريمه وجه

دا ده چي ترياق په حصه سره په مزارعت نسي ور قياس کېدلی ځکه دغه فرض کړو چي ترياق په حصه سره په معنی د قفيز الطحّان دي من وجه لکه مزارعت بيا هم جواز نه لري ځکه يو خو مزارعت پخپله خلاف القايس ثابت ده بل شئی نه ورباندي قياسيږي لکه مخته چي ذکر سوو او بل قياس د هر سړي او د هر عالم کار نه ده بلکه مجتهد غواړي بيا به د هغه مجتهد قول د مقلد لپاره حجت وي يعني د هر عالم رايی او فکر خو حجت او دليل نه ده او اصولين وايی چي اجتهاد مطلق پر څلور سوه سنه يا پر پنځه سوه سنه باندي ختم سوی ده . (ترويج الجنان ص ۵۷) للکنهويؒ او دريم بالفرض که داسي کسي

Maktaba Tul Ishaat.com

هم پیدا سي او فرض قیاس يې هم صحیح کړي بیا هم دغه قیاس په عرف او استحسان سره نه متروک کیږي ځکه فقهاء رحمهٔ الله علیهم چې کومه قاعده وایی چې قیاس او استحسان چې سره متعارض سي عمل په استحسان کول کیږي قیاس متروک کیږي هغه په استحسان او عرف عام باندي متروک کیږي نکه په مزرعت کې نه په عرف خاص باندي اوعرف چې عامیږي هغه په رواج او اصطلاح د یوه ولایت یا د یوې صوبې یا د یوه ملک سره نه عامیږي نکه عرف د اهل بخاریٰ پر جواز د بیع وفاء باندي بلکه عرف چې عامیږي هغه په اصطلاح د یو څو ملکو سره عامیږي لکه مزارعت او استصناع مثلا نو تریاق په حصه سره په اجرت کي ورکول دا په اصطلاح د یوه هلمند یا د یوه افغانستان سره عام نه بلل کیږي . چې قیاس په متروک سي دا خبره باید په نظر کي ونیوله سي چې دغه اثبت د عدم جواز هم بناء پر فرض باندي ده یعني چې موږ یې داسي فرض کړو نکه مزارعت لا هم نه صحیح کیږي او بناء پر تحقیق او حقیقت باندي خو بنکاره څوک پر جواز باندي تلفظ نسي کولی . حاصل د بحث دا دی چې په یوه طریقه سره تریاق په حصه سره په اجرت کي ورکول صحت نه لري . والله اعلم و علمه اتم و اکمل .



المقصد الثامن

فی اجارة المخدرات بالکیل او الوزن المعلوم

اتم مقصد په اجاره مخدراتو کي ده په پیمانه او وزن معلوم سره

Maktaba Tul Ishaat.com

په بعض ځایو کي داسي رواج وي چي اجیر ته معلوم وزن ورکوي یعني مزدور ته وواییی چي د دغو تریاقو په وهلو باندي نیم من یا څلوریک یا من مثلا درکوم دا ایجار هم ناجائز ده که څه هم په دې ایجاره کي اجرت معلوم ده دغه عدم جواز یې له دو وجهو ده .

اوله وجه دا ده

چي داهم په معنی د قفیز الطحّان ده ځکه په دې صورت کي هم مستأجر عاجز ده په وخت د عقد کي له تسلیم د اجرته .

دویمه وجه دا ده

چي داسي صورت شرکت فاسد ده بلکه باطل ده .

قال المرغینانی رحمة الله علیه الشرکة فی الخارج بعد حصوله لأنه ینعقد شرکة فی الانتهاء فما یقطع هذه الشرکة کان مفسد للعقد(هدایه آخرین ص۴۰۹، ج ۴) .

مرغیناني رحمة الله علیه وایي چي شراکت په خارجي شي کي یعني په هغه شي کي چي په کسب او عمل سره له ځمکي خارجیږي لکه حاصل د بزګري اویا شودې ده تریاقو وروسته له حصول د هغه خارجي شي څخه وي ځکه د دغو شیانو شراکت په آخیر کي یعني وروسته ل حصوله منعقد کیږي نو هر هغه شئی چي دغه شرکت قطع کوي هغه مفسد عقد لره ده د دې مذکور عبارت په تفصیل کي صاحب الکفایة داسي لیکلي دي یعني **ینبغی ان لا یشترط فیه مقدار معین لاحدهما اذ یجوز ان لا یخرج من الارض الا ذلك القدر فلم تبق**

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

چي هغه وزن معلوم ده خو په حقیقت کي د ترياقو وهل اجاره ده شرکت نه ده .

زموږ په منطقه کي

د غنمو او د اوربشو ريبل هم په دغه مذکوره طريقه سره وي يعني پر ولاړ فصل باندي مالک او مزدور دافيصله سره وکړي چي دغه کبنت په پنځه يالس کوني مثلا درکوم او مزدور قناعت پر وکړي نو کوم وخت چي لو وکړي بيا هغه معلومي کوني ورکوي او دغه طريقه و سلسله هم ناجائزه ده . ځکه دا هم په معنى د قفيز الطحّان ده او پر مزارعت نسي ور قياس کېدلی په هغه دلائلو کوم چي مخته ذکر سوو . حاصل د هغو دا ده چي مزارعت من وجه اجاره ده او من وجه مضاربت و شراکت ده او لو اجاره ده فقط نو لَو من کل وجوه په معنى د قفيز الطحّان ده او مزارعة من وجه په معنى د قفيز الطحّان ده بيا ن يې مخته په تفصيل سره ذکر سو حيله د دې غنمو په لو کي دا ده چي مالک ورته ووايي پنځه کوني يا لس کوني مثلا د دغو غنمو پر لَو باندي در کوم او دا نکړي پکښې شرط چي د دغه لَو له غنمو يې درکوم بلکه له هر و غنمو که مي در کړو او مزدور به هم دغه شرط نه پر ږدي چي خاص به يې له دغو غنمو راکوې نو بيا که يې له دغو غنمو ورکړي لا هم پروا نلري او که يې له نورو ورکړي خو فبها و النعمة خو لکن زموږ په علاقه کي عرف پر دې باندي ده له هغو غنمو يې ورکوي کوم چي ور لَو کړي . که څه هم اوله ور ځ نکړي سره شرط نو دا د فقه قاعده ده : المعروف کالمشروط يعني

کوم شئی چې په عرف کې معروف سي هغه داسې ده لکه مشروط په شرط باندې نو تر ټولو ښه خبره دا ده چې په نقد روپو یې ورکړي بیا په هغه روپو باندې په اخیره ورځ غنم ځیني اخلي او که نقیدي ځیني اخلي خپله خوښه یې ده په قفیز الطحّان کې فقهاؤ دغه حیله ذکر کړې ده .

والحیلة فی ذلك لمن اراد الجواز ان یشترط صاحب الحنطة فی ذلك لمن اراد الجواز ان یشترط صاحب الحنطة قفیزاً من الدقیق الجید و لم یقل من هذه الحنطة او یشترط ربع هذا الحنطة من الدقیق الجدید لان الدقیق اذا لم یکن مضافاً الی حنطة بعینها یجب فی الذمة والأجر کما یجوز ان یکون مشار الیه یجوز ان یکون دیناً فی الذمة ثم اذاجاز یجوز ان یعطیه ربع دقیق هذه الحنطة ان شاء۔(کذا فی المحیط عالمگیری ص ٤٤٤، ج ٤) .

د هغه چا لپاره چې اراده د جواز لري حیله یې دا ده چې د غنمو مالک دا شرط کړي چې یو قفیز ښه وړه د رکوم ددغو غنمو پر ژرنده کولو باندې او دا نه ووایی چې له دغو غنمو او یا دا شرط کړي چې د دغو غنمو د څلورمې حصې په مقدار ښه وړه درکوم ځکه وړه چې و معلومو غنمو ته مضاف نه کړي هغه په ذمه کې واجبیږي او مزدوري لکه څنګه چې دا جائز ده چې مشار الیه سي دغه رنګه دا جائز ده چې دین او قرض سي په ذمه کې نو هر کله چې دا جائز سوه نو داهم جائز ده چې د دغو موجود غنمو څلورمه حصه وړه ورکړي که یې خوښه وه . والله اعلم بالصواب .

Maktaba Tul Ishaat.com



المقصد التاسع

فی أکل التنباک و شرب الدخان

نهم مقصد په بیان د نسوارو او سګرېټو او د چلم کې ده . په دې کې درې خبرې دي . اول تنباکو څه شئی ده یعني حقیقت او ماهیت یې څه ده دویم تاریخ د اشاعت د تنباکو او دریم بیان د حلت اؤ د حرمت د تنباکو . ددې مقصد ترجمه به په داسې طرز وکړو چې د مجموع عباراتو حاصل به پر یوه ځای وایو نو به دغه بحث یو څه کوتاسي . حکیم محمد مومن په تحفة المؤمنین کې ئې حقیقت داسې بیان کړی ده .

ان التنباکو قسم من اقسام ماهی هرج

جبلی الذی یسمی بـ قُلُومس لأنه مشابه فی الماهیة بالقسم الثالث من قلومس وفی السمیة تشبه ماهیزهرج فأنه عرفوا القسم الثالث أن ورقه کورق الکرنب لکن اطول منه مع رطوبة قلیلة متشتة و بذره أحمر مائل الی السواد والمؤید الثانی ان الحکیم بقراط قرر فی زمانه لدفع الوباء نباتا یحرق فی خندق بأطراف البلدة لیکون دخانه باعثاً لعدم وصول الوباء الی البلدة و کان ذلك النبات قسما من اقسام القلومس و هذا الأثر موجود فی تنباکو انتهی ملخصا و قا ل اللقانی لا اعلم احدًا تکلم علی خصوص هذا الدخان من الاطباء والحکماء الذین یعتمد علی قولهم الا أن ما اخبر بـه الثقات والمعتبرون أنـه یحدث شرب هذا الدخان فی ابتدائه بعضاً من المنافع فی البدن حتی یداوم علیه فحینئذٍ یحدث

Maktaba Tul Ishaat.com

الغشاوة فی البصر و الثقل فی الاعضاء والامساك فی الهاضمة و علی هذا لا ریب لأحد من العقلاء فی تحریمه مطلقاً انتهی ملخصاً و فی مخزن الادویة ایضاً بعد ذکر اقسامه وانواع الانتفاع به أنه حار یابس معطش مجفف مضر للقلب و الدماغ مورث للسدود و الخفقان و تکدر الحواس مغلظ للدم و دخانه مصلح فساد الهواء الوبائی منق للرطوبات الدماغیة انتهی و فیه ایضا فی حرف القاف قُلُومُس بضم القاف و اللام و سکون الواو و ضم المیم فی آخره سین مهملة لفظ یونانی بمعنی اذان الدب نبات منقسم علی خمسة اقسام منها مَهِزَهرج بفتح المیم و الألف و کسر الهاء و فتح الراء المهملة بعد الزاء المعجمة معرب ما هی زهره فارسی بمعنی سمّ السّمك لکونه قاتلا له انتهی معربا ملتقطاً۔(نقله ترویح الجنان ص۹) .

حاصل يې دا ده چي تنباکو داسي شئی ده لکه ماهيزهر ج په شکل او په نفع و ضرر کي ماهيزهرج يو قسم وابنه ده په عربي کي سمّ سمک ورته وايی يعنی زهر د ماهي . وجه د تسميې يې هم دا ده چي دماهيز هرج پاڼي چي وتکوي او په اوبو کي واچوي نو کوم ماهيان چي وي په اوبو کي هغه نشه کوي بالاخيره يې مړه کوي او د ماهيز هرج نفع او ضرر مخته ذکر سو په تنباکو کي هم دغه اثر موجود ده په تاريخ د اشاعت کي ابراهيم القاني المالکي تلميذ عمر بن نجيم الحنفی صاحب النهر الفائق شر ح کنز الدقائق په عمدة المدير شر ح جوهرة التوحيد کي ويلي دي:

Maktaba Tul Ishaat.com

قد حدث فی اوائل القرن الحادی عشر

و قبيلة بمدة قليلة شرب دخان شئي يعبر عنه الناس بعبارات مختلفه فبعضهم يقوله التنباك و منهم من يعبر بالتتن بالتائين الفوقانين و بعضهم يتفوه بطابغى و شرمة بطيغا و قال العلامة الزاهد محمد بن أحمد بن عبد الرحمن انه ظهر فى بلادنا شئى مسمى بتنبكه فى السنة الخامسة بعد الالف و هى أوراق شجرة مسماة بطبقا و قد ابتلى الله المسلمين بتدخينه و شرب الدخان منه انتهى حاصل ما قال اللقانى و فى كتاب الأشربة من الدر المحتار شرح تنوير الابصار قال شيخنا النجم الغزى والتتن الذى حدث و كان حدوثه بدمشق فى سنة خمسة عشر بعد الألف يدعى شاربه انه لا يسكر و ان سلم فانه مفترو هو حرام الحديث اخرجه احمد فى مسنده عن أم مسلمة قالت نهى رسول الله ﷺ عن كل مسكر و مفتر قال و ليس من الكبائر تناوله المرة والمرتين و مع نهى ولى الأمر عنه حرم قطعاً على أن استعماله ربما أضرب بالبدن نعم الاصرار عليه كبيرة كسائر الصغائر انتهى بحروفه و فى رسالة الشيخ محمد عبد الباقى الرومى المكى الحنفى المسماة بالحسام القاصم قد ابدع النصارى من اهل القرن الحادى عشر منتناً كريهة الريح والمنظر و نوعوا هيئات شربه كما سول لهم الشيطان و أملى لهم و شيعوه فى بلدان الاسلام حتى أهل الحرمين فأول من جلبه الى البر الرومى النصارى و أول من حدثه بأرض المغرب اليهود و أول من أخرجه ببلاد السودان المجوس ثم شاع ببلاد الاسلام و عمت به الفتن المتنوعة و ترتبت عليه الأضرار الدينية والعقلية

Maktaba Tul Ishaat.com

و البدنية و المالية و العرضية انتهى كلامه و قيل ان بدو شيوعه فى ايران كان فى عهد الشاه عباس الثانى و فى الهند فى آخر عهد أكبر و اوائل عهد جهانگير۔

يعنى په يولسمه صدۍ كې يې اشاعت سوى ده په جهان كې اِو په اباحت و حرمت و كراهيت كې مختلف اقوال دي هغه علماء چې حرام او مكروه يې بولي د هغو له جملې څخه .

حسن بن عمار بن على ابو الاخلاص المصرى الحنفى الشرنبلانى مؤلف نور الايضاح

ده هغه وايي:فانه سألنى بعض العظماء عن شرب الدخان الذى حدث فى هذا الزمان فقلت أن الذى يستعمل شربًا و يصل الى الجوف اما غذاء او دواء الغذائية فيه منتفية والدواء ان ظن به فلا يدام عليه لانعكاسه الضد و هو لا يجوز و ان لم يكن غذاءً و لا دواءً فهو نوع من العبث و أنه لا يجوز و هذا مع قطع النظر عن الأمور الخارجية كاتلاف المال بشراء ه بما لا يرضاه اهل اصلاح والرشد وغيره كأذيته بنتن فيه كل من قابله و قد منع اكل الثوم والبصل من حضور المساجد بنص الحديث و احراق من يمر على غفلة بنار شاربه شيطان بيده شعلة نار خصوصاً عند الغروب والفجر و جمعهم متقابلون بهذه النصيحة و قلت و يمنع من بيع الدخان و شربه ۔ و شاربه فى الصوم لاشك يفطر ۔ و يلزمه التكفير لو ظن نافعا۔ كذا رافعا شهوات بطن فقرروا۔ و قد يشتمله قوله عزوجل و يحرم عليهم الخبائث انتهى ۔ و قال ابن العماد الحنفى

Maktaba Tul Ishaat.com

الدمشقی فی هدیة یکره الاقتداء فی الصلوة بمن هو معروف بأکل الرباء او شئی من المحرمات او باصرار علی شئی من البدع المکروهة کالدخان المبتدع فی هذا الزمن انتهی۔

سئل عن الشرب العلامة الفاضل القاضی محمد أحمد بن عبد الرحمن فقال انه لمن غش الشیطان و تزینیه للناس الذین یلعب بهم و تلبیسه علیه لانه یظنون فیه الدواء الأمراض مع أنه یتولد فی أجوافهم و بطونهم من تکاثف الدخان و درن و عکر و یورث الأمراض فی آخر الأمر بدلیل قول جالینوس الحکیم حیث قال اجتنبوا من الثلاثة الغبار والرائحة الکریهة المنتنة والدخان و ان تکرار الدخان یسود الشئی المقابل به فیتولدمنه الحرارة ثم یوجب مرض الباطن انتهی ملخصاً و فی الوسیلة الأحمدیه شرح الطریقة المحمدیة للشیخ رجب بن أحمد الحنفی فی آخر المبحث الثالث من مباحث الاسراف عند قول المصنف و من الاسراف ما صرف الی المعاصي والمناهی الخ و من الاسراف الذی صرف الی المعاصی و المناهی شراء الدخان و شربه الذی ظهر فی هذا الزمان من قبل الکفرة العدوة لاهل الایمان وابتلی به کافة الأنام من الخواص والعوام فانهم یشترون بثمن غالٍ فیدخل فی الاسراف المحرم مع نتن رائحة و أذیته للذین یتبعون النبی علیه السلام و قد جاء فی الحدیث (کل مؤذ فی النار) ای کل من اذی الناس فی الدنیا یعذبه اللّٰه بنار الآخرة انتهی و لذا قال رسول الله ﷺ من أکل من هذه الشجرة المتنة فلا یقربن مسجدنا لأن الملائکة تتأذی منه الانس و اسم الاشارة الواقعة فیه اشارة الی جنس ماله رائحه کریهة و قد ثبت فی صحیح مسلم

Maktaba Tul Ishaat.com

أن النبی ﷺ کان اذا وجد من رجل ریح البصل و الثوم أمر به فأخرج الی البقیع و لهذا قال الفقهاء کل من وجد و فیه رائحة کریهة یستأذی به الانسان یلزم اخراجه و لو بجر من یده أو رجله دون لحیته و و شعر رأسه فعلی هذا یلزم إخراج کثیرمن الأیمة والمؤذنین من المسجد و الجامع فی هذا الزمان لوجود الرئحة الکریهة فیهم بسبب مداومتهم علی استعمال الدخان الکریهة الرائحة بل انهم اذا استعملوه عند دخول المسجد والجامع یکون الکراهة فی حقهم أشد و قال جالینوس اجتنبو ثلاثةعلیکم بأربعة و لا حاجة لکم الی الطب اجتنبوا الدخان والغبار والنتن و علیکم بالدسم والحلو والطیب والحمام۔

و قال ابن سینا لو لا الدخان والقتام أی الغبار لعاش ابن آدم ألف عام و قد کتب بعض المالکیة فی الدیار الحجازیة جواباً عن سؤال یتعلق بالدخان و هو أن استعمال الدخان حرام کأصله لأن أصله الخشب والنار لکونه أجزاء من الخشب ممزوجة بأجزاء النار فهو من حیث أجزاء الناریة التی فیه یحرم استعماله لقوله تعالی ان الذی یأکلون اموال الیتامی ظُلماً انما یأکلون فی بطونهم ناراً فدل النص علی حرمة النار فیحرم الدخان الحاصل منها وایضا أنه تعالی جعل الدخان مما یعذب حیث قال فارتقب یوم تأتی السماء بدخانٍ مبین یغش الناس هذا عذاب ألیم ۔ و المراد بالدخان فی هذه الآیة حقیقة الدخان علی قول و علی هذا القول یکون النظم الکریم صریحاً فی کون الدخان عذاباً ألیماً و ما به التعذیب یحرم استعماله فان الفقهاء قد اتفقوا علی وجوب الفرار من محل العذاب کبطن محسر فانه من التحسیرعلی لفظ اسم فاعل واد

Maktaba Tul Ishaat.com

أهلك الله فيه اصحاب الفيل فاذا وجب الفرار من محل العذاب فوجوبه مما به العذاب أولى و أحرى ثم ان المستعملين له تراهم يخرجونه من أنوفهم و حلوقهم فيه تشبيه باهل النار و بالذين يهلكون فی اخر الزمان من الاشرار كما جاء فی الحديث أن يكون فی آخر الزمان دخان يملأ الأرض يقيم على الناس اربعين صباحاً أماالمؤمن فيصير منه كهيئة الزكام و اما الكافر فيخرج من منخريه و أذنيه و عينيه حتى يكون رأس أحدهم كالرأس الخيذ۔ أی المشوی فلا ينبغی للمؤمن أن يتشبه باهل العذاب و لا أن يستعمل ما هو من نوع العذاب و ما هو من ملابسات اهل العذاب وقد ذكر فی نصاب الاحتساب و غيره من الرسائل التختم بالحديد والصفر والرصاص حرام على النساء والرجل جميعاً لما جاء فی الحديث أنه من حلية اهل النار انتهى كلامه و فی موضع آخر من الوسيلة أما الدخان الذی شهر فی هذا الزمان من قبل الكفرة العدوة لاهل الايمان ابتلى به كافة الأنام من الخواص والعوام فقد فصّلناه فی المبحث الثالث من الاسراف مما لا مزيد عليه انتهى۔

و فی مجالس الابرار المجلس الثلاثين بعد بحث الطويل والحق الذی عليه التعويل أن الفعل الاختياری الصادر عن المكلف ان لم يترتب عليه فائدة دينية أو دنيوية فهو دائر بين العبث واللعب واللهو و لم يفرق بين هذه الثلاثة فی كتب اللغة و لا بد من الفرق لعطف بعضها على بعض فی القرآن و هو على ما ذكره بعض الفحول و كان حقيقا بالقبول أن العبث الذی ليس فيه لذة ولا فائدة و أما الذی فيه لذة بلا فائدة فهو لعب و مثله اللهو الا أن فيه زيادة حظ النفس بحيث يشغل به عما يهمه

Maktaba Tul Ishaat.com

والـكل حزام لأنها لم تذكر فى القرآن الا على طريق الذم فلما علم حرمة الـلعب واللهو و العبث حرم استعمال ذلك الدخان لدخوله اما فى اللعب او الـلهـو او الـعبـث بـل هو بالعبث أنسب لخلوه عن اللذة التى فى اللهو والـلـعب الـلهم الا أن يستلذه نفوس بعض المسلمين له بتسويل شيطانى فيـحنئذٍ يخل فى اللعب أو اللهو لك لا يكون فيه شئى من الفائدة أصلا لا مـن الـفـائـدة الدينية و هو الظاهر و لا من الفائد ة الدنيوية لأن لا يصلح شئى من الغذاء او الدواء أصلا بل هو مضر لاطباق الأطباء على أن مطلق الدخان مضر۔

و ذكـر فـى الـقـانـون أن جـمـيـع أصـنـاف الـدخـان مجفف بجوهره الأرضى و فيه نـارية يسيـرة قال بعض الفضلاء فاذا كان مجففا للرطوبات البـدنية فيـؤدى الـى حـصـول أمراض كثيـرة فلا يجوز استعماله لوجوب صيانة الـنـفـس عـن الـضـرر و قـد ذكـر فـى نصاب الاحتساب أن استعمال الـمـضـر حـرام و قال الأسعد الرومى فى آخير البحث ثم ان لنا فى معرفة حـرمة الاشياء و اباحتها وجهاً حسناً يرجع الى الاصول و هو أن الحق فى الاشياء قبل البعثة أن يـكـون فيها حـكـم و بعد البعثة اختلف العلماء فيه عـلـى ثلاثة اقـوال الأول أنهـا متصفة بالحرمة الا ما دل دليل الشرع على اباحتـه والـثـانـى أنهـا متـصـفـة بالاباحة الا ما دل دليل الشرع على حرمته والـثـالـث وهـو الـصـحـيـح أن يـكـون فيـه تـفـصـيل و هو أن المضارمتصفة بـالـحرمة بمعنى ان الاصل فيها الحرمة وان المنافع متصفة بالاباحة لقوله تـعـالـى و الـذى خـلـقـلـكـم مـا فـى الارض جـمـيعاً ۔ فانه ذكر ه فى معرض الامتـنـان و لا يكون الامتنان الا بالنافع المباح فكأنه قال هو الذى خلق

Maktaba Tul Ishaat.com

لأجل نفعكم جميع ما فى الارض من النافع لتنفعوا بها و على هذا القول الثالث الصحيح يخرج حكم هذا الدخان ايضا فانه لو كان نافعاً لكان الاصل فيه الاباحة لكن قد ثبت بأخبار الحذاق من الاطباء أنه مضر لو فى الاجل فيكون الاصل فيه الحرمة بل لو وقع الشك فيه لغلب جانب الحرمة كما هو القاعدة الشرعية فانه عليه الصلوة والسلام قال الحلال بين والحرام بين و بينهما متشبهات لا يعلمهن كثير من الناس فمن اتقى الشبهات فقد أستبرء لدينه و عرضه و من وقع فى الشبهات وقع فى الحرام كاراعى يرعى حول الحمىٰ يوشك ان يقع فيه و اختلف العلماء فى حكم هذه الشبهات فذهب بعضهم الى حرمتها لأنه ﷺ قد أخبره فى هذا الحديث بأن من ترك ما اشتبه عليه حكمه و لم ينكشف أمره يكون دينه سالماً ممايفسده او ينقصه و نفسه ناجياً مما يعيبه و يلام عليه و من لم يتركه بل فعل يقع فى الحرام و هذا الدخان مما اشتبه عليه حكمه و لم ينكشف حقيقة أمره فمن تركه و لم يستعمله يكون دينه سالماً من الفساد او النقصان ناجياً من العيب و اللوم بين الأنام و من لم يتركه بل استعمله يقع فى الحرام و مذهب بعضهم الى كراهتها لما جاء فى حديث آخر أنه عليه السلام قال الأمور ثلاثة أمر تبين لك رشده فات به و أمر تبين لك عيبه فاجتنبه و أمر اختلف فيه ـ

فدع ما يريبك الى ما لا يريبك و لا شك أن أمر الدخان مما الاب و أوقع فى الاضطرار و أقل مراتبة الكراهة و صح على ما ذكره الهلالى فى مختصر الاحياء أنه عليه السلام كان يكره الطعام المسخن و يقول ان الله لم يطعمنا ناراً ـ فهذا الدخان أولى بالكراهة لأنه مختلط باجزاء نارية

Maktaba Tul Ishaat.com

کما مر فلو لم یکن فی استعماله الا تسوید الثیاب و الا بد ان و کراهة الرائحة لکفی زاجرا للعاقل عن استعماله بل لو لم یکن فی استعماله الا احیاء السنة الکفّار الذی اخرجوه و اظهروه فی بلاد الاسلام تعصلا الی اضرارالاسلام لکان باعثاً للعاقل علی اجتنابه و مانعاً عن ارتکابه انتهی کلامه ۔

و فی التبیان سئل العلامة محمد جان السندی الحنفی بن العلامة عبد اللطیف بن المخدوم عثمان عن شرب الدخان فأجاب مع افتاء أبیه وجده انه مکروه کراهة التحریم بل حرام والاصرار علیه کبیرة کسائر الصغائر و شاربه فاسق مبتدع یغیر و یسقط عنه العدالة لقواعد المذهب و روایاته و کتب أصاب فی الجواب أو فی ما أجاب اولا ارتیاب فی ما أجاب فی التحریر نحو سبع و سبعین من فضلاء ذلك الوقت و لا أعرف الی الآن و هو سنة ثمان و تسعین بعد الألف و المائة أي یتفوه باباحة شرب الدخان أو یشربه من الفضلاء و الصلحاء و الأعیان بید أي یشربه السوقیة والفسقة و الملامتیه انتهی ملخصاً۔

دغه رنګه پر کراهیت او حرمت باندي ډېرو شیخانو قول کړی ده چي د هغو له عباراتو څخه یو مستقل کتاب جوړېږي نو لهذا مونږ د هغو په نومونو باندي اکتفاء کوو:

شیخ .۱۔ وجیه الدین الحنفی رحمة الله علیه و تلمیذه سید۲۔ صبغت الله الدبوجی رحمة الله علیه و شیخ۳۔ عبد الغنی الصدیقی الحنفی رحمة الله علیه و شیخ ٤۔حسن الحسینی رحمة الله علیه و شیخ ۔ عبد اللطیف الهندی رحمة الله علیه و شیخ ٦۔ یار محمد الحنفی

Maktaba Tul Ishaat.com

رحمة الله عليه و شيخ ٧۔ حبيب الله رحمة الله عليه و شيخ ٨۔ مفتى مكة مكرمة محمد عبد العظيم الحنفى رحمة الله عليه و شيخ ٩۔ عمر بن عبد الرحيم البصرى الشافعى رحمة الله عليه و شيخ ١٠۔ أحمد بن عثمان الصديقى رحمة الله عليه و شيخ ١١۔ محمد على بن علان الشافعى رحمة الله عليه و مفتى ١٢۔ محمد بن سعد الدين رحمة الله عليه و شيخ ١٣۔ محمد بن على الحنفى رحمة الله عليه قاضى المدينة المنورة و مفتى ١٤۔ زبيد ابراهيم بن جمعان رحمة الله عليه و شيخ ١٥۔ ابو بكر الأهدل رحمة الله عليه و شيخ ١٦۔ محمد بن الصديق الخاص الحنفى رحمة الله عليه و شيخ ١٧۔ سالم السنهورى المالكى رحمة الله عليه و شيخ ١٨۔ البرهان اللقانى رحمة الله عليه و شيخ ١٩۔ خالد بن أحمد المغربى الجعفرى المالكى رحمة الله عليه و قاضى ٢٠۔ محمد بن عبد الرحمن المالكى رحمة الله عليه و شيخ ٢١۔ ابى الغيث القشاق المالكى رحمة الله عليه و الشيخ ٢٢۔ صالح البلقينى الشافعى رحمة الله عليه و شيخ ٢٣۔ محمد بن محمد المالكى رحمة الله عليه و مفتى ٢٤۔ مصطفى الكردى العمادى رحمة الله عليه و شيخ ٢٥۔ عبد الرحمن رحمة الله عليه و شيخ ٢٦۔ عمر آفندى رحمة الله عليه و امام ٢٧۔ مكمة عيسى بن عمر رحمة الله عليه والقاضى ٢٨۔ ممحمد بن أحمد بن عبد الرحمن المالكى رحمة الله عليه و شيخ ٢٩۔ محمد عبد الباقى الرومى الحنفى رحمة الله عليه و نجم الدين ٣٠۔ بن بدالرالدين رحمة الله عليه و شيخ ٣١۔ عامر الشافعى رحمة الله عليه و شيخ ٣٢۔ منصور بن يونس رحمة الله عليه و شيخ ٣٣۔ سليمان بن يحى

Maktaba Tul Ishaat.com

رحـمة الله عـليـه و شيـخ ٣٤ـ عبـدالـخـالـق رحمة الله عليه و غيرهم من العلماء الهند والسند والعرب وغيرها ـ

دغـو عـلـماء كرامو مـختـلـف دلائـل پر حرمت او كراهيت باندي ذكر كړي دي حاصل يې دا ده .

۱: بعض وايي

چي سـګـريټ وچلم و نسوار حرام دي ځـكـه چي نه غـذا ده او نه دواء نـو هـر هـغـه شـئـى چي نـه غذا وي او نه دواء د هغه خوراک و ځيـښـاک عبث ده او عبث حرام ده .

او بـل چي نـه غـذا ده او نـه دوا حرام ده ځـكـه حرمت د شي كلـه لـه جهتـه د فسـاد د غذا وي لكه مچ او خاوره او كله له جهت د خبث طبعي وي لـكـه چنګښه او شمشتي او كله له جهتـه د نجاست ځخه وي لكه شـراب وغيـره او كـلـه لـه جهت د احتـرام ځـخـه وي لكه انسـان او دغه مـذكـور شيـان حرام دي لـه جهتـه د فساد د غذا او د عبث پر حرمت باندي دغـه قـول د الله (جل جلا لـه) وايي :

أفحسبتم أنـما خلقناكم عبثًا . يعـنـى آيا تاسو ګمان كوئ چي موږ تـاسـو د عبثيـاتـو لپـاره پيـدا كـړي يـاست او دا قـول د رسـول الـلـه ﷺ وايي: كـل شئى من لهو الدنيا باطل الا ثلاثة انتصالك بقوسك و تأديبك فرسك و ملاعبتك أهلك فانهن من الحق ـ و فى رواية كل لعب المؤمن حرام ـ(رواه الحاكم و قال صحيح الاسناد)ـ

۲: او بعض علماء وايي

چي دغـه مـذكـور شيـان حرام دي د مضـرت پـه وجـه ځـكـه مضر حرام

وي لـكـه څـنـګـه چـي صاحب محيط السرخسي د ختمي پر خوراک پر حرمت حکم کړيده د ضرر په وجه باندي او دغه مذکور شيان مضر دي په اتفاق د اطباء باندي .

۳: او بعض علماء وايي

چي دغه مذکور شيان مفتر او مخدر دي عقل لره او هر هغه شئى چي مـفـتـر وي هـغـه حرام ده په نقل سره چي هغه قول د أم سلمة رضى الله عنهـا ده:

نهى رسول الله ﷺ عن كل مسكر و مفتر (اخرجه أحمد فى مسنده و ابـو داود فـى سـنـنـه)والـمـراد بالمفتر كل شئى يورث الفتور والخدر فى الاطـراف كـمـا يـحـصل فى بعض انواع القنب و هو دون الاسكار و قريب منه فى الانتشار و هما سوا سيان فى كونهما موجبين للحرمة .

٤: او بعض علماء وايي

چـي حـرمـت يې په وجه د مشابهت ده له کفارو سره او له اهل النارُ سره څکه له حذيفه رضى الله عنه څخه په حديث مرفو ع کي روايت ده چي د قيامت له علامو څخه يوه علامه وتل د دوک دي يعنى د ځمکي مخ به دوک ونيسي څلوښت ورځي او شپې به ولاړ وي د هر کافر په پـوزه او غـوږو او دبره باندي به ننوزي او دا آيت مبارک يې ووايو : **يوم تأتى السماء بدخان مبين يغشى الناس هذا عذاب أليم .**

او دغـه رنـګـه اهـل الـنـار چـي اور تـه داخل سي پـه خولو او پوزو باندي به يې دوک ننوزي د بدن تر منفذو به يې وزي نو سګريټيان او چـلـمـيـان هم دغسي دي چي تر حلقو او پوزو يې دوک وزي نو تشبيه

Maktaba Tul Ishaat.com

یې له کفارو سره که حرامه نه وه مکروه خو یقیناً ده لکه څنګه چې رسول الله ﷺ د اوسپني او سروپو له ګوتمۍ څخه منع کړې ده وایي چې دا د اهل النار ګېڼه ده .

۵: او بعض علماء وايي

چې مذکور شیان مکروه دي د بدبويۍ په وجه باندي قياس یې پر پیاز او وږه باندي کړیده . رسول الله ﷺ ويلي دي که چا پیاز او وږه وخوړلو هغه دي زموږ و مسجد ته نه راځي ځکه هر هغه شئ چې انسان ته ضرر رسوي او انسان ځیني تنګیږي له هغه شي څخه ملائکه هم تنګیږي نو دغه مذکور شیان مکروه دي د بدبويۍ په وجه باندي چې انسانانو او ملائکه وو ته ضرر رسوي .

۶: او بعض علماء وايي

چې مذکور شیان حرام دي د خباثت په وجه باندي . ځکه الله (جل جلاله) وايي : یحل لهم الطیباتِ و یحرم علیهم االخبائث او خبیث هغه شي ته وایي چې طبعیت سلیمه نفرت ځیني کوي او له دغو مذکور شیانو څخه طبیعت سلیمه نفرت کوي نو په خبائث کي داخل دي او خبیث حرام دي لکه څنګه چې ذکر سو .

۷: او بعض علماء وايي

چې مذکور شیان حرام دي له دې وجهي چې فاسقان پریو ځای کیږي لکه پر نورو حرامو شیانو باندي او پر هر هغه شي باندي چې فاسقان رایو ځای کیږي هغه ممنوع دي په شریعت کي ځکه دغه

شئی بالآخره سبب او ذریعه د نورو فسادو گرزي .

۸: او بعض علماء وایی

چي مذکور شیان حرام دي لـه دې وجهي چي دایو عامـه بلاده او شامله فتنه ده ټول جهان په اخته ده . ددې عامي فتنې په وجه باید پر حرمت حکم وسي لکه څنګه چي په شرح تمر تاشي وغیره کي ذکر دي چي لـه شمس الأئمه الکردري څخه سوال وسو د بنګو د حرمت او د حلت په حقله ده په جواب کي ورته وویل:

مانقل عن أبی حنیفة رحمه الله علیه و أصحابه شئی فی حله و حرمته لکن لما عمت بلیته و شملت الأماکن فتنته أختار ائمة ما وراء النهر بأسرهم تحریمه و أفتوا بتأدیب باعته و زجر آکلته .

۹: او بعض علماء وایی

چي مذکور شیان حرام دي لـه دې وجهي چي عقل فاسدوي او انسان دخدای (ج) لـه ذکره او لـه لمانځه څخه باسي او هر هغه شئی چي دغه رنګه وي هغه حرام ده نو دوي حرام دي .

۱۰: او بعض علماء وایی

چي سګریټ او چلم حرام دي له دې وجهي چي دوګ آله د عذاب ده الله (جل جلا له) په خپل کتاب کي په ځایو د عذاب کي ذکر کړي دي:

یوم تأتی السماء بدخان مبین (الأیة) و قال تعالی و ظل من یحموم لابارد و لا کریم و قال تعالی یرسل علیکم شواظ من نار و نحاس و قال تعالی انطلقوا الی ظل ذی ثلاث شعب لا ظلیل و لا یغنی من اللهب ،

Maktaba Tul Ishaat.com

والنقل والنحاس والجلود هو الدخان وقال تعالى في حق قوم يونس لما آمنوا كشفنا عنهم عذاب الخزي في الحياة الدنيا وكان ذلك الدخان وما يكون كذلك فاستعماله على وجه يكون هيئة لعذاب جهنم ألا ترى إلى ما أخرجه أبوداود وغيره.

عن بريدة رضي الله عنه جاء رجل إلى رسول الله ﷺ وعليه خاتم من حديد فقال مالي أرى عليك حلية أهل النار ثم جاءه وعليه خاتم من صفر فقال مالي أجد منك رائحة الأصنام فقال يا رسول الله من أي شيء اتخذه؟ قال اتخذه من ورق.

ومن ثم صرح بعض الفقهاء بأن استعمال الحديد أكره تعالى من استعمال الذهب والصفر لكونه آلة لعذاب الآخرة فإذا كان الحديد هذا مع أن ما فيه نوع زينة فما بالك بالدخان الذي هو عذاب الدنيا والآخرة.

حاصل يې دا شو چې استعمال د هغې شي په داسې طريقه سره چې هيئت يې داسې وي لکه هيئت د هغه عذاب د دوزخ.

۱۱: او بعض علماء وايي

چې مذکور شيان حرام دي د ضرر په وجه سره چې دا نورو مسلمانانو ته تکليف ورکوي وخت چې د غير متقي انسان ورځ ته استعمالوي نو هغه نفرت ښکاره کوي او مخ ښکاره بدوي نو چې انسان ځيني په تکليفيږي ملائکه هم ځيني په تکليفيږي او تکليف ورکول بل چا ته حرام دي لکه څه چې حديث کې راغلي.

والذين يؤذون المؤمنين والمؤمنات بغير ما اكتسبوا فقد احتملوا بهتانا وإثما مبينا وقال رسول الله ﷺ كل مؤذ في النار.

١٢: او بعض علماء وايي

چې مذکور شيان حرام دي د اسراف په وجه باندي يعني ډېري ډېري پيسې پر ورکوي پر داسې شي باندي چې پر هغه نه دنيوي فائده مرتبه ده او نه اخروي او دا اسراف ده اسراف حرام ده په نص سره .

١٣: او بعض علماء وايي

چې سګريټ و چلم حرام دي له دې وجهي چې په دوی سره دوګ داخليږي و بدن ته او دوګ لـه اوره پيداکيږي داور خوراک حرام ده لکه دګرمي ډوډۍ په حق کي چې رسول الله ﷺ وايي:

أن الله ما أطعمنا النار ، يا ، أن الله لم يطعمنا ناراً ـ

يعني رسول الله ﷺ د ګرمي ډوډۍ خوراک مکروه او ناجائز بولي د اور په وجه باندي نو سګريټ او چلم به څنګه ناجائز نه وبلل سي د اور په وجه باندي .

١٤: او بعض علماء وايي

چې سګريټ حرام دي له دې وجهي چې په سګريټ سره مشابهت راځي له شيطان سره څکه دا ثابته ده چې د اور ښوکي په لاس کي اخيستل دا د شيطان فعل ده نو سګريټي هم دغسي فعل کوي لکه شيطان چې شعله د اور يې په لاس کي اخيستې وي بياخاص کر په سهار او په ماښام کي او تشبيه له شيطان سره ممنوع ده په نصوص صريحه وو باندي لکه څنګه چې خوراک او څښاک په چپه لاس سره ممنوع ده او تګ کول په يوه چوټه کي او او به څښل په ولاړه باندي او حاجت ته کښېنستل په سايه او لمر څېکي کي او لاس پر ډېډو نيول و

غیر ذلک من الأفعال الشیطانیة .

۱۵: او بعض علماء وایی

چې سګریټ حرام دي له دې وجهې چې اولو الأمر منع ځیني کړې ده او منع د اولو الأمر موجب د حرمت ده په مسلمانانو باندي :

وفی ما ذکر النابلسی و غیره بأمر المراد من أولی الأمر العلماء علی الاصح کماذکره العینی فی الرمز شرح الکنز ۔

او چې اولو الأمر علماء سي لکه عیني رحمه الله علیه چې وایی بیاخو یې حرمت تر لمر واضح ده او که سلاطین سي هم حرمت یې ثابت سو ځکه امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحفظه الله علیه هم منع ځیني کړې ده .

۱٦: او بعض علماء وایی

چې مذکور شیان حرام دي له دې وجهې چې اجماع د مسلمانانو یې پر حرمت باندي راغلې ده او اجماع حجت ده له حجت شرعیه څخه .

۱۷: وقال شیخ عبدالحئی اللکنهویؒ

فی رسالته "ترهیب" اعتیاد مجاورة هذه الرائحة الکریهة موجبة لحرمان زیارة النبیﷺ البتة و قد سمعت من أثق بخبره یحکی أن رجلاً کان یکثر التنباك فرأی یوما فی المنام رسول الله ﷺ و حوله اصحابه فأراد فی المنام ان یقرب منه و یتشرف بقربه فمنعه الأصحاب و قالوا هذا شارب الدخان فلما استیقظ الرجل تاب من صنعه و مثل هذه الحکایة علی تقدیر صدقها لایستغرب و قوعها فلتحفظ و الله اعلم .

Maktaba Tul Ishaat.com

شیخ عبد الحی لکهنوي رحمة الله علیه په زجر الرّیان عن شرب الدخان کي وایی چي د سگریټو او د چلم مجاورة او عادت موجب د حرمان د زیارت النبی ﷺ کرزي خامخا وایی ما له یو معتمد سړي ځخه او ریدلي دي چي هغه قصه کوله چي یو سړي تنباکو ډېر ځکول بیا یې یوه ورځ رسول الله ﷺ په خوب ولید چي صحابه کرام رضی الله عنهم شاوخا پر ناست وو نو ده اراده وکړه چي رسول الله ﷺ ته ور نږدې سي او په نږدېکت یې شرافت حاصل کړي صحابه کرامو منع کړ او ویل یې چي دا دوک ځکونکی ده نو کوم وخت چي راوینښ سو له خپله کسب یې توبه وکښه او داسي حکایات پر تقدیر د صدق یې وقوع نادره نه ده یادي یې وساته او په بل ځای کي شیخ رحمه الله علیه لیکلي دي:

١٨ : قد ثبت بالأدلة الواضحة والبراهين الساطعة

أن شرب الدخان لايخلو عن اثم أى اثم فانه ان كان حراماً فهو كبيـــــرة اتفاقاً ولو مرة واحدة يفسق به مرتكبه و ترد شهادته و ان كان مكروها تحريماً فهو ايضا كبيرة على المذهب الراجح لكنها دون كبيرة ارتكاب الحرام الواضح و ان كان مكروهاً تنزيهاً فهو و ان كان صغيرة كما أنه كذلك على تقدير الكراهة التحريمية عند جماعة لكنه بالاصرار و الاعتياد يكون كبيـــرة و بالجملة فمداومته و الاصرار عليه لايخلو عن ارتكاب كبيرة أعاذنا الله منها و من أمثالها و اما القول بالاباحة المطلقة الخالية عن مطلق الكراهية فقل من ذهب اليها وقول محكوم عليه بالشذوذ من جملة الاقوال الغير المعتمد عليها .

Maktaba Tul Ishaat.com

يعني په واضحه دلائلو سره ثابته ده چي د سګريټ او چلم څکول له ګناه نه دي خالي هره ګناه که وي څکه که چيري حرام سي نو ګنه کبيره ده اتفاقاً که څه هم يو وار وي فعل کونکی يې فاسق ده او شهادت يې مردود ده او که مکروه تحريمي سي نو هم ګناه کبيره ده پر مذهب راجح باندي لکن د واضح حرامو تر ګناه کمه ده او که مکروه تنزهي سي نو بيا که څه هم ګناه صغيره ده خو لکن په همېشتوب او عادت سره کبيره کرزي . حاصل يې دا دی چي همېشتوب ورباندي کول له ګناه کبيرې څخه نه خالي کيږي . الله (جل جلا له) دي له دوی او د دوی له مثله و موږ ته پناه راکړي او هغه قول په اباحت سره چي خالي وي له مطلق کراهيت څخه وهغه ته ډېر کم تګ سوی ده او هغه قول محکوم عليه په شذوذ او په ندرت سره ده او هغه له جملې د اقوال غير معتمد عليها څخه ده او شيخ عبد الحی لکهنوي رحمه الله عليه ډېر داسي خوبونه له صاحب النصيحة څخه نقل کړي دي چي هغه پر بدي د سګريټو او د چلم دلالت کوي .

۱۹ : ذكر صاحب النصيحة كثيراً من المنامات

الدالة على أنه من المستقبحات و قد تكلم به الموتى بعد حصول الاحياء فمن ذلك ما وقع في بلدة بروج سنة أربعين بعد الألف ان رجلاً كان شارباً للدخان و كان اسمه محمود مات فاشتغل أقربائه بالتجهيز و التكفين اذ أحياء الله تعالى و تكلم فقال أين يذهبون بأخي و كان اخوه مريضاً لكن يدور في البيت فمات في الساعة و سألوه عن حاله فقال جاء ني رجلان مهيبان فذهبا بي الى موضع مفروش بفراش أخضر فاذا أنا

برجل و نساء يقرء ون القرآن و اذا أنا بجماعة من أقربائی فقلت لهم أنا جائع فجاء واحد منهم بطبق مملوء بانواع الثمار فأكلت ثم عطشت فقلت لهم أنا عطشان فجاء واحد منهم بقدح مملوء بدم فقال لی اشرب فقلت والله أشربه فتركتهم وقمت باكياً متحيراً فاذا أنا برجل على صورة العرب فقال لم تبکی؟ فقلت انی ضللت طريق بيتی فقال أذهب بك الى بيتك و أمرك أن أمر الناس أن يتركوا شرب الدخان و أن يتميزوا بين الكافرين والمسلمين فی اللباس فقلت له يا سيدی ان لم يقبلوا قولی فقال بلّغ و ما على الرسول الا البلاغ .

صاحب النصيحة ذكر كړي دي چي په سنه ۱۰۴۰ يو زر څلوېښت كي د بروج په ښار كي يوه واقعه پېښه سوه هغه دا وه چي يو سړی وو نوم يې محمود وو سګريټي او چلمي وو دا مړ سو قريبان يې په تجهيز او تكفين باندي مشغول سو ناڅاپه الله (جل جلا له) دغه مړی ژوندی كړ او خبري يې شروع كړې او ويې ويل چي زما ورور موځه كړيده هغه مريض وو صرف په كور كي كرزيدو بيا بيرته دستي مړ سو خلكو پوښتنه ځيني وكړه يعني حال يې ځيني طلب كړ ده ورته وويل دوه ورېدونكي كسان راغلو زه يې ويو شنه فرش كړي ځای ته بوتلم چي ناڅاپه له نارينه وو او ښځو سره ملاقي سوم په داسي حال كي چي دوی قرآن وايو او ناڅاپه ملاقي سوم له يوې ټولۍ د قريبانو سره ما ورته وويل چي زه وږی يم يو را ولاړ سو يوه مجمع يې راوړه چي له قسم قسم مېوو ډكه وه ما خوراک ځيني وكړ بيا زه تږی سوم ما ورته وويل دوی ته چي زه تږی سوم بيا يوه راتګ وكړ په يوه پياله

سره چي لـه وينـو ډكـه وه و مـاته يې وويل چي وڅيښنه ماورته وويل قسـم پـه خداى كې وڅيښنم نو دوى مي پرېښوو اوزه ولاړ سوم چيغې مي وهلې او حيران وم چي نـاڅـاپـه لـه يوه عربي شكل سړي سره ملاقـي سـوم هغه راته وويل چي ولي ژاړې ما ورته وويل د كورلار را ځـه وركـه ده هغـه راته وويل چي كور ته به دي زه بوزم او په يو شي دي امـر كـوم چـي پـه هغه شي بيا خلك امر كړه هغه دا ده چي خلكو ته وو ايـه چي دوك مه څكوئ او د كافرانو و مسلمانانو په جامه كي فرق سره وكړئ . دى وايـي ماورته وويل كه خلكو نه ومنله ده راته وويل چي ته يې ورسوه په رسول يعني پر لېږونكي صرف رسول دي .

وحـكـى ان رجلاً شريفاً كان يشرب الدخان فرأى النبى ﷺ فى المنام فقال له انت شريف و تشرب الدخان هذا العجيب . حكايت دى چي يو شريف سړي سګريټ يا چلم څكاوه رسول الله ﷺ يې په خوب وليد ورته و يې ويل چي ته شريف سړى يې او دوك څكوې .

وحـكـى ان رجلاً عالماً كان يشرب الدخان فرأى صديقه فى المنام النبى ﷺ فقال له قل لصديقك انك تدرس و تشرب الدخان الخبيث .

يعـنـى حكايت ده چي يو عالم سړى وودوك يې څكاوه د ده اشناى رسـول الـلـه ﷺ پـه خـوب ولـيـد ورتـه و يې ويل چي خپل اشناى تـه وو ايه چي ته درس كوې او خبيث دوك هم څكوې .

وحـكـى انه وقع فى بروج سنة ألف و تسعة و ثلاثين قحط شديد فرأت فى الـمـنـام امـراة صالحة السيد كمال الدين حسيني فقالت له يا سيدى متـى يـرفـع عـنـا هذاالقحط فقال تسألنى عن رفع القحط ولم يترك الناس

Maktaba Tul Ishaat.com

شرب الدخان .

حـكايت ده چي په بروج شهركي په سنه ۱۰۳۹ يو زر نهه دېرش كي قـحـطي او تـنـگي راغله پر خلكو باندي يوې صالحي ښځي سيد كمال الـديـن پـه خوب كي وليد ورته و يې ويل اې سيده دغه بلا به څه وخت خداى (ج) لـه مـوږ څـخه پورته كړي سيد صاحب ورته وويل ته له ما څـخـه د قـحـطي د پـورتـه كېـدو سوال كوې او خلک دوګ څكېدن نـه پرېږدي .

و حـكـى رؤية كثير مـن الـصلحاء النبیﷺ وجماعة من الاولياء أنهم يـمنعون عنه . يـعـنـي ډېـرو صالحانو او اولياؤ نبي ﷺ لـيدلى ده چي دوى يې منع كړي دي ځيني .

و حـكـى صاحب النصيحة عن نفسه أنه رأى فى المنام كان شاباً حسناً مـليحا يقول له ثلاثة لهم عذاب شديد الزانى و شارب الدخان ومثل هذه الحكايات كثير و نظيرها شهير صاحب النصيحة .

د خپـل ځانه حكايت كوي چي ده يو ښايسته خوبصورته ځوان په خـوب كي ولـيـد هـغـه ورتـه وويل چي دريو كسانو ته سخت عذاب ده يـوزاني او بل دوګ څكونكى دريم يې نه ده ذكر كړى صاحب نصيحة هغـه څـوک ده چي پـه كتاب النصيحة كي يې دغه خوبونه رايو ځاى كړي دي .

و قـد حـكـى مـحـدث الهـنـد ولـى الله بـن عبد الرحيم الدهلوى فى رسـالته الـدر الثـمـيـن فـى مبشـرات الـنبى الأمين عن والده انه قال كان رجـل مـن أصـحـابـنـا لا يـعتاد شرب التنباك ولكنه قد هيأ [illegible] لأضياف

فرأى النبی ﷺ فی النوم أو فی اليقظة لا أدری ای ذلك كان مقبلا اليه ثم اعرض عنه و خرج من ذلك المكان قال فدنوت اليه فقلت يا رسول الله فقال فی بيتك القدرة و نحن نكرهها .

محدث الهند ولی الله بن عبد الرحيم الدهلوي په خپله رساله الدر الثمين فی مبشرات النبی الأمين كي له خپله پلاره حكايت كوي وايی هغه وويل چي زمونږ له ملكرو څخه يو سړی وو چي د تنباكو څكول يې عادت نه وو مكر يوه ورځ يې د مېلمنو لپاره چلم تيار كړی وو رسول الله ﷺ يې وليد په خوب كي يا په ويښو خبر نه یم چي په كوم يوه كي يې ليدلی وو چي هغه ﷺ ورته راتلونكی وو بيا يې اعراض ځيني وكو او له دغه مكان څخه بيرته ووتی د عبد الرحيم دهلوي ملكری وايی چي ورنزدې سوم ورته و مي ويل يا رسول الله ﷺ ولي ولاړی . ده ﷺ راته وويل چي ستا په كور كي چلم ده او مونږ نفرت ځيني كوو .

وحكی ايضا عن والده أنه كان رجل من الصالحين أحدهما عالم عابد والآخر عابد ليس بعالم فرأيا النبی ﷺ فی ساعة واحدة علی صورة واحـــدة وكأنه أذن للعابد أن يدخل فی مجلس ولم يأذن للعالم فسأل العابد بعض القوم عن ذلك فقال هو يمرن التنباك و النبی ﷺ يكرهه فلما كان الغد دخل العابد علی العالم فوجده يبكی لما رأی الليلة فأخبره عن السبب فتاب من ساعة ثم رأيا النبی ﷺ من الليلة الأتية علی صورة واحد كأنه أذن للعالم وقرّبه منه .

او دغه رنګه محدث الهند له خپله پلاره حكايت كوي چي دوه

صالحان كسانوو يو عالم عابد وو او بل صرف عابد وو دواړو رسول الله ﷺ په يوه ساعت كې پر يوه صورت باندي وليد كواكي وعابد ته رسول الله ﷺ اجازه وركړه دغه عابد له بعض ملكرو څخه د مجلس پوښتنه وكړه چې دغه عالم يې ولې منع كو هغو ورته وويل چې دى د تنباكو عملي ده او رسول الله ﷺ نفرت ځيني كوي نو هر كله چې سهار سو عابد و عالم ته ورغلى عالم چيغي وهلې د شپې د ليدو پر قيصه باندي نو عابد په سبب باندي خبر كو يعني عالِمه ته د تنباكو په وجه باندي منع سوې هغه دستي توبه ځيني وكښه بيا دواړو په را روانه شپه باندي رسول الله ﷺ په خوب وليد پر يوه طريقه باندي نو و عالم ته يې اجازه وركړه او ځانته يې ور نزدې كو .

فان قلت هذه الحكايات و المنامات لاتفيد شيئاً من الأحكام من الحلال و الحرام لماقال على القارى المكى فى رسالة المقدمة السالمة فى خوف الخاتمة لا اعتماد على رؤية المنام فى حق غير الانبياء عليه الصلوة والسلام فلو فرض أن أحد رأى النبى ﷺ و أمره بفعل شئى او تركه على خلاف قواعد الاسلام فليس له القيام بذلك الأمر باجماع العلماء الأعلام انتهى ملخصا و قال على القارى ايضا فى الحرز الثمين شرح الحصن الحصين ان الأحكام المنامية والأحوال الكشفية لا اعتبار لها فى الأمور الشرعية انتهى ملتقطا .

يعنى كه ته سوال وكړې چې دغه حكايات او خوبونه څه شئى له احكامو نه فائده كوي چې هغه عبارت ده له حلال او حرام څخه يعني په خوب باندي خو نه حرمت ثابتيږي او نه حلت له جهت د هغه

چي علـی قـاري رحـمـه الله عـليـه پـه خپله رسالة مقدمة السالمة فی خوف الـخـاتـمة کـي ويلي دي چي له انبياءؑ ماسویٰ د بل چا و خوب ته اعتبار نسته بالفرض که يو څوک رسول الله ﷺ په خوب ووينی او پر فعل دشي يا پر ترک دشي پر خلاف د قواعدو د اسلام باندي يې امر کړي پـه اجـمـاع د عـلـماء باندي ثابته ده چي په دغه سړي باندي د دغه امر برپـای کېدل او قـائـمېدل نسـتـه او دغـه رنـګـه علی قاري په حرز ثـمـيـن شـرح الحصن الحصين کي ويلي دي چي د خوبو و احکامو ته او د کشف و احوالو ته په امور شرعيه کي اعتبار نسته

قلت هب أن منام غير النبی ﷺ لا يثبت شيئا من الحلة والحرمة لکنه يقع مؤيداً لما ثبت بالأدلة فهذه الحكايات و المنامات ان لم تثبت باستقلالها قبح الدخان لكن لا ريب فی جعلها مؤيدة لما دل عليه البرهان لاسيما رؤيا من رأی النبی ﷺ أنه يكرهه و يستقبحه فانه ان شاء الله لرؤيا حق لحديث من رأی فقد رأی الحق و يؤيده قول العارف ابن جمـــــــــرة الاندلسی المالکی فی بهجة النفوس شرح مختصر صحيح البخاری من رأی النبی ﷺ فی صورة حسنة فذلك حسن فی دين الرأی من جهة الدين و ان كان فی جوارحه شين او نقص فذلك خلل فی الرائی من جهة الدين و كذلك يقال فی كلامه فی النوم انه يعرض علی سنته فما وافقها فهو حق و ما خالفها فالخلل فی سمع الرائی فرؤيا الذات الكريمة حق والخلل انما هو فی السمع الرائی و بصره و هذا خير ما سمعت فی ذلك انتهی .

حـاصـل د جـواب دا دی دا مـنـم چي پـه خـوبو د غير انبيـاء حلت او

حرمت نه ثابتیږي خولکن تائید د هغه واقع کیږي چي هغه په دلیل سره ثابت سوی وي نو دغه قصې او خوبونه که څه هم بالاستقلال په دوی سره بدي د دوک نه ثابتیږي خو لکن په دې کي هیڅ شک نسته چي دوی تائید واقع کیږي د هغه شي لپاره چي پر هغه دلیل دلالت کوي بیاخاص کر د هغه چاخوب چي هغه رسول الله ﷺ په خوب لیدلی وي او هغه ﷺ کر که او نفرت څیني کوي نو دغه انشاء الله حق خوب ده له جهته د دې حدیث شریف من رأی فقد رأی الحق یعنی که چا رسول الله ﷺ په خوب ولید نو په تحقیق سره هغه حق ولید یعني دغه لیدل یې حق او یقیني دي ددې خبري تائید د عارف ابن ابی جمرة الاندلسی المالکی قول کوي په بهجة النفوس شرح مختصر صحیح البخاري کي دا هغه کس ده چي نوم یې عبدالله بن ابی جمرة ده د ده په حق کي ابن کثیر وایی کان قوّالا بالحق أمارا بالمعروف مات سنه ۶۱۵ بمصر او صاحب التبصیر د ده په حق کي وایی :

عالماً عابداً شهیر الذکر و ذکره عبد الوهاب الشعرانی فی طبقات الاولیاء و أرخ (وفاته سنة ٦٥٥) .

هغه قول یې دا ده وایی که چا رسول الله ﷺ په حسن صورت او ښایسته صورت باندي په خوب کي ولید نو دغه حسن او ښایست په دین د لیدونکي کي ده او که چا په بد صورت ولید نو دغه بدي په دین د لیدونکي کي ده او دغه رنګه ویل کیږي په کلام د رسول الله ﷺ کي یعني که یې چا ته خبري وکړې هغه خبري پر سنتو د ده باندي عارضیږي که له سنتو د ده سره برابري وې نو دغه خبري حق دي او که

مخـالـفـي وي نـو دغـه خـلـل او نقصان په اوريدو د ليدونكي كي ده نو ليـدل د ذات كـريـمـه حق ده او ثـابـت ده او خـلـل او نقصان پـه اوريدو د ليـدوكـونـكـي كـي او پـه سـتـركو د ليدونكي كي ده او داخبره تر ټولو هغو خبرو بهتره ده كوم چي ما په دغه موضع كي اوريدلي دي .

نـو دغـه خـوبـونـه او قصې كـوم چي د سگريټو او د چلم په حق كي ليـدل سـويـدي نـو دغـه بايد عرض سي پر سنت او شريعت د رسول الله ﷺ بـانـدي كـه چيري ورسره موافق او برابر وو نو دغـه خـوبـونـه حق او ثـابـت دي او كـه بالفرض ورسره مخالف وو نو دغه خلل او نقصان بيا پـه ليـدو او اوريـدو د ليـدونـكـى كـي ده او حـال دا ده چي يو كـس بـه پـه سـنـت او شـريـعت كي داسي قول نكړي پېش چي هغـه به پر حلت او پر جواز د سگريټو و چلم وغيرهما دلالت وكړي .

و في نسيم الرياض شرح شفاء عياض للشهاب أحمد الخفاجي الحنفي سئل النووى عمن رأه في منامه يأمره بأمر هل يجب به أم لا؟ فاجاب بانه ان لم يخالف الشرع و كان له خاصة في نفس ينبغي العمل به و انما لم يجب لأن النائم لا يضبط ما قيل له و ربما لم يفهمه او يكون اشارة تحتاج الى التأويل انتهى .

او پـه نسيـم الـريـاض شـرح شفاء عيـاض كي شهاب احمد خفاجي حنفي ذكر كړيدي چي لـه نووي رحمه الله عليـه څخـه سوال وسو لـه هغـه شي څخـه چي په خوب يې انسان ووينـي او امرسي په يو امر باندي د دغـه امر قيـام بـانـدي واجب ده كـه نـه؟ نو ده جواب وركو پـه دې سره چي دغـه امر كـه مـخـالـف لـه شرع نـه وو او مختص تر ده پوري وو

مناسب دا ده چي عمل ورباندي وکړي خو لکن دغه عمل ورباندي واجب نه دی ځکه چي بیده یا د دهغه نسي کولی چي ورته وویل سي او ډېر ځله یې فهمه ولی نسي او یا اشاره وي و تأویل ته احتیاج لري نو له دې متنه هم دغه معلوم سوه چي په دغه خوبو باید عمل وسي .

دغه دلائل چي علماء کرام ذکر کړیدي پر حرمت او کراهیت د سګریټو او د چلم باندي په دغو دلائلو کي په اکثرو باندي .

حرمت او کراهیت د نسوارو

د احقر بنده په نظر په طریقه اولی سره ثابتیږي ځکه نسوار هم تنباکو دي خو لکن تنباکو یې تر سګریټو او چلم زوره ور دي‌او چینه هم په ګډه ده نو ضرراو فتور یې تر سګریټو زیات ده او ضرر و فتور یې تر ټولو هغه چا ته ښه معلومیږي چي استعمال یې کړی او په عادت نه وي او په منشیاتو کي اول وهلة معتبره ده یعني تر عادت مخته چي استعمال کړې که مسکر وو بیا هغه شئی تر پای مسکر بلل کیږي او که مفتر وو بیا تر پایه مفتر بلل کیږي یعني په اول وار که هر شی وو بیا هغه شئی بلل کیږي او له عادت وروسته که یو سړی نشه وکړي او نسي نښه نو دې ته اعتبار نسته یعني که یو داسي سړی شراب یا تریاق وخوري چي هغه په عادت وي او نشه یې نه کړي او یا یو نسواري سړی نسوار وکړي او په بدن کي سستي نسي پیدا نو له دې دا نه معلومیږي چي دغه مذکور شیان بالذات مسکر او مفتر نه دي بلکه دغه شیان بالذات مسکر او مفتر دي خو لکن دغه وصف د مسکریت او مفتریت یې د دغه سړي په حق کي زائل سویده

Maktaba Tul Ishaat.com

پـه سبب د عـادت دغـه سړي حاصـل د کلام دا سو چې نسـوار حرام دي .
پـه سبب د مـفتـريـت او مـضـرت د نفس او مضرت د غير او عبثيت او خبثيـت او اسرافيـت او بـدبـويـى او فسـاديت د عقل او دغـه ټول شيان حـرام او مـکـروه دي يعني نسـوار مفتـر هم دي او مـضر هم دي او عـبث هم دي او خبيـث هم دي او اسراف هم ده او بدبويى هم دي او مفسد عقل لره هـم دي او د دغـو ټـولـو شيـانو حرمت و کراهيت مختـه پـه تفصيـل سره ذکـر سـو او عـلـمـا کـرامـو رحمة الله عـليـهم پـر حـرمـت او کـراهيـت د سـکـريـټـو او چـلـم و نسـوار تـقريباً نولس دلائل ذکر کړيدي پـه دې کې بـعـض دلائـل دونـه قوي دي چې د خدشې او د نقص تصور پـه کې وهل لـه عـقـلـه د عـاقـلـه لـري خبـره ده خو د احقر بنده پـه نظر لـه دغـو دلائلو مـاسوي يو بل دليـل هم ورځي هغـه دا ده لکه څنګه چې د دې رسالې پـه سر کـي پـه څلورمه قاعده کي موږ ذکر کړو چې اسبابو او وسائلو لره حـکـم د مقاصدو وي يعني که مقصد او مسبَب فرض وو د هغـه سبب او وسيـلـه هـم فـرض ده او کـه مـقـصـد او مسبَب واجب وو د هغـه سبب او وسيـلـه واجب ده او د سنت وسيله سنت ده او کـه مقصد او مسبب حرام او مـنـهـى عـنـه وو د هغـه سبب او وسيـله هم حرام او منـهـى عنـه ده مثلاً د پـردي ښځې سره خلوت کول ممنوع او حرام ده ځکـه دغـه خلـوة سبب او وسيـلـه د زنـا ده زنـا حرام ده نو سبب يې هم حرام ده چې خلوت ده که څه هم دغـه خلوت بالذات صحيح ده تفصيـل يې پـه څلورمه قاعده کي وګـورئ نو سګريټ او نسوار هم سبب او وسيلـه د ناجائز ده نو ناجائز دي سـګـريـټ يـوازي پـه دې وجـه وسيـلـه او سبب د حـرامـو ده چې

Maktaba Tul Ishaat.com

سکریټي د سکریټو په وجه د ده ناسته او ولاړه د چرسي سره پیدا کیږي ځکه عادت د خلکو پر دې راغلی ده چي کوم سړی چي سکریټ نه څکوي هغه د چرسي سره ناسته او ولاړه د نشې په وجه نه کوي او نه یې د نشې په وخت ورسره کوي او نه یې چرسي د داسي سړي مخته څکوي چي هغه دې د سکریټو نشئی نه وي نو دغه سکریټي بالاخره په دغه راشه درشه له چرسي سره چرسي کیږي ځکه هر مجلس لره یو تأثیر وي نو کوم وخت چي چرسي سي بیا یې تعلق له بنګي او تریاقي سره پیدا کیږي ځکه خو عادت د خلکو پر دې راغلی ده چي د طالب زیات تعلق له طالبه سره او د عالم زیات تعلق له عالم سره وي او د تجار تعلق له تجار سره وي او د ډرائیور تعلق له ډرائیور سره وي او د نشیی تعلق له نشیی سره وي نو کوم وخت چي تریاقي سي بیا یې تر هغه له لوړه سره تعلق پیدا کیږي ځکه په هرشئی کي ترقي له ادنی و اعلی ته وي نو دغه مسببیات چي بنګي او تریاق و چرس دي مثلا حرام او منهی عنه دي نو سبب یې هم حرام او منهی عنه ده چي سکریټ دي یعني سکریټ لکه څنګه چي بالذات حرام او مکروه دي په وجه د هغه تیرو سوو دلائلو .

دغه رنګه حرام او مکروه دي په وجه د سببیت د حرامو او بل سکریټ او نسوار دواړه سبب او وسیله دي د ناروا په دې طریقه سره چي روژه یو عظیم رکن ده له ارکانو د اسلام څخه ددې عظیم رکن صحیح ادا په روژه د ټولو اندامو سره کیږي یعني د لاس او د پښو او د غوږو او د خولې او د سترګو د ټولو به روژه وي یعني دروغ به نه

Maktaba Tul Ishaat.com

وېنې سرود به نه وري جنګ او جدال به نه کوي که بالفرض دغه شيان
سړی پکښې وکړي نو صرف وصرف فرض به يې نه غاړې ساقط
وي فقط خو لکن اداء دې رکن اعظم ناقصه او تاوني سوه نو هغه
مسلمانان چې په شر بوی په تريقو و ورئينو و چرسو اخته وي
هغه خو پر پرېږده ځکه په هغو کې خو له کشرو د دغه رکن عظم
تللې ده او هغه مسلمانان چې د سګريټو و نسوارو شيان وي په
هغو کې دې يو څوک په سلو کې شال حساب کړي چې تر مبنه پورې
د جنګ او جدال او بنګنځال نه په کور کې وکړي او نه په صحرا بلکه
بالمشاهده يې وينو چې د روژه مت پر وخت پنځه منټه انتظار نسي
کولی او له خولې يې لاس اخيستی وي چې پر خوله ورغلو هغه وږی
نو د دغه رکن اعظم ناقص کيدل هم ناروا کار ده او جنګ و جدال کول او
بنګنځال کول هم ناروا کار ده نو چې دغه شيان ناروا سول اسباب يې
هم ناروا دي ځکه دا مختصه موږ ذکر کړو چې اسباب نر د حکم ده
مسبَبتو وي نو له دغو منشياتو او منهياتو بايد هر مسلمان پرهيز
وکړي ځکه پر يو شي چې نه ديني فائده مرتبه وي او نه دنيوي فائده
مرتبه وي نو بيا به هغه څنګه عاقل وي چې پر هغه شي بانې ځان او
مال ضائع کوي او خاص کر علماء و طلباء کرام بايد سخت پرهيز
ځينې وکړي ځکه يو خو د دغو شيانو حرمت ده دا خو پر خپل ځای
پرېږدئ بل به د الله (جل جلاله) دغه آيت مبارک ورته متوجه سي
.اتأمرون الناس بالبر و تنسون انفسکم و انتم تتلون الکتاب أفلا تعقلون.
او بل علماء کرام د قوم مقتديان او پېشوايان دي و انبياء وارثان

Maktaba Tul Ishaat.com

دي نـو قـوم ددوی پـه قول او پـه فعل باندي داسي دلـيـل نسي لکه څنګه چـي دوی د انبيـاء عـليهـم الـصلـوة والسلام په قول او په فعل باندي دليـل نسـي نـو هـر عـالـم بـايـد پـه جهان کي داسي کردار او مقتداتوب وکړي چـي قـوم د ده د اقتـداء پـه وجـه پر هدايت سي نه پر ضلالت لکه څنګـه چـي الله (جـل جلا لـه) پـه رسـول الله ﷺ پسـي اقتداء تـه حسن اقتـداء ويـلـي ده او پـه صـحـابـه کـرامو رضي الله عنهم پسـي اقتداء تـه هدايت منده اقتداء ويلي ده .

الـلهـم يا عالِمَ ما في سِرنا و نجوانا نحن غرقی في بحار العصيان نسـألک الـفـضـل والجود والغفران فحقق رجاءَنا و أعطِنا ما سألنا فان تـطردنا فمن يرحمنا يوم لا بيع فيـه و لا خلة الاقرآن و نجنا من العذاب المهيـن فـی الـدنيـا والـديـن وارزق مـؤلف هذه الكلمات خير الدنيا و الـديـن آميـن بـرحـمـتک يـا ارحـم الراحمين . اقول قد حررتها في ضيق الـمـعـيـشـة و كـان الـفـراغ منـهـا لـيـلـة الـثـلاثـة الثامنة من ليالي شهر الـمـحـرم الحرام من شهور سنة اثنان و ثلاثين بعد الألف و اربع مائة من الهجرة الأحمدية على صاحبها افضل الصلوٰة والتحيّة و لله الحمد على ذلك بكرةً وعشيةً . (تمّت بالخير)

Maktaba Tul Ishaat.com

باب الاقالة

د بیع د واپس کولو احکام او مسائل

په اقاله کښې د طریفینو ﴿دواړو خواوو﴾ رضا

سوال﴾

د بایع او مشتری په منځ کښې د مکمل عقد نه وروسته که چیرته یو فریق د واپسی خواهش وکړی لیکن دوهم فریق په هغې باندی رضاء نه وي نو آیا هغه فریق چې د واپسی خواهش ئی کړی وی جبراً خپل حق واپس خپل حق غوښتلی شي او که نه بینوا توجروا.

جواب﴾

د مکمل ایجاب او قبول نه وروسته عقد بیع لازم ګرځی او یوه ته هم جبرا د عقد د ختم کولو حق حاصل نه دي بیا هم که چیرته د اقالې صورت وي نو د هغه لپاره د دواړو خواوو رضا ضروری ده.

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله من شرائطها اتحاد المجلس و رضا المتعاقدين لان الكلام فى رفع عقد لازم و اما رفع ما ليس بلازم فلمن له الخيار يعلم صاحبه لا برضاه بحر ﴿رد المحتار ج۵ص ۱۲۱ باب الاقالة﴾

قال فى الهندية و شرط صحة الاقالة رضاء المتقاثلين ﴿الفتاوى الهندية ج۳ ص۱۵۷ الباب الثالث عشر فى الاقالة و

Maktaba Tul Ishaat.com

مثله فی شرح مجلة الاحکام للسلیم رستم باز ﴿تحت ۱۹۰ ص۹۲﴾

په اقاله کښې د قیمت د کمولو شرط لګول

سوال﴾

د بیعی د انعقاد نه وروسته که چیرته دواړه خواوی په دې شرط باندې د بیع فسخ کول وغواړي چې مشتری بائع ته د هغه ورکړ شویو روپو څخه پریږدی نو آیا شرعا دواړه لپاره داسې کول جائز دي او که نه بینوا توجروا.

جواب﴾

د بیعی د فسخ کولو په وخت کښې که چیرته بائع او مشتری د قیمت د کمولو شرط لګوی نو د دواړو په رضا سره بیع فسخ کیږی او بایع به مشتری نه ټولی روپی ور واپس کوي د پیسو د کمولو شرط کالعدم او باطل ګرځی.

لما قال العلامة علی بن ابی بکر المرغیانی رحمه الله الاقالة جائزه فی البیع بمثل الثمن الاول فان شرط اکثر منه او قل فالشرط باطل و یرد مثل الثمن الاول ﴿الهدایة ج۳ص ۷۱ باب الاقالة﴾

قال العلامة سلیم رستم باز رحمه الله الثالث انها لا تفسد الشرط و ان لم تصح تعلیقها به بل یکون منه او اقل فالشرط باطل و یرد مثل الثمن الاول ﴿الهدایة ج۳ص۱۷ باب الاقالة.

قال العلامة سلیم رستم باز رحمه الله الثالث انها لا تفسد الشرط الفاسد و ان لم تصح تعلیقها به بل یکون الشرط لغوا فلو تقایلا

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه الله لو باع شیئا اصالة بنفسه او وکیله او وکالة عن غیره لیس شراءه بالاقل لا نفسه ولا لغیره ﴿رد المحتار ج۵ص۷۴ باب البیع الفاسد مطلب فی التداوی بلبن البنت الخ﴾

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری شراء ما باع باقل مما باع من الذی اشتراء او من وارثة قبل نقد الثمن لنفسه او لغیره فسد عندنا ﴿خلاصة الفتاوی ج۳ص۴۱ کتاب البیوع الفصل الرابع فی البیع الفاسد و احکامه﴾ و مثله فی الهندیة ﴿ج۳ص۱۳۴ الباب العاشر فی الشروط التی تفسده و التی لاتفسده﴾

د مبیعی د نه خو ښیدو په صورت کښې د هغې د واپس کولو حکم

سوال﴾

یوه سړی په بل باندی یو شي په دې شرط باندی و پلورچې دغه د فلانی کمپنی له مصنوعاتو څخه دکوم چې ښه او عمده معیار والا لیکن له اخیستلو نه وروسته د هغه شي حقیقت بل شی وخوت نو آیا په دې صورت کښې مشتری ته د مبیعی د واپس کولو حق حاصل دی او که نه بینوا توجروا.

جواب﴾

د بیع د عقد په وخت کښې د یوه شی د هغو او صافو بیانول چې د هغې خواته د خلکو رغبت جلب کیږی نو په مبیعه کښې د هغو اوصافو موجود والی ضروری دی ورنه د نه موجود والي په صورت

Maktaba Tul Ishaat.com

كښې مشترى ته په ټول قيمت باندې د اخيستلو او يا د بيع د فسخ كولو حق حاصل دى په دې بناء باندې په مذكوره صورت كښې د كمپنۍ د مصنوعاتو د بيعې په وخت كښې بيان كړل شوى او صف يعنى عمده والي او د مضبوط والي ځخه عارى معلوم شو نو مشترى ته په ټول قيمت باندې د اخيستلو او يا د واپس كولو حق حاصل دى .

لما قال الهندية و ان اشترى ثوبا على انه عشرة اذرع بعشرة او ارضا على انها مائة اذرع بمأة فوجدها اقل فالمشترى بالخيار ان شاء اخذها بجمع الثمن و ان شاء و ان وجدها اكثر من الذراع المسمى سماه فهو للمشترى على خيار للبائع و ان نقص فقد فات الوصف المرغوب فيختل رضاه و لا يحط شيء من الثمن كذا فى الكافى ﴿الفتاوى الهندية ج۳ ص۱۲۴ الفصل الثامن﴾

قال العلامة ابن عابدين اشترى من آخر فرسا ذكر البائع انه من نسل خيل فلان لفرس مشهور بالجودة ثم تبين كذبة له الرد ام لا فاجاب اذا اشترها بناء على ما وصف له بثمن لو لم يصفه بهذه الصفة لاشترى بذلك الثمن والتفاوت بين الثمنين فحش لا تسوى ما اشتراها به له الرد اذا تبين خلاف ذلك ﴿تنقيح الحامدية ج۱ص۲۳۷ باب الخيارات﴾ و شمله فى شرح المجلة الاحكام ﴿تحت المادة ۱۹ص۸۹ باب الخيارات﴾

د اقالې په صورت كښې د پيسو زياتوالى جائز نه دى

سوال﴾

زیـد د خپـلی زمکی یو پټی په بکر باندی په یو لک روپو باندی و پـلـور بـکـر تـه زید لس زره روپی پیشـکی ورکړه او د نورو روپو ئی څـو ورځـی بـعـد ورکـولـو وعـده وکـړه د یوې میاشتی له تیریدو څخه وروستـه زیـد غـوښـتـل چي خپل پټی واپس کړی او وئی ویل چي زه خپل پټی نه پلورم او بکر ته ئی د خپلو لسو زرو روپو سره پنځه زره د پښیـمـا نتیـا پـه ډول هـم ورکوی نو آیا د بکر لپاره پنځه زره روپی د پښیما نتیا په توګه جائز دی او که نه بینوا توجروا .

جواب ﴾

پـه نـومـوړی صورت کښی اګر که د ایجاب څخه وروستـه بیعه تـامــه شـوې ده او زیـد تـه زمـکـی د واپـس اخیستلو حق حاصل نـه دی لیـکـن کـلـه چي بـکـر د بیـع پـه فسخ کولو باندی راضی شي او بیعه ختـمـه کـړی ﴿چي دی ته اقاله ویل کیږی﴾ نو بیا په دې صورت کښی بـکـر تـه لـه زید څخه د جرمانې یا پښیمانتیا په توګه ته زیاتو روپو د اخیسلتو جواز نشته .

لـمـا ورده فـی الـحـدیـث لا یـحـل مـال امری مسلم الا عن طیـب قلبـه انتهـی ﴿مشـکـوٰة الـمـصـابـح ج١ص٢٥٥ بـاب الغصب والعـاریـه قـال الـعـالـمة ابن عابدین رحمه الله قوله و تصح بمثل الثمن الاول حتی لو کان الثمن عشرة دنا نیر فدفع الیه دراهم لم تقا بلا و قد رخصت الد نا نیـر رجـع بـا لـد نـانیـر لا بـمـا دفـع و کذا لو رد بعیب الخ ﴿رد المحتار عـلـی هـامـش الـدر المختار ج٤ص١٦٥ باب الا قالة﴾ و مثله فی البحر الرائق ﴿ج٦ص١٠٤ باب الاقالة﴾

Maktaba Tul Ishaat.com

د ثمن د مصرف کیدو په صورت کښی د اقالې حکم

سوال﴾

جناب مفتی صاحب یوه سړی له یوه بزګر ﴿د هقان﴾ څخه اخیستل شوی شی هغه ته واپس کول غواړی او بزګر هم په هغه باندی راضی ده لیکن کومی روپی چې ته ماته دغه شي واپس کړه لیکن روپی یوه میاشت وروسته درکوم نو آیا داسی اقاله جائز ده او که نه حال دا چې په رښتیا هم له بزګر سره روپی موجودی نه وي بینوا توجروا .

جواب﴾

د ثمن تلف یا خلا صیدل د اقالې د انعقا لپاره مانع نه ده ځکه که چیرته دواړه متعاقدین دیوه بل په رضا او رغبت سره اقاله کول غواړی او مشتری انتظار کولی شی چې پیسې ئی واپس ورکړی نو په دې باندی شرعا هیڅ حرج نشته .

قال العالمة سلیم رستم باز هلاک الثمن ای تلفه لا یمنع الا قالة قال العلامة سلیم باز و ذلک لا ن الاقالة رفع البیع و الاصل فی البیع المبیع لا الثمن و لهذا لو هلک المبیع قبل القبض یبطل البیع بخلاف الثمن شر ح مجلة الاحکام ص٥٩ المادة ١٩٦ فصل الا قالة﴾

باب السلم

د بيع سلم احكام او مسئلې

دبيع سلم حقيقت

سوال﴾

يوه كارخانه يا كمپنى چې خپل مصنوعات په سيزن كښې پلوزي نو يو قيمت ورته معلوميږى نو كه چيرته يو څوک هغه ته پيشګى روپى وركړى بيا هغه ته خصوصى رعايت وركوى او د تاكلى قيمت څخه ئى په كم قيمت وركوى او د وعدې مطابق خپل مصنوعات هغه ته وركوى نو آيا د يوې كمپنى يا كارخانې لپاره دا طريقه اختيارول شرعا جائز دى او كه نه ؟

جواب﴾

يوې كمپنى يا كارخانې ته مخكښې پيشګى وركول او په ټاكلى وخت باندى په رعايتى قيمت سره د هغې د مصنوعاتو اخيستل د بيع سلم په حكم كښې راځى او داسې عقد په هغه وخت كښې جائز نه دى كله چې په هغه كښې لاندينى شرائط موجود وي .

﴿١﴾ جنس معلوم وي ﴿٢﴾ نوع معلومه وي ﴿٣﴾ صفت معلوم وي ﴿۴﴾ قدر او اندازه معلومه وي ﴿٥﴾ موده او وخت معلوم وي يعنى كم تر كمه يوه مياشت وي ﴿٦﴾ رأس المال باندى قبضه وي .

لما قال العلامة الحصكفي . . . السلم هو شرعا بيع آجل و هو السلم

فیه اجل و هو رأس المال ﴿الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۵ ص۲۰۹ باب السلم﴾

قال العلامة ابن الهام رحمه الله معناه الشرعی بیع آجل بعاجل و سیذکر المصنف شرائطه ﴿فتح القدیر ج٦ص۲۰۴ باب السلم﴾ و مثله فی الهندیة ج۳ص۱۷۸ باب السلم﴾

د مالدار لپاره د بیع سلم اجازه او رخصت

سوال﴾

آیا د شریعت مطهره کښې د غني لپاره د بیع سلم رخصت شته او که بیع سلم یوائې د غریبانو لپاره خاص دی بینوا توجروا .

جواب﴾

په عقد سلم کښې د فقیرانو او غریبانو ضرورت په بنیادی ډول سره محرک دی لیکن د ضرورت موجو والی یوه خفیه معامله ده چې په دې باندی هر څوک خبریدل یو مشکل کار دی ځکه شریعت په داسی حالت کی په بیع سلم کښې د شرائطو موجود والی ته اعتبار ورکوی او د غریبانو او امیرانو د دواړو لپاره ئی جائز ګرځوی لکه ډرنګه چې د سفر په حالت کښې د مشقت او تکلیف څخه پرته محض سفر ئی د مشقت او تکلیف قائم مقام ګرځولی دی .

لما قال العلامة ابن الهام رحمه الله و لما کان جوازه للحاجة و هی باطنة بنیت بامر کما هو المستمر فی قواعد الشرع کالسفر للمشقه و نحوه و هو ذکر الاجل فلم یلتفت بعد ذلک الی کون المبیع معودها

Maktaba Tul Ishaat.com

عـنـد السـلـم الـيـه حـقـيـقـة او مـوجـود قـادر اهـوا عـلـيـه ﴿فتح القدير ج٦ص٢١٨بـاب الـسـلـم﴾ قـال الـعـلامـة جـلال الـديـن خـوارزمـي قلنـا شـرعـيـة لـرفـع حاجة المفاليس و الا فلاس امر باطن لا يمكن الوقوف عـلـى حـقـيـقـة والشـرع بـنـى هـذا الـرخـصـة عـلـى الـحـاجـة والبيـع بـالـخـسـران دلـيـل الـحـاجـة و نـظـيـره اقـامـة الـسـفـر مقام المشقه اقامة الـنـكـاح مـقـام الـمـاء فـي الـنـسـب ﴿الـكـفـايـة فـي ذيل فتح القدير ج٦ ص٦١٩ بـاب الاسلام قادرا تحت قوله لو كان قادرا على التسليم يوجد الـمـرخـص﴾ و مثـلـه فى العناية على ها مش فتح القدير ﴿ج٦ص٢١٧ باب السلم﴾

په نوټونو کښې هم د بيع اجازه شته

سوال﴾

يـوه سـړی لـه چا څخه امريکايی ډالر واخيستل او د هغو په بدل کښـې ئـی د پـاکـسـتـانـي نـوټـونـو د ورکولو وخت وټاکه او معامله ئی سره فيصله کړه نو دا شرعاً جائز دی او که نه؟

جواب﴾

نـوټ چـونـکـه پـه خـلـقـی او پـيدائشـی ډول سره ثمن عـرفـی د جـوړيـدو لـه نـه وروسـتـه پـه هغه کښـی څه قدر پاتی نه شو بلکه د عدد متـقـارب پـه حـکـم کښی راځی او د عقد سلم د جواز ګنجائش پکښی پيدا کيـږی نـو کـه چيرتـه د سـلـم د شرائطو رعايت پکښی وشی او يو سړی داسی معامله وکړی نو په ظاهره سره په دې کښـی څه حرج نشته او بيـا هـم کـه چيرتـه د سود خوري لپاره دغه طريقه خپله شی نو بيا له

Maktaba Tul Ishaat.com

دې څخه اجتناب ضروری دی .
لما قال العلامة علاو الدین ابو بکر الکاسانی رحمه الله و اما السلم فی الفلوس عدد فجائز عند ابی حنیفة و ابی یوسف رحمهما الله و عند محمد رحمه لا یجوز بنا علی ان الفلوس اثمان عنده فلا یجوز السلم فیها کما لا یجوز السلم فی الدراهم والدنانیر و عندهما ثمینتها لیست بلازمة بل تحمل الزوال لانها ثبت بالاصطلاح فتزول بالاصطلاح ﴿بدائع الصنائع ج۵ص۲۰۸ باب السلم فصل و اما الذی یرجع الی المسلم فیه فانواع .
قال العلامة ابن نجیم و یصح فی العددی المتقارب کالبیض والجوز و الفلس لانه عددی یمکن ضبطه فیصح السملم فیه و قیل لا یصح عند محمد لانه ثمن ما دام یروج و ظاهر الروایة عن الکل الجواز ﴿البحر الرائق ج٦ ص١٥٦ باب السلم﴾ و مثله فی رد المحتار ﴿ج ۵ص۲۱۰ باب السلم﴾

په بیع سلم کښې د ټول قیمت وصولول ضروری دی

سوال﴾

د بائع او مشتری په منځ کښې په دوه زره روپو باندی د لسو منو غنمو عقد په دې شرط باندې و شو چې شپاړس سوه روپی اوس درکوم او حال دا چې دوه سوه روپی دوه میاشتی وروسته د غلې د وصولولو په وخت کښې درکوم نو آیا داسی کول شرعاً جائز دی او که نه؟

جواب﴾

په بیع سلم کښې د راس المال تعین او په عقد مجلس کښې ئی ادا کولو ضروری دی لهذا که د راس المال د قبض کولو نه مخکښې که چیرته دواړه خواوی سره جلا شی نو دا بیع صحیح نه ده بیا هم چې د راس المال څو مره حصه ادا شوی وي نو په هغو مره کښې به سلم جاری کیږی نو په نوموړی معاملې کښې به هم په اتو منو غنمو کښې بیع سلم صحیح دی او په دوو منو کښې باطل دی البته که د مجلس د پورته کیدو نه مخکښې ټولې پیسې ادا کړی شی نو عقد جائز دی .

و فی الهندیة السادس ان یکون مقبوضا فی مجلس السلم سواء کان راس المال دینا او عینا عن عامة العلماء استحسانا و سواء قبض فی اول المجلس او فی آخره لان الساعات المجلس لها حکم ساعة واحدة و کذا لو لم یقبض حتی فاما یمسیان فقبض قبل ان یتفرقا بابد انهما جاز آه .

قال العلامة الحصکفی رحمه الله و بقی من الشروط قبض رأس المال و لو عینا الا فتراق بابد انهما و ان ناما او سارا فر سخا او اکثر قال العلامة ابن عابدین ﴿قوله قبض راس المال﴾ فلو انتقض القبض بطل السلم آه ﴿رد المحتار ج۵ ض۲۱٦ کتاب البیوع باب السلم﴾ و مثله فی الا خیار للتعلیل المختار ج۲ص۳۴ باب السلم﴾

په څناورو یا حیوانانو کښې د بیع سلم حکم

سوال﴾

Maktaba Tul Ishaat.com

د دې مسئلې په باره کښې د دين علماء څه فرمايي چې په حيواناتو کښې بيع سلم شرعا جائز دی او که نه بينوا تو جروا .

جواب﴾

په حيواناتو کښې د بيع سلم د فقهاوو تر منځه مختلف فيه د احنافو په نزد چونکه د بيع سلم لپاره به دا شرط وي چې هغه د وزنی کيلی او يا به د اعداد و متقار به وو څخه وي او حيوانات په يوه قسم کښې هم نه دی داخل نو ځکه د احنافو په نزد په حيواناتو کښې بيع سلم جائز نه دی .

عن ابن عباس رضی الله عنه قال قدم رسول الله ﷺ المدينة و هم يسلفون فی الثمر فقال من اسلف فليسلف فی كيل معلوم و وزن معلوم الی اجل معلوم ﴿جامع الترمذی ج۱ص۲۴۵ باب ما جاء فی السلف فی الطعام او التمر قال الشيخ ظفر احمد عثمانی رحمه الله عن ابن عباس رضی الله ان رسول الله نهی عن السلف فی الحيوان اخرجه الحاكم فی المستدرک ج۲ص۵۲ و قال صحيح الاسناد ﴿اعلاء السنن ج۴ص۴۱۹ باب النهی عن السلف فی الحيوان﴾ و مثله فی رد المحتار ﴿ج۵ص۲۱۱ باب السلم﴾

د رسالو او جريدو مالكان له خريدارو څخه مخكښې قيمت اخيستل

سوال﴾

جناب مفتی صاحب نن صبا د مذهبی او غير مذهبی رسالو مالكان د اخيستونكو څخه د سالا نه چندی روپی مخكښې

Maktaba Tul Ishaat.com

وصولوی او حال دا چې د تول کال رسالې د پیسو د وصولولو نه وروسته ورکول کیږي نو آیا د رسائلو او جرید و مالکانو ته مخکښې پیسې اخیستل شرعا جواز لري او که نه بینوا توجروا

جواب ﴾

د رسالو د یو کال پې سې مخکښې وصولول د بیع سلم معامله ده کومه چې شرعا جائز ده ځکه په دې کښې اصل معامله د کاخذ وي او هغه په تول کال کښې په بازار کښې موجود وي .

قال العلامة علاؤ الدین الحصکفی رحمه الله السلم شرعا بیع آجل و هو المسلم فیه بعاجل وهو راس المال و رکنه البیع حتی ینعقد بلفظ بیع فی الاصح و شروط صحته التی تذکر فی سبعة بیان جنس کبر و تمر و بیان نوع کمسقی او بعلی و صفة و قدر و اجل و بیان قدر رأس المال آه ﴿الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۵ ص۲۱۴۶۰ باب السلم﴾

قال الشیخ و هبة الزحیلی و هو ان یسلم عوضا حاضرًا فی عوض موصوف الذمة الی اجل الثامن ان یکون جنس المسلم فیه ای المبیع موجود افی الاسواق بنوعه و صفة من وقت مو وقت العقد الی حلول اجل التسلیم ولا یتو هم انتفاعه عن ایدی الناس ﴿الفقه الاسلامی و التہ ج۴ص۵۹۸ ۶۰۸ المطلب الثانی تعیرف السلم﴾

د جوس په کریټ یعنی ډبیو یا کارتنو نو کښې د بیع سلم حکم

سوال ﴾

د شـربـت او د جـوس د کپنيو د خپلو مصنو عاتو د پلو ر لو يوه طريقه دا ده چې کـمپـنـى خپـل يـو تـاجـر ته په عام نر خ مثلاً ٢٦ روپى باندى کـارتـن ورکـوي لـيـکـن کـه چيـر تـه هـغه تاجر کمپنى ته دغه پيسې د سيـز ن شخه وخت اخيستو نکى ته ۱۱۰ روپى په يوه کارتن کنبى کته کيږى د پلـورلـو او د اخيستـلـو دا طريـقـه د تاکلى مودې لو نـه تاکل شـوى مودې دواړه قسمه وي نو آيا د بيعى دا طريقه شرعا صحيح ده او که نه بينوا توجروا

جواب ﴾

کـه چيرته دغه بيع د سلم په طريقې سره نو صحيح ده خو چې د سلم شرائط پکښى موجوده وى او د بيع سلم شرائط دادي .

۱﴾ جنس معلـوم وي ﴿۲﴾ د مـال نـوعيت معلوم وي ﴿۳﴾ صفت ئى مـعـلـوم وي ﴿۴﴾ مـقـدار ئـى مـعـلـوم وي ﴿۵﴾ د وخت تعين ئى شوى وي ﴿٦﴾ د مبيـعـى د ادا کـولـو ځـاى مـعـلـوم وي ﴿اشراق نوري شر ح قـدروي ۱۳۴ بـاب السـلـم﴾ او کـه چيـر تـه ئـى د پيشکـى دغـه پيسې کـمپـنـى تـه د پـور پـه ډول ورکړى نو دې حديث له مخى چى کل قرض جر نفعه فهو ربوا دا به د سود معامله و ګرځى .

قـال الـعـلامـة الـحـصـكـفـى رحـمـه الله و شرطه اى شروط صحته التى تذكر فى العقد سبعة بيان جنس و نو ع و صفة و قدر و اجل و اقله فى السـلـم شهر و بيـا ن و مـكـا ن الايـفـاء لـلمسلم فيـه الخ ﴿الدر المختار على ها مش رد المحتار ج۴ص۲۳۱ باب السلم﴾

Maktaba Tul Ishaat.com

که چیرته مسلم فیه ورک شی نو

سوال﴾

که چیرته یو سړی د چا سره بیع سلم وکړي او د تاکلی وخت څخه مخکښی هغه شی معدوم شی نو آیا مشتری د هغه په عوض او بدل کښی بل شی اخیستی شی او که نه .

جواب﴾

په بیع سلم کښی چې کله مسلم فیه ﴿د کوم شی په باره کښی چې بیع شوی ده﴾ له تاکلی وخت نه مخکښی معدوم وګرځی او مسلم الیه ﴿بائع﴾ ئی له ادا کولو څخه عاجز شی نو په دې صورت کښی مشتری ته اختیار حاصل دی چې هغه دې مسلم فیه پوری انتظار وکړی او یا دې خپلی روپی واپس واخلی او که نه وي په بدل کښی د بل شی اخیستل شرعاً جائز نه دی او بیا هم د عقد د ختم کولو نه وروسته یعنی چې کله خپلی پیسې ورنه واخلی له هغه نه وروسته له سره د نوی بیعی په کولو کښی هیڅ حرج نشته

قال العلامة الحصكفي رحمه الله ولو انقطع بعد الاستحقاق خير رب السلم بين انتظار وجوده و الفسخ و راس المال ﴿الدر المختار هامش رد المحتار ج۴ص۲۳۸ باب السلم﴾

و في الهندية ولا يجوز ان ياخذ عوض رأس المال شيئا من غير جنسه فان اعطاه من جنس اجود منه او اردأ فيه الخ . . ﴿الفتاوى الهندية ج۳ص۱۸٦ الفصل الثالث فيما يتعلق بقبض رأس المال و المسلم

Maktaba Tul Ishaat.com

فیه ﴾

له دوارو خواوو ځخه په موزو نې شیانو کښې بیع سلم جائز نه دی

سوال:

یوه سړی ځو بو جې بوره یوه بوجې په ۸۱۰ روپی سړی باندی د دوه نیمې میاشتې وعده باندی وپلورلو او له هغه ځخه ئې وعده واخیسته چې ته به ما ته په دغه وخت کښې غنم راکوی او حال داچې د معائدې په وخت کښې د غنمو من په ٦١٠ روپی باندی هغه د غنمو من تقریباً په یوو لس سوه روپی وو نو په ده باندی هغه دغنمو مالک انکار وکړ او بالاآخره په ۹۰۰ روپی في من فیصله وشوه نو اوس دغه نفع یعنی۷ روپی فی من اخیستل جائز دي او که نه بینوا توجروا.

جواب ﴾

په ظاهره سره د بیع سلم دا ضورت نا جائز دی لهذا دواړه خواوی دی عقد ختم کړی هر یو دي خپل مال او یا د هغه مثل که چیرته عین مال موجوده نه وي واپس واخلی او که چیرته د سلم ټول شرائط موجود هم وي بیا هم په بوره او غنمو کښی بیع جائز نه دی لهذا په نوموړی صورت کښې په دې بیعی باندی به د بیع فاسد حکم جاري شي ځکه چی دغه عقد ربوا او عقد ربوا د فاسدی حکم جاری شی ځکه چی دغه عقد ربوا ده او عقد ربوا کښی راځی.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله من جملة صور البیع الفاسد جملة الربوبة ﴿رد المختار علی حاشیة رد المحتار ج۴ص۱۹۷ باب

Maktaba Tul Ishaat.com

الربوا﴾
و قـال الـعـلامـة خالد الا تاسی ثم اعلم ان اسلام الموزو ن فی الموزو ن والـمـكيـل فـی الـموزو ن لا يـصـح لـو جـو د فـی الـربـوا او احـدهـمـا الخ ﴿شر ح المجلة ج۲ص۲۸۷ باب السلم﴾
وفـی الهـنـدية الـعـاشر ان لا يشمل البد لين احد وصفی علة ربا الـفـضـل و هـو الـقـدر او الـجـنـس و هذا مـطـر د الا فی فمان فانـه يجوز اسلامها فی الموزونات لحاجة الناس ﴿الفتاوی الهـنـيةٓ ج۳ص۱۸۰ .۱۸۱ الباب الثامن عشر فی السلم الفصل الاول﴾

په څنغوزو ﴿چلغوزي﴾ کښې د بيع سلم حکم

سوال﴾
زمـوږ پـه علاقې ﴿وزيرستان ايجنسی﴾ کښې خلک د څنغوزو پـه دانـو کښـې بيـع سـلـم کـوي و ذغـه څـنـغـوزې پـه ټول ملک کښې پـه مـخـتـلـفـو مـارکيـټـو نو او بـازارونو کښې د کـال پـه دولسو ميـاشـتـو کښـې پيدا کيږی او دا حال چې دا زموږ په علاقې کښې تر اوسه پوری پـه ونو کښـې دي نو په داسی څنغوزو کښې بيع سلم جائز دی او که نه بينوا توجروا.

جواب﴾
دا ظـاهره خبره ده چې په دغو نويو څنغوزو کښې تر اوسه پوری په ونو کښـې دی او مارکيټ ته نه وي رسيدلې او په مارکيټونو کښې موجود هم نه وي نو دا بيع سلم درست نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

ثم في الهندية: السلم أن يكون المسلم فيه موجودا من حين العقد إلى حين المحل حتى لو كان منقطعا عند العقد موجودا عند المحل أو على العكس أو منقطعا فيما بين ذلك وهو موجود عند العقد والمحل لا يجوز كذا في فتح القدير وحد الوجود أن لا ينقطع من السوق وحد الانقطاع أن لا يوجد في السوق وإن كان يوجد في البيوت هكذا في شرح الوقاية. (الفتاوى الهندية ج [illegible] ص [illegible] الباب الثامن عشر في السلم الفصل الأول)

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ولا في حنطة حديثة قبل حدوثها لأنها منقطعة في الحال وكونها موجودة وقت العقد إلى وقت المحل شرط فتح القدير. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج [illegible] ص [illegible] باب السلم) ومثله في البحر الرائق ج [illegible] ص [illegible] باب السلم.

[illegible]

سوال:

[illegible]

جواب:

دا د بیـع سـلـم یـو صـورت دی لهذا که د بیع سلم د ټولو شرائطو لحاظ و ساتل شي نو جائز دی او که نه د شرائطو لحاظ و نه ساتل شي نو جائـز نـه دی او په دې معاملې کښې د قیمت د زیاتوالی او کموالی هیڅ فرق نه پریوزی یعنی اثر نه پرې کوی.

قـال العلامة الحصکفی رحمه الله ﴿السلم﴾ هو بیع آجل بعاجل و رکنـه رکن البیـع و یـصـح فیـمـا امـکن ضبط صفة و معرفـة قدره کمکیل و موزون الخ ﴿الدر المختار علی ها مش رد المحتار ج۴ ص۲۲٦ باب السلم﴾

په رختونو کښې د بیع سلم حکم

سوال﴾

کـه چیـرتـه یـو سـودا کـر دیـوې کـارخانې لـه مـالک سره داسی مـعـامـلـه وکړی چې پـه راتلونکی کال کښې د ګرمی په موسم کښې دوه تـانـه رخت پـه کـار ده او ټـول شـرائـط سـره طې کړی او د کار خانې مالک ته روپی ورکړی نو آیا دا سودا جائزه ده او که نه ؟.

جواب﴾

پـه نـومـوړی صـورت کښـی د بیـع سـلـم مـسـئـلـه ده لهذا د سودا کـولو په وخت کښی که چیرته د کپړې ټول او صاف مقدار او که کپړه بـه کـوم شـی نـه جوړه وي او داسـی نورو شرائطو موجود والی چې په کښـی وي نو شرعـا دا سودا جائزه ده .

لـمـا فـی مـجـلـة الاحـکـام الـکـر بـاس والجو خ و امثـا لهـا من الـمـزروعـات یـلـزم تـعـیـیـن طـو لهـا و عرضها و رقتهـا و من ای شي ء

Maktaba Tul Ishaat.com

تنسج و من نسج ای محل هی ﴿شرح المجلة فرستهم لرستم باز ص۲۱۸ المادة ص۳۸۵ الفصل الثالث فی السلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

باب المرابحة والتولية

د بیع مرابحه او تولیه احکام او مسائل

په بیع مرابحه کښې د منافع مقدار متعین نه دی

سوال ﴾
یو ه دوکاندار په عامه توګه د بازار څخه چې اوچت نرخ باندې د سودا پلورل څرنګه دی او همدا رنګه شریعت د یو ه شي په پلورلو کښې د منافعو څه حد مقرر کړی دی او که نه بینوا توجروا .

جواب ﴾
شریعت مقدسه د پیرلو او پلورلو لپاره بایع او مشتری ته اختیار ورکړی دی او د دوی پخپل منځ کښې ئې بیع د دوی تر رضاء پورې موقوفه کړی ده او بائع او مشتری چې په کوم نرخ باندې سره موافق شي هغه نرخ شرعا جائز دی او فقهاء د بیع مرا بحه حقیقت بیان کړي دی او د ربح تعین ئې نه دی فرمایلی البته د بازار د عامو نرخونو څخه په جګ نرخ باندې ئې پلورل خو جائز لیکن د غیرت او مروت خلاف کار دی .

لما قال فی الهندیة و من اشتری شیئا و اعلی فی ثمنه جاز ﴿الفتاری

الهندية ج۳ص ۱۶۱ كتاب البيوع الباب الرابع عشر فى المرابحة والتولية . .الخ ﴾
قال العلامة جلال الدين الخوارزمی رحمه الله هو مبادلة المال بالمال بالتراضی ﴿الكفاية فی ذيل فتح القدير ج۵ص۴۵۴ كتاب البيوع و مثله فی فتح القدير ج۴ ص۴۵۵ كتاب البيوع .

پـه بيع مرابحه كښی د خيانت لـه شهبې ځخه ځان ساتل ضروری دي

سوال ﴾

کـه چيرتـه يو شي څوک پـه پور واخلی نو د پلورلو په وخت کښـی هغـه دا ووايی چې داشی ما په دومره قيمت باندی اخيستی دی خو پـه پورا او پـه دومره گټه باندی ئی خرڅوم نو آيا دا صحيح دی او که نه بينوا توجروا .

جواب ﴾

د بيع مرابحه دارو مدار په ديانت او امانت باندی دی په کښی هر هغه قدم اخيستلو ځخه اجتناب ضروری دی چې په هغه کښی د خيانت شهبه وي چونکه په پور کښی عموما د نقد په نسبت باندی زيات قيمت ښودل کيږی ځکه په پوره باندی اخيستونکی شي که چيرته ئی قيمت خريدار وښايی او په هغه باندی ئی وپلوري نو د اصل قيمت سره ئی د پوره اظهار هم ضروری دی .

لما قال العلامة علی ابن ابی بكر المرغيانی رحمه الله و من اشتری غلاما بالف درهم نيسه فباعه بربح مائة و لم يبين فعلم

المشتری فان شاء رده و ان شاء قبل لان للاجل شبها بالمبیع الا یری انه یزاد فی الثمن لاجل الاجل . ﴿الهدایة ج۲ص۷٦ باب المرابحة و التولیة﴾

قال العلامة الحصکفی رحمه الله اشتراه بالف و باع بربح مائة بلا بیان خیر المشتری و قال العلامة ابن عابدین ای بعین رده واخذه بالف و مائة حالة لان للاجل شهبا بالمبیع الا تری انه یزاد فی الثمن لاجله ﴿الذر المختار مع رد المحتار ج۵ص۱۴۱و ۱۴۲ مطلب اشتری من شریکه سلعة﴾ و مثلة فی بدائع الصنائع ﴿ج۵ص۲۲۴ باب المرابحة والتولیة﴾

په بیع مرابحه کښې د ګز او متر د تعین ضرورت

سوال﴾

د رخت یو دوکاندار ځینې رختونه د ګز په حساب سره او ځینې د متر په حساب سره اخلي او خریدار ته ئې په یوه روپۍ منافع فی ګز ورکوی او د خرید رسید ورښکاره کوي او د ګز او متر د تفصیل نه بغیر دا معامله سره طې کوي نو آیا د دوکاندار لپاره داسې کول جائز دي .

جواب﴾

خریدار ته د یوه شي قیمت خرید ورښولو او د هغه پلورلو ته بیع مرابحه وایی په متر او د ګز د تعین نه بغیر په پلورلو کښې د

خیـانـت قـوي احتـمـال مـوجـود دی ځکـه ددې مـعـاملې داسـی مبهم پـریښـودل جائز نه دی دوکاندار ته په کار دی چي اول خریدار ته قیمت خـرید و نـه ښایي او که چیرته ور وښایي ن بیا د ګز او مترد فرق ښودل هم ډیر ضروری دی چي ور وئی ښایی . .

لما قال العلامة علی بن ابی بکر المرغیانی رحمه الله و لهذا کان مبنا هـمـا عـلـی الامـانة والا حتـراز عـن الـخیـانة و عـن شبهتها ﴿الهدایة ج۳ص۷۳ باب المرابحة والتولیة .

قـال الـعـلامة الـکـا سـانـی رحـمـه الله فـا لا صـل فیـه ان بیع المرابحة والتـولیة بیع امائة فتجب صیا نتها عن الخیانة و عن سبب الخیانة والتـهـمة لان التـحـرز عـن ذلک کـلـه واجـب ما امکن ﴿بدائع الصنائع ج۵ص۲۲۳ بـاب الـمـرابـحة والتـولیة﴾ و مثـلة فـی رد الـمـحتـار ج۵ ص۱۳۸ باب المرابحة والتولیة﴾

دلاری مصرف او خرڅ داخیستل شوی شي داصل قیمت سره ګډول

سوال﴾

کـه یـو دوکاندار یوه شي د اخیستلو لپاره بل ښهر ته لاړ شي نو د لاری کـرایـه او نـور مـصارف چي کوم راځی ددغه شي د اخیستلو په قیـمـت کښی جمع کړی او بیا ئی وپلوری نو د دې شرعی حکم څه دی بینوا توجروا .

جواب﴾

Maktaba Tul Ishaat.com

دیوه شي داخیستلو لپاره په وخت باندی په راتلونکي اخراجاتو د عقد مرابحه په صورت کښې چي په قیمت خرید کښې ئی ګډ کړی او دغه اخراجات د ګاهک څخه وصول کړی د شهبه خیانت مقتضی ده ځکه چي د شریعت له مخې بائع ته د اصل قیمت د ښوولو په وخت کښې داضافي اخراجاتو ضم کول نا جائز دي بیا هم که چیری د قیمت خرید څخه قطع نظر بائع د پلورلو لپاره چي کوم معیار مقرروی په هغه کښې د اصل قیمت سره اضافي اخراجات هم شامل کړی او د بائع او مشتری په منځ کښې په رضا او رغبت باندی پرې اتفاق وي نو په دې شرعا هیڅ حرج نشته.

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله لا یضم نفقة بنفسه ای فی سفره ککسوته و طعامه و مرکبه و غسل ثباته.

رد المحتار ج۵ص۱۳۷ باب المرابحة والتولة ﴾

لما قال فی الهندية ولا یحمل علیه ما اتفق علیه فی سفره من طعام و لا کراء ولا مؤنة لا نعدام العرف فیه ظاهراً کذا فی المسبوط ﴿الفتاوی الهندية ج۳ص۱۶۲ الباب الرابع عشر الرابحة واتولیة ﴾و مثله فی البحر الرائق ﴿ج٦ص۱۱۰ کتاب البیوع باب البیوع باب المرابحة والتولیة ﴾

دیوه شي د خرید په قیمت کښې د نورو اخراجاتو د ګډولو صورت.

سوال ﴾

د بهرني ملکونو څخه د تجارت د سامان د غوښتلو په صورت

کبنـی د مـختـلفو حکومتي ټکسونو اداکول د نورو اخراجاتو په وجه سره قيمت څو چنده زياتيږی تر دې پوری چې د يوه شی قيمت په بين المللي بازار کبنی يو زر روپی وي نو تر دغه ځايه پوری په رسولو سره د هغه ټول اخراجات د لسو زرو روپو څخه هم زياتيږی نو آيا دلته دغه شي په دغه څو چنده اضافي اخراجاتو سره د هغه پلورل شرعاً جائز دی او که نه؟ بينوا توجروا

جواب﴾

د تجارت په سامان باندی د راتلونکي اخراجاتو له اصل قيمت سره ضم کول مرخص دی په دې صورت کبنی هغه اضافي اخراجات په اخيستل شوی مال باندی تقسيمول او د ګاهک څخه د بچ کيدو لپاره د اخيستلو د قيمت ضرورت محسوس شي نو هغه اضافي اخراجات ګډول او د قيمت ښودل د ديانت خلاف دی البته که چيرته دا وويل شي دغه شي ماته په دومره روپی لويدلی دی نو د دې ګنجائش موجود دی او دا جائز دی

لما قال العلامة على بن ابى بكر المرغيانى رحمه الله و يجوز ان يضيف الى راس المال اجرة القصار و الطراز و الصبغ و الفتل و اجرة حمل الطعام و يقول قام على بكذا و لا اشترية بكذا كيلا يكون كاذبا ﴿الهداية ج٣ص٧٣ باب المرابحة و التولية﴾.

قال العلامة ابن نجيم و له ان يضم الى راس المال اجر القصار و الصبغ و الطراز و القتل و حمل الطعام الطعام و سوق الغنم و يقول قام على بكذا و لا يقول اشتريته لانه كذب ﴿البحر الرائقج٦ص١١٠ باب

Maktaba Tul Ishaat.com

التولیة والمرابحة ﴾ و مثله فی رد المحتار ج۵ص۱۲۵ کتاب البیوع باب المرابحة والتولیة ﴾

په بیع مرابحه کښې د خیانت له وجې بائع ته د مبیعې د بیرته ورکولو حکم

سوال ﴾

مشتری که چیرته په بائع باندې اعتبار وکړی او د دوو فیصدو وګټې ته تیار شي او په نتیجه کښې بائع د څلورو زرو روپو شې په پنځه زره باندې خبر شو یعنی معلومات ورته وشو چې دغه سشي بائع د څلورو زره څخه په کمو روپو باندې پیرلې دی نو اوس پوښتنه دا ده چې آیا مشتری له بائع څخه ادا کړل شوی زائدې روپی واپس اخیستلی شي او که نه بینوا توجروا.

جواب ﴾

په بیعه مرابحه کښې چې کله هم خیانت ثابت او ظاهر شي نو مشتری ته د بیع د فسخ کولو حق حاصل دی او په هغه شوی بیعی کښې د پیسو د کمولو حق نه لري. له دې وجهی په نوموړی صورت کښې به مشتری یا هغه شي بائع ټول واپس کوی او خپلې ټولې روپې به اخلی او یا به هغه ټول قیمت ورکوی.

لما قال علی بن ابی بکر المرغیانیرحمه الله فان اطلع المشتری علی خیانة فی المرابحة فهو بالخیار عند ابی حنیفه ان شاء اخذه بجمیع الثمن و ان شاء ترکه ﴿الهدایة ج۳ص۳۴ باب المرابحة والتولیة ﴾

Maktaba Tul Ishaat.com

قال العلامة الحصكفي فان ظهر خيانة في مرابحة باقراره او برهان على ذلك او بنكوله عن اليمين اخذه المشتري بكل ثمنه رده ﴿الدر المختار على صدر رد المحتار ج۵ص۱۳۷ باب المرابحة والتولية﴾ و مثله في البدائع الصنائع ﴿ج۵ص۲۲٦ باب المرابحة والتولية﴾

سیل ټکس په قیمت خرید کښی د ګډولو حکم

سوال﴾

حکومت له سوداګرو او وړو کی دوکاندارنو څخه د سیل ټکس په نامه باندی پیسې اخلی نو آیا د بائع لپاره په دغومره اندازه پیسې د مبیعی په قیمت خرید کښی ګډول او هغه بیا له مشتری څخه وصولول شرعاً جائز دی او که نه .؟

جواب﴾

په موجوده وخت کښی د حکومت له خوا څخه لګول سوی ټکس په نامه او یا لوړ ټکسونه او مالیی چونکې د جائزو حدودو څخه وتلی دی او د ظلم او تعدی حدود ته داخل شوی دی او په دې کښی د امیر او غریب تمیز او فرق هم نشته او د ټکس او مالیی شرح هم دومره زیات وي چې ورکونکی د هغه له ورکولو څخه عاجزه دی نو په دې بنای سلیز ټکس یعنی مالیی بالکل هغه شی دی لکه په لاروکښی ئی چې د تاجرانو څخه ظلماً او جبراً وصولوي په نوموړی صورت کښی بایع ته د قیمت خرید د ښولو په وخت کښی په هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

کنبی د ټکس د اضافي پیسو په ضم کولو کښې د خیانت اړخ غالب وي بیا هم که چیرته بایع مشتری ته د قیمت خرید د ښولو نه بغیر د ټولو ټکسونو حساب وکړی او حساب ورته وکړی او بایع او مشتری په یوه قیمت باندې سره راضی شي نو څه حرج پکښې نشته.

لما قال العلامة علاؤالدین الحصکفی رحمه الله لا یضم اجرا الطبیب و ما یو خذ فی الطریق من الظلم الا اذا جرت العادة بضمة هذا هو الاصل کما علمت فلیکن المعمول علیه ﴿الدر المختار مع الدر المحتار ج۵ص۱۳۷ باب المرابحة والتولیة﴾

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله هی ای التولیة بیع ثمن سابق والمرابحة و بزیادة ﴿البحر الرائق ﴿ج٦ص۱۰۷ باب المرابحة والتولیة﴾ و مثله فی الهندیة و مثله فی الهندیة ﴿ج۳ص۱۷۳ کتاب البیوع باب المرابحة والتولیة﴾

د ضلع ټکسونه﴿د ولسوالی مالیی د پلونو مالیی محصولات او داسی نورو اخراجاتو له اصل قیمت سره د ګډولو حکم

سوال﴾

ولسوالی مالیی ﴿ضلع ټکسونه﴾ راهداری او د چونګی محصولات او داسی نور اخراجات د مبیعی د اصل قیمت سره ګډول جائز دی او که نه.

جواب﴾

نن صبا د حکومت له خوا څخه لګول شوی پورتني ذکر شوی ټکسونه ظالمانه او جابرانه صورت اختیار کړی دی دې اضافي اخراجاتو د مبیعی د قیمت خرید سره ګډول یا نه ګډول د تجارو په عرف او عادت باندی بناء دی پس که چیرته د تجارو عرف او عادت د ګډولو وو نو بیا داسی کول جائز دی او که نه وو نو د اضافي اخراجاتو په اصل قیمت کښی ګډول جائز نه دی .

لما قال العلامة علاؤ الدين الحصكفى رحمه الله لا يضم اجر الطبيب و ما يؤ خذ فى الطريق من الظلم الا اذا جرت العادة بضمة هذا هو الاصل علمت فليكن المعمول عليه ﴿الدر المختار مع الدر المحتار ج۵ص۱۳۷ باب المرابحة والتولية﴾ .

قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه الله والذى يآخذ فى الطريق من الظلم لا يضم الا فى موضع جرت العادة فيه بينهم بالضم ﴿البحر الرائق ج٦ص۱۱۰ باب المرابحة والتولية و مثلة فى الهندية ﴿ج۳ص۱۷۳ كتاب البيوع باب المرابحة والتولية﴾

په قسطونو باندی د شیانو د اخیستلو او پلورلو شرعی حیثیت

سوال﴾

نن صبا ځینی تجارتی ادارې د عوامو د سهولت او اسانتیا لپاره د ورځنی استعمال شیان په قسطونو پلوری لیکن د نقدو روپو ادا کولو پر خلاف هغه شی په قسط باندی مشتری ته په زیات قیمت ورکوی نو آیا د قسطونو په ذریعه د ځینی حکومتی ادارو څخه او یا

شخصي ادارو څخه دغه ضروري شيان اخيستل جائز دي او که نه بينوا

جواب

په موجوده زمانه کښې د قسطونو په ذريعه د ورځنی ضروري شيانو د اخيستلو او پلورلو رواج عام شوی دی ځکه چي غريب او د متوسطي طبقې خلک د ګراني په وجه د خپل ضرورت شيان په نقدو روپو سره د اخيستلو استطاعت نه لري لهذا دغه ضروري شيان او نور سامان مجبوراً په قسطونو باندی اخلي چي د هغه مطلب دا وي چي مشتري د هغه شي قيمت نقد نه ادا کوی بلکه د فيصله شوی قسطونه باندی اخلي چي د هغه مطلب دا وي چي بائع طريقې باندی د يوه شي په اخيستلو کښې زيات قيمت لګول کيږي که چيرته مشتري دغه شي په نقدو باندی وغواړي نو د مقرره قيمت څخه د بازار څخه په کم قيمت باندی اخيستلی شي او حال دا چي په قسطونو کښې د پورو په وجه سره په زيات قيمت اخلي .

د بيعي په نوموړی ذکر کښې يواځې يو جنجال معلوميږی چي د پور اخيستلو په صورت کښې په زيات قيمت او د نقد اخيستلو په صورت کښې په کم قيمت باندی اخيستل کيږی د آئمه اربعه وو د جمهورو فقهاوو او محدثينو متفقه رايه ادا د چي پور د بيعي په مقابله کښې په نقدو باندی د بيعي کم قيمت لګول مرخص دی ليکن په دې کښې شرط دا دي چي عاقدين په يوه قيمت باندی سره متفق وي او دې مطلب دا شو چي که چيرته بائع دا ووايي چي دغه شي زه په

Maktaba Tul Ishaat.com

پـور پـه دومـره او پـه نـقـدو ئـی پـه دومره ورکوم او دوړا خواوی په یوه نر خ باندی د اتفاق نه بغیر جدا شي نو دا بیع نا جائزه ده البته که چیرتـه پـه دغـه مـجـلـس کـښـی پـه نـقـد او یـا پور باندی چیرته په یوه قیـمـت بـانـدی د دواړو اتفاق راشي نو بیعه جائزه ده دلته یو سوال پیدا شي چي کـه چیـرتـه د نـقـدو او د پـور پـه ځای د مـخـتلفو وختونو پـه مـقـابـلـه کـښـی مـخـتـلـف قیـمـتـونـه مقرر کړی شی مثلاً په نقد په ۱۰۰ روپـی او پــه پـور بـاندی پــه ۱۲۰ روپـی او دغــه پـور بـه د یوې میاشتی لپاره دی او کـه چیـرتـه پـور د دوو میـاشـتـو لپاره وي نو ۱۵۰ روپی نو لـکـه څنګه چي دنقد او پور په بنیاد باندی په قیمتونو کښی اختلاف جائـز دی هـمـدا رنګـه د وخـتـونـو د اختـلاف پـه بنـاء باندی په قیـمـتـونـو کـښـی اخـتـلاف جائز دی همدا رنګه مودې او یوه قیمت تعین ضروری دی او کـه چیـرتـه ئـی داسـی وویـل چي که تریوې پیسې راکوی بیا پـه دومـره قیـمـت او کـه چیـرتـه د دریـو میـاشـتـو پوری میـاشـتـی پوري راکـوی نو بیا په دومره قیمت که چیرته د تعین نه بغیر سره جدا شول نو د جهالت سره بیع نا جائز ګرځی.

قال الامام ترمذی رحمه الله تحت هذا الحدیث نهی رسول الله ﷺ عن بیـعـیـن فـی بیـعـة و قـد فـسـر بعض اهل العلم قالو ا بعیتین فی بیعة وقـد فـسـر بعض اهل العلم قالوا بیعتین فی بیعة ان یقول ابیعک هذا الثـوب بنقد بعشرة و بنسیة بعشرین ولا یفار قه احد البعین فان فار قـه فـلا بـاس بـه اذا کـانت العقدة علی احد منهما ﴿الترمذی ج ۱ص ۲۳۲ کتاب البیوع باب ما جاء فی النهی عن بعیتین فی بیعه﴾

قال العلامة علی بن ابی بکر المرغیاني رحمه الله لان للاجل شبها بالمبیع الا یری انه یزاد فی الثمن لاجل الاجل ﴿الهدیة ج۳ص۷٦ باب المابحة والتولیة کتاب البیوع﴾ و مثله فی البحر الرائق ج٦ص۱۱۴ باب المرابحة والتولیة.

د پور له وجهی یوشی په
زیات قیمت باندی پلورل

سوال﴾

په ځینی وختونو کښی یو شي د نقد روپو د ورکولو په صورت کښی په زیات قیمت باندی پیدا کیږی نو آیا د نقد او پور په صورت کښی په قیمت کښی کموالی یا زیاتوالی جائز دی او که نه بینوا توجروا.

جواب﴾

د نقد او د پور په صورت کښی په قیمت کښی کموالی او زیاتوالی مرخص دی لیکن شرط داده چې د عقد په مجلس کښی مقدار او د قیمت د ادا کولو وخت مقرر کړی شی.

لما قال العلامة علی بن ابی بکر المرغانی رحمه الله لان للاجل شبها بالمبیع الا یری انه یزاد فی الثمن لاجل الاجل ﴿الهدایة ج۳ص۷٦ کتاب البیوع باب المرابحة والتولیة﴾

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله لان للاجل الا تری انه یزاد الثمن لاجل الاجل ﴿البحر الرائق ج٦﴾ ص۱۱۴ کتاب البیوع باب المرابحة والتولیة و مثلة فی فتح القدیر ﴿ج٦ص۱۲۲ کتاب البیوع

Maktaba Tul Ishaat.com

باب المرابحة والتولية ﴾

په بیع مرابحه کښې په دوکې سره په اخیستل شوی زیاتو روپو باندې د رجوع حکم

سوال ﴾

یوه سړی له یو شخصه د شوتلي اخیستل غوښتل او هغه سړی د شوتلي د نرخ پوښتنه وکړه نو هغه ورته وویل چې ماته بوری ﴿بوجی﴾ په ۴۵ روپی تمامه شوی ده او تا ته بوجی په ۵۰ روپی درکوم هغه مشتری یوه بوجي واخیسته او وروسته بیا هغه ته معلومه شوه چي په بازار کښې دیوه بوجي په۴۸ روپی ده اوس ددې په باره کښې د شرعیت څه حکم دی آیا هغه د بائع څخه هغه زیاتی روپی واپس اخیستلی شي او که نه بینوا توجروا.

جواب ﴾

نوموړی صورت د بیع مرابحه یو ډول دی په بیع مرابحه کښې کومه چي بیع د عاقدینو په منځ کښې کښې فیصله شي نو هغه شي قیمت شو البته د غبن فاحش په صورت کښې مشتری ته دا اختیار وي چي دغه فیصله شوی قیمت قبول کړی او یا ئی رد کړی او له بائع څخه خپلی پیسې واپس واخلی د نقصان او صرف د زیاتوالی د واپسی مطالبه نه شي کولی.

قال العلامة المرغيانى فان اطلع المشترى على خيانة فى المرابحة فهو بالخيار ﴿الهداية ج٣ص٥٥ باب المرابحة والتولية﴾

قال العلامة ابو البركات النسفى فان خان فى مرابحة اخذ بكل

Maktaba Tul Ishaat.com

ثمنه ﴿كنز الدقائق على ها مش البحر الرائق ج٣ص١١٠ تحت باب المرابحة﴾ و مثلة فی رد المحتار ﴿ج٤ص١٧٤ باب والتولية﴾

مبیعه په زیات قیمت
د پلورلو حکم

سوال﴾

څه فرمایی علماء دین متین د دې مسئلې په باره کښې چې یوه دوکاندار د یوې روپی شي په درې روپی باندی پلوری لیکن هغه قیمت خرید پټ ساتی او نه ئی څر ګندوي نو آیا د اسی کول شرعاً جائز دی او که نه بینوا توجروا.

جواب﴾

د صورت مسئوله مطابق داسی کول جائز او حلال خو دی لیکن د مروت ﴿ځوانمر دی﴾ خلاف دی لهذا بهتره دا ده چې په مناسب قیمت ئی پلوری د قیمت خرید ښودلو نه بغیر د مبیعی په پلورلو کښی هیڅ قباحت نشته.

قال العلامة الكاسانی ولو اشتری ثوبا بعشر دراهم رقمه اثنی عشر فباحه مرابحة علی بغیر بیان جاز اذا کان الرقم معلوما والربح معلوما و لا یکون خیانة لانه صادق لکن لا یقول اشترية لا نه یکون کاذبا فیه ﴿بدائع الصنائع ج٥ص٢٢٣ فی تحت بیان المرابحة﴾

قال العلامة المرغيانی المربحة نقل ما ملکه بالعقد الاول بالثمن الاول مع زیادة ربح والتولية نقل ما ملکه با لعقد الاول بالثمن الاول من غیر زیادة ربح والبیعان جائزان ﴿الهداية ج٣ص٥٤

Maktaba Tul Ishaat.com

باب المرابحة والتولية ﴾ و مثلة في البحر الرائق ﴿ ج٦ص١٠٧ تحت باب المرابحة والتولية .

په بيع مرابحه کښې د فيصدۍ له مخې د منافع تعين

سوال﴾

کـه چيـرته يوه سړی د بيع مرابحې په وخت کښې د اصل قيمت څخـه زائد رقـم د اخيستلو لپاره په فيصدی باندی حساب کوي مثلا زيد بکـر ته وايي چي زه په دې مال کښې له تا څخه پنځه فيصده ګټه اخلـم نـو آيا داسی عقد جائز دی او آيا دغه سود په زمره کښې د اخل دی او که نه ؟ بينوا توجروا .

جواب﴾

پـه عـقـد مـرابحه کښې په دې قسم سره د منافع تعين اګر که نن صبا د سـود د ليـن دين سره مشابهٔ ده ليکن په حقيقت کښې دغه سود نـه دی لهـذا يـواځې د مشابهت په وجه دا حرام نه شي ګرځيدلې ځکه د نـو مـوړی صورت مطابق د منافع تعين د فيصدی په اعتبار سره جائز دی ځـکـه چي پـه دې عـقـد کښـې د بيع مرابحی د ټولولو ازماتو پوره لحاظ شوی دی . .

Maktaba Tul Ishaat.com

کتاب الربوا

د سود احکام او مسئلې د سود حقیقت

سوال﴿

جناب مفتي صاحب د سود تعریف څه دی او دا په کومو صورتونو او په کومو شیانو کښې دی؟ بینوا توجروا۔

جواب﴿

پورورې ته د خالص وخت لپاره څه پیسې په ه دې شرط سره ورکول چې د واپس اخیستلو په وخت کښې د اصل زر یعنې رډیو څخه زیاتې روپې ترې واخلی سود ویل کیږی او داسی پور ته د پور سود وایی۔

لما قال الامام الجصاص الرازی هو القرض المشروط فیه الاجل و زیادة مال علی المستقرض ﴿الاحکام القرآن ج۱ص۴۲۹ باب البیع﴾

یوه ربوا د بیع او شراء د معاملاتو وي له حضور اقدس ﷺ څخه په دې باره کښې د شپږو شیانو ذکر راغلی دی چې پخپل منځ کښې د هغو تبادله په برابره اندازه کوی او هغه شپږ شیان دا دی سره زر سپین زر دی او که چیرته جنس بدل کړی شي او کوم یو شي پکښې کیلی او وزنی نه وي نو بیا په بدلول کښې کموالی او زیاتوالی جائز دی او که چیرته د یوه شي پکښې کیلی او وزنی کښې

قـدر او جـنـس وي نو تبادلې په وخت کښې کموالی او زیاتوالی وشی نـو دا بـه سـود وي پـه دغـو کښـې د پـور معاملـه بـه هم سود وی او کـه چیـرتـه د سـود په دواړو علتونو کښی یو علت موجود شي نو کموالی او زیاتوالی به جائز وي لیکن پور بیا هم په سود کښی راځی ۔

قـال الـعـلامة الـحصکفی رحمه الله الربا شرعا فضل ولو حکما فـد خـل رد و بـا لـنسیـنة والبیـو ع الـفـاسـدة فکلها من الربوا خال عن الـعـوض بـمـعیـار شـرعـی و هـو الـکیـل والوز ن مشروط لا حد المتعا قیـن فـی الـمـعـاوضـه و عـلة الـقـدر مع الجنس و ان وجد احرم الفضل والـنـسـاء و ان واجـد احـدهـمـا حـل الـفـصـل و حـرم الـنـسـاء ﴿الـدر المختارعلی ها مش رد الـمحتار ج۴ص١٧٦ باب الربوا﴾

لـمـا فـی الهـنـدية وهـو فـی الشر ح عبارة عن فصل مال لا يقبله عـوض فی معاوضه مال بمال و هو محرم فی کل مکیل و موزو ن بیع مـع جـنـسـه و عـلـتـه الـقـدر و الـجـنـس و ان و جد القدر والجنس حرم لـفـضـل والـنـسـاء ان وجد احدهـمـا و عـدم الاخـر حل الفضل و حرم لـنسـاء ﴿الـفـتـاوی الـهـنـدیة ج۳ص١١٧ بـاب الـربوا﴾ و مـثـلـه فی البحر رائق ﴿ج٦ص١٢۴ باب الربوا﴾

له سود څخه د بچ کیدو حیله

سوال﴾

نن صبا بـانـکـونـه خلـکـو تـه تر اکتورونه اخلی او بیا بانک د تـراکتـورو کـپـنیـو چي څومره روپی ورکړی وی هغه روپی له خریدار څخه له سود سره سره په قسطونو وصولوی نو آیا له دې سود څخه د

بچ کیدو څه حیله شته او که نه؟

جواب ﴾

﴿۱﴾ کـه چیرته بانک له کمپنی څخه تر اکتور اخلي او بیا ئی پـه خـلـکـو پـلـوري نو په قسطونو سره زیاتی پیسې له قیمت خـریـد څـخـه وصـولـولـي شي او د پیسـو دا زیاتوالی د پلور له وجهی دی کوم چې شرعاً مرخص دی.

لـما قال العلامة المرغیانی رحمه الله الا یدی انه یزاد فی الثمن لا جل الاجل ﴿الهدایة ج۳ص۷۴ باب الربوا﴾

﴿۲﴾ او کـه چیـرتـه بانک د خریدار وکیل جوړ شي او تر اکتور خپـل مؤکل ته له قیمت خرید نه په زیاتو روپو باندی ورکوی نـو دا جـائـز دي ځـکـه چې وکیـل بـه د خپـل مؤکل د شرائطو مطابق چلیږی.

لـما قال العلامة الکاسانی اذا قال له اشترلی جاریة بالف درهـم فـاشـتـری جـاریة بـاکـثـر من الالف تلـزم الوکیل دون المـؤکـل لانـه خـالف المـؤکل فیـصیر مشـتـربا لنفسه ﴿بدائع الصنائعج٦ص۲۹ بیان فی حکم التوکیل﴾

﴿۳﴾ بانک مثلا د خریدار له خوا څخه کارخانې ته یو لک روپی ورکړی او لـه خـریـدار څکه یو نیـم لک روپی وصولول غواړی او تر اکتور خریدار له کمپنی او بانک غواړی چې زیاتی

Maktaba Tul Ishaat.com

پیسې وصول کړی نو ددې حیله دا ده چې بانک د خپل یو لک روپو په عوض کښې له خریدار څخه زمکه یا نور شیان واخلی او پخپلی قبضې کښې ئی راولی او بیا دغه زمکه په خریدار باندی په یو نیم لک روپو وپلوری او دغه یو نیم لک روپی په قسطونو وصول کړی.

قال العلامة ابن نجیم رحمه الله رجل له علی آخر عشرة دراهم فاراد ان یو جلها الی السنة و یا خذ منه ثلاثه عشر فالحیلة ان یشتری منه بتلک العشرة متاعا بتلک العشرة متاعا و یقبض المتاع منه و قیمة المتاع عشرة ثم بیع المتاع منه ثلاثا عشر الی سنة ﴿البحر الرائقج٦ص١٢٦ باب الربوا﴾

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری رجل له آخر عشرة دراهم فاراد ان یو جلها الی سنة و یا خذ منه ثلاثه عشر فالحیلة ان یشتری منه بتلک العشرة متاعا و یقبض المتاع منه و قیمة المتاع عشرة ثم بیع المتاع عنه بثلالة عشر الی سنة ﴿خلاصة الفتاویج٢ص١٠٢ باب الربوا﴾

د سود روپو مصرف

سوال﴾

د بانک له خوا څخه د منافعو په شکل کښی پیدا کونکی

روپی کوم چی د سود روپی دی خپل استعمال کښې راوستل جائز دی او که نه بینوا توجروا.

جواب ﴾

اول خو دا ضروری دي چي په بانک کښي د پیسو د ایښودلو څخه ځان لری وساتي او که چیر ته مجبوراً د حفاظت په نیت ئی پکښې جمع کوی نو په هغو باندی چي کوم سود د منافعو په صورت کښې ورته حاصلیږی هغه د بانک والو ته مه پریږدی بلکه له هغو څخه ئی را واخلی او په غریبانو او فقیرانو باندی ئی بې له نیت د ثواب څخه صدقه کړی.

قال العلامة الحصكفي كما لو غصب عبدو آجره فينقص في هذه الاجارة و ان استغله فنفق الا ستغلال و آجر المستعار و نقص ضمن النقصان و تصديق بما بقى من الغلبة و الاجرة.

قال العلامة ابن عابدين و يؤ مر ان يتصدق بها لا ستفا دتها ببدل خبيث و هو التصرف في مال الغير ﴿الدر المختارو رد المحتار ج٦ص١٨٨كتاب العصب﴾

لما قال العلامة ابن البزاز رحمه الله ولو بلغ المال الخبيث نصابا لا يجيب فيه الزكوة لان الكل واجب التصدق ﴿البزازية على هامش الهندية ج۴ص٨٦

الزكوة الفصل الثاني في المصرف﴾

غنم په پور وركول او د بيرته ادا كولو په وخت كښې زياتوالي شرط لګول سود دى

سوال﴾

يـوه سړى لـه بـل شخـه ګړه او غنم د يوې خاصې پيمانې مطابق د خاص وخت لپاره په پور واخيست او په تاكلي وخت كښې ئى د بيرته اخيستلو سره د زياتوالي شرط ولګاوه چي د پـور د ادا كولو په وخت كښې به په دومره مقدار كښې ګړه او غنم او ورسره به دومره اندازه زياتي هم راكوي آيا د شريعت له مخې داسې معامله جائزه ده او كه نه بينوا توجروا .

جواب﴾

پـه اشيـاء ربـويـه كښې يو تر بله قرض او اقراض جائز دي ليـكن د واپـس كـولو په وخت كښې مساوات شرط د غنم خو مـنـصـوص دي پـه حديث شريف كښې مساوات شرط دي او په ګـړه كښـې ددې مـنـصوص علت قدر او جنس موجود دي لهذا د غـنـمو او ګـړې د واپـس كـولو په وخت كښې د زياتوالي شرط لګول سود دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

قال العلامة برهان الدين المرغياني الحنطه بالحنطة مثلا يدا بيد الفضل ربوا و عد الاشياء الستة ﴿الهداية ج۳ص۷۷باب الربوا﴾

قال العلامة عابدين رحمه الله كل قرض جر نفعا حرام اذا كان مسروطا﴿رد المحتار ج۵ص۱٦٦ باب الربوا مطلب كل قرض جر فعا حرام﴾و مثله فى البحر الرائق ﴿ج٦ص۲۰۴ باب الربوا﴾

په سود باندی د قرض ورکول نا جائز دی

سوال﴾

جناب مفتي صاحب آيا په سود باندی پور ورکول شرعا جائز دی او که نه ؟

جواب﴾

په سود باندی پور ورکول د شریعت له مخی قطعا ممنوع حرام دی په دې کښی د ی هیڅا اختلاف نشته په قرآن مجید او حدیث نبوی کښی صرا حتا د دې ممانعت موجود دی ځکه په سود باندی پور ورکول جائز نه دی .

لما قال الله تعالىٰ احل الله البيع و حرم الربوا﴿سورة البقرة آيت ۲۷٦﴾

و فی الهندیة قال محمد فی کتاب الصرف ان ابا حنیفة کان یکره قرض جر منفعة ﴿الفتاوی الهندیة ج۳ص۲٦۴ فصل فی الصرف﴾ و مثله فی الهدایة ﴿ج۳ص۱۲۱ کتاب الحوالة﴾

په سود باندی قرض ورکول نا جائز دي

سوال﴾

جناب مفتي صاحب آیا په سود باندی پور ورکول شرعاً جائز دی او که نه؟

جواب﴾

په سود بانی پور ورکول د شریعت له مخی قطعاً ممنوع او حرام دی په دې کښې د هیڅا اختلاف نشته په قرآن مجید او حدیث نبوی کښې صراحتا ددې ممانعت موجود دی ځکه په سود باندی پور ورکول جائز نه دي.

لما قال الله تعالی احل الله البیع و حرم الربوا ﴿سورة البقرة آیت۲۷۵﴾

و فی الهندیة قال محمد فی کتاب الصرف ان ابا حنیفة کان یکره کل قرض جر منفعة ﴿الفتاوی الهندیة ج۲ ص۲٦۴ فصل فی الصرف و مثله فی الهدایة ج۳ص۱۲۱ کتاب الحوالة﴾

Maktaba Tul Ishaat.com

په موجل پور کښې د کموالي په کولو سره معجل وصولول حرام دي

سوال﴾

د يوه سړي په بل سړي باندې پنځه زره روپۍ پور وې پوروړي په هغه کښې د کموالي مطالبه وکړه او د پور غوښتونکي وويل چې دوه زره روپۍ په دې شرط درته معاف کوم چې باقي درې زره روپۍ زر او دستي راکړې نو د مقرض داسې کول جائز دي او که نه بينوا توجروا

جواب﴾

د قرض غوښتونکي مقروض ته په دې شرط دوه زره روپۍ معاف کول چې باقي درې زره روپۍ فوراً وصول کړي دا جائز دي په عقد کښې چې کوم وخت مقرر شوی وو دا د هغه عوض دی او دين مؤجل معجل کوي نو دا حرام دي.

قال العلامة الجصاص الرازی رحمه الله الرجل يكون عليه الف درهم دين مؤجل فيصالحه منه على خمس مائة حالة فلا يجوز ﴿الاحكام القرآن ج۲ص۱۸۷﴾

قال العلامة برهان الدين المرغياني لو كانت له الف مؤجله فصالحة على خمس مائة حالة لم يجز لان المعجل

خیر من المؤجل وهو غیر مستحق بالعقد فیکون بازاء ما حطه عنه و ذلک اعتیاض عن الاجل و هو حرام ﴿الهدایة ج۳ص ۲۵۱ باب الصلح فی الدین﴾ و مثله فی الجوهرة النیرة ﴿ج۲ص۷ کتاب الصلح﴾

د پور په ورکولو سره د گټې متعین کول جائز نه دي

سوال﴾

یوه سړی ته د کاروبار لپاره د سرمایې ضرورت وو او بل سړی ورته وویل چې په دې شرط باندې پیسې درکوم چې لس فیصده منافع به ماته ضرور راکوی نو آیا په دې شرط باندې قرضه ورکول شرعاً جائز دی او که نه بینوا توجروا.

جواب﴾

روپی د پور په ډول ورکول او په هغه باندې لس فیصده یا څومره منافع چې وي مقرر ول سوه دی کوم چې نا جائز حرام دی.

قال العلام ابن عابدین کل قرض جرفعا حرام ای اذا کان مسروط کما علم مما نقله عن البحر ﴿رد المحتار ج۵ص۱٦٦ باب الربوا مطلب کل قرض جر نفعا حرام.

قال العلامة قاضی ثناء الله قوله و حرام الربوا و المعنی ان الله تعالی حرم الزیادة فی القرض علی القدر المرفوع ﴿تفسیر مظهری ج۱ص۲۹۹ سورة البقرة﴾ و مثلة فی الاحکام القرآن للجصاص ﴿ج۲ص۱۸۹ سورة البقرة﴾

د مساوی حقوقو په وخت قرعه اندازۍ سود نه دی.

سوال﴾

څو کسان هره میاشت څه پیسې سره جمع کوی او بیا د قرعه اندازۍ په ذریعه چې د کوم یوه نوم راووځی نو هغه جمع شوی روپی هغه ته ورکوی او بیا وروسته هم هره میاشت د خپلی حصې پیسې جمع کوي لیکن د قرعه اندازۍ په وجه بیا د هغه نوم نه ووځی او همدا رنګه هر ځل قرعه اندازی کېږی دیوه یوه نوم راووځی اوس سوال دا دی چې آیا دا قرعه اندازی سود دی او که نه بینوا توجروا.

جواب﴾

د څو کسانو په داسی مساوی طریقې سره پیسې جمع کول او د قرعه اندازی په وجه سره یوه کس ته هغه پیسې

ورکول دا د یوه او بل سره امداد او قرض ذی په دې کښې تملک
او تملیک نشته بلکه هر یو شریک دا غواړی چې دا ځل دغه
جمع شوی روپی ماته راوسیږی نو د نزاع د رفع او د خو
شحالتیا لپاره پچه سره اچوی او حال دا چې د ټولو شریکانو
حقوق سره مساوي وي نو دلته د زړه طیب او رضاء لپاره د
بچی اچول جائز دی

قال العلامة ابن عابدین و یکتب اسا میهم و یقرع لتطیب القلوب ﴿رد المحتار ج۵ص۱٦٦ کتاب القسمة ﴾

قال العلامة ابو بکر الکاسانی رحمه الله لا لان القرعه یتعلق بها حکم بل لتطیب النفوس و لو رود السنة بها و لان ذلک اتقی للتهمة فکان سنة ﴿بدائع والصنائع ج۷ص۱۹ کتاب القسمة ﴾ ومثلة فی البحر الرائق ﴿ج۸ص۱۵۲ کتاب القسمة ﴾

د مشتری په لاس کښې
د نفع په شرط باندی
د پلورلو وعده سود نه دی

سوال﴾

زید غوښتل چې بکر ته په سود باندی پور ورکړی

ليكن بكر انكار وكړ او په دې باندې دوارو د سود نه د بچ كيدو لپاره يوه حيله جوړه كړه چې زيد بكر ته وويل چې زه تا ته دوه زره روپى دركوم او ته په هغو باندې رخت واخله او د دوارو طرفونو كرايه او خرچه هم دركوم او مال پخپله قبضه كښې اخلم او بيا يوه پيسه فى روپى د نفع په حساب سره ئى په تا باندې پلوم نو آيا د سود څخه د بچ كيدو دا حيله صحيح ده او كه نه بينوا توجروا .

جواب ﴾

له سود څخه د بچ كيدو مذكوره حيله صحيح ده بكر د زيد وكيل جوړ شو او مال ئى واخيست او زيد ته ئى حواله كړ او بيا زيد په بكر د دوو زرو په رخت كښې زيد په نفع باندې خپل مال په بكر پلورى اگر كه د سودا په پوره ده ليكن په دې ، كښې هيڅ ډول سود نشته زيد ابتداء يواځې د بكر سره وعده كړى ده چې مال په تا باندې پلورم . دا هم څه ناجائزه خبره نه ده .

قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه الله كل حيلة يحتال بها الرجل يختلص بها عن حرام او يتوصل بها الى حلال فهى حسنة ﴿الاشباه والنظاهر ج۴ص۳۱۹ كتاب الحيل﴾

Maktaba Tul Ishaat.com

قال العلامة محمد خالد ﴿الاتاسی رحمه الله وکل حیلة یحتال بها الرجل لیخلص بها عن حرام او لیتوصل بها الی حلال فهی حسنة ﴿شرح المجلة ج۲ص۴۵۲ احکام الربوا﴾ و مثله فی الهدنیة ﴿ج٦ص۳۹۰ کتاب الحیل﴾

د سود د روپو په عوض کښی
د سود د روپو په ورکولو سره
ځان له پور څخه خلاصول

سوال﴾

دیوه سړی په بانک کښی څه روپی وې چې په هغو کښی د همدغه روپو سود هم جمع شوی وو اوس هغه سړی خپل کوم ضرورت لپاره له بانک څخه څه پیسې په پور باندی واخیستی او په هغو باندی هم د بانک سود راغلی نو آیا دغه سړی خپل سود بانک د سود په عوض قبل القبض ورکولی شی او که نه بینوا توجروا.

جواب﴾

په بانک کښی د پیسو په کیښودلو سره له دواړو خواوو څخه د سود معامله ده په بانک کښی د پیسو کیښودل او یا د

بانک د کوم سړي په ذمه روپی دواړه قوي دین دی او دواړه چي کله یوه او بل ته خپل سود پریږدی نو دا بیعه مقاصه او له سود څخه د نفع حاصلول دی نو د سود د حرمت په وجه سره دا معامله هم حرامه ده.

قال الله تعالی احل الله البیع و حرم الربوا ﴿سورة البقرة آیت۲۷۵﴾

قال العلامة الحصکفی رحمه الله کل فرض جر نفعا حرام ﴿الدر المختار علی ها مش رد المحتار ج۵ص۱٦٦ باب الربوا﴾ و مثله فی الاحکام القرآن للجصاص ﴿ج۲ص۱۸۹ سورة البقرة﴾

له مرهونه شي څخه د نفع شرط سود دی

سوال﴾

زید له عمر څخه پنځه سوه روپی په پور واخیستې او خپله ځمکه ئی هغه ته د ګروی ﴿رهن﴾ په شکل په دې شرط ورکړه چي د ځمکی په حاصلاتو کښی دواړه برابر شریک یو نو شرعاً د دوی دا معامله څه حکم لري بینوا توجروا.

جواب﴾

کـه چیـر تـه زیـد عمر ته په دې شرط باندی قرض ورکړی وي چې په امرهونه شي څخه به نفع اخلی نو دا حرامه ده ځکه چې د کـل قـرض جر نـفـعـه فهو ربوا په حکم کښې ده اذا کان مشـروطـا صـار قـرضـا فیه منفعة و هو ربوا والا فلا بس او که چیر ته ئی د نفعې شرط نه وی لګولی بیا هم له هغه څخه نفع اخیستـل جائز نه دی .

قـال الـعـلامة ابـن عـابدین والغالب من احوال الناس انهـم انـمـا یـریـدو ن عـنـد الـدفـع الا الانتـفـا ع ولـو لاه لما اعطاه الـدراهـم و هـذا بـمـنـزلـة الشـروط لان المعروف کالمشـروط و هو ما یعین المنع ﴿رد المحتار ج۵ص۳۱۰ ۳۱۱ کتاب الرهن﴾

قـال الـعلامة ابو بکر الجصاص الرازی قال ابو حنیفة ابو یـوسف و مـحـمـد رحـمهـم الله والـحسن بن زیاد و زفر لا یجوز للمرتهن الانتفـا ع بشئی من الرهن ولا للراهن ایضا ﴿الاحکام الـقـرآن ج۱ص۵۳۱ بـاب ضـمـا ن الـرهن﴾ ومثـلـه فـی الاشباه والنظاهر ﴿ج۲ص۲۴۴ کتاب الرهن﴾

د قدر اشتراک په صورت .

. کښې د پور تبادله ناجائزه ده

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال﴾

یـوه سـړی تـه د جـوارو ضـرورت دی او هغـه لـه یوه بزګر

څخـه د یـوې معاهدې لاندې یوه خاصه اندازه جوار اخلی بزګر

ورتـه وایـی چې زه درې میاشتی وروسته په دومره اندازه ددې

پـه بدله کنبـی غنم درکوم نو آیا دا معامله شرعا جائزه ده او که

نه بینوا توجروا.

جواب﴾

ددې ډول پـور بـدلـول شرعا جائز نه دی اګر که د جوارو او

غـنـمـو جنس سره مختلف دی لیکن جوار او غنم دواړه کیلې

دی یعنی په پیمانې سره

دواړه انـدازه کیږی د دوو شیانو په تبادلې کنبـی چې د جنس یا

د قـدر اشتـراک نه وي نو تفاضل جائز دی او پور نا جائز دی او

دې ته ربوا النسئیه وایی.

قال العلامة الحصکفی و ان وجد احد هما ای القدر وحده

او الجنس وحده حل التفاضل و حرم النساء ﴿الدر المختار

علی هامش رد المحتار ج۴ص۲۹۹ باب الربوا﴾

قـال الـعـلامة ابـن نـجیم والنساء فقط با حدهما ای وحرم

التـاخیـر لا الـفـضـل بوجودالقدر فقط او الجنس فقط ﴿البحر

الـرائـقج٦ص١٢٨ باب الربوا﴾ و مثله فی الهدایة ج۳ص۷۹ باب

Maktaba Tul Ishaat.com

الربوا

د نفع په شرط باندی په پور پیسې ورکول سود دی

سوال﴾

له یوه دوکاندار څخه یوه خریدار وغوښتل چي یو شی واخلی او حال دا چي هغه شي له هغه دوکاندار څخه نه وی دوکاندار ورته وویل چي له ما څخه دا روپی واخله او د ځان لپاره مطلوبه شي واخله لیکن چي کله خپلی روپی راکوی نو له اصلو روپو سره به دومره منافع هم راکوی شرعا ددې حکم څه دی بینوا توجروا.

جواب﴾

د مذکوره دوکاندار دا فعل بعینه د ربوا معامله ده ځکه چي په پور باندی ئی پیسې ورکړی او د واپس اخیستلو په وخت کنبی د خپلو اصلو پیسو څخه د زیاتو روپو د اخیستلو شرط ولګاوه کوم چي سود دی نو دوکاندار ته یوائی د خپلو روپو د واپس اخیستو حق حاصل دی.

قال العلامة المرغيانی الذهب بالذهب مثلا و وزنا بوزن یدا بید والفضل ربوا ﴿الهدینة ج۲ص۱۰۶ کتاب

الصرف﴾

قال العلامة الزيلعي رحمه الله اذا بيع جنس الاثمان بجنسه كالذهب او الفضة بالفضة يشرط فيه التساوى والتقابض قبل الافتراق ولا يجوز التفاضل فيه﴿تبيين الحقائق فيه﴿تبيين الحقائق ج۴ص۱۳۵ كتاب الصرف و مثله في البحر الرائق ج۲ص۱۹۲ كتاب الصرف﴾

د پور له وجهې د زيات قيمت وصولول سود نه دی

سوال﴾

يو دوكاندار چي كله يو شي په پور باندی د پلوري نو قيمت يې دنقدو دقيمت په پرتله زياتوي ايا داسي كول دشريعت له مخي سود خو نه دی ؟

جواب﴾

په وجه د هغه په قيمت كښې زياتوالی جائز دی ځكه ښه دی نه د يار لس روپې پور نه له دی وجهې د نقد و او د پور په سودا كښې تفاوت جائز دی .دپور په مقابله كي دنقدو فوائد او منافع زيات وي .

قال العلامة برهان الدين الر غياني رحمه الله الا يرى يزاد

فی الثمن لا جل الاجل ﴿الهداية ج۳ص۷٦ باب المرابحة والتولية﴾

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله و يزاد فی الثمن لا جله اذا ذكر الاجل بمقابله زيادة الثمن قصدا فاعتبر مالا فی المرابحة احترازا عن شبه الخيانة و لم يعتبر مالا فی حق الرجوع عملا بالحقيقية ﴿رد المحتار ج۴ص۱۷۷ باب الربوا و مثله فی البحر الرائق ﴿ج٦ص۱۱۵ باب المرابحة والتولية﴾

په سودي شيانو کښې د پور معامله

سوال﴾

په سودي شيانو کښې د اخيستلو او پلورلو په وخت کښې د برابرۍ او د نقدو معامله وی په هغو کښې د پور معامله صحيح نه وي که چيرته يو سړی چا ته غنم په پور ورکړی او دا ورته ووايي چې درې مياشتې وروسته زما پور به واپس غنم راکوی نو آيا په دغو شيانو د پور معامله د شريعت له مخې څنګه ده؟

جواب﴾

په سودې شيانو کښې د اخيستلو او پلورلو د معاملې په وخت کښې کموالي او زياتوالي او پور نا جائز دی ليکن د

قـرضـو مـعـامـلـه لـه دې څخـه جلاده ځکـه چې قـرض تبرع او احسـان دى ددې هيـڅ عـوض نـه وي ځکـه چې لـه تاكلي وخت نه وروستـه ددې شي بدل واپس كيږي .

قال العلامة ابو بكر الكاساني رحمه الله ان القرض تبرع الا يرى انه يقابله عوض للحال كان المستقرض انتفع بالعين مدة ثم رد عين ما قبض و ان كان يرد بدل في الحقيقة ﴿بدائع والصنائع ج۷ص۳۹٦ كتاب القرض﴾

قـال الـكـاسـانـى فيـختـص جـوازه بـمـالـه مثـل ﴿بدائع والصنائعج۷ص۳۹٦ كتاب القرض﴾

و فـي الهـنـدية و يجوز القرض فيما هو من ذوات الامثال كـالـمكيـل والموزون والعددي المتقارب كالبيض ﴿الفتاوى الهـنـدية ج۳ص۲۰۱ باب في القرض والا ستقراض﴾ و مثـله فى الـدر الـمـختـار عـلـى هـا مـش ردالمحتـار ﴿ج۴ص۱۷۱ بـاب القرض﴾

حاصل دا چي دا په مثلي شيانو كښې جائز دى .

نقدى روپى د قسطونو په صورت كښي زياتى وصولول

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال﴾
يوه سړی خپله لاری په چا خرڅه کړه او څه پیسې ئی نقدی واخیستې او خریدار ته ئی وویل چې نوری روپی به مبلغ درې زره د میاشتی قسط وار راکوی له دې وروسته د لارې مالک ته د روپو ضرورت پیدا شو نو ئی له دریم سړی څخه ځلویښت زره روپی نقدی واخیستې او بیا ئی خریدار ته حواله کړ او ورته ویی ویل چې دا مشتری یا خریدار به تاته قسطونه او یا زره روپی درکوي نو دا معامله شرعاً څنګه ده بینوا توجروا.
جواب﴾
بائع ته د خریدار په دې طریقې باندی دریم سړی ته حواله کول صحیح نه دی او دا بعینه سود دی ځکه چې په دې صورت کښی دریم سړی ځلویښت زره روپی نقدی ورکړې دی او اویا زره په قسطونو وصولوی نو دیرش زره روپی سود پکښی اخلی ځکه دا معامله شرعا نا جائزه او حرامه ده.
لما قال الله تعالى احل الله البيع و حرم الربوا ﴿سورة البقرة آيت۲۷۵
قال العلامة مرغيانی رحمه الله و قد نهى الرسول عليه

السلام عن قرض جر نفعا ﴿الهداية ج۳ص ۱۳۱ کتاب الحوالة ﴾ و مثلة فی تبیین الحقائق ﴿ ج۴ص۸۵ کتاب الحوالة ﴾

د مضاربت گټه سود نه ده

سوال ﴾

زما وررور له ما څخه شل زره روپی په دې شرط واخیستې چي په هغو باندی کومه گټه کیږی نیمی به ستا وی او نیمی به زما وی او دائی هم راته وویل چي زه هره میاشت حساب و کتاب نه شم کولی او په اندازه او تحری سره حساب لگوم او تا ته منافع درکوم په دې طریقې سره هغه کله ماته ۱۰۰ روپی کله درې سوه روپی راکولې او په دې کموالی او زیاتوالی مونږ یوه بل ته بخشش سره کاوه څه وروسته ما ته شک پیدا شو چی داخو سود دی او د وررور سره می د دې سلسلې د ختمولو خبره وکړه اوس سوال دا دي چي داسی کاروبار شرعا صحیح دی او که نه بینوا توجروا.

جواب ﴾

دا د سود کاروبار نه دی بلکه د مضاربت یو صورت دی او نفع په تحری سره معلومول هم مفضی الی الجهالت نه دی

ځکه دا صورت جائز دی په مضاربت کښې داسې شرط لګول کوم چې د جهالت فی الربح باعث وي هغه نا جائز دی.

کما نقل الشیخ علاؤ الدین بن محمد الحصکفی من الجلالیة کل شرط یوجب جهالة فی الربح او یقطع الشرکة فیه یفسدها والا بطل الشروط صح العقد اعتبارا بالوکالة آه ﴿الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۴ص۵۴ کتاب المضاربة﴾

و قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله الرابع ان یکون الربح بینهما شائعا کالنصف لا سهما معینا یقطع الشرکة کمائة درهم الخامس ان یکون نصیب کل منهما معلوما فکل شرط یؤدی الی الجهالة الربح فهی فاسدة و مالا فلا آه ﴿البحر الرائق ج۷ص۲٦۴ کتاب المضاربة﴾ و مثلة فی

الهندیة ج۴ص۲۸۷ کتاب المضاربة الفصل الاول﴾

د بانک په ذریعه د پیسو د لیږلو شرعی حیثیت

سوال﴾

نن صبا خلک د بانکونو په ذریعه له یوه ځای څخه بل

Maktaba Tul Ishaat.com

ځـاى تـه پيسـې ليـږى چې په هغو باندى د بانک والا څه زياتى روپى وصولوى ايا دا سود دى او که نه؟ .

جواب﴾

د بانک په ذريعه د ډرافټ په شکل کښى د پيسـو ليـږل بـانک تـه پـور ورکـول دى امـانـت نـه دى ځکـه د زيـاتـوالـى شـرط پـکښـى سـود دى البته په دې کښى دا تا ويل کـول مـمـکـن دى چې هغـه زيـاتـى روپى د کاغذ او کتابت او داسـى نـورو فيـس وبـولي نو په دې طريقې سره د سفتج شکل جـوړيـږى کـومـو تـه چې فـقهـا کـرام مکروه ويلى دي د عموم بـلـوى پـه وجـه پـه دې کښى د جواز گنجائش کيدلى شي ځکه چې په ټوله دنيا کښى دا طريقه رائجه ده .

حـکيـم الامـت مـولانـا اشـرف عـلى تهانوى رحمـه الله پـه امداد الفتـاوى کښى ددې تحقيق داسى کړى دى .

منى آرډر مرکب دى له دوو معاملو څخه يو د پور کوم چې اصـل روپـو اړه لـرى او دوهـمـه اجازه کومـه چى د فـارم د ليکو او لږلو د فيس

په نوم

سـره ورکـول کيـږى او دا دواړه مـعـاملې جـائـزى دى او دواړه مـجـمـعـوه هـم جائزه ده او چونکه عـامه ابتلاء هم ده نو ځکه دا

تاويل كول او د جواز فتوى وركول مناسب دي ﴿امداد الفتاويج۳ص۱۴۶ كتاب الربوا﴾

په ډاكخانه كښى په جمع شوى پيسو باندى د منافع د اخيستلو حكم

سوال﴾

په ډاكخانه كښى چي كومى پيسې جمع كيږى د كال نه وروسته په هغو باندى څه نفع وركول كيږى نو ددې نفعې شرعى حكم څه دى بينوا توجروا.

جواب﴾

لكه څرنكه چي د بانك څخه سود اخيستل منع دى همدا رنكه په ډاكخانه كښى د جمع شويو روپو سود اخيستل هم منع دى د سود حقيقت چي چيرته هم پيدا كيږى نو هغه به حرام وي.

لما قال الله تعالى احل الله البيع و حرم الربوا ﴿سورة البقرة آيت ۲۷۵﴾

قال العلامة مرغيانى رحمه الله و قد نهى الرسول عليه السلام عن قرض جر نفعا ﴿الهداية ج۳ص ۱۳۱ كتاب

الحوالة ﴾ و مثلة في البحر الرائق ﴿ ج٦ ص٥٣ كتاب الحوالة ﴾

بيع محاقله هم په سود كښې داخله ده

سوال﴾

كوم غنم چي تر اوسه صفا شوى نه وي او په وږي وي د صفا شوي غنمو په عوض كښې ئې پلورل جائز دي او كه نه ؟بينوا توجروا .

جواب﴾

د كوم شيږو شيانو په تبادله كښې چي برابر والى نقد قيمت او لاس په لاس والى ضروري دي او په هغو كښې غنم هم داخل دي ددې تبادلې په وخت كښې كله چي جنس يو وي په هغو كښې كموالى او زياتولى او پور سود دي په پټو كښې ولاړ غنم د صفا شوي غنمو په عوض كښې پلورلو ته بيع محاقله

وايي كومه چي په سود كښې داخله ده او حضور انورؐ له داسې بيعې څخه منع فرمايلې ده .

لما قال العلامة برهان الدين المرغياني نهى عن المزابنه والمحاقلة فالمزابنة ما ذكرنا والمحاقلة بيع

Maktaba Tul Ishaat.com

الحنطلة فی سنبلها بحنطة ﴿الهداية ج۳ص٥٦ باب البيع الفاسد﴾

قال العلامة ابن الهمام نهی رسول الله عن المزانة والمحاقلة ﴿فتح القدير ج٦ص٥٣ باب بيع الفاسد﴾ ومثله فی البحر الرائق ﴿ج٦ص٧٦ باب بيع الفاسد﴾

﴿ پی ایل ایس﴾ ﴿غیر سودی خاته﴾

سوال﴾

نن صبا خلک په بانکونو کښی د پی ایل سی په نامه خاتې خلاصوی نو آیا په دغو خاتو کښی د روپو جمع کول جائز دی او که نه بینوا توجروا؟

جواب﴾

د بانکونو ټول کاروبارونه له سود سره منسلک دی حکومت له سود ځخه د بچ کیدو په خاطر د نفعی او نقصان په نامه سره د بانک دا شاخ خلاصکړی دی لیکن دا خبره ئی داد صحیح اسلامی اصولو مطابق دی مشکو که ده اګر که د حکومت او بانکونو د منتظمینو دعوی دا ده چی د نفع او نقصان په نامه شاخ کښی هم روپی مه جمع کوی احتیاط هم په دې کښی دی ځکه چې سود ډیر لویه ګناه ده د سود د شبهې په وجه له دې ځان ساتل بهتر دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

لما اخرجه الامام ابو داود رحمه الله لما لعن رسول الله اكل الربوا و موكله و كاتبه و شاهديه .

نو له همدې وجهې څخه له سودي كار څخه ځان ساتل بهتر كار دى داسي چي په سود كښې واقع شوى وي او په خبر هم نه وي والله اعلم وعلمه اتم .

Maktaba Tul Ishaat.com

کتاب الرهن

سوال﴾
رهن څه ته وائی شرعاً
جواب﴾
الرهن عقد شرع و ثیقة بمال
خزانة الفقه ص ۱۸۴
رهن په مابین دعاقدینو کي عقد دي چي هغه په یو مال باندی محکم سوی وي
سوال﴾
رهن مطلق جائز دي که څه شرائط لري .
جواب﴾
شروط جواز الرهن ثلاثة اشیاء ۱: الایجاب ۲: والقبول ۳: والقبض
سوال﴾
رهن چي جائز دي په کوم دلیل سره د اصولو اربعه څخه کمو بیان کړل؟
جواب﴾
الرهن مشروع بالکتاب والسنة و اجماع الامة و قد انعقد الاجماع علیه
شرع مجله ۳:۱۲۱:الماده ۷۰۱:

Maktaba Tul Ishaat.com

يعني په قرآن الكريم او حديث او اجماع سره د رهن مشروعيت ثابت دي .

سوال﴾

هغه كوم ايات مباركه دي چي د رهن مشروعيت ځيني ثابت دي .

جواب﴾

قوله تعالى فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ (سوره بقره آيات ۲۸۳)

سوال﴾

هغه كوم حديث دي چي د رهن مشروعيت ځيني ثابت دي .

جواب﴾

عن عائشة رضى الله تعالى عنها قالت اشترى رسول الله ﷺ من يهو دي طعاما ورهنه درعه: صحيح البخارى ج۱ باب الرهن ۱۳۴۱ .

سوال﴾

هر كله چي رهن د شريعت له نكاه جائز سو او س پو ښتنه داده چي په رهن نفع اخستل و مرتهن ته جائز ده كه نا جائز ۱۲ .

جواب﴾

قال العلامة و هبة الزحيلى رحمت الله تعالى و قال الحنيفة ليس للمرتهن ان ينتفع بالمرهون استخداماً ولا ركوباً ولا سكنىٰ ولا قراءة فى كتاب الا باذن الراهن ۱۲ . الفقة اسلامى وادلة ج٦ص ۴۲۸۹ .

له مذكوره عبارت څخه معلومه سوه چي مرتهن په رهن سوي غلام او حيوان او سراي او كتاب او پر هر هغه شي چي تا كرو كړى دي نفع نه ده رواه مكر كه راهن ايجازه وكړى بيا رواه ده مكر ذاد الفقه ئى په هر صورت مكروه تحريمى كڼلى دي دادالفقه ۸۳۴

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال﴾
هغه كوم شيان دي چې رهن ئې صحيح نه دي كه مو راته تحرير كړه مننه .
جواب﴾
خمسة عشر شيئاً لا يجوز رهنه
۱﴾ رهن المشاع: يعنى غير المقسوم وغير المقبوض
۲﴾ و رهن الثمار على رؤوس النخل دون النخل
۳﴾ و رهن النخل دون الارض
۴﴾ و رهن الزرع فى الارض دون الارض فان رهن ارضاً فيها شجر او زرع دخل الرزع والشجر فى الارض
۵﴾ والرهن بقصاص فى النفس و فيما دون النفس
٦﴾ وبا الحدود
۷﴾ والكفالة بالنفس
۸﴾ والشفعة
۹﴾ وضمان الدرك
۱﴾ و رهن النحل بغير الكوارات
۱۱﴾ والوديعة
۱۲﴾ والعارية
۱۳﴾ والاجاره
۱۴﴾ والمضاربة
۱۵﴾ والشركة

Maktaba Tul Ishaat.com

خزانه الفقه ص ۱۸۵ .

سوال﴾

سعيد او فريد سره ورونه دي لس جريبه ځمكه ئى سره كډه ده اوس سعيد خپله حصه له فريد سره د درو لكو روپو په مقابل كي رهن كوي ايا دا رهن روا دي كه ناروا ء

المستفتى سعيد ارغنداب قندهار

جواب﴾

لا يصح رهن المشاع لعدم كو نه مميزا كما مر مطلقا

الدر المختار ج ۵ ص۳۴۸

له مذكوره عبارت څخه معلومه سوه چي تر تقسيم مخكى ځمكه په رهن كي ايشو دل صحيح نه ده بايد يوار تقسيم سى بيا رهن سي .

سوال﴾

د اسلم غوا ده دوه لكه روپى قيمت لري له جمشيد سره ئى كرو كړه اوس پوښتنه داده دغوا خوراک او حفاظت پر چا دي او كه غوا مړه سوه په افت سماوي تاوان ئى پرر چا دي .

اسلم جار مهاجر كيمپ جنګل

جواب﴾

الرهن ان كان حَيوَاناً فَعَلفهُ و اجرةراعيه على الراهن

ذاد الفقه:ص۸۲۹شر ح المجلة ۲:۱٦٦:الماده ،

له مخكنى مادې څخه معلومه سوه چي دغوا خوراک پر راهن دي او نوره ساتنه ئى پر مرتهن دي او كه غوا د مرتهن سره مړه سوه نو د قانو ن لاندنى

قاعده وكورو .
و هـو مـضـمـو ن اذا هـلـک بـالا قل من قيـمة و من الدين و المعتبر قيمة يوم القبض لا يوم الهلاک الدر المختار ج٥ص٣٤١ .
دغـوا مـرګ کـه پـه بيـمـارى سره وي يا پـه كوم افت سره وي يا پـه لاس د مرتهن وي البته دده قرض ولاړي ١٢ .

سوال﴾

مـحـمـد يـونـس خپـل سراي له فـيض الله سره رهن كړ په درې لكه يو كـال بعد فيض الله نا خبره دي محمد يونس سراي پر ربنواز بيعه قطعى په پنځه لكه خر ځ كړ كله چي فيض الله خبر سو د سراي بيع ئى منعه كړه و مـحـمـد يـونـس تـه ئى وويل يوار زما قرض راكه بيا سراي خر ځ كړه اوس پـوښتـنـه داده فيـض الله د سـراي د راګـر زولـو حق لري او كـنـه او يونـس تر قرض مخكى سراي خرڅه وه لايى سي د شريعت منوره حكم څه دي
المستفتى ربنواز غزني

جواب﴾

توقف بيع الراهن رهنه على اجازة مر تهنه او قضاء ديتـه ١٢
رد المحتار ج٥ ص٣٦١
لـه مذكـوره عبـارت څخه معلومه سوه چي راهن د مرتهن له ايجازې پرته سـراي نـه سي خـرڅـه وه لاي تـر څو چي د مـرتهن قـرض ئـى ادا كـړي نـه وي .والسلام .وكذا فى الهنديه ج١ص٥٥٣

سوال﴾

نـن زمـانـه داررواج دي چـي زيـد خپـل سراي لـمـعـمـ ه سره پـه يو څـه

معلوم رقم کړو کړي بیا عمر و زید ته ۵۰۰ روپی کرایه ورکوي تر څو د رهن څخه د نفع اخستلو یو حیله جوړه کړی ایا دا حیله رواده او نفع د سراي و عمر ته جائز ده کنه ده جائز

المستفتي امام مسجد اقصیٰ پښتون آباد

جواب

قال العلامة ابن العابدین رحمه الله تعالیٰ قوله کل قرض جر نفعاً حرام اي اذا کان مشروطاً .

رد المحتار ج ۴ص ۱۹۴ وکذالک فی الدرو شرعاً تملیک نفع مقصود من العین بعوض الدر المختار ۲:۵

له مذکوره عبارتینو دا معلومه سوه چی دا حیله ناروا ده .

ولي دا اجارې دارومدار د طریفینو په نیت پوري تړلی دي یوازي د مرتهن نیت ته اعتبار نسته او بل د کرایه د عامو کرایو څخه کمه ده ولي دا رقم سرایو نه عام په پنځه زره کرایه چلیږي دلته ولي دا سراي په پنځه سوه کرایه دي ۱۲ .

فیندج تحت:کل فرض جرنفعاً فهورباً .

سوال

سپین کل خپل سراي له ابراهیم شاه سره په یو لک ګروی او اوس هم سپین ګل په سراي کی پروت دي و ابراهیم شاه ته ئی قبضه نه ده ورکړې . او سپین ګل و ابراهیم شاه ته ۱۰۰۰ زرو روپي مهانه کرایه ورکوي ایا داد شریعت له نظره روا دي .

المستفتي حبیب شاه پشین

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب﴾
لا یجوز الرهن الا مقبوضاً فقد اشار الی ان القبض شرط جواز الرهن ۱۲ .هندیه ج۵ص۴۳۲
له مذکوره عبارت څخه معلومه سوه دلته قبض نه دي راغلي او دا یوازي ناروا حیله ده لکه په مخکني مسئله کښي ۱۲ .
سوال﴾
راهن او مرتهن د منافعو بعد په وخت دادا د قرض کښي یو بل ته د حق بخښښ کوي او ځان د هغه مخکښي ناروا عمل څخه په یو بل ته په بخښنه خلاصه وي ایا دا حقیقت لري .ابو الفیض کوئټه .
جواب﴾
او بعد استهلاک لا یتاتی رد عنیه فتعین رد المثل و هو محض حق العبد و یصح ابراء العبد عن حقه ۱۲ .رد المحتار ج۴ص ۱۹۷ .له دا عبادت څخه معلومه سوه چي بخښنه څه چي په دا عمل به توبه هم کوي او بخښ نه دي صحح ولو که ابراء صحح ده مګر ګناه بنده نه سي بخښښ کوه لای .
سوال﴾
قمر الدین لس کاله مخکی خپله یوه ټوټه معلومه ځمکه له حبیب الله سره د ۵۰۰۰ زر روقو په بدله کی ګرو کړه قمر الدین ایران ته ولاړي اوس د قمر الدین مرګ او ژوند نه دي معلوم حبیب الله د خپلو رپو طلب د قمر الدین له وارثانو کوي وارثان هم دونه رقم نه لري ایا د قمر الدین ځمکه دده د پور دادا کولو له پاره خر څیدلاي سی کته ۱۲ مولوي عبد الرؤف بینوا

زرغونه لیسه .

جواب

جاز بیع المرتهن بامرحاکم رد المحتار ج ۵ص ۴۴ د قاضی په حکم خرڅیده لاي سي او کـه قـاضـی شرعـی نـه وي د محلي څو کسـان چي صاحب الرایه وي خرڅه دي سي روپی دي ځینی ادا کړل سي .

سوال

د محمد نور پر عزت الله په یو معامله کي یو لک روپي باندي دي پـه عـزت الله اوس حالا نـه جوړ یـږی مـحـمـد نور د عزت الله دکان په زور راکـرزوی او داور تـه وائـی چي کله تا ماتـه زما روپی راکړي زه به بیا دکان در ایله کوم ایا داد شریعت له نظره څنګه دي حال دادي چي عزت الله مدیون دي واقعی څه نه لري او کمزوری دي محمد نور دا کار په زور کوي مولوي شاه ولي قلات بازار زابل .

جواب

لا یـحـل ان ینتفع بشئی منه من الوجوه و ان اذن له الراهن لانه اذن له في الرباء الربواء شامي مجتبیائی ج۵ص ۳۱۰

لـه مـذکـوره عبـارت څـخـه دا معلومه سوه که چیری عزت الله ایجازه ورتـه وکـړي هـم دانـاروا دي او سـود دی په سود کی ایجازه ګته نه لري او نه سو د رواکوه لای سي ۱۲ .

سوال

نـن زمـان ډیر خلق د بیع وفا په نامه خپلی ځمکي سرایونه دکانونه ورکـوي او دا وائـی چي دا ګـرونه دي دا بل قسم د بیع دي او روا ورتـه وائـی

Maktaba Tul Ishaat.com

ایا دا بیع په شریعت کی سته او که چیری وي داقسم بیع روا ده که ناروا .
المستفتی مولوي معید اکا خیل کچره روډ کوئټه

جواب ﴾

البیع الذي تعارفه الناس و اهل زماننا احتیالاً للرباء و سموه بیع الوفاء و هو رهن فی الحقیقة لا یملکه ولا ینتفع به ۱۲ رد المحتار ۲۷۴

له مذکوره عبارت څخه معلومه سوه چي دا بیع حقیقت نه لري دا یو حیله ده د سود له پاره ولي دا په حقیقت کښي رهن دي .

او بعض خلق د رد المحتار او جواهر الفتاوی او فتاوی خیر یه او داسی نور کتابو باندي حواله ورکوي د جواز لار پیدا کوي مگر بل طرفته پیغمبر علیه السلام فرمائی الحلال بین والحرام بین و بینهما مشتبهات او هم دارنګه قال علیه السلام دع ما یر یبک الی ما لا یر یبک نو زموږ اکابر علماء د عدم جواز طرف احوط بولي ولي شبهه د ربا هم حرامه ده خذ بالا حتیاط والتقوی واجتنب الرباء و شبهة الربا ی فان الشهبة ما في الرباء ملحقة بحقیقتها .شر ح المجلة الاحکام .

سوال ﴾

بیع وفا څه ته ویل کیږی تصویر ئی پیش کړي .

جواب ﴾

عبد الله پر امان الله سراي په یو لک خر څ کړي د عبد الله اوس روپی پکار دي او امان الله ته ئی وویل چی که کله ما ستا یو لک روپي پیدا کړي زه به تا ته خپلی روپي در کړم ته به ماته خپل سراي بیرته را تسلم کړي دا د بیع وفا صورت دي فتفکرو کن من العدول حرره مفتی شراف الدین

Maktaba Tul Ishaat.com

اكا خيـل كـچلاک تلميذ شيخ القراء والحديث مفتي عبد الرازق صاحب مدظله .

سوال﴾

شيـر بـاز خپـل سـراي لـه خليل احمد سره كرو كړي يو كال بعد شير باز مړ سو له مړينی بعد دوه كاله نور تير سو اوس خليل احمد غواړي چي خپـل رقـم حاصل كړي د مړی قريبان هم د خلاصي مطالبه نه كوي موږ به تـر كـمـه وختـه انتـظار كوو اوس خليل احمد رهن سراي خرڅه وه لاي سی چي خپـل مـال وصول كړي او ما بقيه روپی د شير باز وكورنی ته وركړي ايا د جواز سته كنه؟

المستفتی اكبر جان كلي پتاو پشين

جواب﴾

ورثـه الـراهـن يقومون مقامه و فی الدر مختار ولا يملک الراهن ولا مـر تهـن بيـعـه بـغيـر رضـاء الاخر ١٢ عزيز الفتاوى ج١ص ٦٥٨ لـه مذكوره عبـارت څـخـه مـعـلـومـه سوه چې مر تهن د خرڅولو حق نـه لري د راهن وارثـان به ده ته ايجازه وركوي يا به دده قرض وركوي ٨٢

سوال﴾

يـو عـامـه قـاعـده راتـه بيان كړي چي كوم قسم شيان رهن كيږی او كوم قسم نه رهن كيږی . مثلا: منقوله، غير منقوله،نقود، مواشي،وكذا

المستفتی مولوي باز كل بروهی شين تالاب چمن

جواب﴾

مـايـجوز زبيعه يجوز رهنه و ما لا يجوز بيعه لا يجوز رهنه كذا فی

Maktaba Tul Ishaat.com

التهذیب۱۲ فتاوی عالم کیریه ج۵ص۴۳۵

سوال﴾

د بکر او خالد شریکه ځمکه ده بکر خپله حصه له خالد سره رهن ایږدي ایا دا رهن جائز دي کنه ۱۲

جواب﴾

لا یصح رهن المشاع لعدم کونه ممیزاً۱۲ .در المنحتار ج۵ص۳۴۸ که د هر یوه حصه معلومه وه تقسیم سوي وو بیا رهن د شریک رواده که تقسیم نه وو سوي بیا رهن جائز نه دي .

سوال﴾

راهن د مرتهن په ایجازه د قرض تر ادا کیدو مخکی مرهون شي خرڅه وه لاي سي کنه .

جواب﴾

توقف بیع الراهن رهنه علی اجازة مرتهنه او قضاء دینه ۱۲ رد المحتار ج۵ص ۳٦۱

مطلب دادي راهن د مرتهن د قرض دادا مخکی مرهون شي نه سي خرڅه وه لاي فل یراجع الی هندیه ج ۱ص۵۵۳

تمت کتاب الرهن بعون الملیک العلام بتاریخ ۱۴۲۱ ه ق محرم الحرام ۱۲ حرره العبد الضعیف مفتی شراف الدین اکا خیل کچلاک با جازة استاذ مکرم شیخ المشائخ مفتی عبد الرازق صاحب مدظله .

بنام مدرسه مدرسه محمدیه

صد آفـریـن د پـه هـمـت سـه مـحمدی مدرسې
نـوم دی لـه دې نـه هم اوچت سه محمدي مدرسې

تـــاروښـــه ستـوري پـــه اُفـق ځـلا کـــړه
پـــه دلسـی نـور د شهامت سـه مـحـمدي مدرسې

تـــاکـي حـدیـث او تـفسیـر دواړه شتـــه دي
نـور دي پـه عـلم بـرکـت شـه مـحـمدي مدرسې

تـــادې انـــګـــړکـی عـــالـــمـــان روزلـــي
نـور د سوادا عـلـمیـت سـه مـحـمدي مدرسې

بـــل د جهـــاد افتـــاء کـور ســـونــــه کـوي
ویاړ دي لا نـور هم پـه قوت سه محمدي مدرسې

ښـکلی مالیار شیخ الحدیث مفتی عبدالرازق دي
ستـا پـه مـالیـار دي بـرکت سه محمدي مدرسې

تـــادي درســـونـــه د غیـرت او عـلـمیـت راکـړي
د شـرافـت نـام تـــه جـرئـت سـه محمدی مدرسې

Maktaba Tul Ishaat.com

بتاریخ ۲۷ محرم الحرام ۱۴۴۱ھ ق
دار الافتاء محمدیہ پشین

Maktaba Tul Ishaat.com



Maktaba Tul Ishaat.com